پشتو

# خطبات

جلد چہارم

## سیرت طیبہ اور اسلامی مہینوں کے احکام


مرتب

نامور مذہبی مفکر

مولانا مفتی محمد ایاز درانی حفظہ اللہ



ناشر

العلم پبلیکیشنز

عبدالغنی پلازہ محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور شہر

091-2580325 , 2590315

0333-4532836 , 0332-9241690

# فہرست مضامین (جلد چهارم)


| نمبرشمار | عنوان | صفحه نمبر |
|---|---|---|
| 1 | اسلامی کلینڈر | 1 |
| 2 | د اسلامی کال ابتدا او پیغمبر | 10 |
| 3 | د محرم فضلیت او یوم عاشورا | 15 |
| 4 | د محرم حقیقت | 20 |
| 5 | د اسلام خصوصیات او ویلنتائن ډے | 26 |
| 6 | ربیع الاول او صراط نبوی | 32 |
| 7 | د ربیع الاول بدعات | 39 |
| 8 | باره ربیع الاول/ عید میلاد النبی صلی اللّٰه علیه وسلم | 46 |
| 9 | د صفر دَ میاشت حقیقت | 54 |
| 10 | د صفر میاشت | 60 |
| 11 | استقبال ذی الحجة | 68 |
| 12 | بیت المقدس | 75 |
| 13 | اصلاح معاشره | 83 |
| 14 | دبي برکتی او بي سکوني اسباب | 90 |
| 15 | حب المال | 98 |
| 16 | په معلاماتو کښې نرمی | 105 |
| 17 | معاشی نظام | 110 |

| | | |
|---|---|---|
| 113 | سرمایه دارو ته شلور هدایات | 18 |
| 119 | رزق حلال (۱) | 19 |
| 125 | رزق حلال (۲) | 20 |
| 133 | اسلامی معاملات | 21 |
| 139 | د نکاح اهمیت | 22 |
| 146 | د دعوت اهمیت | 23 |
| 154 | اسلام او مغربي تهذیبی ارتداد | 24 |
| 160 | مغربی تهذیب زما جسم او زما مرض | 25 |
| 166 | د اسلامی تهذیب بنیادونه | 26 |
| 173 | معاشره او معاملات | 27 |
| 184 | د مړی احکامات او مسائل | 28 |
| 187 | اتباع سنت او رد بدعت | 29 |
| 195 | د سیرت النبی صلی الله علیه وسلم مطلب او اهمیت | 30 |
| 200 | د سیرت خصوصیّات | 31 |
| 209 | سیرت رسول (صلی الله علیه وسلم) | 32 |
| 214 | کامل اسوه حسنه | 33 |
| 221 | زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او دین خصوصیات | 34 |

| | | |
|---|---|---|
| 35 | محبت رسول | 227 |
| 36 | د پیغمبر تابعداری او اطاعت کول | 233 |
| 37 | نبی علیه السلام یو عظیم رهنما | 240 |
| 38 | خا ندان نبوّت فارټ(۱) | 247 |
| 39 | خا ندان نبوّت فارټ(۲) | 253 |
| 40 | خا ندان نبّوت فارټ(۳) | 258 |
| 41 | خا ندان نبوّت فارټ(٤) | 265 |
| 42 | خا ندان نبوّت فارټ(۵) | 270 |
| 43 | د نبی علیه السلام زهد او سادګی | 276 |
| 44 | نظافت پسندی | 284 |
| 45 | د نبی علیه السلام صدق او سچائی | 290 |
| 46 | دَ مسلما نا نو خدمت او خیر خواهی | 298 |
| 47 | د زړهَ نرمی | 306 |
| 48 | صبر | 313 |
| 49 | د نبی علیه السلام بعثت او پیدائش | 321 |
| 50 | د نبی علیه السلام پرورش | 330 |
| 51 | د نبی علیه السلام تربیت او تذکرې | 337 |
| 52 | تعمیر کعبه او نبی علیه السلام | 345 |

| | | |
|---|---|---|
| 53 | د نبوت ابتداء | 352 |
| 54 | نزول وحی | 359 |
| 55 | د وحی نه بعد حالات | 366 |
| 56 | د دعوت اهمیت | 375 |
| 57 | د نبی علیه السلام پیغام | 384 |
| 58 | د نبی علیه السلام دعوت | 391 |
| 59 | د هجرت اسباب او ابتداء | 400 |
| 60 | د هجرت واقعه | 407 |
| 61 | هجرت نبوی صلی الله علیه وسلم | 415 |
| 62 | د هجرت په لاره کښې حالات | 421 |
| 63 | د نبی علیه السلام مدینې ته راتلل | 425 |
| 64 | آخری د وفات ورځې | 429 |
| 65 | شان د صحابه کرامو | 439 |
| 66 | د صحابه کرامو شان او مقام | 445 |
| 67 | شان ومقام صحابه (رضی الله عنهم) | 451 |
| 68 | مقام ابوبکر وعمر رضی الله عنه | 458 |
| 69 | د حضرت عثمان فضائل او شهادت | 469 |
| 70 | حضرت علی رضی الله عنه | 479 |

| | | |
|---|---|---|
| 71 | سید نا امیر معاویه رضی اللّٰه عنه | 486 |
| 72 | مقام حسنین رضی اللّٰه عنهما | 491 |
| 73 | شان حضرت حسین او واقعه کربلا | 497 |

# اسلامی کلینډر

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَجَعَلْنَا اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلٍ رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابِ﴾ (سورة بنی اسرائیل:١٢)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى وَهُوَالَّذِيْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَآءً وَالْقَمَرَ نُوْرًا وَقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ﴾ (سورة یونس:٥)

## د نمر سپوږمۍ انقلاب او حکمت:

د قرآن پاك دوه آيتونه تلاوت شو په دې کښې الله رب العزت د نمر، سپوګمے د شپے ورځے بدليدل رابدليدل د دې په باره کښې تذکره کوی او د انسانی اسانتيا د پاره د وختونو مقرر کول ورځے شپے عدد تاريخ پيژندل د مياشتو کالونو، هفتو ،ورځو حساب کتاب معلومات کول الله د دې سره تړلی دی يو سکينډ، يومنټ، ګهنټه، نيمه ګهنټه ، ورځ ، شپه، هفته، مياشت، کال او ټول عمر د دے ټولو د پاره اندازه هم د الله د طرف نه مقرر ده او د دې نظام دَ برابرۍ د پاره الله پاك بره په اسمان کښې نمر سپوګمے پيدا کړی دی په دې نمر سپوګمے سره دغه حساب کتاب الله اسان کړې دې په دې ايتونو کښې الله ذکر کوی ﴿هُوَالَّذِيْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَآءً﴾ الله هغه ذات دے چې نمر او سپوګمے الله روښانه، رڼړا ورکونکی پيدا کړی دی ﴿وَقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ﴾ الله د دې د پاره خپل خپل منزلونه پيدا کړی دی په دغه خپل خپل منزل کښې دا دواړه حرکت کوی او د زمانے هغه خپل ګردش پوره کوی او د

دې فائده بیا دا ده ﴿لِتَعۡلَمُوۡا عَدَدَ السِّنِیۡنَ وَالۡحِسَابَ﴾ چې تاسو د کالونو شمیر او خپل حساب کتاب په دې سره معلوم کړے.

## شمسی او قمری کالونه:

عام مشهور په دنیاکښې نن صبا دوه کلینډره ،دوه کالونه دی یو شمسی عیسوی کال دے چې دا د نمر په حساب کتاب سره اندازهٔ کولے شی او یو اسلامی قمری کال دے چې دا په سپوږمے سره اندازهٔ کولے شی دا دوه عالمی کلینډرے دی د دې نه علاوه څهٔ علاقائی قومی کلینډرے شته دے لکه هندوستان کښې بکرمی کال او هندی کال شته خو د دې څهٔ اهمیت نشته او نه دا څهٔ مشهور دی د شمسی عیسوی کال شروع په جنوری میاشت سره کیږی او د قمری هجری کال شروع محرم په میاشت سره کیږی.

دې هجری کال ته هجری ځکه وائی چې په دې سره د نبی ﷺ هجرت شوے وو او د دې کال د حساب کتاب شروع د هجرت د واقعې سره یو ځائے کړے شوے ده او د دې تاریخ دا ځکه مقرر شوے دے چې اسلامی رنړا او انقلاب په دې ټوله دنیا کښې په دې هجرت سره عام شوے دے دا د مسلمانانو یوه امتیازی علامه او نخښه ده او د مسلمانانو د پاره د فخر یوه ذریعه ده او اوس هم په دې اسلامی تاریخ او دور باندې مسلمان لره فخر پکار دے او مسلمان به د دې اهتمام کوی.

## هجری کال او اسلامی عبادات:

دغه شان اسلامی ټول احکام چې کوم احکام د وقت سره تعلق لری هغه اسلامی احکام هم د دې قمری کال هجری کال سره تعلق لری لکه مونځ، روژه، حج، عرفه، وړوکے اختر، غټ اختر ،قربانی، تکبیرات تشریق، ایام بیض، د شوال روژه دا ټول د قمری هجری کال سره تعلق لری

خو خومره چې د دې کال زمونږه اسلامی ثقافت سره تعلق او مناسبت دے. نو افسوس دا دے چې مونږه دومره په غفلت او ناخبرے سره د دغه اهمیت واله کال تاریخ میاشت نه خبر نه یو، او دَ انګریزی کال میاشت ورځ په باره کښې ټول خلقو ته معلومات وی خو دا اسلامی کال عام خلق خو لا څۀ بلکه مذهبی دینداره خلق هم د دې نه خبر نه وی دا معلومات نن مسلمان ته نشته چې اسلامی کال کله شروع شو او کله هغه ختم شو بلکه د دې نه زیاته د افسوس واله خبره دا چې د دې اسلامی میاشتو نومونه ډېرو مسلمانانو ته یاد نه دی.

## اسلامی اقدار او روایات:

څنګه چې رو رو اسلامی اقدار او اسلامی ثقافت زمونږه په معاشره کښې ختمیږی دغه شان اسلامی تاریخ هم زمونږه نه مفقود شوے دے دا اسلامی لحاظ سره نه بلکه قومی غیرت هم دا تقاضه کوی چې زمونږه نه هغه غیرت ختم شوے دے چې مونږه یو اسلامی حکم ژوندی کولو ته مجبوره کړی او بیا د اسلامی احکاماتو سره د دې میاشتو دومره لوے او ژور تعلق دے چې کله د رمضان نوم واغستلے شی نو مسلمان ته روژه یاده شی او کله چې د ذوالحجة نوم واغستلے شی نو مسلمان ته حج رایاد شی دا ځکه چې د دې میاشتو اسلامی احکاماتو سره لوے تعلق دے نو دا د مسلمان یو امتیازی علامه ا ونخبنه ده په دې سره مسلمان د نورو قومونو د کلینډرو نه بے غمه وی چې د هغے بنیاد یا په کفر او شرک باندې وی او یا د اسلامی اقدارو سره څۀ تعلق نه لری لکه Sunday سنډے Monday منډے ورځ مطلب د نور ورځ ځکه اهل یونان والو به په دغه ورځ د نمر عبادت کولو او منډے مطلب د سپوګمے واله ورځ ځکه اهل یونان والو به په دغه ورځ باندې د سپوګمے عبادت کولو نو

ځکه ورته دغه نومونه هم ورکړے شوی دی یعنې د کال میاشتو ورځو نومونه د هغوی د مذهب سره تړلے شوی دی دغه شان اسلامی قمری کال هم د اسلامی احکاماتو سره تړلے شوے او لازم شوے دے.

## د کالونو نومونه او حساب:

بیا روسته دا رسم جوړ شوے وو چې کله به یو مذهبی عبادت یا قومی فتح، غلبه یا یوه اهمه واقعه حادثه یا یو قوم والو ته به سلطنت او حکومت ملاؤ شوے وو چې د بادشاه نوم به څۀ وو د هغه په نوم به دغه کال یا میاشت د پاره کلینډر جوړ کړے شو دا په روسته زمانه کښې یو عام رواج جوړ شوے وو لکه مثال عیسوی کال د عیسیٰ علیہ السلام پیدائش سره تعلق لری د هغوی د تعلیماتو مطابق یکم جنوری یوم ولادت مسیح ده د عیسیٰ علیہ السلام د ولادت ورځ ده خو په دې کښې یوه غلطی ده هغه دا چې د دې کال حساب درے کاله روسته دے په دی طریقه چې عسایان وائی عیسیٰ علیہ السلام دیرش کالو په عمر کښې د امت د ګناهونو د معاف کولو د پاره پهانسی کړے شوے وو نعوذ باللّٰه. او د مسلمان په نزد عیسیٰ علیہ السلام د دری دیرش کالو په عمر کښې الله ژوندے اسمان ته بره کړے دے او قیامت ته نزدې به بیا رانازل شی . نو غلطی دا ده چې درې کاله مخکښې نه هغوی دا کال شروع کړے دے او د عیسائیت دَ تاریخ نه خبر ماهرین دا خبره منی او دا تسلیم کوی.

## د اسلام امتیازی شان:

اسلام ته الله دا امتیازی شان ورکړے دے چې د دې د یو شخص سره څۀ تعلق نشته لکه د یهودیت تعلق د یهودو دَ قوم سره وو د عیسایانو

تعلق د عیسیٰ علیه السلام د قوم سره وو خو دین اسلام ته الله د محمدیت نوم نه دے کیخودلے ځکه د دې تعلق صرف د یو شخص سره نه دے بلکه دا دین نبی صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی یو عالمی دین ورکړے وو چې د دې نوم به اسلام وی دغه شان د دې اسلامی کال تعلق هم یو رسمی رواجی طریقه نه ده بلکه د یو انقلاب مذهبی پهلو سره تعلق لری چې په هغے کښې دا پیغام پروت دے چې مسلمان به مشقت، تکلیف، ایثار، صبر، قسم قسم قربانی د دې دین اسلام له خاطره کوی او دې ته به تیار وی او د دې بنیاد د الله عبودیت او د هغه غلامی ده د مخلوق حاکمیت الوهیت به ختم شی او د الله حاکمیت به تسلیم کړے شی نو انسان به د کامیابۍ په میدان کښې قدم کیږدی او خوشحاله ژوند به تیر کړی.

## د مسلمانانو غفلت:

په دغه بنیاد او په دغه فلسفه باندې د دې اسلامی کال شروعات د نبی صلی الله علیه وسلم د ولادت یا د وفات د ورځے نه شروع نه شو بلکه د هغه د راوړے شوے دین سره تعلق لرونکی عظیمه تاریخی واقعه د هغے نه د دې کال ابتدا اوکړے شوه کله چې مسلمان ته دا کال یاد شی نو دغه عظیم مقصد طرف ته به توجو کوی او د دې نه به نه غافله کیږی که یو طرف ته لویه بدقسمتی زمونږه دا ده چې مونږه د خپل اسلامی کال میاشت تاریخ نه خبر نه یو نو بل طرف ته د اغیارو کالونه چې د هغے بنیاد په یو خاص مقصد کیخښودلے شوے دے مونږه د هغے نیو ائیر نائټ مطلب د نوی کال شپه ښه په زور او شور سره مناوهو تر دې پورے چې حکومت د اسلامی کال اهتمام قدرے نه کوی خو د دغه کال د پاره په سرکاری سطح میډیا، اخباری سطح باندې مقام ورکولے شی او دا زمونږه دینی، ایمانی،کمزوری ده که یو طرف ته د یو کافر قوم سره مشابهت او مشارکت

دے بل طرف ته د الله نافرمانی د قرآن او د سنت د تعلیماتو خلاف ورزی د دین اسلام مخالفت په دغه ورځ کیږی او هر قسمه گناه، زنا، شراب، اتش بازے د پاره مقرر کړې شوې ورځ دغه ورځ تصور کیږی.

## د کفارو سره مشابهت:

حدیث کښې راځی: ﴿مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ﴾ (ابوداؤد)

څوك چې د یو قوم سره مشابهت اختیار کړی نو دغه انسان د دې قوم نه دے.

دا کال جدید واله ورځ که عیسایان په سرکاری، قومی، اجتماعی، انفرادی سطح باندې مناوهی نو زمونږه د دین نه ناخبره مسلمانان هم په سرکاری، قومی، اجتماعی، انفرادی سطح د دې اهتمام کوی که عیسایان په دې ورځ دَ قسم قسم گناهونو ارتکاب کوی نو دغه شان حالات دلته مسلمانانو ته جوړ شوی دی او داسے حالت دے چې نوې کال دا نوم دے د دې ورځ، نو که مسلمان دا نه ادا کوی بیا هم د دې مناؤ کولو ته مجبوره وی ځکه دا نوم ورته یو قومی نوم ورکړے شوے دے، رسم ورواج ټول د عیسائیت دے خو دا لیبل او نوم ورته عام نوم ورکړے شوے دا صرف د مسلمان دهوکه کولو د پاره چې مسلمان په دې دهوکه شی.

## علمی فائده:

که څوك اعتراض کوی چې داسې خو په هر کار سره د انسان مشابهت د کافر سره لازم کیږی نو جواب دا دے چې د دې د پاره یو ضابطه او قاعده ده هغه دا چې یو هغه مشابهت دے چې اسلام هغه کار حرام کړے دې منع کړے دې نو په دغه کار کولو کښې مشابهت گناه ده بل دا چې دغه کار حرام نه وی مباح وی خو د کافر قوم د پاره یو خاصه وی د هغوی یوه خاص علامه او نخښه وی او د هغوی مذهبی شعار وی دا

پيژندل کيږی چې دا د عيسائيت علامه ده دا د يهوديت علامه ده وغيره نو په دغه کارونو کښې يو شان والے د کافر سره کول منع او حرام دی دا جائز نه دی.

او که يو انسان دا اعتراض کوی چې څنګه عيسايان خپل کال مناوهی دغه شان مونږه مسلمانان به د يکم محرم په موقع اسلامی کال مناوهو نو دا ياد ساتل پکار دی چې اسلام د مناوهلو نوم نه دے اسلام د منلو نوم دے چې کوم اسلامی حکم وی هغه به مسلمان منی او کوم چې اسلامی حکم نه دے نو هغه به مسلمان نه منی قرآن کښې الله فرمائی:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لِمَا تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ﴾ (صف:۲)

اے د ايمان والو تاسو هغه کار ولے په خُله وائے چې په هغے باندې عمل نه کوے نو اسلام د عمل نوم دے اسلام صرف د خبرو نوم نه دے.

## د کالونو غير منظم نظام:

بهر حال دغه د کالونو نظام په دور جاهليت کښې هم موجود وو خو د هغوی طريقه دا وه چې هغوی به هر کال د يو مشهورے واقعے سره تړلو لکه يو تاريخ د عام الفيل واله تاريخ وو چې په کوم کال ابرهه په بيت الله باندې حمله کړې وه په دغه طريقه کله چې نبیﷺ پيدا شوے وو هغه کال ته عام المولد وائی او کله چې نبیﷺ ته الله نبوت ورکړے وو هغه کال ته عام البعثة وائی او په کوم کال چې د نبیﷺ تره ابوطالب او خديجهؓ وفات شوی وو هغے ته عام الحزن وائی د هجرت کال ته عام الهجرت، د بدر واله کال ته عام البدر، د احد واله کال ته عام الاحد وائی په دور نبویﷺ کښې څۀ ضرورت نه وو نو باقاعده نظام نه وو موجود. د ابوبکرؓ په دور کښې ورته ضرورت نه وو نو هيڅ يو باقاعده نظام د دا

دې د پاره نه وو کله چې د عمر رضی اللہ عنہ په دور خلافت کښې يوه مسئله راغله يو ديوان وو خو په هغے باندې تاريخ نه وو ليکلے شوے عمر رضی اللہ عنہ تپوس اوکړو چې دا د کوم وخت واله واقعه ده پته نه لږيده نو دا هم يو سبب وو او ابوموسی اشعری رضی اللہ عنہ ورته يوه خبره کړې وه چې د خلافت په کارونو کښې تاريخ متعين کول ضروری دی په دغه ضرورت عمر رضی اللہ عنہ په مسجد نبوی کښې صحابه رضی اللہ عنہم راجمع کړل او د تاريخ په باره کښې د هغوی نه مشوره اخلی. څوك دا تجويز پيش کوی چې د دې شروع د پيدائش نبی صلی اللہ علیہ وسلم نه پکار ده او څوك دا تجويز پيش کوی چې د اسلامی کال شروع د نبی صلی اللہ علیہ وسلم د وفات د کال نه ضروری او اهم ده داسے نور ډير تجويزات پيش کړے شو د حضرت علی رضی اللہ عنہ تجويز دا وو چې د هجرت کال دې د دې د پاره مقرر کړے شی نو د صحابو رضی اللہ عنہم په دې باندې اتفاق راغلے وو. روسته د عثمان رضی اللہ عنہ په دور خلافت کښې اوله مياشت د محرم مقرر کړے شوې وه.

## هجری تاريخ متعين کولو وجه:

صحابو رضی اللہ عنہم د نبی صلی اللہ علیہ وسلم د پيدائش او وفات واله کال ځکه نه دے منتخب کړے چې د دې د دين اسلام د چا د مرګ يا د ژوند سره څۀ تعلق نشته حافظ ابن حجر رحمۃ اللہ علیہ وائی چې د پيدائش کال ځکه نه دے مقرر شوے چې د تاريخ پيدائش صحيح معلومات نشته څنګه چې عيسايانو د غلط تاريخ اندارج کړے وو مسلمانانو داسے نه دی کړی او عثمان رضی اللہ عنہ د محرم نه د کال ابتدا ځکه کړې ده چې د محرم نه د يو انسان نوے کال او نوے انقلاب شروع کيږی ځکه انسان چې کله د حج نه فارغه شی نو د دې انسان يو نوے ژوند او يو نوے اسلامی تاريخ او انقلاب دې انسان کښې ژوندے شی نو د محرم مياشت نه کال شروع شی چې انسان به د هر

کال پورې د دې پابند وی.

او د هجرت واقعه ځکه د دې کال د پاره مقرر کړے شوه چې په هجرت سره الله يو انقلاب اسلامی رياست او اسلامی مملکت ته وجود ورکړے دے الله مسلمانان د ذلت د ژوند نه د عزت ژوند ته منتقل کړی وو او د دې د پاره سبب هجرت وو خپل دين خپل عبادت باندې مسلمان په مکی دور کښې عمل نه دے کړے او د هجرت نه بعد ورته الله عبادت او د دين آزادی ورکړے وه ﴿**وان الهجرة فرقت بين الحق والباطل**﴾ په هجرت سره الله رب العزت د حق او د باطل په مينځ کښې فرق جدا والے راوستلے وو. **والحمدلله رب العالمين**.

# د اسلامی کال ابتدا او پیغمبر ﷺ

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ﴾

(بقرة: ۳۲)

## د هجری کال ابتداء:

د اسلامی کال ابتداء د محرم د میاشت نه کیږی په دې سره اسلامی کال شروع کیږی د محرم د میاشت سره اسلامی کال بدل شی د دې اسلامی کال سره ډیر زیات اسلامی عبادات احکامات تعلق لری د هر مسلمان دا فریضه ده چې د دې اسلامی تاریخ نه به خبر وی ځکه ډیر احکامات د دې سره تعلق لری.

د هجری کال ابتداء څنګه شوې وه او دا کله شوې وه د دې هجری کال نه مخکښې که یوه واقعه به پیښه شوه نو د هغې تړل به د یو واقعے سره وو مثال داسے وئیل چې دا واقعه د عام الفیل نه یو کال مخکښې شوې ده او دا واقعه د عام الفیل نه یو کال بعد شوې ده. نن د عام الفیل لسم کال دویمه میاشت او دریم تاریخ دے په دې طریقے سره به تاریخ د نبی ﷺ په دور کښې او د ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ په دور خلافت کښې پیژندلے کیدو. دویم خلیفه اسلام حضرت عمر رضی اللہ عنہ د هغه په دور خلافت کښې یوه واقعه پیښه شوه حضرت ابو موسی اشعری رضی اللہ عنہ یو تاریخ په یوه معامله کښې عمر رضی اللہ عنہ ته پیش کړو او په هغے باندې د شعبان میاشت لیکلے شوې وه نو عمر رضی اللہ عنہ ورته

اوئيل چې د دې نه کوم شعبان مراد دے لس کاله مخکښې شعبان اوکه د تير کال واله شعبان کوم شعبان مراد دے د دې د تعين کولو د پاره عمرؓ مشوره طلب کړه چې يو داسے نظام جوړ کړے شي چې اسلام سره تعلق لرونکې مياشت، ورځے او کال پکښې معلوم وی نو چا ورته په مشوره کښې عام الفيل پيش کړو چا ورته د نبیﷺ د پيدائش په باره کښې، چا ورته د وفات په باره کښې تجويز پيش کړو نو آخر اتفاق د هجرت په واقعه باندې راغلے ځکه په دې سره مسلمانانو ته امن ملاؤ شوے دے يو مستقل رياست او وطن الله مسلمانانو ته ورکړے دے د دې په وجه ډير خلق په اسلام کښې داخل شوی دی.

## د هجرت د واقعې وجه:

د نبیﷺ يوم پيدائش او يوم وفات ځکه مقرر نه کړے شو چې اسلام کښې د هيڅ چا د پيدائش او وفات باندې څۀ مناؤل نشته او نه څۀ رسم ورواج شته بلکه دا د الله خوښه ده چې په کومه ورځ الله څوک غواړی هغه وفات کوی او پيدا کوی نو په دې طريقه اسلامی کال شروع شو او نور ټول کالونه که هغه د عام الفيل واله وو اوکه هغه د خلف الفضول واله وو که هغه د عيسیؑ واله کال وو دغه ټول ختم کړے شو او اسلامی کال نه شروع اوکړے شوه دا د عمرؓ په دور کښې د صحابوؓ په اتفاق سره شوی وو.

بيا دا خبره وه چې د اسلامی کال اوله مياشت به څۀ وی نو فيصله په دې باندې شوې وه چې کله د حج د پاره د ټولے دنيا خلق حاضر شی په هغوی باندې به دا فيصله کولے شی کله چې حاجيان حاضر شو نو د هغوی په اتفاق سره د محرم مياشت اوله مياشت مقرر کړے شوه.

## قسم قسم تاريخونه:

دويمه خبره دا چې اسلامی کالونو او انګریزی شمسی کالونو کښې فرق څۀ دے يو بل تاريخ دے بکروی کال هغے ته وئيلے کيږی په دې اسلامی کال هجری کښې امتيازی خصوصيات څۀ دی او د نورو کالونو نقائص او نقصانات څۀ دی نو د شمسی کال انګریزی کال د مياشتو د نومونو هيڅ څۀ پس منظر نشته دے څۀ صرف د بادشاهانو نومونه دی څۀ د علاقو سره تعلق لری بل نقصان دا دے چې د انګریزی کال هميشه په يو موسم کښې راځی لکه د جون،جولائی واله مياشت کښې هميشه به ګرمی وی يخنی به نومبر دسمبر کښې وی دې کښې څۀ تبديلی او تغيير نه راځی د دې بالمقابل اسلامی کال واله مياشت د هغے نومونه د بادشاهانو د بادشاهئ ظلم او جبر سره تعلق نه لری او نه د يوے علاقے رسم و رواج سره څۀ تعلق لری او د دې دا ګردش رفتار فطری رفتار دے بل دا اسلامی تاريخ کښې د غروب سره د صبا ورځ شپه شروع شی او په انګریزی تاريخ کښې د ورځے دولس بجو سره بله شپه شروع کيږی او دا غير فطری قانون دے.

## اسلامی عبادات او اسلامی تاريخ:

د اسلامی کال مياشتے محرم نه واخله تر ذی الحجة پورے دی. په دې کښې هره مياشت مسلمان ته يو دعوت او فکر او عمل ورکوی لکه محرم سره په نهم ،لسم محرم روژه نيول د رمضان سره فرضی روژه دغه شان نورے ټولے مياشتے او دې سره موسمونه بدليږی را بدليږی لکه حج ټول عمر په ګرمے کښې نه وی، قربانی ټول عمر په ګرمے کښې نه وی روژه ټول عمر په يو موسم کښې نه وی دا موسمونه بدليږی رابدليږی او د دې فائده دا ده که ګرمی وی او که يخنی وی که هر موسم وی انسان به د الله

عبادت کوی او خپل رب به رضا کوی بله فائده دا ده که دغه عبادات همیشه په یو موسم کښې وے نو د انسان فطرت دا دے چې اخر کار هغه دَ یو شانتې عمل نه تنګ شی نو دا هر څۀ دَ دې د پاره چې مسلمان په شوق سره د الله دا احکامات ادا کړی.

## مسلمان ته د نوی کال پیغام:

بله یوه اهمه خبره دا ده چې د دې کال پیغام څۀ دے کله چې انګریزی کال شروع کیږی نو خلقه نیو ائیر نائټ مناوَهی، په دی کښې شرابونه، فحاشی هر قسمه د ګناه کار کیږی کله چې اسلامی کال شروع کیږی نو مسلمان ډیر په صبر، استقامت او استقلال سره د نوی کال استقبال کوی کله چې میاشت اولیدلے شی نو مسلمان به دا دعا وائی:

﴿اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهٗ عَلَيْنَا بِالْاَمْنِ وَالْاِيْمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْاِسْلَامِ وَالتَّوْفِيْقِ لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى رَبُّنَا وَرَبُّكَ اللّٰهُ﴾ (ترمذی)

نو دا دعا ده په دې سره به د مسلمان نوې کال شروع کیږی بله خبره دا ده چې د هجرت هغه سخته ،سختے قربانے به مسلمان خپل ځان ته مخے ته کوی. وطن مال ،دولت بچی هر څۀ د اسلام د پاره پاتې شوی وو نو الله سره به عهد کوی چې ستا د دین د پاره به هر څۀ قربان کوی . دویم دا د دغه ټول تیر شوی کال حساب محاسبه به دا مسلمان د ځان سره کوی چې په دې کال کښې (کیا کھویا کیا پایا) دې مسلمان څۀ نقصان کړے دے او په دې تیر شوی کال کښې ورته څۀ قسمه ګټه او فائده شوې ده. دا حساب به کوی د تیر شوی محرم میاشت نه واخله موجوده محرم میاشت پورے دې انسان ته څۀ ګټه او څۀ نقصان شوے دے ځکه د مسلمان نظریه دا ده چې دا مسلمان د اخرت په ژوند باندې ایمان او عقیده لری او د دنیا ژوند د اخرت د پاره پټے دے کرونده ده په دې کښې به کرل

کوی او فائده به ورته هلته په اخرت کښې ملاویږی.

## د مستقبل سوچ:

دریم دا چې د ائنده کال د پاره به د یو عزم سره مستقل سوچ او منصوبه جوړه وی دا راروان کال به زۀ څنګه تیرومه د دې د پاره به سوچ کوی یو روایت کښې راځی چې د چا دوه ورځے برابر شی نو دا انسان تاوانی دے په خساره کښې دے مطلب د مسلمان صبا به د نن نه غوره او بهتره وی دا دواړه به یو شان نه وی دینی اعتبار سره هم او دینوی اعتبار سره هم په دې هر څۀ اعتبار سره به ائنده راتلونکے وخت بهتر وی د دین په اعتبار داسې چې ائنده به زۀ قرآن سره تعلق زیات کړمه مونځ به رانه نه قضاءکیږی نور عباداتو کښې به پابندی وی درس قرآن، درس حدیث کښې به پابندئ سره کینم. دنیوی اعتبار سره داسے چې حلال رزق به ګټی، حرام خوړل شوی حقونه به واپس کوی ملازمت او تجارت کښې به کمے نقصان نه کوی خپله ذمه داری به د امانت دارے سره پوره کوی.

بله خبره دا ده چې د دې میاشتو د حفظ کولو اهتمام پکار دے او د دې نه ځان خبرول پکار دی ځکه د شریعت ډیر احکامات لکه روژه، حج ،عدت، طلاق، قربانی، وروکے او غټ اختر وغیره دا ټولے ورځے د دې اسلامی میاشتو سره تعلق لری زمونږه حالت دا دے چې انګریزی کال میاشت تاریخ ورځ مونږه ته یاد وی خو ولے اسلامی کال میاشت تاریخ نه مونږه غافله یو د دې د پاره فکر کول ضروری دی.

والحمدلله رب العالمین

# د محرم فضلیت او یوم عاشورا

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ﴾ (سورة توبة:٣٦)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَرَكْتُ فِيْكُمْ اَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَاتَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابُ اللّٰهِ وَسُنَّةُ رَسُوْلِهٖ اَوْكَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ﴾ (مالک)

## د بعضې څيزونو فضيلت:

د قرآن پاك سورة توبے يو ايت او د نبیﷺ ارشاد ذكر شو په دې كښې الله رب العزت د مياشتو تذكره كوی چې الله د كله نه زمكه اسمانونه پيدا كړی دی نو ورسره الله دولس مياشتې پيدا كړی دی او په دې كښې څلور مياشتې د عزت واله مياشتې دی چې الله دې ته په نورو مياشتو فضليت وركړے دے. دا د الله قانون دے چې دنيا كښې الله بعض ورځو مياشتو مكاناتو امتونو ته په نورو ورځو مياشتو مكاناتو امتونو باندې فضليت وركړے دے د قرآن او حديث په رڼړا كښې الله رجب، ذالقعدة ،ذالحجة او محرم مياشتو ته فضليت او يو مقام په نسبت د نورو مياشتو وركړے دے د اسلامی كال شروعات د محرم مياشت نه كيږی او دا په دغه عزت والو مياشتو كښې داخله مياشت ده نو ضروری ده چې د دې مياشت متعلق د يو څو خبرو وضاحت اوكړے شی.

## د دې مياشت سره متعلقه مسائل:

يو خبره د دې مياشت متعلق دا ده چې د دې څۀ فضليت او اهميت دے او دا فضليت الله دې مياشت ته ولے وركړے دے دويم د دې

میاشت په لسم تاریخ د عاشورې ورځ ولے روژه مقرر شوې ده د دې څۀ مقام حیثیت او فضلیت دے دریم په دې میاشت کښې زمونږه په دې معاشره کښې مختلف قسم بدعات، رسومات او خرافات عام شوی دی د هغے تعیین او وضاحت او شرعی حکم څلورم د واقعه کربلا سره متعلق خبره او مناسبت څۀ قسمه عمل کول پکار دې او څۀ قسمه نه او مسلمان به په کوم حالت او عمل سره د د دې نوی کال سره مخامخ کیږی.

## څلور عزتمندې میاشتې:

اوله خبره د دې میاشت مقام، مرتبه، حیثیت او فضلیت څۀ دے زمونږه په دین اسلام کښې د دې میاشتے لوے قدر او احترام دے بلکه دا د مخکښې دور نه د دې دا حرمت او عزت کیږی او مسلسل دا راروان دے د کائناتو په پیدائش سره الله دې میاشتو ته فضلیت ورکړے دے لکه قرآن کښې الله فرمائی:

﴿ إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ﴾ (التوبة:٣٦)

مطلب کله نه چې الله دنیا پیدا کړې ده نو د دې سره الله دولس میاشتے پیدا کړی دی چې په دې کښې څلورمیاشتے هغه د عزت واله شمار شوی دی نو دا عزت او احترام ورته الله د کائناتو په پیدائش سره ورکړے دے د موسیٰ علیہ السلام په دین کښې هم دې میاشت ته د قدر او احترام په نظر باندې کتلې کیدل او د ابراهیم علیہ السلام په دین کښې هم د دې میاشت او یوم عاشورا فضلیت او قدر موجود وو هر کله چې د مکے مشرکانو د دین ابراهیمی دعوی کوله نو دغه مشرکانو به هم په لسم د محرم باندې روژه نیوله. بخاری شریف کښې حدیث دے چې ﴿كَانَتْ قُرَيْشٌ تَصُوْمُ يَوْمَ عَاشُوْرَا﴾(مسلم) قریشو به د یوم عاشورا روژه نیوله او د دې ورځې اهتمام پکښې موجود وو دغه شان د موسیٰ علیہ السلام په شریعت کښې هم محترمه وه

نو ځکه کله چې نبي عليه السلام د هجرت په موقع مدينے ته راغے نو ګورې چې د مدينے واله خلق د دې ورځے روژه نيسي نو تپوس ورنه کوى چې د دې وجه څۀ ده جواب يهود ورکوی وجه دا ده چې په دې ورځ الله موسى عليه السلام ته نجات ورکړے وو نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته اووئيل ﴿نَحْنُ اَوْلٰى بِمُوْسٰى مِنْهُمْ﴾(معبود) مونږه دَ موسى عليه السلام سره د تعلق ډير لائق يو د يهوديانو نه او د يهودو مخالفت کوی۔ کله چې تاسو د دې ورځ روژه نيسے نو نهم لسم يا لسم يوولسم ورسره يو ځائے کوی۔ بيا د دې ورځے روژه نيسی۔

## د محرم په مياشت کښې اتفاقی واقعات:

بيا په دې لسم تاريخ په دور اسلام کښې څۀ واقعات پيش شوی دی لکه د مکې په دور کښې مشرکانو د نبي صلى الله عليه وسلم خلاف معاشرتی مقاطعه کړې وه بائيکاټ قطع تعلق اعلان د نبي صلى الله عليه وسلم او د هغه د صحابو رضى الله عنهم او ملګرو سره د تعلق نه ساتلو اعلان کړے شوے وو دغه معاشرتی قطع تعلق د نبي صلى الله عليه وسلم سره قريشو په يکم محرم کړے وو او د اسلام دويم خليفه حضرت عمر فاروق رضى الله عنه په يکم محرم شهيد شوے وو او لوے جليل القدر صحابی ابو ايوب انصاری رضى الله عنه په دې يکم تاريخ د محرم باندې شهيد شوے وو او په دې اسلامی دور تاريخ کښې بله واقعه چې هغه عظيمه تاريخی واقعه وه هغه په لسم تاريخ د محرم باندې د نبي صلى الله عليه وسلم نوسے حضرت حسين رضى الله عنه په کربلا کښې په دې مياشت کښې شهيد شوے وو نو د دې فضيلت او اهميت د چا د واقعے سره نه دے تړلے شوے چې ګينې په دې تاريخ حسين رضى الله عنه يا عمر رضى الله عنه يا ابو ايوب انصاری رضى الله عنه شهيدان شوی وو نو دې ته دا فضيلت حاصل شوے دے، نا دا وجه نه ده بلکه وجه دا ده چې الله دې ته فضيلت ﴿يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ په هغه ورځ ورته الله فضيلت ورکړے دے چې په کومه ورځ

الله اسمانونه او زمکه پیدا کړی دی نو دا د نبیﷺ نه مخکښې او د دعوت اسلام د شروع کیدو نه مخکښې الله دې ورځو او میاشتو ته فضیلت او مقام ورکړے دے دا قسم واقعات د اسلام نه مخکښې هم مخې ته راغلی دی لکه موسیٰ رضی الله عنه ته په دې ورځ الله د فرعون نه نجات او خلاصے ورکړے دے نو د دې میاشت فضیلت شته دے او د دې ورځ هم فضیلت شته دے خو دا فضیلت ورته الله مخکښې نه ورکړے دے دا تأثر غلط دے چې دا فضیلت ورته الله د څۀ واقعے یا حادثے د وجې نه ورکړے وی دا نظریه لرل غلطه ده دا د شیعه ګانو نه مسلمانانو ته راغلې نظریه ده د دې د اسلام او مسلمانانو سره څۀ مناسبت او تعلق نشته.

## یوم عاشوراء واله روژه:

بله خبره په لسم تاریخ د محرم باندې روژه نیول دا شرعی حکم دے او د اسلام نه ثابت خبره ده نبیﷺ د دې په باره کښې امر کړے دے په دې تاریخ روژه نیول مستحب او سنت دی کله چې نبیﷺ هجرت اوکړو نو عبد الله بن عباس رضی الله عنه وائی چې نبیﷺ یهود اولیدل چې په لسم تاریخ باندې به هغوی روژه نیوله نو نبیﷺ ورنه تپوس اوکړو ما هذا؟ دا څۀ دی یهودو جواب ورکړو:

﴿هٰذَا يَوْمٌ نَجَّى اللهُ فِيْهِ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ مِنْ عَدُوِّهِمْ﴾ (صحیح البخاری)

دا یو داسے ورځ ده چې الله په دې کښې بنی اسرائیلو ته د فرعون نه خلاصے ورکړے وو نو موسیٰ علیه السلام هم په دغه ورځ باندې روژه نیولې وه نبیﷺ جواب ورکړو ﴿اَنَا اَحَقُّ بِمُوْسٰى مِنْكُمْ﴾(بخاری) زۀ ستاسو نه د موسیٰ علیه السلام ډیر حقدار یمه چې زۀ به د هغه اتباع او تابعداری کومه ﴿فَصَامَهٗ وَاَمَرَبِصِيَامِهٖ﴾ نبیﷺ په خپله هم روژه نیولی وه او د دې روژې په باره کښې نبیﷺ خپل امت ته هم د دې تعلیم ورکړے دے او یو بل روایت کښې دی چې ابوموسی اشعری رضی الله عنه روایت کوی یهودو به په

دې ورځ باندې د خوشحالے اختر ادا کولو او د دې ورځے په باره کښې به هغوی روژه نیوله نو نبیﷺ هم روژه اونیوله او صحابو رضی اللہ عنہم ته ئے د دې په باره کښې حکم اوکړو.

## نفلی روژو کښې د لوې مقام واله روژه:

بله خبره دا وه چې د دې تاریخ فضیلت څۀ دے نو څنګه چې د فرض مونځ نه بعد د تهجدو مونځ ته فضیلت حاصل دے دغه شان د رمضان نه بعد دې د محرم واله ورځے ته فضیلت حاصل دے حدیث کښې راځی چې څوك د دې روژه نیسی نو د الله نه امید دے چې دې انسان ته به الله یو کال مخکښنی ګناهونه معاف کړی دا د دې روژې فضیلت دے. خو دا خبره ده چې دا تأثر غلط دے کله چې لسم محرم یاد کړے شی نو خلقو ته شهادت حسین رضی اللہ عنہ یاد شی دا د شهادة حسین رضی اللہ عنہ د سوګ د پاره روژه نه ده بلکه د شهادت حسین رضی اللہ عنہ نه مخکښې نبی رضی اللہ عنہ د دې په باره کښې امت ته حکم کړے وو، البته د روژې متعلق دا خبره ده چې نبیﷺ یوه روژه به نیوله نو یو قسم لره مشابهت وو د یهودو سره نو د وفات نه یو کال مخکښې بیا نبیﷺ دا حکم کړے وو چې د دې لسم سره یوه ورځ نهمه او یا یوولسمه ورځ یو ځائے کړے او ﴿خَالَفُوا الْيَهُوْدَ﴾ د یهودو نه خلاف اوکړے دا ځکه چې ظاهرې مشابهت د یهودو سره ختم شی ځکه دا اراده هم هغه کړے وه چې که ائنده کال کښې زۀ ژوندې پاتې شومه نو زۀ به دوه روژے نیسمه د دې د پاره چې فرق ښکاره شی بیا راروان کال نبیﷺ وفات شوے وو په دغه حکم صحابو رضی اللہ عنہم عمل کړے وو که څوك په دې موقع یوه روژه اونیسی نو خلاف اولی کار دے بهتر دا دی چې انسان دې دوه روژې نیسی.      والحمدلله رب العامین.

# د محرم حقیقت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّابَعْد فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ﴾(سورة التوبه:٣٦)

## دولس میاشتې کیدل یو ازلی قانون:

د قرآن کریم د یو ایت څهٔ حصه تلاوت شوه په دې کښې الله رب العزت دا مضمون بیانوی چې د میاشتو عدد د الله په قانون کښې د زمکے او د اسمان د پیدائش سره الله دولس میاشتے مقرر کړی دې بیا په دې میاشتو کښې الله څهٔ میاشتو ته ډیر عزت او احترام ورکړے دے لکه دا عزتمندې څلور میاشتے دی یو محرم،دویم ذوالقعدة، دریم ذوالحجة او څلورم محرم، دا څلور میاشتے دی، دې ته د عزت واله میاشتے وائی، دا درے یو بل پسے یو ځائے راځی،د دې میاشتو عزت چې څنګه زمونږه په دې دین کښې دے، دغه شان په ملت ابراهیمی کښې هم وو لکه قریش چې هغوی به د ابراهیمؑ د دین واله کیدو دعوی کوله چې مونږه د ابراهیمؑ په دین او شریعت باندې یو او یهود چې هغوی د موسیؑ په دین کیدو باندې دعوی کوی په دغه دین مذهب کښې هم د دې میاشت، عزت او احترام موجود وو موجوده میاشت د محرم د دې متعلق څهٔ خبرے کول ضروری دی.

## د حسین رضی الله عنه شهادت او محرم:

یو دا چې د دې محرم عزت او احترام او مقام څهٔ دے او په شریعت کښې د دې څهٔ حیثیت دے نن صبا په دې دور کښې مسلمانانو

د خپل سوچ عقل مطابق د باطل پرستو خلقو نه څۀ رسومات او نظریات خپل کړی دی او د هغے مطابق روان دی عام سوچ دا ورکولے کیږی چې دې میاشت ته دا د عزت مقام او مرتبه د سید نا حسین رضی الله عنه د شهادت د وجے نه ورکړے شوې ده دا خبره معلومه ده چې د سید نا حسین رضی الله عنه یو خپل مقام دے هغه لره دا عزت او شرافت کافی دے چې هغه د نبی صلی الله علیه وسلم نوسے دے او نبی صلی الله علیه وسلم د دۀ او د دۀ د مور بی بی فاطمه رضی الله عنها په باره کښې فرمائی: ﴿فَاطِمَةُ بُضْعَةٌ مِنِّي﴾ فاطمه رضی الله عنها زما د زړۀ یو ټکړه ده ځنګه چې دَ دۀ مور نبی صلی الله علیه وسلم ته محبوبه وه دغه شان د هغے بچی هم وو او که چرته به د جمعے ورځ وه نبی صلی الله علیه وسلم به خطبه وئیله نو دا به د خطبے په دوران کښې نبی صلی الله علیه وسلم ته په غیږه کښې کیناستل او نبی صلی الله علیه وسلم به ورسره محبت کولو د حسین رضی الله عنه په فضیلت او مقام کښې څۀ شك نشته خو د هغه متعلق د محرم د فضیلت دا تأثر غلط دے.

## د نبی صلی الله علیه وسلم د صحابو صلی الله علیه وسلم مقام:

د نبی صلی الله علیه وسلم ټولو صحابو رضی الله عنهم ته الله یو اوچت مقام ورکړے وو په دغه صحابو رضی الله عنهم کښې یو حسین رضی الله عنه هم دے قرآن کښې الله د دوی ښه صفت ځائے په ځائے ډیر په وضاحت سره بیان کړے دے کله قرآن ذکر کوی ﴿تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا﴾ دوی به ته د رکوع او سجدے په حالت کښې ګورے چې دوی همیشه الله تۀ عاجزی،رکوع او سجدے کوی کله قرآن ذکر کوی: ﴿رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ﴾ الله د دوی نه راضی دے او دا د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه د الله نه راضی دی دا اهلسنت و الجماعة واله دا عقیده ده چې د نبی صلی الله علیه وسلم نه بعد لوے مقام واله د نبی صلی الله علیه وسلم صحابه دی په دې صحابو رضی الله عنهم کښې حسنین کریمین رضی الله عنه که یو طرف ته د نبی صلی الله علیه وسلم صحابه دی نو بل طرف ته د نبی صلی الله علیه وسلم نوسی دی دا فضیلت الله دوی ته ورکړے دے.

## د محرم عزت په دور جاهليت کښې:

خو د مسلمانانو چې عام خود ساخته غلط ذهنيت او تأثر دے دا صحيح نه دے چې حسين رضي الله عنه په دې محرم کښې شهيد شوے دے ځکه ورته الله دومره لوے مقام او مرتبه ورکړے ده دا تأثر ځکه غلط او بے بنياده دے چې په دې ايت کښې الله ذکر کوی چې الله رب العزت د کال د پاره دولس مياشتے راويستی دی او په دې کښې څلور مياشتو ته الله عزت د هغه ورځے نه ورکړے دے کله چې الله اسمانونه او زمکے پيدا کړی دی د هغه وخت نه ورته الله احترام ورکړے دے دا د حسين رضي الله عنه د شهادت نه مخکښې الله عزت واله ګرځولے دی او دا عزت د دې مياشتې د ابراهيم صلى الله عليه وسلم په دين کښې هم موجود وو لکه د مکے مشرکانو د دين ابراهيمی دعوی کوله سره د دې نه چې په هغې کښې مشرکانو د خپل ځان د طرف نه ډير زيات تبديلۍ راپيدا کړے وے او په اصلی دين ابراهيمی کښې تحريف هغوی کړے وو بيا هم د هغوی په دين کښې د دې مياشت څۀ نه څۀ عزت موجود وو لکه قريشو به په دې محرم کښې روژه نيوله په دې مياشت کښې به د دشمن سره جهنګ جهګړے نه وے.

## د موسى عليه السلام په دين کښې د محرم فضيلت:

تر دې پورے چې د موسى عليه السلام په دين کښې هم د دې دا احترام او عزت موجود وو لکه ابن عباس رضي الله عنه وائي چې کله نبى صلى الله عليه وسلم مدينے ته هجرت اوکړو نو يهودو به روژه نيوله نبى صلى الله عليه وسلم ترينه تپوس کړے وو ماهذا ؟ دا څۀ دی؟ جواب هغوی دا ورکړے وو: ﴿هٰذَا يَوْمٌ مُبَارَكٌ﴾ دا ډيره مبارکه ورځ ده ځکه چې الله په دې ورځ بنی اسرائيلو ته نجات ورکړے وو د فرعون نه ﴿فَصَامَهٗ مُوْسٰى﴾ موسى عليه السلام دا ورځ روژه نيولے وه نبى صلى الله عليه وسلم جواب ورکړو:﴿اَنَا اَحَقُّ بِمُوْسٰى مِنْكُمْ﴾(بخاری) زۀ د موسى عليه السلام د اتباع ستاسو

نه زيات حقدار يمه ځکه حديث کښې راځی چې انبيا علیهم السلام په خپلو مينځ کښې رونړه دی نو د دې دا تقدس د حسين رضی الله عنه نه مخکښې په مذهب موسوی او دين ابراهيمی کښې موجود وو وجه دا نه وه چې په دې کښې حسين رضی الله عنه شيهد شوے دے ځکه ورته تقدس ملاؤ شوے دے دا غلطه خبره ده.

دا مياشت الله د زمکے، اسمان د پيدائش سره عزت واله پيدا کړې وه بيا د ابراهيم علیه السلام په دين کښې د عزت واله وه بيا د موسی علیه السلام په دين کښې د عزت واله وه او څلورم دا د قريشو په نزد د عزت واله وه.

## په محرم کښې اتفاقی واقعات:

بيا روسته اتفاق داسے شوی وو چې الله دې مياشت کښې څۀ واقعات مخے ته راوستی دی لکه د نبی علیه السلام سره معاشرتی قطع تعلق قريشو په دې مياشت کښې کړے وو قريشو په شعب ابی طالب کښې نبی صلی الله علیه وسلم سره د يو څو ملګرو او صحابو بند کړے وو خوراك څکاك تعلق هر قسم ربط او مناسبت باندې د دوی سره پابندی وه او د نبی صلی الله علیه وسلم مشهور صحابی ابو ايوب انصاری رضی الله عنه هم په دې محرم کښې شهيد شوے دے او دغه شان سيد نا حسين رضی الله عنه هم د باغيانو د لاسه په کربلا کښې شهيد

## په محرم کښې بدعات او سنت عمل:

د ماتم جلوس واله بدعات چې په دې موقع کيږی د دې هيڅ حقيقت نشته دغه شان په دې ورځو کښې چې دَ حسين رضی الله عنه سيرت بيانيږی او د دروغو واقعات په دې موقعو باندې بيانيږی د دې هيڅ ثبوت نشته په دې موقع يو سنت عمل دا دے چې انسان په نهم ،لسم يا لسم، يولسم باندې د دې روژه اونيولے شی دا ثابت او سنت عمل دے.

د ابوقتاده رضی الله عنه روايت دے نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چې څوك دا روژه

نيسی نو زما د الله نه اميد دے چې دې انسان ته به الله د يو کال مخکښې ګناهونه معاف کړی نبیﷺ په اخری کال باندې دا وئيلی وو که چرته زۀ ائنده کال ژوندے پاتے شوم نو زۀ به د دې سره يوه ورځ مخکښې يا يوه ورځ بعد واله روژه نيسم ځکه چې د يهودو سره مخالفت راشی بيا روسته صحابو رضی الله عنهم د نبیﷺ په دې ارشاد باندې عمل کړے وو.

د دې نه علاوه چې په دې مياشت کښې ځومره بدعات،خرافات د شهادت حسين رضی الله عنه نوم باندې کيږی دا ټول غلط رسومات او باطل بدعات دی که خيراتونه کيږی که شيرينے تقسيمږی نو دا ټول ناروا کارونه دی او ځوك په دې موقع باندې يخ شربت تقسيموی ځکه چې حسين رضی الله عنه د تندې په حالت کښې وفات شوے وو او کله په دې موقع ښه ښه خوراکونه او طعام په خپل کورونو کښې پوخ کړی او د دې د پاره دا وجه وائی چې حسين رضی الله عنه د لوږے په حالت کښې وفات شوے وو.

## په محرم کښې رسومات:

دويمه وجه د دې د ناجائز کيدو دا ده چې نبیﷺ فرمائيلی دی: ﴿لَاتَخُتَصُّوا يَوۡمَ الۡجُمُعَةِ بِالۡعِبَادَةِ مِنۡ بَيۡنِ الۡاَيَّامِ﴾ (مسلم) د جمعے ورځ د عبادت د پاره مه خاص کوے دې خلقو ته به بله ورځ نه خيرات ياد وی او نه بل عبادت خو په ربيع الاول او په محرم کښې دوی هر قسم بدعاتو ته مخکښې کيږی کله چې لسم محرم شی نو دې خلقو ته بيا بدعات ور په ياد شی دا خو لاځۀ کوے چې بعضے خلقه ورسره ېځپله دا خبره کوی نذر خدا نياز حسين رضی الله عنه دا نذر د خدائے د پاره دے خو په نوم د حسين رضی الله عنه دے، حالت دا دے چې نذر عبادت دے ﴿وَالۡعِبَادَةُ لِغَيۡرِ اللهِ كُفۡرٌ﴾ د غير الله د تقرب دپاره عبادت کول کفر دے.

بل غلط رسم په دې موقعه بعضې خلق دا کوی چې ځوک د

سوګ د پاره تورې کپړے اچوی او دا د غم واله علامه وی دا ناروا کار دے حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی چې کله خاوند وفات شی نو ښځه په خپل خاوند باندې څلور میاشتے لس ورځے یو قسم ته غم به کوی نور په هیڅ مړی باندې د درې ورځو نه زیات غم کول منع دی د مړګ د درې ورځو نه بعد په مړی باندې غم او سوګ ښکاره کول حرام دی نو څورلس سوه کاله بعد په حسینؓ څنګه غم مناویږی، دې نه علاوه نور لوے صحابهؓ وفات شوی دی که په یو یو باندې غم او سوګ یو انسان کوی نو چرته خوشحالی به انسان او نه وینی.والحمدلله رب العالمین.

# د اسلام خصوصیات او ویلنتیائن ډے

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوَاتِ الشَّيْطٰنِ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ فَاِنْ زَلَلْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنَاتُ فَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ﴾(سورۃ البقرۃ:۲۰۸،۲۰۹)

## مکمل دین اسلام:

د قرآن پاك سورة بقره نه دوه آیتونه تلاوت شو دې کښې الله رب العزت اهل ایمان والو مؤمنانو ته خطاب کوی او د الله یو حکم بیانیږی اے د ایمان والو! د اسلام په دائره کښې پوره پوره داخل شے داسے نه وی چې د اسلام دعوی وی خو د اسلام څۀ احکام د دې انسان د عملی ژوند نه باهر وی یا صرف په خُله د اسلام دعوی وی خو مینه او محبت دا انسان د یهودیت یا نصرانیت سره لری دا انسان به په عقائدو کښې معاملاتو کښې عباداتو کښې اخلاقیاتو کښې معاشره کښې په دې ټولو احکاماتو کښې به دا انسان د اسلام تابع وی او د اسلام د حکم پابند به وی په دې باندې به عمل کوی د دې نه به نه باهر کیږی. نه به عقائدو کښې د یهودیت تابع وی، نه به عباداتو کښې د نصرانیت تابع وی، اخلاقیات، معاملات، سیاست معاشره کښې به د نورو دینونو والو پسے روان نه وی دا هر څۀ به د اسلام نه زده کوی او د دې پابند به وی که یو انسان د اسلام دعوې سره سره په دې کښې یو حکم د نورو دینونو نه اغستے وی نو دغه حکم الله ته قبول نه دے او دا انسان پوره مسلمان نه دے ځکه الله فرمائی: ﴿اُدْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً﴾

په اسلام کښې پوره داخل شے او سورة ال عمران کښې الله فرمائی:

﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ﴾ (بقره:۸۵)

ځوك چې د اسلام نه علاوه بل دین تلاش کوی نو دغه دین به د دې انسان نه قبول نشی او دا انسان به په ورځ د قیامت تاوانی وی.

## د اسلام اصلی صورت:

وجه دا ده چې د اسلام دا خصوصیت دے او په نسبت د نورو مذهبونو او دینونو د اسلام دا کمال دے چې په خپل اصلی حقیقی صورت کښې چې څنګه د اسمان نه نازل شوے دے او څنګه چې د نبیﷺ په دور کښې موجود وو په هغه اصلی حالت کښې نن هم موجود دے او دا به تر قیامت پورے محفوظ وی په دې کښې څۀ تبدیلی او تغییر نشی کیدے کوم قرآن ،حدیث ، احکام شریعت چې د نبیﷺ په زمانه او دور کښې موجود وو هغه نن هم موجود دی او ترقیامت پورے به موجود وی ځکه الله د دې د حفاظت ذمه دار بل ځوك مخلوق نه دے ګرځولے بلکه الله بذات خود پخپله د دې حفاظت کوی قرآن کښې الله فرمائی:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُوْنَ﴾ (حجر:۹)

دا قرآن ما نازل کړے دے او زۀ به د دې حفاظت کومه.

یو عالم ، یو مفتی او یو پوهه انسان خو لاڅۀ کوے که د مسلمانانو یو عام امتی انسان دا دعوی کوی چې قرآن په خپل اصلی شکل کښې نن هم محفوظ دے نو دغه عام جټ امتی سړے دا خپله دعوی ثابتولے شی او د دې په اثبات کښې به ورته څۀ مشکل ، تکلیف نه وی. عملی بحث مباحثے ته ضرورت نشته ځکه دا کتاب چې کله نازل شوے دے د

نبی ﷺ په دور کښې په مختلفو څیزونو باندې لیکلے شوے وو د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دور کښې کتابی شکل ورته ورکړے شوے وو او د عثمان غنی رضی الله عنه په دور کښې هغه خلق په یو قراۃ باندې راجمع کړی وو دغه نسخه کومه چې عثمان رضی الله عنه مدوّنه کړے وه نن ورځ هم هغه نسخه په ماسکو کښې په میوزیم کښې بحیثیت یادگار موجود ده. عام چهاپ شوی کتابونه که یو انسان د دغه قرآن سره د دې موازنه اوکړی نو په ترتیب آیتونه ،زبر، زیر، کلماتو کښې به هیڅ فرق نه وی دا به بالکل یو شان وی.

## د اسلام جامعیت او کمال:

د دې په مقابله کښې نورو مذهبونو والو سره که اسمانی کتابونه دی او که غیر اسمانی کتابونه دی که تورات انجیل زبور دې اوکه د هندوانو سیکهانو بدھ مت والو د مذهب کتابونه دی نو هیڅ یو مذهب واله کتاب د دې زمکے د پاسه نشته د هیڅ یو کتاب خپل اصلی شکل او صورت نه موندلے کیږی. د یهودیانو سره هغه تورات نشته کوم تورات چې الله موسی علیه السلام ته ورکړے وو د نصارؤ سره هغه انجیل نه موندلے کیږی کوم انجیل چې الله په عیسی علیه السلام باندې نازل کړے وو څوك دا دعوی نشی کولے چې دا بعینه هغه کتاب دے کوم چې زمونږه په پیغمبر باندې نازل شوے وو.

دویم دا خصوصیت چې اسلام ته الله داسےجامعیت او کمال ورکړے دے چې نورو مذهبوبو او دینونو ته داسے کمال نه دے حاصل شوے او نه د اسلام سره په دې کښې مقابله کولے شی مسلمان دا دعوی کولے شی چې اسلام یو پوره نظام دے د دې هیڅ یوه پهلو ناقصه او نا مکمله نه ده لکه قرآن کښې الله فرمائی خپل پیغمبر ته کله چې هغه په میدان عرفات کښې ولاړ دے الله آیتونه نازل کړل:

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ﴾ (مائدہ:۳)
نن ورځ ما ستا دا دين مکمل کړو او په تاسو باندې زما نعمتونه پوره شو.

د انسان هيڅ يو ضرورت داسے نشته مګر الله په قرآن کښې د هغے د پاره حکم ذکر کړے دے يا په احاديثو کښې د هغے مسئلے حل شته دے که د عقيدے نظريے ايمان خبره وى نو اسلام د هغے پوره بيان کړے دے مونږه په عقيده کښې هيڅ چاته محتاجه نه يو او نه د چا عقائدو ته ضرورت لرو مونږه د دې خود کفيل يو الله مونږه ته پوره برابره عقيده راکړے ده او په عباداتو کښې تمام عبادات او د ثواب کارونه زمونږه شريعت پوره بيان کړى دى مونږه د هيڅ چا عبادت ته ضرورت احتياج نه لرو دغه شان اخلاقيات، معاملات، سياست، معاشره په دې کښې مونږه هيڅ مذهب، هيڅ قوم هيڅ مخلوق ته په دې کښې ضرورت نه لرو هغه دين چې الله د ادم عليه السلام نه شروع کړے وو دغه دين د نبى ﷺ په بعثت سره حد کمال ته رسيدلے دے نو دا مکمل دين نظام حياة دے. د مسلمان به يو خپل تهذيب وى مستقل اخلاق به وى پوره معاشره به وى مکمل صفا معاملات به وى جامع سياست به وى په دې کښې اسلام مستقل دے او چا ته محتاج نه دے.

## د مسلمانانو کمزورى:

دا خبره د تمهيد د پاره ځکه ضرورى ده چې نن عام مسلمانان کله عقائد د هندوانو نه اخلى په عمل کښې د بدعاتو شکار شوى دى په غم ښادے کښې د باطل رسوماتو او فاسد رواجونو مونږه شکار شوى يو په دې نوى دور کښې نوې بدعات او نوې رسومات عام شوى دى ځنګه چې د علماؤ ذمه دارى وه چې په زاړهٔ بدعاتو او رسوماتو باندې به ئے رد کولو

دغه شان د دې زمانے د علماؤ دا ذمه داری ده چې په دې نوې رسوماتو بدعاتو به هیمشه رد کوی لکه په څوارلسم تاریخ باندې ویلنټائن ډے مناؤول، آزاد خیال خلق د دین نه ناخبره، سیکولر،لیبرل نظریه لرونکی خلق دا په ډیر شوق سره مناوهی کله اپریل فول، کله نیوائیر نائټ په نوم باندې دا د مغرب نه نوی راغلی باطل رسومات دی چې د دې د اسلام سره څۀ تعلق نشته.

## د یوم محبت مفاسد:

په دې کښې خلاف شریعت کارونه کیږی نا محرمو ته خلقه سور ګلان پیش کوی د کالج یونیورسټو واله په ازادے سره زنانه نارینه دواړه اختلاط کوی او په دې خوشحاله کیږی یو بل ته تحفے تحائف ورکوی دې ته تعلیم یافته جاهل وئیلے کیږی ځکه د مغرب ړوند تقلید کوی ځکه که دا یوم محبت دے دا یوم عشاق دے دا اسلامی ملکونو ته د کفر نه راغلی رسومات دی او غټ سبب د دې د رواج د پاره میډیا ده د مغرب په ایماء سره دا جرم کوی په دې یوم محبت په ورځ د حیاء قتل کیږی او حیاء سوز واقعات مخے ته راځی حیاء د دین اسلام بنیاد دے دا اسلامی لویه شعبه ده په اسلام کښې د حیا دومره لوې مقام دے چې اسلام صرف پابندی نه بلکه یو حد او سزا مقرر کړے ده.

## پس پرده مقصد:

دغه خلق دا غواړی چې یوم محبت په نوم باندې اباحیت لره رواج ورکوی اباحیت معنی دا چې هر څۀ کول جائز دی هیڅ څۀ منع نه دی او مقصد په دې کښې دا وی چې مسلمان عملی لحاظ سره د اسلام نه آزاد کړی لکه څنګه چې مغرب او یورپ ازاد دے نو نتیجه به دا وی چې څنګه په مغرب کښې خلق ګرځی او د خپل پلار نوم ورته نه وی یاد دغه شان به اسلامی ملکونو کښې هم پیدا شی دا حالات پیدا کول کله د آزادی

نسواں په نوم ،کله د ویلنټائن ډے په نوم باندې دا د دې بے حیائی نتائج وی څنګه چې نن په یورپ او مغرب کښې پلار او لور خور ته د مانع حمل طریقے ښائی دغه شان به اسلامی ملکونو کښې د حیاء د تعلیم په ځائے دلته هم دغه حالات وی و العیاذ بالله مسلمان لره د دې نه لرې کیدل پکار دی اوکه داسے نه وی نو د مسلمانے زنانه عزت او حیاء به تار تار شی بے حیائی به عامه شی او دا د مغرب مقصد دے په دې کښې دوی دَ یوم محبت په نوم باندې دنیا ته دهوکه ورکوی.

# ربیع الاول او صراط نبوی ﷺ

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدُفَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ (احزاب:۲۱)

## د ربیع الاول میاشت او تذکره نبی ﷺ:

په اسلامی کال کښې دریمه میاشت د ربیع الاول میاشت ده د دې میاشت مناسبت او تعلق د نبی ﷺ سره په دې حواله شته دے چې په دې میاشت کښې د مشهور قول مطابق نبی ﷺ پیدا شوے وو او د اتفاقی قول مطابق په دې میاشت کښې هغه وفات شوے وو کله چې دا میاشت راشی نو په دې ملك کښې بلکه پوره برصغیر کښې خلق مختلف قسم اجتماعات، مجالس او محافل منعقد کوی او هر هر مکتب فکر واله خلق د خپل ذوق مطابق د نبی ﷺ سیرت بیانوی او د هغه دَ دور واقعات واضحه کوی په دې کښې د نبی ﷺ تذکره د هغه اخلاق او د محاسنو تذکره په زور وشور سره کیږی دا یو قسم زمونږه کمزوری ده چې صرف یوه ورځ په ټول کال کښې د نبی ﷺ تذکره وی حقیقت دا دے که ټول عمر ټول کال ورځ او شپه هر ساعت یو انسان د نبی ﷺ تذکره کوی نو د هغه حق به ادا نه کړی او الله نظام داسے جوړ کړے دے چې د کله نه الله دنیا پیدا کړې ده نو یو باران شروع شوے دے چې دا همیشه وریږی کله په دې علاقه باندې وی کله په بله علاقه وی او کله به بله علاقه باندې دغه د رحمت باران همیشه راوریږی دا سلسله جاری وی نن یو ځائے صبا بل ځائے نو که انسان په تمام کائناتو نظرکوی دغه باران هیڅ یو

ورځ ،هیڅ یوه شپه، هیڅ یو ساعت نه اودریږی او جاری وی دغه د بارانِ رحمت په شان د نبیﷺ تذکره هم ده چې همیشه وی هیڅ یو لحظه هیڅ یو ساعت د دې نه خالی نه وی او دا بارانِ رحمت د نبیﷺ ذکر خیر او تذکره همیشه به مسلمان کوی که هغه په زمکه باندې وی اوکه بره په اسمان کښې وی که په صحرا کښې وی اوکه ابادی کښې که هغه مسجد، منبر او محراب وی نو د دې هر یو نه د نبیﷺ د سیرت تذکره شروع وی او دا سلسله جاری او ساری وی که مؤذن اذان کوی که مکبر تکبیر وائی نو په دې موقعو د نبیﷺ ذکر په دې کښې موجود وی کله نه چې الله اسلام په دنیا کښې خور کړے دے او د اذان ابتداء شوې ده د دغه وخت نه د نبیﷺ تذکره شروع شوې ده او دا به تر د قیامت دَ ورځے پورې جاری وی.

## د پیغمبرﷺ رفعت ذکر:

په مکی دور کښې کله چې مشرکانو د نبیﷺ خبره نه اوریدله او هغه لره ئے قسم قسم تکلیفونه ورکول نقصان ئے ورکولو نو الله د خپل پیغمبر پاك د تسلئ د پاره دا ایتونو نازل کړل ﴿وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ﴾ (انشراح:۴) اے پیغمبره مونږه ستا ذکر اوچت کړے دے. دغه نا شکره بے قدره مشرکان به نه وی او ستا ذکر به کیږی او کله چې د ربیع الاول میاشت راشی نو دغه تذکره نوره زیاته شی ځکه د نبیﷺ د ولادت او وفات تعلق د دې میاشت سره شته دے.

په دې ربیع الاول کښې د نبیﷺ تذکره په دوؤ عنواناتو سره کیږی یو عنوان ته میلاد النبیﷺ وائی او بل عنوان ته سیرت النبیﷺ وائی په دې ملك کښې یو مکتب فکر واله دی چه هغوی دې ته عید میلاد النبیﷺ نوم ورکوی او د دې شهرت ډیر دے په میډیا باندې،

اخباری سطح باندې حکومتی حد پورې تر دې پورې چې عام سرکاری چهټی هم د دې د وجے نه وی چې میلاد النبیﷺ مناؤ کړے شی او بل مکتب فکر واله د سیرت النبیﷺ نو م باندې د نبیﷺ سیرت بیانوی.

## د میلاد النبیﷺ او سیرت النبیﷺ عنوان موازنه:

په دې دواړو عنواناتو کښې دا موازنه کول پکار دی چې په دې کښې کوم عنوان بهتر دے اګرچه د نبیﷺ تذکره په هیڅ یو لحظه کښې د خیر نه خالی نه وی خو عید میلادالنبیﷺ دا معنی لری د نبیﷺ د پیدائش اختر نو یوه خبره دا ده چې آیا دا اختر زمونږه په دې دین کښې شته دے اوکه نشته نبیﷺ پخپله د اختر په موقع دا ارشاد فرمائیلے وو:

﴿لِكُلِّ قَوْمٍ عِيْدٌ وَهٰذَا عِيْدُنَا﴾ (ابن ماجة)

د هر قوم د پاره یو اختر وی او دا زمونږه د پاره اختر دے.

او دغه یو غټ اختر دے او یو وړوکے اختر دے کله چې نبیﷺ مدینے ته هجرت اوکړو نو د مدینے د خلقو څۀ خپلے ورځے وے چې هغوی به په دې ورځو کښې اختر کولو خوشحالی به هغوی کوله نو د نبیﷺ نه تپوس شوے وو چې مونږه د دوی سره په دې کښې شرکت کولے شو نبیﷺ ورته جواب ورکوی ﴿قَدْ اَبْدَلَنَا اللهُ بِخَيْرٍ مِنْهَا﴾ (مسند احمد) الله مونږه ته د دې په بدله کښې د دې نه غوره او بهتره ورځے راکړی دی یوه ورځ د عید الفطر ده او یوه ورځ د عید الاضحی ده نو دا دریم اختر د عید میلاد النبیﷺ په نوم باندې د دې ثبوت د چرته نه راغلے دے دا نه چرته په قرآن کښې شته دے او نه د نبیﷺ په احادیثو کښې ذکر شوے دے، نه د مکے په دور کښې نبیﷺ دا اختر مناؤ کړے دے، نه د بعثت نه چالیس سال مخکښې نبیﷺ مناؤ کړے دے او نه د بعثت

نه بعد په مدنی دور کښې نبیﷺ مناؤ کړے دے. دغه شان نه په دور ابی بکرالصدیقؓ کښې او نه د عمرؓ په دور کښې او نه د عثمانؓ په دور کښې او نه د علیؓ په دور کښې نه او نه د نورو صحابوؓ په دور کښې دا مناؤ شوے دے. د صحابوؓ نه بعد د تابعینو دور کښې یا د تبع تابعینو دور کښې یا د امامانو دور کښې یا د محدیثنو فقهاؤ، مفسرینو په دور کښې هیڅ چا دا نه دے مناؤ کړے او نه د دې طرف ته توجو شوې ده او نه چرته د دین مشرانو دا کار کړے دے اخر هغه څۀ بنیاد دے هغه څۀ څیز دے چې د هغے د وجے نه مونږه دا اختر مناؤ کړو او د دې ادائیګی په مونږه ضروری شی دا اختر د تاریخ په پاڼړو کښې هیڅ چرته نه موندلے کیږی او نه د دې ذکر چرته شته دے.

د دې بدعت شروعات په شپږمه صدے کښې مطلب د نبیﷺ نه شپږ سوه کاله بعد دا اختر ایجاد شوے دے او دا دین نه دے.

## د دین معیار:

دین هغه دے چې قرآن کښې ذکر شوے وی په احادیثو کښې د هغے تذکره وی صحابو، تابعینو، خیر القرون کړے وی او که په دې وخت کښې نه وی نو هغه دین نه دے بےدینی ده هغه کار خیر نه دے بلکه بدعت او فساد دے او د دې نه لوے بل فساد دا دے چې د دې د اثبات او حقانیت ثابتولو د پاره دغه خلق کله د یو ځائے نه د غلط استدلال کوشش کوی کله د بل ځائے نه کله د ځان نه جوړ شوې واقعات او خرافات وی کله خوبونه وی په هره طریقه چه وی خو دا مُحْدَثْ او نوے جوړ کړے شوے کار د دین په نوم وجود ته راوستل غواړی.

## د دعوت اسلام مقصد:

بله خبره دا وه چې ایا د نبیﷺ دعوت یو یو کور ته ودریدل او دعوت اسلام ورکول ،وهل ټکول، تکلیف ،مشقت برداشت کول دا د دې

د پاره وو چې اے خلقو زما پيدائش اومنے چې زۀ پيدا شوے يمه د نبیﷺ په پيدائش کښې لوے مشرکان ابولهب ،ابوطالب، ابوجهل هم اختلاف نه کوی هغوی ته دا پته وه چې محمدﷺ د عبد الله ځوئے او د امنه بچے دے او که نه د نبیﷺ هجرت د دې د پاره وو چې دا د مکے واله خلق زما پيدائش زما ميلاد نه منی دا هجرت واله لوے سفر د دې مقصد د پاره شوے وو او که په احد،خندق،بدر،تبوك کښې ودريږی نو دا مقصد دے چې دا خلق ميلاد نه منی په دوی باندې د دې منل او مناوۀل پکار دی هيڅ يو صاحب عقل په دې کښې اختلاف نه کوی چې د نبیﷺ مخالفت د روز اول نه واخله تر اخر دَ وفات پورے د دې بنياد ميلاد النبیﷺ نه دے بلکه د دې بنياد سيرت النبیﷺ دے پيغمبر چې کوم دين، ايمان او عقيده دعوت راوړے دے او د کوم عمل دعوت چې خلقو ته ورکوی په دې کښې اختلاف دے په ميلاد کښې هيڅ اختلاف نشته او که د دې زمانے مشرکان اختلاف لری نو وجه صرف اختلاف کول د سيرت نه دی وجه د دې په ميلاد کښې اختلاف نه دے ځکه هندوان، عيسايان، سيکهان ټول دا منی چې محمدﷺ د مسلمانانو مشر دے اوس د دې عيد ميلاد النبیﷺ مناوۀل او ثابتول څۀ معنی لری آيا دا د نبیﷺ د بعثت مقصد دے ځکه د دې اثبات ضروری دے آيا په دې ميلاد باندې د الله توحيد موقوف دے، په دې باندې د اخرت عقيده موقوف ده، څۀ ضرورت دے چې دا خلق ورځ او شپه په دې باندې خپل صلاحيتونه خرچ کوی او دا کوشش کوی چې يو داسے کار ثابت کړی چې د هغے ثابتول هيڅ څۀ مقصد او هيڅ معنی نه لری بلکه ټوله دنيا هغه منی او په دغه خبره د ټولے دنيا اتفاق او اتحاد دے.

## د اسلام صحیح حق:

بله خبره د میلاد النبیﷺ متعلق دا وه چې د نبیﷺ د پیدائش په ورځ او تاریخ کښې اختلاف دے دا یقینی خبره نه ده چې نبیﷺ په دولسم ربیع الاول پیدا شوے دے بلکه قرین قیاس او عقل سره موافق خبره دا ده چې نبیﷺ په نهم ربیع الاول پیدا شوے دے خو دا خبره یقینی ده او په دې د تمامو قومونو اتفاق دے چې تاریخ وفات د نبیﷺ باره ربیع الاول دے. په دې کښې حکمت دا وو چې زمونږه دین دا نه دے چې مناؤ کړے شی دا به انسان خپلوی او دا به په عمل کښې راولی دا خو د عیسایانو عقیده وه چې هغوی د عیسیٰؑ په وفات باندې یا پیدائش باندې د خوشحالے یوه ورځ مناؤ کړی او بس دا د هغوی دین دے که دا دین وے او د خیر کار وے نو د ټولو خلقو نه اول به نبیﷺ پخپله باندې دې د خیر کار ته مخکښې شوے وے او هغه به دا مناؤ کړے وے. دا کار صحیح روایت خولا څۀ کوے په هیڅ یو ضعیف روایت کښې هم نشته دے . نو دا عنوان د عید میلاد النبیﷺ دا یو بے مقصده عنوان دے او فضول کار دے د دې څۀ اهتمام او اهمیت په دین اسلام کښې نشته.

د دې خلقو ټول دین دا دے چې میلاد النبیﷺ ادا کړے شی بس نور په ژوند کښې سنت طریقه نشته نه د نبیﷺ پیغام او سیرت شته دے نه د شریعت په ښودلی شوی طریقے باندې چرته عمل شته دے نو دا عنوان نامناسب عنوان دے اصل فرق او وجه د کافر او مسلمان په

مینځ کښې سیرت النبیﷺ دے چې د نبیﷺ پیغام کومه عقیده ښودلې ده د مسلمان عبادت به څۀ وی دغه شان هغه کومه معاشره او اخلاق ښودلی دی هغه د کومو معاملاتو ترغیب ورکړے دے دا بنیاد دے او دا معیار دے په دې سره د مسلمان او د کافر د منونکی او نه منونکی په مینځ کښې فرق واضحه کیږی. والحمدلله رب العالمین

# د ربیع الاول بدعات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّابَعْد فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم۔

﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ (سورة اٰل عمران:۳۱)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى: قُلْ يٰاَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ﴾
(سورة المائدة:۷۷)

## ربیع الاول او دین اسلام:

د ربیع الاول دریمه اسلامی میاشت ده اول محرم، دویم صفر او دریم ربیع الاول په دې ترتیب سره د دې میاشت په دین اسلام کښې څۀ مقام دے؟ او د شریعت قرآن او سنت د تعلیماتو مطابق په دې کښې څۀ کار کول پکار دی او د څۀ کار نه به انسان په دې کښې ځان لرې کوی د هغے پریخودل او د قرآن او د سنت تعلیماتو مطابق ژوند کول ضروری دی بطور تمهید دا پیژندل ضروری دی چې دین څۀ ته وائی کله چې یو مسلمان ته د دین معرفت حاصل وی نو هغه ته د جائز ناجائز، حلال حرام فرق ښکاره وی دین په اصل کښې د دوؤ خبرو نوم دے یو د الله رب العزت احکامات قوانین منل هغے ته غاړه کیخودل او بیا دغه عبادات، احکامات د نبی ﷺ د طریقے مطابق ادا کول چې په کومه طریقه نبی ﷺ د هغے دعوت ورکړے دے په هغه طریقه به ئے انسان ادا کوی د الله څۀ حکم دے؟ د الله مطالبه د بنده نه څۀ ده؟ او بیا دغه د نبی ﷺ د طریقے مطابق پوره کول، دې ته شریعت وائی کله چې د الله حکم د نبی ﷺ د طریقے مطابق وی نو دغه دین دے الله په قرآن کښې

فرمائی: ﴿وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ﴾(حشر:۷) څۀ چې تاسو ته رسول ﷺ درکړی دی نو په هغې باندې عمل کوئے او د هغې پابند جوړ شے ﴿وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾ او د څۀ نه چې پیغمبر تاسو منع کوی نو د هغے نه منع شے، او د امتی تعریف دا دے چې دا به د پیغمبر **فعلًا او ترکًا** تابعدار وی د څۀ په باره کښې چې پیغمبر حکم کوی هغه به پوره کوی او د څۀ نه چې پیغمبر ﷺ منع کوی هغه به نه کوی دې ته امتی وائی.

## د ژوند د پاره مکمل تعلیمات:

نبی ﷺ په مختلفو موقعو باندې صحابو ﷺ ته دا وئیلی دی چې دا د الله حکم دے په دې طریقه باندې دا پوره کوی که هغه د حج موقع ده او که هغه د مونځ موقع ده او که هغه روژه او که یو بل عبادت دے نو نبی ﷺ په دې ټولو موقعو، صحابو ﷺ ته دا خبردارے ورکړے وو چې دا عبادت په دې طریقه باندې ادا کوے د مانځه په باره کښې فرمائی: ﴿صَلُّوْا كَمَا رَاَيْتُمُوْنِيْ اُصَلِّيْ﴾ (بخاری) مونځ په داسے طریقه ادا کوے لکه څنګه چې زۀ مونځ ادا کوم. د حج په موقع په حجة الوداع کښې صحابو ﷺ ته وائی ﴿خُذُوْا عَنِّيْ مَنَاسِكَكُمْ﴾(غایة المأمول) تاسو زما نه د حج احکامات واخلئ او دا زما نه زده کړے دغه شان په هره موقع که هغه معاملات دی که هغه سیاست دے که هغه معاشره یا عبادت دے په هره موقع نبی امت ته دا تعلیم ورکړے دے که غم وی که خوشحالی وی په دې کښې به د پیغمبر دَ سنت د هغه دَ اتباع او تابعدارئ رعایت کولے شی که یو انسان دا دعوی کوی چې زۀ د پیغمبر تابعدار یمه زۀ هغه منم خو ژوند د خپل خواهش مطابق تیروی نو دا انسان صرف په خُله د دعوے حد پورے مسلمان دے خو عملی مسلمان نه دے ځکه الله فرمائي: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ (احزاب:۲۱) ستا سو د پاره د پیغمبر ﷺ

په ژوند کښې د عمل د پاره یو ه غوره نمونه موجود ده نو دَ پیغمبر اتباع ضروری ده که هره موقع وی که غم وی که خوشحالی وی که معاملات وی که اخلاق وی که عبادات په دې هره موقع به امتی بحیثیت مسلمان د خپل پیغمبر په طریقه باندې روان وی او د هغه تابعداری به کوی د هغه د حکم نه به اعراض نه کوی او دا د نبیﷺ یو امتیازی شان او خصوصیت دے چې د نورو پیغمبرانو سیرت مستند نه دے او نه همیشه تر قیامت پورے خلقو ته قابل عمل دے خو د نبیﷺ سیرت د هر قوم دپاره په هره زمانه کښې د ماشوموالی نه واخله تر د وفات پورے یوه اُسوه او قابل عمل حیثیت لری انبیائے کرامعلیہم السلام په دې ټول کائناتو او بشریت کښې کامل خلق دی بیا په دې انبیاؤ کښې د کامل نه کامل او اکمل او مکمل د نبیﷺ سیرت او ژوند دے ځکه په نبیانو،کښې چې څومره کمالات وو هغه ټول الله یواځے زمونږه پیغمبر پاکﷺ ته الله ورکړی وو او دغه ټول کمالات پکښې الله راجمع کړی دی دا پیغمبرﷺ بحیثیت استاذ بحیثیت عالم بحیثیت مربی بحیثیت دوست بحیثیت خاوند بحیثیت پلار بحیثیت قاضی په هر حیثیت سره پوره دے او په هره موقع خپل امت ته په هر لحاظ سره هغه هدایات کړی دی او دَ امت د رهنمائے د پاره هغه پوره کامل مکمل کوشش کړے دے.

## په دین کښې غلو او تباهي:

د پیغمبر پاکﷺ ژوند یوه ښائسته عملی نمونه ده د امت د پاره او د یهودیت او نصرانیت واله دینونه الله ځکه تباه وبرباد کړی دی چې هغوی د خپلو دینونو نه اعراض کړے وو حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی: ﴿إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ لِغُلُوِّهِمْ فِيْ دِيْنِهِمْ﴾ ستاسو نه مخکښې خلق په دین کښې د غلو، سرکشے د وجے نه هلاك شوی وو، غلو یو د الله

په حق كنبې وى او يو د پيغمبر په حق كنبې وى د الله په حق كنبې غلو دا ده چې د هغه ذاتي او خاص صفات او افعال مخلوق لره ثابت كړے شي او د پيغمبر په حق كنبې دا ده چې د هغه د صحيح تعليماتو نه اعراض اوكړے شي او د دے نه روسته والے په يو انسان كنبې سنت پريخبنودل او بدعاتو باندې ژوند تيرول حديث او قرآن واله حكم روسته كول او نوې طريقو پسے روانيدل او د هغے تابعدارى كول دا قسمه صفات پيدا كوى.

## د ګناهونو ترتيب:

بدعت ګناه كبيره ده زمونږه په دې دين كنبې د ګناهونو يو ترتيب دے اول شرك او كفر دے بيا ورپسے بدعت او فسق دے د دې نه بعد ورپسے غلط رسم ورواج دے دا د ګناهونو ترتيب دے او دا ځكه غټه ګناه ده كه يو انسان شرك كوى نو دا يقينًا ګناه ده او دغه انسان ورته د ثواب كار نه وائي كه غلا، ډاكه، زنا يو انسان كوى نو دا ورته ګناه ښكارى خو كه يو انسان بدعت كوى نو دغه بدعت سره د ګناه كيدو نه، ورته ګناه نه ښكارى نو دا لوے او غټ جرم دے لكه يو انسان د سحر مونځ په ځائے د دوه ركعتونو باندې درې ركعته كوى نو دا كار په ظاهر باندې ښه او نيك كار ښكارى خو په حقيقت كنبې دا د ګناه كار دے او **زيادة فى الدين** دې ته وائي او په دين كنبې زيادت كول دا ځكه ګناه ده او دا ځكه بدعت دے چې نه الله د دې حكم كړے دے نه دا كار د پيغمبر ﷺ په ژوند كنبې شته او نه صحابو رضي الله عنهم دا كار كړے دے نو ځكه دا بدعت دے او ګناه ده. دا ګناه د قتل،زنا، غلا نه غټه او لويه ګناه ده او دا انسان د دغه كارونو واله انسان نه لوے مجرم دے.

## تاريخ پيدائش او وفات كښې اختلاف:

د مسلمان دا فريضه ده چې په هره موقع په هر كار كښې به د پيغمبر سنت او سيرت ته نظر كوى كه خوشحالى وى كه غم وى كه عبادت وى كه معامله وى په دې موقعو به امتى د خپل پيغمبر سنت او سيرت باندې نظر كوى په دې مياشت ربيع الاول كښې څۀ داسے خبرې دى چې مسلمان به هغه نه كوى او نن امت دغه قسمه كارونو ته مخكښې شوے دے نو دا يقينى خبره نه ده چې نبیﷺ په كوم تاريخ پيدا شوے دے. ځكه د سيرت او تاريخ والو او علماؤ په دې كښې اختلاف دے چې نبیﷺ د ربيع الاول په مياشت كښې پيدا شوے دے او كه هغه په بله مياشت كښې پيدا شوے دے بيا چې څوك وائى چې په ربيع الاول كښې پيدا دے نو بعضے وائى په دويم تاريخ، بعضے وائي په پنځم تاريخ، بعضے وائى په دولسم تاريخ خو په دې كښې زيات راجح قول نهم ربيع الاول دے چې نبیﷺ په دې كښې پيدا شوے دے محمود پاشا يو لوے د رياضى عالم دے هغه هم دا خبره كوى چې (نهم) ربيع الاول دے دغه شان د سيرت بل كتاب سيرة المصطفى كښې محمد ادريس كاندهلوی رحمۃ اللہ علیہ وائى چې(8) تاريخ دے نو خبره په (8)يا (9)تاريخ كښې وه دغه شان د وفات په باره كښې اتفاق دے چې ربيع الاول كښې نبیﷺ وفات شوے دے خو د ربيع الاول څۀ تاريخ وو نو د دې په باره كښې بيا د علماؤ اختلاف دے چې نبیﷺ په كوم تاريخ باندې وفات شوے وو خو د دې په باره كښې مشهور باره (12)تاريخ وفات دے مخكښې به خلقو باره ربيع الاول ته باره وفات وئيلو نو چې كله انسان دا خبره منى چې نبیﷺ په دې وفات شوے هم دے نو په دې ورځ چې اختر كوى نو آيا په دې باندې غم ولے نه كوى مونږه دا نه وايو چې په دې ورځے غم ضرورى دے لكه څنګه چې په

دې ورځ غم ضروري نه دے دغه شان په دې ورځ خوشحالي هم ضروري نه ده ځکه غم صرف درے ورځے وي بيا نه وي دغه شان ټول عمر د چا په پيدائش باندې خوشحالي نه وي.

## د خوشحالۍ معيار:

دا يقيني خبره وه چې د نبي ﷺ پيدائش دنيا ته راتلل د خوشحالے خبره ده او دا لوے نعمت دے چې مونږه ځان ته د چا امتيان وايو زمونږه دغه عظيم پيغمبرِ اسلام په ربيع الاول کښې پيدا شوے وو دا يقيني غټه خوشحالي ده خو دا خبره قابل غور ده چې آيا دا خوشحالي به انسان صرف يو ورځ کوي يوولس مياشتے څۀ د پاسه به انسان د هغه نافرماني کوي او د هغه حق دا دے چې کال کښې يوه ورځ د هغه د پاره خوشحالي مناؤ کړے شي، دويم دا چې د دغه خوشحالۍ معيار او حد به څۀ وي په کومه طريقه به انسان دغه خوشحالۍ کښې شرکت کوي صحابو رضي الله عنهم باندې د خوشحالۍ موقعے راغلے وے هغوي په کومه طريقه خوشحالي کړې وه نبي ﷺ بذات خود په کومه طريقه خوشحالي ښودلې ده.

## د پيغمبر مقام پيژندل:

ځوک چې الله دنيا ته آخري پيغمبر رامبعوث کړے دے او چاته چې الله لوے عظيم مقام سيد الانبياء ور کړے وي د ټول عالم د هدايت او کاميابۍ د پاره الله راليږلے وي د هغه حق دومره اندازے پورے دے چې انسان به په کال کښې يوه ورځ د هغه د پيدائش د پاره خوشحالي کوي دا د هغه حق ته په کوم نظر او نظريے باندې نظر کول دی دا د هغه مقام او مرتبے نه جهالت او ناپوهي ده که ځوک داسے کوي.

او دا د خوشحالے طريقه چې کومه ده په دې ورځو کښې فضول خرچې، ډهول ډهمامے، چراغان روښانه کول او په يو ځائے د نارينه او

زنانو اختلاط كيدل دا خوشحالى به په دې طريقے سره وى دا خو د نبى ﷺ د راوړلے شوى دين نه مخ اړول او اعراض كول دى آيا دا كار چرته د قرآن تعليم دے او كه دا كار د نبى ﷺ د سنت نه ثابت دے كه دا د شريعت حكم دے د دې څۀ ثبوت او څۀ اصل دے.

دا د عيسايانو نه اغستے شوې طريقه ده او د هغوى اتباع ده چې هغوى د عيسى عليه السلام د پيدائش په ورځ هر قسمه ګناه كوى او دې ته د عيسى عليه السلام حق ادا كول وائى هغوى د خپل پيغمبر سره محبت عقيدت او پيغمبر منل صرف د كرسمس ډے پورې خاص كړى دى دا د پيغمبر سره د مينے او محبت معيار او طريقه نه ده او نه دا د پيغمبر محبت دے بلكه دا د پيغمبر مخالفت دے او د هغه د اوامرو نافرمانى ده حديث كښې راځى ﴿مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ﴾(ابوداؤد) دا د عيسائيت سره مشابهت او يوشان والے دے.

# باره ربیع الاول

# عید میلاد النبی صلی الله علیه وسلم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّابَعْد فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ﴾

(النساء:۵۹)

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا﴾ (النساء:٦١)

## د عمل د اصلاح طریقه:

الله تعالیٰ د دنیا او د اٰخرت کامیابی په دے کښې کیخودے ده چې د الله تعالیٰ او د الله تعالیٰ د رسول خبره به مني او خپل ژوند به د الله تعالیٰ او د هغه د رسول د ښودلے شوے احکاماتو مطابق تیروی. او خپل عمل به د شریعت پابند کوي او د عقیدې او د عمل اصلاح به په اسلام سره کوي. که داسے نه وی نو داسے انسان ته په مسلمانانو کښې منافق وئیلے کیږی.

نو مونږ چې په دنیا کښې کوم یو د دین کارهم کوو نو د هغے په باره کښې به داسوچ کوو چې اٰیا دا عمل د الله تعالی اود هغه د رسول د ښودلے شوے طریقے مطابق دے که نه؟که هغه په دنیا کښې د خوشحالۍ موقع ده اوکه د غم موقع ده.

نو که چرته د شریعت موافق وی نو د هغے کول او که د شریعت مخالف وی نو د هغے پریخودل دی.

## د دې امت سعادت:

نبی کریم چې دنیا ته تشریف راؤړے دے نو دا د مسلمانانو د پاره ډیر د سعادت خبره ده او په دے باندې چې څومره خوشحالی اوکړے شی نو کمه ده. ځکه چې نن مسلمان ته کوم عزت ملاؤ دے نو دا د نبی کریم د وجے نه دې. که نبی کریم نه وے مبعوث شوے نو مونږ به نن په حیوانیت کښې داخل وو.

د دے وجوهاتو د وجے نه د نبی کریم په پیدائش چې څومره خوشحالی اوکړے شی نو کمه ده خو دا خوشحالی یو وخت پورے خاص کول د نبی کریم سره د محبت د کاملے دعوے مخالف ده.

## د پیغمبر تذکره:

په دنیا کښې هر وخت د نبی کریم تذکره پکارده بلکه کیږی.

ځکه چې مسلمانان کلمه وائی یا اذان کوی نو په دواړو کښې په ثابته دنیا کښې د نبی کریم تذکرے هر طرف ته کیږی.

علماء کرام فرمائی چې آذان روزانه په ټوله دنیا کښې کیږی نو چې یو ځاې کښې ختم شی نو بل ځاې کښې شروع شی. داسے په چوبیس گهنټو کښې هر وخت د نبی کریم تذکرے کیږی.

او دا د دے وجے نه چې نبی کریم تذکرے الله تعالیٰ بلندے کړے دی.په کال کښې په میاشت کښې او په هفته کښې او په هر یو ورځ کښې به داسې یو ساعت نه وی چې هغه د الله او د نبیﷺ د ذکر نه خالی

وی بلکه په هر ساعت او هره لحظه د نبی ذکر کیږی. که مکبر تکبیر کوی او که مؤذن اذان کوی او که مونځ ګذار مونځ کوی نو هر یو ساعت کښې د الله د ذکر سره د نبی ذکر کیږی او دا شان او مقام دے د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم.

## شان و مقام رسول:

الله تعالی دَ هغهٔ په شان کښې فرمائی. وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ

او مقام بیانوی وَعَلَّمَكَ مَا لَمۡ تَكُنۡ تَعۡلَمُ

او احترام بیانوی لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ

او ادب دا بیانوی چې نبی کریم ته به نوم نه اخلئ بلکه فرمائي چې الله ورته د ادب نه ډك خطاب کوی. **یایها الرسول، یایها المزمل، یایها المدثر** وغیره

کله فرمائی شان بیانوی د پیغمبر. إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ

کله فرمائي خلق غواړی په غوختلو سترې شی او اے پیغمبره تابه مونږ په درکولو باندې راضی کوؤ. وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ

اوچې کله هغه اسمان ته اوګورې نو الله تعالی قبله بدلوی

فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ

اوس تذکرے خو څه کوے بلکه د پیدائش نه مخکښې هم د نبی کریم تذکرے کیږی.او دغه وجه ده چې یهود د پیغمبر په شان کښې ګستاخی او توهین کوی ځکه چې دوی بل څه نشی کوې نو هر کله چې د خپل او

دشمن په خوله د پيغمبر ثناء مدح او تذکره کيده نو بيا دا خلق گستاخی کوی او توهين اوسپکي خبرې بيانوی.

## د پيغمبرانو په ژبه د محمد رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم گواهی:

ابراهيم عليه السلام د دۀ د بعثت په حق کښې د اللہ تعالیٰ نه سوال کوی نو فرمائی. او ابراهيم عليه السلام يو ورځ مخکښې نۀ يوه مياشت مخکښې نۀ سل کاله مخکښې نه بلکه زرگونه کاله مخکښې د نبی عليه السلام تذکرې کوی.

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ (بقرة:١٢٩)

يعنې اے زما ربه! ته دوی کښې هم د دوی د جنس نه رسول اوليږه.

دارنګ د نبی کريم تذکره عيسی عليه السلام په دے الفاظو سره کوی.پنځه سوه پاشپږ سوه کاله مخکښې دهغه تذکره کوی.

وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ (صف:٦)

يعنې زه تاسو لره زيرے درکوم چې زما نه بعد به يو پيغمبر راځی چې نوم به ئی احمد وی.

دارنګ په تورات کښې د نبی کريم صفات ذکر دی.

دارنګ اللہ تعالیٰ د هر پيغمبر نه د نبی کريم د ملګرتيا کولو وعده اغستے وه.د ادم عليه السلام نه واخله تر ده عيسی عليه السلام زمانې پورې اللہ د داسې شخصيت ذکر هر پيغمبر ته کوی.

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنْصُرُنَّهُ.(آل عمران:٨١)

یعنی یاد کړی هغه وخت چې الله تعالیٰ د نورو پیغمبرانو نه دا لوظ واغستو چې که چرته د کتاب او نبوت درکولو نه بعد یو رسول د نبوت دعویٰ اوکړه او ستاسو د کتابونو تصدیق ئې کوو نو تاسو به پرے خواه مخواه ایمان راؤړئ او مدد به ئې کوئ.که اسمانی صحیفې دی او که زبور تورات یا انجیل دے او که هغه قرآن دے په هر خپل کلام کښې د دې لوې پاکیزه بنده ذکر الله خامخا کړے دے.

سورة اعراف کښې الله تعالیٰ فرمائی. او یهودو ته خطاب کوی.

الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ (اعراف:١٥٧)

یعنې هغه انسان چې د هغه تذکرے د یهود او نصاراؤ سره په تورات او انجیل کښې موجودے دی. نو دا شان د نبی علیه السلام دے تردې پورې چې ټوله دنیا یو طرف ته سره د پیغمبرانو نه او دا عظیم بنده د الله بل طرف ته برابرے نه شی کیدے.

د دے وجوهاتو د وجې نه د نبی کریم په پیدائش ډیره زیاته خوشحالی مناوول پکار دی خو دا خوشحالی یو ورځ یا یو میاشت پورے خاص کول د شریعت نه خلاف ده.

## د میلاد النبی صلی الله علیه وسلم حقیقت:

لکه نن صبا څوك د نبی کریم برسی مناوهی او څوك ورته د عید میلاد النبی نوم ورکوی.

خو اوس مونږ په دے نه پوهیږو چې یو طرفته ورته نوم د میلاد او ولادت ورکوی او بل طرف ته ورته د باره وفات او د مړو د شپې نوم ورکوی. نو دا څه چې کیږی دا دَ باره وفات په خوشحالۍ کښې وی او که دَ عید میلاد النبی صلی الله علیه وسلم په خوشحالۍ کښې وی.

د نبی کریم د ولادت د میاشتے په باره کښې ګڼړ اقوال دي.

څوك ربیع الاول ، څوك ربیع الثانی ، څوك رجب ، څوك محرم او څوك د رمضان میاشت یادوی.

بیا د دے ربیع الاول په ورځو کښې هم اختلاف دے.

څوك دویم، څوك اتم، څوك نهم، څوك اولسم یادوی. او مشهور قول پکښې د باره ربیع الاول دے.

محمود پاشا د مصر یو عالم دے . هغه د ریاضۍ په دلائلو سره دغه ورځ د نو ربیع الاول ثابت کړے ده.

دارنګ سلمان منصور پورې هم د نو ربیع الاول قائل دے.

مولانا ادریس کاندهلوی اتم ربیع الاول لیکی.

د نبی کریم د وفات په باره کښې دوه یقینی خبرے دا دے چې یو خو د ربیع الاول په میاشت کښې وفات شوے دے او دا رنګ د ګل په ورځ وفات شوے دے.

## د عید میلاد النبی صلی الله علیه وسلم ممانعت وجوهات:

نوکه د نهم ذوالحجے نه مونږ د دے شمیره اوکړو نو په هیڅ یو ترتیب کښې هم د پیر ورځ باره ربیع الاول نه راځی.حضرت عمررضی الله عنه په خپل دور خلافت کښې د صحابوؤ نه مشوره واخسته چې خپل

تاریخ مقرر کول پکار دی نو هغوی ورته اووئیل چې د نبی صلی الله علیه وسلم د وفات د ورځ نه دا شروع کړی نو ستاسو څه خیال دے حضرت عمر رضی الله عنه عاشق رسول نه وو نو بیا ولې هغه د وفات کال او ورځ نه هجری تاریخ شروع نه کړو او د هجرت د کال نه شروع ئی وکړه بلکه امام رازی ورته وئیلو وو چې زمونږه او د عیسایانو په مینځ کښې به فرق پاتې نه شی.

دا طریقه په شریعت کښې ممنوع ده او د عیسایانو سره د مشابهت د وجے نه هم دا عمل ممنوع دے ځکه چې عیسایان هم کرسمس ډے مناوهی . نوچونکه د دے ورځ په مناوهلو سره د عیسایانو سره مشابهت راځی نو د دے وجے نه دا ممنوع دی.

دا رنګ دا عمل نبی کریم په خپله زندګئ کښې نه د بل پیغمبر کړے دے او نه ئي خپل میلاد مناؤ کړے دے.

په خلفاء راشدینو کښې حضرت ابوبکررضی الله عنه اول خلیفه دے او دا ئی نه دے کړے حضرت عمررضی الله عنه دویم خلیفه دے حضرت عثمان دریم حضرت علی رضی الله عنه څلورم خلیفه دے خو یو خلیفه دا عمل نه دے کړے اُمهات المؤمنین یو هم په دې باندې ګفت نه دے کړے.او بیا د صحابو او بیا د تابعینو او تبع تابعینو په دور کښې هم دا عمل نه وو بلکه دا عمل د نبی کریم د وفات نه شپږ سوه کاله بعد یولالچی بادشاه د خپل فسق پټولو د پاره د یو درباری ملا په مشوره باندې شروع کړے وو. دے د پاره چې د هغه بادشاهی محفوظه شی.

دا رنګ علماء دیوبند دے میلاد مناوهلو ته په ټولو فتاوو کښې بدعت وئیلے دے.

حذیفه بن الیمان رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی

**كُلُّ عِبَادَةٍ لَا يَتَعَبَّدُهَا أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا تَعَبَّدُوْهَا**

یعنې هر هغه عبادت چې د نبی کریم صحابه کرامو نه دے کړے نو تاسو ئي هم په نیت د عبادت سره مه کوئ ځکه چې صحابو د نبی کریم یو عمل هم نه دے پریخے بلکه هغوی د نبی کریم په هره اداء باندې د عمل کولو حریص وو.

الله تعالیٰ دے مونږ ته په دے ټولو خبرو باندې د عمل توفیق رانصیب کړی. امین

# د صفر دَ مياشت حقيقت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّابَعْد!

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قَالُوْا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ (سورة يٰس: ١٨)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَلطِّيَرَةُ شِرْكٌ اَوْكَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ﴾ (رواه احمد)

## د الله سره د انسان تعلق:

دا اسلامي قمري کال دويمه مياشت د صفر مياشت ده په دې کښې مسلمانان څهٔ عقائد نظريات لري چې د هغے في الحقيقة د اسلام او د قرآن او حديث سره هيڅ څهٔ تعلق نشته د دې نشاندهي کول ځکه ضروري دي چې مسلمان د دې نه خپل ځان بچ کړي او د دې په مقابله کښې چې څومره اسلامي احکامات دي د هغے پابند جوړ شي۔ څومره چې د انسان غفلت او جهالت د شريعت متعلق وي دومره به د دې انسان تعلق د الله سره کمزورے او بے کاره وي او څومره چې د قرآن او سنت د تعليماتو نه لرے وي دومره به دا انسان په جهالت گمراهئ باندې اخته وي او د هغے عقيده به لري، کله چې د انسان تعلق د الله سره کمزورے وي نو د شيطان تصرف او غلبه په دې انسان باندې زياته وي، کله تر دې حد پورے ورباندې حاکميت اختيار کړي چې دا انسان مکمل د ايمان نه خلاص کړي او کله دا انسان په مختلف قسم غلط رسومات، بدعات، توهمات او فساداتو کښې مبتلا کړي وجه دا وي چې اسلامي تعليمات د دې انسان سره نه وي او شيطاني فکر ورباندې غالبه شوے وي او دا د وهم

پرستے سلسله به جاری وی څومره چې مسلمان د شریعت نه لرې کیږی.

## د اسلام نورانیت:

د اسلام نه مخکښې دور کښې هم د دې توهماتو او غلط نظریاتو یو لوۓ سلسله وه وجه دا وه چې اسلامی تعلیمات اسمانی تعلیمات نه وو که څۀ نه څۀ موندل کیدل نو خلقو ورنه لرې والے اختیار کړے وو کله چې اسلام راغلے نو د جاهلیت دور واله تورے تیارے ختمے شوے شرك او توهماتو باندې یقین او عقیده ساتل ختم شو د مؤمنانو کامله عقیده او مکمل اعتماد د الله رب العزت ذات باندې جوړ شوے وو بیا چې کله مسلمانان د دین نه لرے شو نو دغه غلط عقائد او نظریات د مسلمانانو په معاشرے باندې دوباره یو ځل بیا مسلط شو او په دوې باندې دغه خیالات غالبه شو تر دې پورې چې په دغه توهماتو باندې یقین پیدا شو.

## باطل توهمات:

په جاهلیت قدیمه او جاهلیت جدیده کښې څۀ ډیرې خبرې وے په دې کښې یوه خبره د میاشتو متعلق غلط نظریه لرل په ورځو باندې بدګمانی او سپیرۀ والے نیول دا مخکښې هم وو او په دې دور کښې هم شته دے په جاهلیت کښې د اسلام نه مخکښې خلقو دا میاشت د نامرادۍ او بې خیرے میاشت تصور کوله او نن هم دا خبرې شته دے بیا خاص کر په زنانو کښې دا خبرے ډیرے زیاتے دی چرته چې قرآن، توحید او سنت بیانیږی په هغه ځائے کښې دا خبرې لږې کمے وی خو عام په کلو علاقو کښې او چرته چې بیا دَ قرآن او سنت بیان نه کیږی هلته کښې دغه رسومات نن هم شته دے او خلقه ورباندې یقین کوی.

او د دې د سپیرۀ والی وجه دا وه چې یو کال په دې میاشت کښې اتفاقی بارانونه نه وو شوی، ګیاګانے کمے شوې، اوبه ختمے شوې، د

ځناورو پۀ کم شو نو هغوی دې ورځ ته نوم د صفر ورکړو صفر معنی خالی میاشت ځکه په دې کښې هیڅ نه ملاویدل نو صفر نوم ئے په دې باندې کیخودلے وو چې دا میاشت د خیر او د فائدے او کامیابۍ نه خالی ده او یا صفر زیړوالی ته وائی ځکه کله د لوږې تندې د وجے نه د انسان رنګ بدل شی نو د دې وجے نه ورته دَ صفر میاشت وائی صرف د دې یوې حادثے د وجے نه دومره غلط نظریات او عقائد د دې میاشت متعلق جوړ شو او په خلقو کښې عام شو.

## د صفرے متعلق سپیرہ والئ:

کله چې اسلام خور شو نو نبیﷺ د دې غلط سوچ ختمولو د پاره دې میاشت ته نوم د صفر المظفر ورکړو، مطلب د کامیابۍ واله د صفر میاشت مطلب ځومره چې د دې میاشت سره غلط عقائد او نظریات تعلق لری هغه ټولے نظریے باطلے دی که څوك وائی چې په دې میاشت کښې مصیبتونه، افتونه نازلیږی نو دا عقیده باطله ده که څوك وائی چې د ماښام نه بعد ماشومان د کور نه باهر طرف ته مۀ پریږدے نو دا نظریه غلطه ده او که څوك دا عقیده لری چې خوشحالی، وادۀ په دې میاشت کښې مۀ کوے نو دا ذهنیت غلط دے او که څوك د ماشوم پیدائش په دې کښې د سپیرۀ والی علامه ګڼړی نو دا فاسد فکر دے او که څوك د دې د وجے نه څۀ خرڅول نه کوی چې غنم یا ګوړه یا غله که په دې میاشت کښې ختمه شی نو بیا به ټول عمر نه ملاویږی دا هسے بے بنیاده خبره ده . کله چې د صفر میاشت په ختمیدو شی نو که په چاتے یا منګی کښې څۀ اوبه باقی وی هغه توے او ضائع کړی ځکه عقیده دا جوړه شوی وی چې صفرې بلا په دې کښې ځُله وهلے ده دا اوبه سپیرۀ شوې دی بعضے خلق د کور واله استعمال شوی کوزے ماتې کړی ځکه په دې کښې صفرې

خُله وهلے ده بعض خلقو به دا کول چې صفره میاشت به ختمیدو ته نزدې شوه نو ډانګې جاروګانې به ئے بوړے ښځے لره ورکړل هغے به د ځان سره واړۀ واړۀ ماشومان واغستل او د کور په هر طرف کښې به ئے دغه جارو وهله او ورسره به دا آواز کولو چې صفرې او ځه صفرې او ځه کله چې به دروازے ته نزدې شوه نو دروازۀ به ئے ورپسے بنده کړه چې صفره د کور نه او شړلے شوه او لاړه ختمه شوه.

## په شریعت کښې د سپیره والی نظریه:

او دا سپیرۀ والے زمونږه په شریعت کښې دَ دې څۀ اصل نشته بلکه قرآن په دې ګواه دے چې دا ناروا کار دے او دا د کافر قوم صفت دے سورة یس کښې الله د پیغمبرانو واقعه بیانوی چې کله الله دغه انبیاء خپل قومونو ته لیږلے وو نو دغه قوم والو ورته د سپیرۀ والے نسبت کړے وو ﴿قَالُوْٓا اِنَّا تَطَیَّرْنَا بِکُمْ﴾(یٰس:۱۸) مونږه په تاسو سره سپیرۀ والے نیسو نو انبیاؤ ورته دا جواب ورکړے وو﴿قَالُوْا طَآئِرُکُمْ مَعَکُمْ﴾ (یٰس:۱۹) ستاسو دا سپیرۀ والے تاسو د خپل ځان سره دے، مطلب دا عقیده ستاسو عقیده ده او سپیرۀ والے خو دا دے چې یو انسان د الله د هغه توحید او واحدانیت نۀ مني دا سپیرۀ والے دے.

او په حدیث کښې راځی ﴿لَا طِیَرَةَ فِی الْاِسْلَامِ﴾ په دین اسلام کښې سپیرۀ والے واله عقیده نشته او په یو بل حدیث کښې ورته نبی ﷺ د شرك نسبت کړے دے چې ﴿اَلطِّیَرَةُ شِرْكٌ﴾(ابوداؤد) سپیرۀ والی واله عقیده د شرك عقیده ده او د دې خبرے د رد د پاره نبی ﷺ دې میاشت ته د صفر المظفر نوم کیخودلے وو چې دا د کامیابئ واله میاشت ده دا صرف په دې بنیاد چې په دې غلط او باطله عقیدے او نظریے باندې رد اوکړے شی.

او په یو بل حدیث کښې راځی **لاغُوْلَ** دَ باؤ بلا حقیقت نشته چې دې خلقو دا عقیده لرله چې دَ صفرې بلا به ښکاره شی یا صفره بلا به ورکه شی نو دا د صفرې بلا ګانے په شریعت کښې د دې څۀ ثبوت نشته.

د نبیﷺ ځوئے ابراهیمؓ د اوولس میاشتو په عمر کښې وفات شوے وو اتفاقًا په دغه ورځ باندې نمر تور شوے وو نبیﷺ خفه وو د خپل ځوئ په وفات باندې خفه وو کله چې صحابوؓ دا حالات اولیدل نو نبیﷺ ته وائ چې د الله پیغمبره ستاسو د خفګان د وجے نه دا نمر هم خفه دے نبیﷺ ورته فرمائ: ﴿**إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ اٰيَتَانِ مِنْ اٰيٰتِ اللهِ لَا تَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهٖ**﴾(بخاری) دا نمر سپوږمے د الله د قدرت نخښے او علامے دی دا دَ چا د مرګ او ژوند د پاره نه توریږی د دې سره د چا د مرګ یا د ژوند تعلق نشته.

## د چورے رسم:

یو غلط رسم په دې میاشت کښې چوری کول دی دا چوری په دې بنیاد باندې کوی چې د دې خلقو دا عقیده ده چې نبیﷺ په اخری چارشنبه باندې بیمار شوے وو او بیا ورته  الله د بیمارے نه شفاء ورکړے وه نو د دې په خوشحالئ کښې دا رسمی چوری تقسیمیږی او خلق دا ډیر اهتمام سره خوری او دې ته په ښه نظر باندې نظر کوی او نور ډیر قسمه نظریات د دې سره تړی چې په دې سره  فلانے مرض ښه کیږی فلانے مرض وغیره حقیقت دا دے چې کله د دې صفر په اخری چارشنبه کښې نبیﷺ بیمار شوے وو بیا نبیﷺ د دغه بیمارے نه ښه شوے نه وو بلکه په هم دغه بیمارے کښې وفات شوے وو او دا خبره د تاریخ او سیرت واله لوے لوے عالمان لکه ابن سعد، عبدالحق الدهلوی، اشرف علی تهانوی ،شیخ ادریس کاندهلوی رحمهم الله تعالی ټولو د نبی ﷺ په

وفات کښې ذکر کړے ده چې دغه بیماری د نبیﷺ د پاره د وفات سبب ګرځیدلے وو او د دې نه ورته بیا شفاء نه ده ملاؤ شوے او دا چوری، یهودو د خوشحالۍ په بنیاد کړے وه چې کله نبیﷺ بیمار شوے وو دغه وجه ده چې د دې رسم بد، علمائے حق، علمائے دیوبند د دې تردید کړے دے او په معتبر کتابونو کښې دغه فتوی شته دے.

# د صفر میاشت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قَالُوْا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ (سورۃ یٰس: ۱۸)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَلطِّيَرَةُ شِرْكٌ اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ﴾ (رواه احمد)

## غلط رسومات او د صفر میاشت:

په اسلامی میاشتو کښې دویمے میاشتے ته د صفر میاشت وائی په دے میاشت کښې ناپوهه مسلمانان څۀ داسے کارونه، رواجونه کوی او څۀ نظریات او عقائد ساتی چې هغه د اسلام او د قرآن بلکه د شریعت سره څۀ تعلق نه لری قرآن او د نبی ﷺ سنت د دغه خیالاتو توهماتو، تصوراتو نه بیزاره دے نو دا وضاحت زۀ ضروری ګڼړم چې په دې میاشت باندې په دې مجلس کښې څۀ خبرے اوکړے شی. په دې میاشت کښې څۀ کول پکار دی او څۀ به انسان نه کوی آیا دا سوچ او عقیده ساتل صحیح دې چې دا میاشت د سپیرۀ والی او بے خیرے میاشت ده او که نه دا رواج صحیح دے چې په آخری چارشنبه په دې میاشت کښې څۀ خوراکونه تیاریږی او هغه تقسیمیږی نو دا کار کول جائز دی او که نه دی جائز؟ داسے ورسره نور ډیر کارونه دی. د دې شرعی حیثیت څۀ دے.

## د قرآن او حدیث سره تعلق:

دا د الله یو قانون دے چې څومره یو انسان د قرآن، احادیثو، اسلامی تعلیماتو سره تعلق لری نو دې انسان ته د الله معرفت ورنصیب

کیږی او دا انسان الله ته نزدې کیږی او څومره چې یو انسان د قرآن، سنت او اسلامی تعلیماتو نه لرے کیږی نو دومره پورے دا انسان د الله د رحمت نه لرے وی او د دې انسان تعلق د الله سره کمزورے او ضعیفه وی بلکه کله کله دا تعلق مکمل ختم شی او نعوذ بالله دا انسان د دے لوے نعمت ایمان نه محرومه شی.

کله چې د انسان تعلق د شریعت سره نۀ وی نو شیطان په دې انسان کښې دننه شی او خپل غلط تصرفات په دې انسان کښې شروع کړی په قسم قسم غلطو لارو باندې دا انسان روان کړی ځکه قرآن او سنت د انسان رهنما وی خو کله چې د یو انسان په ژوند کښې قرآن او سنت نۀ وی نو بیا دا انسان د شیطان په مشورې باندے راون وی هر قسمه غلط توهمات، عقائد، وسوسے دې انسان ته په ذهن کښې ږدی او دا انسان ورباندے یقین کوی.

## د جاهلیت باطل توهمات:

د اسلام نه مخکښې دور جاهلیت کښې چې کله د اسلام او د ایمان رنړا نۀ وه نو په دغه خلقو کښې قسم قسم عقائد، توهمات، خیالات او غلط تصوراتو رواج اغستے وو او دغه خلقو ورباندے یقین کړے وو او د نبیﷺ د دور پورے دغه مخلوق په دې تیارۀ کښې ډوب شوے وو عقیدے بربادے وے، د الله سره تعلق کمزورے وو بلکه نه وو عمل کښې نقصانات او فسادات پیدا شوی وو. په دغه جاهلی تصوراتو کښې یو باطل تصور دا هم وو چې دې خلقو به څۀ ورځو، شپو یا میاشتو ته د سپیرۀ والی او بدفالۍ نسبت کولو. په دغه میاشتو کښې یوه میاشت د صفر هم شامله وه. زمونږه په معاشره کښې زنانه دې ته د چورے میاشت وائی ځکه په دے میاشت کښې روتۍ تکړے تکړے چوری کوی او زمونږه په

دے قوم کښې هم دا مشهوره ده چې دا د بے خیرے میاشت ده په دې کښې که څوك يو عمل يو كار كوى نو خير او فائده وركښې نه وى او د دے د هغوى په نزديك څۀ وجوهات وو يو دا چې په يو موقع باندے په دے میاشت کښې اوبه او ګیاه کمه شوه نو د دے د کم والی د وجے نه په ځناورو، غواګانو کښې پېۀ هم کم شو نو دې خلقو ورته صفر نوم کیخودو. صفر معنیٰ دا ده چې د خیر نه خالی میاشت، بیا روسته په دے طریقه خلقو دې میاشت ته د بدفالئ په نظر باندے کتل شروع کړل. اسلام د دې نظریے د باطل کولو د پاره دې میاشت ته نوم صفر المظفر کیخودو. مطلب د کامیابئ او خیرخواهئ میاشت زمونږه بدقسمتی دا ده چې الله مونږ ته د اسلام نعمت راکړے دے خو زمونږه بے قدری ډیره زیاته ده نو د دے وجے نه مونږ دوباره د هغه جاهلیت قدیم طرف ته روان شو او د هغه خلقو باطل توهمات په مونږه باندې غالبه شو کله مونږ دا خبرے کوؤ چې په دې میاشت کښې ښادی، وادۀ نۀ دی کول پکار ځکه بیا ورکښې بے خیری پیدا کیږی، کله ماشومانو ته دا خبرے مونږه کوؤ چې په دې میاشت کښې باهر طرف ته مۀ اوځے ځکه صفره خلقو ته نقصان ورکوی. د دے بوډے ګانو زنانوؤ دا خیال دے چې دا یوه بلا ده.

کله وائی خپل ماشومان د ماښام په وخت کښې د کور نه باهر طرف ته مۀ پریږدے ځکه دوی ته تکلیف رسیږی. د ماښام نه بعد نه اُووتل دا خبره د حدیث نه ثابته ده خو د دے وجه او علت صفره میاشت نۀ ده، بلکه د دے وجه او علت تیارۀ ده چې په دې کښې هر قسم انسی او جنی شیطانان خوارۀ کیږی او په دې کښې هر قسمه زنده سر ځناور حمله کوی نو د هغے د شر نه بچ کیدو د پاره نبیﷺ دا منع کړے وه چې په دغه وخت کښې خپل ماشومان باهر طرف ته مۀ پریږدے. په دے کښې د صفرے د میاشت د نحوست او سپیرۀ والی څۀ حیثیت نشته دے.

## د صفر متعلق نور باطل تصورات:

بعضے خلق دا توهمات ساتی چې كه چرته ماشوم په دې مياشت كښې پيدا شی نو هغهٔ ته سپيرهٔ ماشومان وائی كه اتفاق د الله په فيصلے سره څهٔ نقصان كور كښې موجود شی نو د دوی دا نظريه وی چې د دې ماشوم سپيرهٔ والے دے كله په دې مياشت كښې ښادی خوشحالئ وادهٔ نه كوی كه بالفرض وادهٔ اوكړی او په كور كښې څهٔ نقصان اوشی نو بيا په دغه ناوې باندے نحوست، سپيرهٔ والے او لعنت وائی چې دا د دے د لعنت د وجے نه په مونږه باندې كيږی ځكه دا سپيرهٔ، بدبخته مونږه په صفره مياشت كښې دې كور ته راوستې ده.

او كله په دې مياشت كښې دانے، غنم نه خرڅوی ځكه چه دې كښې بيا بے خيری راپيدا كيږی او بركت ورسره ختميږی او څوك هغه لوښی مات كړی كومو لوښو كښې چې هغوی اوبه كيخودې وی ځكه د دوی عقيده دا وی چې په دے كښې صفرے خُله وهلے ده او دَ دې مياشت په اخره كښې دا كوی چې يوه بوډے مخكښې شی په لاس كښې ورسره يوه چوكه وی او د كور په هر طرف او كټ كښې سره د ماشومانو تاويږی راتاويږی او دغه چوكه چار چاپيره تاووی راتاووی د دے عقيده دا وی چې مونږه په دے سره صفره د كور نه اوباسو هسے نه چې صفره په كور كښې پاتې وی او مونږه ته نقصان رانكړی.

## د قرآن خلاف نظريه:

نو دا ټولے د جاهليت خبرې دی دا د سپيرهٔ والی عقيده د قرآن خلاف عقيده ده، د صاحب يٰسٓ واقعه الله په قرآن كښې ذكر كوی چې د دهٔ قوم په شرك او جاهليت كښې مبتلاء شوے وو نو صاحب يٰسٓ ورته د

الله په باره کښې پیغام ورکړو نو دغه بد بختو خلقو ورباندې سپیرۀ والے او بدفالی او نیوی ﴿قَالُوْا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ﴾(یٰسٓ:۱۸) دې قوم والو ورته اووئیل مونږه په تاسو باندې د سپیرۀ والی عقیده لرو ﴿قَالُوْا طَائِرُكُمْ مَعَكُمْ﴾(یٰسٓ:۱۹) انبیاؤ ورته دا جواب ورکړو چې ستاسو دا سپیرۀ والے ستاسو سره دې وی مونږه سپیرۀ نه یو مونږه خو د سپیرۀ والی د ختم کولو د پاره راغلی یو. او په مسند احمد کښې د سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه نه دا روایت شته دے چې سپیرۀ والے او بد فالی په هیڅ څیز کښې نشته دے دا عقیده غلطه او باطله عقیده ده که بالفرض سپیرۀ والے او بد فالی په څۀ څیز کښې موجود وې ﴿لَكَانَ فِي الدَّارِ وَالْمَرْأَةِ وَالْمَرْكَبِ﴾ نو دا به په کور کښې وے او په زنانه کښې به وے او په سورلے کښې به وے ځکه دا څیزونه د انسان سره همیشه او ټول عمر وی دا د انسان نه نۀ جدا کیږی او په یو بل حدیث کښې راځی ﴿اَلطِّيَرَةُ شِرْكٌ﴾(ابوداؤد) د بد فالئ او بےخیرے عقیده لرل دا شرك دے. دا د مسلمان عقیده نشی کیدے دا د جاهلیت عقائد او نظریات دی دا ټول وختونه او ورځے الله پیدا کړی دی په دې کښې سپیرې او د بې خیرے میاشتې او ورځې نشته دے.

**یو ناروا رسم:**

بل غلط رسم د دې میاشتے په آخره کښې دا وی چې په آخری چارشنبه د بدهـ په ورځ باندې په دې کښې خلقه چوری کوی، چوری خوراك تیارول څۀ بد کار نه دے خو دا د دې میاشت په آخری چارشنبه یا د بُدهـ په ورځ باندې تیارول دا د ګناه کار دے او بیا د یو عقیدے او نظریے ماتحت دا کار کول بالکل بے بنیاده دی لکه دغه خلق دا وائی چې په دې ورځ نبی صلی الله علیه وسلم الله د بیمارے نه ورته شفا ورکړې وه نو فاطمے رضی الله عنها

يا خديجه رضي الله عنها روژه نيولے وه او د ماښام په وخت کښې ئے ورسره دا چوري هم کړے وه نو د دې پس منظر مطابق مونږه هم دا کار کوؤ او په دې باندې عمل کوؤ. دا خبره بے بنياده ا و بے اصله خبره ده د دې څۀ سند او شرعي حيثيت نشته دا خود ساخته خبرے دي او دې خلقو د ځان د طرف نه جوړے کړې دي چې په شريعت کښې د دې څۀ مقام او حيثيت نشته دے. چرته په صحيح حديث کښې په صحيح سند سره دا خبره نشته او دا کار نۀ امهات المؤمنين کړے دے، نۀ خلفائے راشدينو او نه صحابوو نه بعد کښې چا دا کار کړے دے. بس دا يوه خبره ده چې خلقو مشهوره کړے ده نور په شريعت کښې د دې څۀ ثبوت نشته دے دا د دين د دشمنانو کار دے چې د ځان د طرف نه څۀ خبره جوړه کړي او بيا د دې خبرے نسبت پيغمبر او دين اسلام ته کوي نو دا خبره نه پيغمبر کړے ده نۀ صحابوو کړے ده او نۀ د ائمه او مجتهدينو نه نقل شوے ده نو د دې خبرے دين سره څۀ تعلق نشته.

د تاريخ کتابونه په دې ګواه دي چې نبي صلى الله عليه وسلم په دې مياشت کښې بيمار شوے دے او بيا ورته شفاء نۀ ده ملاؤ شوے بلکه په ربيع الاول مياشت کښې هم دغه بيمارے د وجے نه وفات شوے دے يو لوے عالم دے مولا نا محمد ادريس کاندهلوی رحمه الله هغه په خپل کتاب سيرة المصطفى کښې وائي:

**((سر میں درد کی شکایت ہو گئی اور ساتھ بخار بھی، سیدنا عائشہ رضی اللہ عنہا کی باری تھی اور بدھ کا دن تھا))**

دغه شان ابن سعد رحمه الله عليه يو بل عالم دے د هغه کتاب دے طبقات

ابن سعد په دغه خپل کتاب کښې دا وائی چې د چارشنبے(28) صفر د بدھ په ورځ د نبیﷺ په سر کښې درد او تبه ورته شروع شوه او د اشرف علی تهانوی رحمۃ اللہ علیہ کتاب دے بهشتی زیور د دغه کتاب په اتمه(8) حصه کښې وائی چې د صفر میاشت دوه ورځے باقی وی چې نبیﷺ بیمار شوے وو او د بدھ ورځ وه او دا خبره شیخ عبد الحق رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب مدارج النبوة کښې هم ذکر کړے ده نو د نبیﷺ بیماری په دې کښې ښه شوے نه وه بلکه په دې کښې شروع شوے وه.

## اخری چارشنبه:

زمونږه د علمائے دیوبند په نزد د دې شرعی حیثیت دا دے رشید احمد ګنګوهی رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب فتاوی رشیدیه کښې وائی:

*((آخری چار شنبہ کی کوئی اصل نہیں ہے))*

د آخری چارشنبی څۀ اصل نشته دے او بیا وائی چې آخری چارشنبه کښې دَ نبیﷺ مرض زیات شوے وو ((*تو یہودیوں نے خوشی منائی تھی*)) نو یهودیانو خوشحالی کړې وه او د دې خوشحالئ په باره کښې هغوی چوری کړې وه ((*وہ ھندو میں رائج ہوگئی ہے*)) دغه رسم نن صبا په هندوانو کښې رائج شوے دے او د دغه هندوانو نه بیا مسلمانانو دغه رسم اغستے دے ا و په دې طریقے سره مسلمانانو کښې مشهور شو نو دا د یهویانو رسم دے او مسلمانانو کښې د هغوی د طرف نه راغلے دے ګویا که دا مسلمان هم د پیغمبر په وفات باندې او د پیغمبر په بیمارے باندې خوشحاله دے نو خبره دا ده چې چوری کول منع نه دی خو دا په

دې طريقے سره په دې خاص ورځ کښې کول دا د ګناه کار دے.

او بله وجه دا ده چې هندوستان ته اسلام د عرب د داعيانو او د افغانستان د طرف نه د اولياؤ، بزرګانو په طريقے سره راغلے دے خو د دغه اولياؤ بزرګانو دا طريقه وه چې څوك کلی علاقے واله به ئے مسلمان کړل نو بيا به هغوی د دغه ځائے نه هجرت اوکړو نو دغه نوی مسلمان شوی قومونه به مسلمانان وو خو د اسلام سره به ورکښې هغه خپلې د هندوانو يا د جاهليت څۀ رسمونه رواجونه باقی پاتی وو.

والحمد لله رب العالمين

# استقبال ذی الحجة

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ وَالْفَجْرِ ٥ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ٥ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ٥ وَاللَّيْلِ اِذَا يَسْرِ ٥ هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ ٥﴾ (سورۃ الفجر: ۱تا۵)

﴿ وعن ابن عباس رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم : مَا مِنْ اَيَّامٍ اَلْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهِنَّ اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذِهِ الْاَيَّامِ الْعَشْرَةِ اَوْ كَمَا قَالَ صلی اللہ علیہ وسلم ﴾ (رواه احمد)

## د څه ورځو فضیلت:

په اسلامی کال او میاشتو کښې آخری میاشت ته ذوالحجة یعنې د حج واله میاشت وئیلے کیږی. دا میاشت او خاص کر د دے اولنے لس ورځے ډیرې د اهمیت او فضیلت واله ورځے دی لکه څنګه چې په عام ځیزونو کښې الله بعضو ته په نورو باندے فضیلت او مقام ورکړے دے دغه شان په دے ورځو شپو او وختونو کښې الله بعضے ورځے شپے او وختونه په نورو باندے غوره کړی دی او دے ته ئے فضیلت ورکړے دے څنګه چې د جمعے ورځ ته الله په هفته کښې یو مقام ورکړے دے او په دولس میاشتو کښې الله د رمضان میاشت ته یو مقام ورکړے دے دغه شان الله په دې ټولو ورځو کښې د ذوالحجة لس ورځو ته هم یو خپل مقام او یو خاص حیثیت ورکړے دے هر کله چه الله دې ورځو ته یو مقام ورکړے دے نو که انسان په دې ورځو کښې یو عمل کوی هغه عمل الله ته ډیر محبوب او خوښ راځی. که دغه عمل ډیر معمولی عمل ولے نه وی نو بیا هم وربانداے الله خپل بنده ته ډیر اجرونه او ثوابونه ورکوی په دے

مجلس کښې درے خبرے کول غواړمه چې د دے مياشت سره تعلق لرى.

اوله خبره دا چې د دے اولې عشرې مقام او فضيلت په قرآن او حديث کښې څۀ دے دويمه خبره دا چې کله دا ورځې او شپې د لوې مقام او فضيلت واله دى نو مسمان به د دے استقبال او هر کلے څنګه کوى مسلمان به څنګه د دے ورځو سره په کوم حالت کښې مخامخ کيږى او د دې سره به څنګه معامله کوى. دريمه خبره دا چې په دے عشره کښې څۀ عمل کول پکار دى کوم کارونه به يو مسلمان ادا کوى چې الله ورته د دې اجر وثواب ورکړى.

## قرآن کښې د ذوالحجه عشرې فضيلت:

اوله خبره کښې دا ياد ساتل پکار دى چې د قرآن او حديث او د اسلافو اقوالو کښې د صحابو رضی اللہ عنہم په کلام کښې د دے شپے متعلق ډير زيات نصوص نقل شوى دى. قرآن پاك په سورة الفجر کښې الله د دې لسو شپو، ورځو تذکره کوى او په دې باندې قسم کوى:

﴿وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ﴾ (الفجر)

الله فرمائى د سحر دا قيمتى وخت ګواه دے دا ډير لوے قيمتى وخت دے ځکه ورباندے الله قسم کوى او ګواه کوى ئے ﴿وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ او لس شپے او ورځے هم ګواه دى ﴿وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ﴾ جفت او طاق او د شپے اخرى حصه دا هم ګواه دى زمونږه مقصد دلته دا لس ورځے دى نو په دې باندے قسم خوړل او دا ګواه کول د دې دليل دے چې په دے کښې څۀ کمال شته دے او دا د الله د طرف نه د دې د عظمت او د لوے مقام دليل هم دے دويم په قرآن پاك کښې الله دې لسو ورځو شپو ته ايام معلومات هم وئيلى دى دا معلومے ورځے دى د عبادت د پاره، د نيکئ د پاره، د حج او د قربانئ د پاره، دا معلومے ورځے دى او

کله چې الله په قرآن کښې د حج تذکره کوی نو الله فرمائی: ﴿وَاذْكُرُوا اللهَ فِيْ أَيَّامٍ مَّعْلُوْمَاتٍ﴾ (حج:۲۰۳) تاسو الله لره ياد کړے په دې معلومو ورځو کښې د دے په باره کښې د قرآن کريم مفسرين وائی چې د دې نه مراد د ذوالحجة دغه لس ورځے دی نو که يو طرف ته د دې اهميت شته دے او الله په دے ايت ﴿وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ کښې ذکر کړے دے نو بل طرف ته دا د عبادت ورځے هم دی او دا الله په دې ايت کښې ورته اشاره کړې ده ﴿وَاذْكُرُو اللهَ فِيْ أَيَّامٍ مَّعْلُوْمَاتٍ﴾ الله تاسو په دے معلومو ورځو کښې ياد کړے.

## الله ته خوښ عمل:

او د نبیﷺ په احاديثو کښې عبد الله بن عباس رضی الله عنه په بخاری شريف کښې دا روايت نقل کړے دے ﴿مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشْرَةِ﴾(بخاری) هيڅ داسے ورځ نشته چې الله ته ورکښې عمل ډير خوښ او محبوب وی د دے لس ورځو نه علاوه. مطلب په دې لسو ورځو او شپو کښې چې الله ته عمل څومره محبوب او خوښ وی دغه شان په نورو شپو ورځو کښې محبوب نه وی ځکه په دے کښې الله په لږ عمل باندې انسان ته ډير زيات اجراوثواب او نيکی ورکوی صحابو په دغه موقع د نبیﷺ نه تپوس اوکړو ﴿وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ﴾ (بخاری) که په دې شپو ورځو کښې يو انسان جهاد کوی نو ايا دغه عام عمل به الله ته د دی جهاد فی سبيل الله نه هم زيات خوښ او محبوب وی مطلب الله ته جهاد خوښ او محبوب دے او که د دې ورځو دا عمل، ذکر، نفل، عبادت. نو نبیﷺ ورته وائی چې د جهاد نه هم زياته لويه مرتبه په دے ورځو کښې د عمل کولو ده صرف هغه انسان دے ﴿إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهٖ وَمَالِهٖ وَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذٰلِكَ بِشَيْءٍ﴾ (بخاری) چې خپل مال

او خپل نفس د الله په لاره کښې اوباسی نو دغه انسان بیا الله ته ډیر محبوب دے بل عمل واله انسان ورنه مخکښې کیدے نشی صرف دغه یو انسان چې خپل مال او نفس هر څۀ د الله د پاره قربان کړی نو دغه انسان مخکښې کیدے شی.

## دعرفې روژه:

او په مسند بزار کښې دا روایت شته دے چې ﴿اَفۡضَلُ اَیَّامِ الدُّنۡیَا هٰذِهِ الۡعَشۡرُ﴾(مسند بزار) په دنیا کښې د ټولو نه زیات فضیلت واله ورځے دا لس ورځے دی دا د دنیا افضل ترین ورځې دی او په دې کښې یوه ورځ ده چې ځان له یو خاص مقام او مرتبه لری د عرفے ورځ ورته وائی نهم د ذوالحجة (۹) ورته هم وائی نو دا هم یو فضیلت دے او حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی: ﴿صِیَامُ یَوۡمِ عَرَفَةَ اِنِّیۡ اَحۡتَسِبُ عَلَی اللهِ اَنۡ یُّکَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِیۡ بَعۡدَهٗ وَالسَّنَةَ الَّتِیۡ قَبۡلَهٗ﴾(مسلم) د عرفے په ورځے روژه نیول نبیﷺ فرمائی زما د الله نه اُمید دے چې په دې سره په الله رب العزت د دې انسان یو کال مخکښې او یو کال بعد واله ګناهونه به ورته الله معاف کړی او دغه ورځ په لسو شپو کښې ده.

او یو بل حدیث ابوقتادهؓ نه مسلم شریف کښې روایت شوے دے چې د نبیﷺ نه چا د عرفے د روژے په باره کښې تپوس اوکړو چې د دې روژه نیول څنګه ده نو نبیﷺ اوفرمائیل: ﴿یُکَفِّرُ السَّنَةَ الۡمَاضِیَةِ وَالۡبَاقِیَةِ﴾(مسلم) دا روژه یو کال مخکښې او یو کال بعد واله ګناهونه معاف کوی او د دې د فضیلت یوه بله وجه دا ده چې په دې ورځو کښې د اسلافو تابعینو د نیك عمل طرف ته ډیره زیاته توجو وه. سیدنا انسؓ فرمائی چې د ذوالحجة د دې لسو ورځو فضیلت په دې کښې هره ورځ د زرو ورځو فضیلت اجر او ثواب لری او د عرفے د ورځے

فضیلت د لسو ورځو په مقدار فضیلت لری. سعید بن جبیر رحمة الله علیه یو لوے تابعی دے هغه وائی چې په دے شپو ورځو کښې تاسو خپلے ډیوې مهٔ مړے کوئ او دا شپه د الله په عبادت باندے شوګیره کړئ. دهٔ به پخپله باندې هم ډیر لوے مشقت او تکلیف په دې کښې برداشت کوؤ. حافظ ابن حجر رحمة الله علیه د دې د پاره یوه بله وجه بیان کړے ده چې د دې د فضیلت یوه وجه دا هم ده چې په دې کښې الله امهات العبادات راجمع کړی دی که نفل دی که فرض دی که مونځ دے او که روژه ده که حج وی که عمره وی که قربانی وی نو دا تمام عبادات الله په دې ورځو کښې راجمع کړی دی، دې شپو ورځو نه علاوه په تمام کال کښې څوك داسے ورځے شپے نه شی کتلے چې هغے کښې الله دا ټول عبادات راجمع کړی وی.

## د ذوالحجه دَ میاشت استقبال:

دویمه خبره دا وه چې د دې ښه استقبال پکار دے ځکه کله چې یو قیمتی میلمه کور ته راځی نو د دغه میلمه د پاره خلقه قسم قسم استقبالات کوی هر کله چې دا دومره د لوے قیمت واله فضیلت لری یو دا چې د دے سره د دې نه مخکښې توبه او استغفار پکار دے چې انسان ته دغه نیك عملونه فائده ورکړی نو د دے نه مخکښې تو به ویستل پکار دی او په یو حدیث کښې راځی چې الله د خپل بنده په توبه دومره خوشحاله کیږی لکه چې د یو سړی نه سورلی په یو شاړ میدان کښې ورکه شوی وی او دغه انسان په دغه صحرا کښې د خپل ژوند اُمید نهٔ لری بیا ورته دغه سورلی پیدا شی نو څومره چې دا انسان خوشحالیږی د دې نه زیات الله د خپل بنده په توبه باندې خوشحالیږی او الله مؤمناتو ته په قرآن کښې دا حکم کوی:

﴿وَتُوْبُوْا اِلَى اللهِ جَمِیْعًا اَیُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ (النور:۳۱)

اے مؤمنانو ټول الله ته په یو ځل باندې توبه اوباسے د دې د پاره چې تاسو کامیاب شئ. او دا پته انسان ته نۀ لګی چې آیا دا انسان به راروان کال دا وخت ژوندے وی اوکه نه به وی ژوندے نو انسان ته چې الله موقع ورکړې وی بیا دې دغه انسان خپل رب ته توبه اوباسی.

## د ذوالحجه د میاشت اعمال:

دریمه خبره هغه دا چې کوم قسم کارونه انسان لره په دے شپو ورځو کښې اداء کول پکار دی نو دا یو پنځه غټ کارونه دی. یو خو حج دے چې دا یو عظیم عبادت او د اسلام په ارکانو کښې یو اهم ترین رکن هم دے دې حج سره عمره اداء کول هم دی، دویم اهم عبادت په دے ورځو شپو کښې هغه قربانی اُضحیه ده انسان به په دې کښې قربانی کوی که حاجی صاحب وی نو هغه به د حج قربانی کوی او غیر حاجی دے هغه به د مقیم سړی قربانی کوی د دې متعلق په حدیث کښې راځی چې نبی ﷺ لس کاله په مدینه کښې تیر کړی وو او یو کال نبی ﷺ قربانی نه ده پریخودلے او مسند احمد کښې حدیث دے:

﴿مَنْ وَجَدَ سعةً ولم يُضَحِّ فلا يَقْرُبَنَّ مُصَلَّانَا﴾ (مسند احمد)

څوك چې وس طاقت لری او بیا هم قربانی نه کوی نو دا انسان دې زمونږه عیدګاه ته نۀ نزدے کیږی د دې عبادت دومره اهمیت دے. دریم په دې ورځو کښې تکبیرات تشریق وئیل دی او دا پنځه ورځے وی تکبیرات دا دی:

﴿اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ﴾

دا د هر مونځ نه بعد یو ځل وئیل واجب دی که د جمعے سره مونځ وی او که یواځے مونځ وی که نارینه وی او که زنانه وی نو دا به هر بنده یو ځل وائی. څلورم عمل دا چې څوك قربانی کوی نو دا انسان به د

ذوالحجة د اول تاریخ نه ویختهٔ او نوکان نه اخلی دا د حاجی نه بغیر د نورو قربانی کونکو د پاره مستحب عمل دے او د حاجی صاحب په حق کښې واجب دی. پنځم عمل عام نفلی عبادات او صدقات به انسان په دې ورځو شپو کښې کوی ذکر، اذکار، نوافل مونځونه صدقے نفلی روژے وغیره د دې اهمیت په احادیثو کښې راغلے دے د حسن بصری رحمة الله علیه نه نقل شوی دی چې د عرفے یوه ورځه د دوؤ میاشتو روژو اجر او ثواب لری.

والحمدلله رب العالمین

# بیت المقدس

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿سُبْحَانَ الَّذِىْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصٰى﴾ (سورۃ بنی اسرائیل:۱)

د سورت بنی اسرائیل دَ اول ایت څۀ حصه تلاوت شوه په دې کښې بنیادی طور الله رب العزت د نبیﷺ د معراج او د اسراء بیان کوی چې الله معجزةً خپل پیغمبر په یوه شپه کښې د مسجد نبوی نه تر مسجد اقصیٰ پورے او بیا بره اسمانونو ته الله غوښتلے وو. بنیادی طور د الله قدرت په ضمن کښې د دغه لوے معجزے بیان کیږی او په دې مجلس کښې زمونږه موضوع بیت المقدس، مسجد اقصیٰ، القدس مقام دے لکه څنګه  چې د دې ذکر په قرآن کښې شوے دے دغه شان په احادیثو کښې بلکه د اسلامی نظریے ماتحت د مکے او مدینے نه بعد لوے مقام په دریم نمبر کښې بیت المقدس، مسجد اقصیٰ ته حاصل دے او په یو اعتبار د مسلمانانو د پاره د قبله اول حیثیت لری چې نبیﷺ مدینے ته راغلے نو شپاړلس، اوولس میاشتے نبیﷺ مسجد اقصیٰ بیت المقدس طرف ته مونځ کړے وو بیا حکم نازل شو او مسجد حرام تر قیامت پورے د مسلمانانو قبله اوګرځیده اګرچه دې وخت کښې هغه زمونږه قبله نۀ ده خو د هغے تقدس، عظمت او عزت اوس هم شته دے د مسلمانانو په زړونو کښې او په شریعت کښې ورته یو مقام حاصل دے.

## د یهودو بنیادی اراده:

د دے زمانے مسلمانانو باندې امتحان کولو د پاره او د دوی د ایمانی جذبے او طاقت د ظاهرلو د پاره نن بیت المقدس په یو لوے تاریخی کشمکش کښې گرفتار دے یو طرف ته ټول عالم کفر خاص طور یهود په دې کوشش کښې دې چې د موسی علیه السلام قبر هغوی واخلی او هغه مقام چې څوارلس سوه کاله د دغه ځائے نه د قرآن او د توحید رڼړا ټول عالم ته خوریده دغه مقام یو ځل بیا د شرك او کفر د پاره بنیادی مرکز اوګرځوی او د شرکیاتو، رسوماتو د راژوندی کولو د پاره دغه ځائے بیا د یهودو لاسونو ته ورکړے شی چې د الله بغاوت د دغه برکت واله زمکه باندې شروع کړے شی د الله د ښه نیکانو بندګانو کورونه، جماعتونه، آبادے ورانے ویجاړے کړے شی او د بدبخته یهودو قبضے ته دغه مقدس، معظم او عزت واله مقامات ورکړے شی، دې د پاره چې په دنیا کښې د الله مخالفت ته رواج ورکړے شی، او د الله د قانون او نظام خلاف بغاوت په هر ځائے او هر وقت کښې عام کړے شی. ټول عالم کفر خاص کر یهود په دې خبره متفق دی او دے ته د عملی جامے ورکولو کوشش کښې ورځ او شپه مشغوله دی بل طرف مسلمانان په خپلو کښې په معمولی مسائلو باندې جنګ جګړے کوی او د الله دغه عذاب ته پخپله باندې دعوت ورکوی او که لږ ډیر درد لرونکی خلق شته دے نو د هغوی خبره څوك نه اوری.

## بیت المقدس او د دې مذهبونه:

د دې بیت المقدس په درے اسمانی مذهبونو کښې احترام شته دے او هر یو دا دعوی کوی چې دا زمونږه مذهبی مقام دے یو یهودیت دویم نصرانیت او دریم عالم اسلام. د دې تاریخی پس منظر څۀ داسے دے چې یو لوے جلیل القدر پیغمبر ابراهیم علیه السلام چې کله بیت الله آباد کړو او

د دغه ځائے نه هغه د هجرت کولو اراده اوکړه نو په دغه ځائے کښې ئے خپل بچے اسماعیل علیه السلام خپل قائم مقام جوړ کړو.د اسماعیل علیه السلام نه یوه لویه سلسله د بنی جرهم او د قریشو روانه شوه او په دغه خلقو کښې الله خپل اخری پیغمبر محمد رسول الله ﷺ هم مبعوث کړو.

## د بیت المقدس تعمیر:

د بیت الله د آبادے نه بعد څلویښت کاله بعد ابراهیم علیه السلام د بیت المقدس تعمیر اوکړو او په دغه ځائے کښې ئے خپل دویم بچے اسحاق علیه السلام خپل جانشین او قایم مقام مقرر کړو او د دهٔ په اولاد کښې یعقوب علیه السلام وو او د هغه نه د بنی اسرائیلو یوه لویه سلسله شروع شوه او په دغه ځائے کښې آباد شو چې روستو په دغه خاندان کښې الله په زرګونو انبیاء کرام علیهم السلام بلکه زیات انبیاء کرام علیهم السلام رالیږلی وو د خلقو د اصلاح د پاره او غټ اسمانی کتابونو کښې ئے درې کتابونه تورات، انجیل، زبور دوی له ورکړل او د نبوت سره ورته الله بادشاهی، حکمرانی او اقتدار هم ورکړے وو او لوے بادشاهان، حکمرانان ورکښې الله پیدا کړل. په دې کښې داؤد علیه السلام هم شامل دے چې الله ورته د پیغمبرے سره خلافت او سلطنت هم ورکړے وو لکه د دې تذکره قرآن کړے ده او داسے حکمران الله کرځولے وو چې په انسانانو، جناتو، هواء، سمندر، مارغانو باندې هغه بادشاهی کړے ده داسے بادشاه په دنیا کښې په بل قوم کښې الله نهٔ دې پیدا کړې.

## د یهودو ذلت:

دا قوم سره د دې لوے نعمتونو نه الله په دوی باندې وخت په وخت نور کمزوری قومونه مسلط کړی دی او دوی ئے خپل غلامان، نوکران او ذلیله ګرځولی دی وجه دا وه چې د دې دومره نعمتونو او احساناتو ناشکری دوی کړے وه د پیغمبرانو خلاف کول، هغوی قتلول،

اسمانی تعلیمات پامال کول د الله نیك بندګانو ته قسم قسم تکلیفونه ورکول او داسے نورے نافرمانۍ او مرضونه په دغه خلقو کښې موجود وو ځکه همیشه الله ذلیله کړی دی دا بیت المقدس ابراهیم علیہ السلام آباد کړے دے او خپل ځوئے اسحاق علیہ السلام ئے ورکښې جانشین مقرر کړے دے بیا ورکښې یعقوب علیہ السلام پیدا شوے دے او د سلیمان علیہ السلام د بادشاهۍ مرکزی حیثیت ورته حاصل وو. خو سره د دې نه دوی ناشکری، نافرمانی، بغاوت او د الله خلاف کړې وو ځکه الله خوار او ذلیله همیشه د پاره ګرځولے وو او نور قومونو د پاره الله غلامان جوړ کړی وو.

## د یهودو بې ایمانی:

قرآن د دوی د نافرمانیانو تذکره بار بار کوی یو دا چې کله فرعونیانو نه الله دوی ته نجات ورکړو نو فرعون سره د خپل لښکر نه په دریاب کښې غرق شو دوی اخوا صحرائے سینا ته تلل او په دغه ځائے کښې د قیام نه بعد د موسی علیہ السلام په ژوند کښې ورته الله حکم اوکړو چې ځے تاسو لاړ شے او د جبابرو نه بیت المقدس واخلے نو موسی علیہ السلام دې بے دینو، بدبختو ته د جهاد د پاره وئیلے وو نو دوی دا جواب ورکړے وو:

﴿ فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا اِنَّا هٰهُنَا قَاعِدُوْنَ ﴾ (سورۃ المائدۃ: ۲۴)

تهٔ او ستا رب لاړشے او جنګ اوکړے مونږه به دلته ناست یو صرف تماشه به کوؤ کله چې تهٔ ملك فتح کړے نو بیا به مونږه ورته داخل شو موسی علیہ السلام د دې بنی اسرائیلو نه زړهٔ چاؤدے لاړو وفات شو بیا د موسی علیہ السلام نه بعد د هغه شاګرد یوشع بن نون علیہ السلام په بنی اسرائیلو محنت اوکړو او په هغوی کښې ئے څهٔ خلق د جهاد د پاره تیار کړل او د جالوت سره ئې مقابله اوکړه نو دغه علاقے ئے د کافرو نه واغستے بیا چې روستو دوی د الله خلاف ورزی او خپل عادتونه شروع کړل نو الله ورنه بیا بیت

المقدس واغستلو او په دغه سورت بنی اسرائیل کښې الله د دې بیان کړے دے چې ستاسو د نافرمانے د وجے نه به تاسو ذلیل کړے شے او که اسمانی تعلیمات د الله حکم منل تاسو شروع کړل نو الله به بیا تاسو ته دغه مقدس مقام درکړی.

## د بیت المقدس حقیقی مشران:

یو ځل وربانديې الله طالوت علیه السلام مقرر کړو په دویم ځل څوك وائی بخت نصر بادشاه دے او څوك وائی چې نه د دې نه مراد مسلمانان دی د نبی علیه السلام نه بعد د عمر رضی الله عنه په دور خلافت کښې چې کله مسلمانانو د قدس محاصره کړے وه نو یهود تنګ شو او مسلمانانو ته ئے په مذاکراتو باندې دغه قدس پخپله حواله کړو ځکه دا خبره د دوی په کتابونو کښې وه چې دا به د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم شاګردان او صحابه رضی الله عنهم اخلی ځکه په دې وخت کښې دوی د الله تابعدار خلق دی نو دا دَ دوی حق دے ورته به ورکولے شی تر دې پورے چې د هغه امیر نخښے او علامات ورته په خپلو کتابونو کښې ښودلے شوی وو چې کله یهودو د امیر مطالبه اوکړه نو خالد بن ولید رضی الله عنه ئے ورته مخکښې کړو هغوی ورته اووئیل چې د دهٔ سترګے هغه شان نهٔ دی لکه څنګه چې مونږه ته ښودل شوی دی چې کله ئے ورته عمر رضی الله عنه وړاندے کړو نو بیا مذاکراتو ته تیار شو او د هغوی مشر قسم اوکړو چې زما دې په تورات باندې قسم وی چې په موسی علیه السلام باندې نازل شوے دے دا هغه انسان دے د کوم ذکر چې مونږه ته کړے شوے وو.

## د مسلمانانو کمزوری:

خو افسوس دا دے کله چې مسلمان د دغه یهودو طریقے خپلے کړے د الله نافرمانے اسمانی تعلیمات ئے پریخودل نو هم دغه بیت المقدس بیا د مسلمانانو نه روان دے دا په خلافت عثمانیه کښې د مسلمانانو د

خلافت حصه وه خو کله چې مسلمانانو کښې اختلاف پیدا شو خلافت عثمانیه د دې وجے نه کمزورے کړے شو نو په (1917ء)کښې په اول جنګ عظیم کښې په دغه ځائے باندې برطانیه قبضه اوکړه بیا روسته د مسلمانانو ایمانی کمزوری دومره وه چې مسلمانانو په خپله د پیسو په لالچ کښې په یهودو باندې د دغه ځائے زمکے خرڅول شروع کړل نو د دې برکتی زمکے ناشکری مسلمانانو د پیسو په لالچ باندې اوکړه نتیجه دا وه چې په (1948ء)کښې اسرائیلو د خپل مستقل ریاست اعلان دغه ځائے کښې اوکړو د عالم کفر په کوششونو او سازشونو باندې د عالم عرب په مینځ کښې دغه خود ساخته ریاست جوړ کړے شو. د دې د پاره چې د ټول عالم عرب اقتدار او اختیار د دوی په لاسو کښې وی او که څوك نۀ منی نو د دې په لاسو به تباه کیږی لکه د عراق نه په (1981ء) ایټمی قوت چا تباه کړو په دغه ځائے کښې امریکه او روس نه شو راتلے خو دغه اسرائیل وو.

## د یهودو منصوبه:

او د اسرائیلو مذهبی تعلیمات دا دی چې په دې قدس کښې به مونږه هیکل سلیمانی جوړوؤ او ګریټ اسرائیل سټیټ به جوړوؤ. په موجوده وخت کښې چه په عالم عرب کښې دا څومره فسادات شروع دی دا ټول د هغه ګریټ اسرائیل یوه منصوبه ده. نن چې د عراق کوم حالات دی او د شام او یمن، مصر، سعودی عرب کښې دننه څومره نقصانات چې مسلمانانو ته کیږی دا ټول د هغه اسرائیلی ریاست یوه منصوبه ده او د دغه فسادی خلقو اوله او اخره منصوبه په مسجد اقصی قبضه کول دی بیا دغه د شام زمکه او ورپسے نور عربی ممالك قبضه کول دی. د مسجد

اقصیٰ حدود چار چاپیره په (35)ایکړ زمکه باندې مشتمل دی په دې کښې مسجد اقصیٰ، الخلیل، مهد مسیح ،جبرئیل، قبة النبیﷺ، مصلی سلیمانعلیہ السلام په کوم ځائے کښې به چې هغه فیصلے کولے، دیوار براق، دیوار گریه چې یهود دغه ځائے کښې عبادت کوی او څۀ کاغذونه د ځان سره لیکی بیا ئے په دغه ځائے کښې ږدی او ژاړی چې دا زمونږه ځائے دے او زمونږه په قبضه کښې نۀ دے او نور داسے تاریخی او مقدس مقامات د انبیاؤ آثار د زمکے د لاندے په دغه زمکه کښې موجود دی نو اسرائیلو په (1946ء)کښې په دغه ځائے قبضه اوکړه. فلسطینیانو د هغے خلاف د جهاد اعلان اوکړو. نن هم بس هغوی دغه خپل حق غواړی خو د مظلوم فلسطین سره هیڅ څوك د هغے د پاره د مظالم اسرائیل خلاف آواز نه اوچتوی بیا په (1988ء) کښې هغوی د یو آزاد ریاست اعلان اوکړو. د یاسر عرفات یهودی نه ئے یو یو علاقه قبضه کوله. فتح ،حماس ،غزه وغیره علاقے ئے ورنه قبضه کړے دا د مسلمان دینی کمزوری او بے غیرتی ده چې قبله اوله په داسې حالت کښې ده. په نزدې ورځو کښې د امریکې صدر ډونلډټرمپ یو ظالمانه اعلان اوکړو چې یروشلم به د اسرائیل دارالخلافه وی او دا به د اقوام متحده په قانون کښې تسلیم کولے شی او په دې اعلان هر درد لرونکے مسلمان خفه او پریشانه دے حال دا دے چې اصلی او حقیقی وارث د دغه مقاماتو مسلمان دے لکه یهودو د هغوی مشرانو په لیکلو سره دا مونږ ته حواله کړے دے.

د نبیﷺ فرمان دا وو چې دا یهود به یا د اسمانی تعلیماتو منلو سره داخلیږی او هغه نن صبا دین اسلام دے او کۀ دا نۀ وی نو وقتی طور

به په بے عزتے سره القدس ته به داخل شی خو څۀ وخت بعد به هم دغه خلق ډیر په بے عزتے سره د دې نه واپس کړے شی تر دې پورې چې یو عالمی معرکه به د یهودو خلاف شروع شی چې هره اونه او ګټه به آواز کوی اے مسلمانه راشه زما نه روستو یهودی دے ، قتل ئے کړه ځکه د قتل لائق او حقدار به وی. والحمد الله رب العالمین.

# اصلاح معاشره

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَآاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوَاتِ الشَّيْطٰنِ﴾

(سورة البقرة:۲۰۸)

﴿وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى اَلْاَشْعَرِى قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ اَوْ كَمَا قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ﴾ (رواه احمد)

## پوره دین اسلام:

د نبیﷺ یو حدیث مبارك ذکر شو په دې کښې نبیﷺ د کامل مسلمان علامه ښودلے ده چې کامل مسلمان هغه دے چې د هغه د لاس او ژبے نه بل مسلمان محفوظ او په امن کښې وی یعنې بل مسلمان ته به تکلیف نۀ ورکوی دا حدیث د نبیﷺ د معاشرے د اصلاح د پاره د بنیاد حیثیت لری دین اسلام ډیرے خبرے دی دغه ټولے په ژوند کښې راوستل دی او دې ته پوره دین وئیلے کیږی او قرآن کښې الله مؤمنانو ته دا حکم کړے دے چې په اسلام کښې پوره داخل شئ:

﴿يَآاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوَاتِ الشَّيْطٰنِ﴾

(سورة البقرة:۲۰۸)

اے د ایمان والو! په اسلام کښې پوره داخل شئ او د شیطان تابعداری مۀ کوے ځکه دا شیطان ستاسو ښکاره دشمن دے یعنې د پوره اسلام نه پوره دین نه شیطان تاسو منع کوی د دې د پاره موقع نه درکوی چې تاسو په پوره دین باندې عمل اوکړے بیا پوره دین دوه خبرے دی یو

صحیح عقیده ده او دا بنیادی حیثیت لری که د یو انسان عقیده برابره نه وی نو د دهٔ د عمل مثال د هغه آبادے په شان دے چې بنیاد ئے نهٔ وی او نور عمارت ورباندې اودرولے شی نو دغه بے بنیاده عمارت فضول تصور کولے شی د هغهٔ عمل فضول عمل تصور کیدے شی چې د هغے سره برابره عقیده نهٔ وی دویم څیز عمل دے په دې عمل کښې پنځه خبرے دی یو عبادات دی دویم اخلاق حسنه دی لکه صبر، شکر، رشتیا وئیل وغیره دریم معاملات، لین دین، تجارت، اغستل خرڅول، خپل حق پردے حق، حرام، حلال څلورم معاشره ده ژوند تیرول په کور کښې په کلی وطن کښې په مجلس حجره مسجد کښې پنځمه خبره هغه سیاست، حکومت او ریاست دے او د دې سره متعلقه مسائل دی دا پنځه خبرے چې یو ځائے شی دې ته عمل وئیلے کیږی د مؤمنانو د ایمان د پاره معیار دا دوه خبرے دی یو: ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾(سورة الكهف:۱۰۷)

څوک چې ایمان راوړی (دا عقیده شوه) او نیك عمل اوکړی نو دا پنځه خبرے بیا د عمل صالح سره تعلق لری .

## د مسلمانانو غفلت او کم علمی:

اشرف علی تهانوی رحمه الله په خپل کتاب آداب المعاشرت په مقدمه کښې یوه ګله شکوه کړے ده وائی افسوس دا دے چې مسلمانان دین یو څو خبرو مونځ، روژې، حج ته وائی او اخلاق او معاشره او معاملات د دین څهٔ حصه نهٔ ګنړی او د دې نه ناخبره دی که لین دین کوی که تجارت کوی نو دا ذهن لری چې دا خو د دنیا کار دے چې څنګه زما زړهٔ غواړی هغه شان به زهٔ دا کومه زهٔ د شریعت د طرف نه څهٔ پابند نهٔ یمه دغه شان معاشره، پلار، مور، لور ملګرے کلے، اولس، مجلس ،ناسته، ولاړه دا چې زهٔ څنګه کومه په دې کښې زهٔ آزاد یمه په ماباندې څهٔ

پابندی نشته دا نه ګوری چې د الله او د رسول اللهﷺ د معاشرے متعلق څۀ حکم دے د معاشرے په باره کښې هغه څۀ اداب او تعلیمات ورکړی دی حال دا دے چې په قرآن کښې یو پوره سورت الله د معاشرے د اصلاح د پاره نازل کړے دے چې هغے ته سورت حجرات وائی صرف د معاشرے خبرے دی پکښې دغه شان سورة النساء درے حصے ده یوه حصه پکښې صرف د معاشرے د اصلاح د پاره ده او د دې بیان دے پکښې سورت النور کښې درے مضامین دی یو کښې سیاسی احکام قوانین دویم کښې عام احکام او قوانین دریم کښې د معاشرے خبرے دی سورت بقره کښې یوه کافی حصه د معاشرے په بیان باندې ده نو که انسان سوچ اوکړی چې معاشره د الله په نزد څومره لوے مقام لری ځکه الله باربار په قرآن کښې د دې احکامات بیان کړی دی .

## معاشرة څه ته وائی:

او بے شماره احادیث د معاشرے د ادابو په باره کښې دی او دا حدیث بنیادی حیثیت لری ﴿اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَيَدِهٖ﴾ (بخاری) دا کامل مسلمان دے معاشره څۀ ته وائی معاشره په اصل کښې د ژوند تیرولو طریقے ته وائی او په دې کښې دوه خبرے دی یو حقوق پیژندل دی چې زما خپل حقوق څۀ دی او د نورو بندګانو په ما باندې څۀ حقوق دی دویم اداب پیژندل دی، دې ته معاشره وئیلے کیږی چې یو سړے کار کسب کوی ناسته ولاړه کوی د دې اداب څۀ دی د خوراك څکاك تردے پورے چې د اودس ماتی څۀ اداب دی. سلمان فارسیؓ خواته یو یهودی حاضر شو ورته وائی چې تاسو ته ستاسو پیغمبر هر څۀ ښودلی دی تر دې پورے چې استنجاء کول ئے هم تاسو ته ښودلی دی هغه ورته وائی چې آؤ زمونږه پیغمبر مونږه ته هر څۀ ښودلی دی تر دې پورے

چې اودس ماتول، اودس اوچول، استنجاء كول دا هر څۀ زمونږه پيغمبر مونږه ته ښودلی دی او دا زمونږه د پيغمبر كمال دے چې الله دا كمال بل چا ته نه دے وركړے. قرآن او حديث د دې نه ډك پروت دے خو زمونږه مسلمان د دې پرواه نه كوی چې څنګه ما اُوخوړه څنګه ما اوڅكله، كوم ځائے كښې كيناستو، كوم ځائے كښې اودريدو د دې څۀ پرواه او خيال نه كوی دين مونږه صرف د مسجد پورے محدود كړے دے كه د مسجد په حدودو كښې وی نو دينداری او پابندی وی او كه باهر شی نو بيا د دين سره څۀ تعلق او مناسبت نه وی بس د دين سره يو څو منټه په مسجد كښې ملاقات اوكړه نور څۀ پرواه د دين نه لری د دۀ په ذهن كښې دا خبره وی چې ما د دين حق په دې طريقے سره ادا كړو د دۀ دا خيال دے چې دا دين په غم ښادے، خوراك څكاك، كلى اولس مجلس كښې نشته بس دا صرف د مسجد پورے دے او نور د دين څۀ حيثيت نشته .

## معاشره د دين او ژوند ضرورت:

نو معاشره دا اهميت لری چې د انسان مسلمان د ژوند يوه اهمه حصه ده او ورسره د دين هم اهمه حصه ده لكه څنګه چې مخكښې د اشرف على تهانوی رحمۃ اللہ علیہ په باره كښې خبره اوشوه دا يو داسې عالم دے چې د دۀ د معاشرے په پهلو باندې ډير خدمات دی د هغه خوا ته كه يو شاګرد به د اصلاح حاصلولو د پاره راغلو نو د هغه عادت دا وو چې د نوافلو ذكر و اذكار په باره كښې ورته هغه زور نه وركولو او بيا به دا وجه هغه ښودله چې ذكر، اذكار، وظائف، نوافل مستحبات دی او د معاشرے د ادابو خيال ساتل فرض او واجب دی د دې وجے نه د دې خيال ډير ساتل پكار دی او كه دلته زما خواته يو انسان راځی نو په دې نيت دې نه راځی چې زۀ د اشرف على تهانوی رحمۃ اللہ علیہ خوا ته علم زده كولو له ځمه خواته دی انسان د

علم د زده کړے د پاره نه راځی زما د پاره دې انسان د انسانیت زده کولو په نیت باندې راځی چې دلته انسانیت زده کړی یو عالم دے امام غزالی رحمۃ اللہ علیہ د هغه کتاب دے "احیاء علوم الدین" هغه په دې کتاب کښې په انسان باندې تبصره کړے ده چې د انسان او ځناور په مینځ کښې فرق څۀ دے نو وائی چې ځناور درے قسمه دی چېلے، ګډه، غوا ، میخه، دا پئے ورکوی نو دا خالصه فائده ده دویم قسم صرف تکلیف واله دی فائده ورکښې نشته لکه مار او لړم دریم قسم هغه دی چې نقصان او فائده هیڅ نه ورکوی لکه ګیدړ، لومبړه بیا امام غزالی رحمۃ اللہ علیہ وائی چې اے انسانه ته انسان جوړ شه ته ځناور نه ئے او که خامخا ځناور جوړیږې نو بیا د اول قسم په شان ځناور جوړ شه چې خلقو ته فائده ورکوے او نقصان نه ورکوے او که هغه جوړ نۀ شوی نو بیا د هغه ځناور په شان جوړ شه چې نۀ د هغه څۀ خیر وی او نۀ د هغه څۀ شر او فساد وی او که دویم قسم ځناور جوړ شوے نو ته په حقیقت کښې ځناور ئے او صرف په ظاهری شکل باندې انسان ښکارے ځکه به اشرف علی تهانوی رحمۃ اللہ علیہ دا خبره کوله چې یو انسان راځی نو د دیندارے او د علم په نیت دې نه راځی د انسانیت د پاره دې راځی چې په خپل اصلی شکل کښې انسان جوړ شی او انسان به هله جوړیږه چې معاشره د قرآن او سنت نه زده کړی.

## د ژبې او لاس حفاظت:

او په دې حدیث کښې نبی صلی اللہ علیہ وسلم همدا خبره کوی چې:

﴿اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَيَدِهٖ﴾(بخاری)

کامل مسلمان مطلب چې د مسلمان او انسانیت او د ایمان مجموعه وی هغه انسان دے چې نور خلقه مسلمانان د هغه د خُلے او لاسونو د تکلیف نه بچ وی خُله او لاس ځکه ذکر کوی چې عام

تکلیف د دې نه انسان ته رسیږی دلته د کامل انسانیت او مسلمانتوب تقاضه دا ده چې مسلمان به په هیڅ طریقه باندے بل مسلمان ته تکلیف نه ورکوی حدیث کښې راځی نبیﷺ یو ځل تپوس اوکړو چې تاسو غریب مفلس پیژنئ هغوی جواب ورکړو چې مونږه مفلس نه پیژنو د دنیا مفلس پیژنو چې مال، درهم ورسره نه وی خو د آخرت مفلس او غریب نه پیژنو نبیﷺ ورته جواب ورکړو چې مفلس غریب هغه څوك دے چې د دهٔ سره ډیرے نیکئ وی او د قیامت په ورځ به د دهٔ خواته یو یو حقدار راځی د دهٔ نه به نیکی اخلی آخرکار ورسره په لاس کښې به هیڅ څهٔ پاتے نه شی نو دا ځکه چې د دې انسان به معاشره برابره نه وی چاته ئے کنځلے کړې وې چاته ئے نقصان ورکړے وو چا نه ئے مال اغستے وو نو دا ټول څیزونه د معاشرے سره تعلق لری .

## د فرض عبادت او معاشرے موازنه:

نبیﷺ باندې الله د شپے نفلی عبادات فرض کړی وو هغه به دا نه پریخودل هره شپه به پاسیدو خو هغه د ادابو ډیر خیال ساتلو کله چې به د شپے په وخت کښې پاسیدو نو په ارام سره به پاسیدو او بیا به په ارام سره هغه دروازهٔ کولاؤ کړه چاته به د دې نه تکلیف نه وو دغه شان مثال د تلاوت هم دے دا عبادت دے په دوؤ طریقو سره کیدے شی یو په تیز آواز یو په نرم آواز باندے، په تیز آواز ثواب زیات لری خو که یو طرف ته څوك اودهٔ وی او دا انسان په دغه وخت کښې په تیز آواز تلاوت کوی هغه ته ورنه تکلیف رسیږی نو بیا دا ګناه ده او که یو انسان مونځ کوی تلاوت سره د هغه په مونځ کښې خلل پیدا کیږی نو بیا دلته په دې موقع په زوره تلاوت کول ګناه ده دغه شان مونځ په جماعت او جمعې سره ادا کول واجب دی خو که یو انسان اوګه یا پیاز خوړلے وی نو بیا دې

جماعت ته نۀ خاضریږی ځکه د دې نه بل انسان ته تکلیف رسیږی دغه شان که د یو انسان ته داسے بیماری ده چې بدبو ورنه روانه وی نو دغه انسان دې د جماعت مونځ ته نۀ حاضریږی ځکه نورو انسانانو ته تکلیف ورکوی او دا حرام کار دے.

په یو حدیث کښې راځی فرمائی ایمان اویا درجے دے اعلی درجه د دې ﴿لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ ده او ادنی درجه ﴿اِمَاتَةُ الْاَذٰی عَنِ الطَّرِیْقِ﴾(ابوداؤد) د لارے د مینځ نه د تکلیف واله څیز لرے کول دی که یو انسان خپل کور صفا کړی او دغه ګند بیا په لاره کښې ګوزار کړی یا د بل انسان د کور مخے ته نو دا حرام کار دے ځکه په دې سره بل مسلمان یا عام په لاره باندې تیرودونکو ته نقصان او تکلیف رسیږی.

والحمدلله رب العالمین.

# دبې برکتۍ او بې سکونۍ اسباب

اَلۡحَمۡدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الۡاَنۡبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصۡحَابِهِ الۡاَتۡقِيَآءِ اَمَّا بَعۡدُ! بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ۔

﴿وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: طَلَبُ كَسۡبِ الۡحَلَالِ فَرِيضَةٌ بَعۡدَ الۡفَرِيضَةِ﴾

(شعب الایمان)

## د رزق حلال اهمیت:

رزق حلال د الله لوے نعمت دے او د اسلام نه بعد د مسلمان د پاره په دنیا کښې د ژوند تیرولو ظاهری سبب رزق حلال دے. دې وجے نه ورته په دې حدیث کښې ﴿فَرِيضَةٌ بَعۡدَ الۡفَرِيضَةِ﴾ اووئیلے شو او رزق حلال د مسلمان د دعاګانو د قبلیدو د پاره یو لوے سبب دے اکل حلال او کسب حلال په دې سره د انسان دعا د الله په دربار کښې قبلیږی او که رزق خوراك حرام وی نو د دغه انسان عبادت او دعاګانو باندے اثر کوی هغه روکاؤ کیږی د الله دربار ته نه رسی.

بله اهمه خبره دا وه چې د رزق برکت او سکون او اطمینان په څه سره راځی او دا بے برکتی بے سکونی انسان ته په څه سره راځی ځکه رزق او کسب د انسان د ژوند د بقاء سبب دے او اسلام چې هر کله فطری قانون وو نو الله دا صرف روا کړے نه دے بلکه دې ته ئے یو پاکیزه فریضه وئیله ده او دې سره ئے څه اصول او قوانین ښودلی دی چې د هغے په پابندے سره انسان د رزق برکت او دنیا او آخرت فائده د هغے نه اغستے شی او که د قرآن او سنت او شریعت په اصولو باندے د ژوند یو شعبه جاری نه کړے شی نو په هغے کښې قسم قسم نقصانات او تاوان انسان ته رسی په انسان کښې بد اخلاقی ، دهوکه بازی، حرام مال خوړل دا

قسم بیماریانے پیدا شي او دا به هله لرے کیږی چې د یو انسان تجارت لین دین او کاروبار د نبیﷺ او د صحابه کراموؓ په ښودلے شوے طریقه باندے برابر شي او که داسے نه وی نو بیا دا بداخلاقی په انسان کښې همیشه موجود وی او قرآن کښې الله دا خبره په مختلفو طریقو سره ذکر کړے ده کله فرمائی:

﴿إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ﴾ (سورة التغابن:۱۵)

ستاسو دا مال او اولاد فتنه ده ځکه په دې کښې د شریعت د اصولو پابندی نشته او په یو بل ځائے کښې ئے لین دین، تجارت، حلال کسب ته فضل او نعمت بلکه خیر وئیلے دے دا ځکه چې د دې ښه او بد د شرعیت د اصولو سره تړلے شوی دی که د دې پابندی د شریعت مطابق وی نو خیر او فضل او نعمت دے او که د شریعت سره پابندی نه وی نو دا فتنه ده د بخل سبب، د الله نه د غفلت یوه ذریعه د انسان د پاره گرځی .

## پیدائشی لیکلې شوے خبرے:

بله دا خبره چې د رزق کاروبار لین دین سره متعلق ده چې کله انسان پیدا کیږی نو یو څو خبرے هغه سره پیدائشی لیکلے کیږی یو د هغه عمر دے چې د دې انسان عمر به څومره وی دویم څومره رزق به ده ته ملاویږی. دریم کله به وفات کیږی نو د دې سره بیا د انسان دا یقین خودبخود جوړ شي چې کله زما رزق زیاتیږی او کله کمیږی او په دې سره دا انسان دَ حرص، لالچ، دهوکه بازے خود غرضے نه منع کیږی ځکه دا یقین وی ﴿ ان ما كان يصيبه لم يكن ليخطئه﴾(ترمذی) هغه څه چې دی انسان ته رسیدل نو هغه د دې انسان نه، نه خطا کیدل بلکه په هر حالت کښې به دې انسان ته هغه خپله نصیبه او برخه رسیږی کومه چې د دهٔ د پاره مخکښې نه مقرر شوے ده او الله انسان د پاره د هغه رزق د مخکښے

نه مقرر کړے دے خو د دې دا مطلب هرګز نه دے چې د انسان رزق دی مقرر وی په ارام باندے یو طرف ته دے کینی چې زما رزق به ماته راځی نا دا نه شی کیدے انسان به حرکت کوی ظاهری حلال اسباب به استعمالوی بیا چې څه الله دۀ ته ورکړی نو دغه بس الله مقرر کړے دے او زیات په دې کښې نشته که یو انسان په حرامه طریقے سره د زیاتولو کوشش اوکړی نو په حرامه طریقه د انسان رزق نه زیاتیږی بلکه کمیږی او بے برکتی پکښې پیدا کیږی.

## د بې برکتې اسباب:

نن چې دا ټول خلق یوه چغه یو آواز کوی چې یره د رزق بےبرکتی ده په ژوند کښې چین، سکون،آرام او اطمینان نشته نو د دې د پاره علماؤ څه اسباب ذکر کړی دی چې په دې سره د انسان په ژوند کښې بے سکونی او بے برکتی راځی هغه اسباب دا دی یو دا چې د کوم رزق الله مونږه لره راکوی په دې کښې د الله څه حق شته دے په دې دکان، تجارت، ملازمت، کاروبار کښې مونږه د الله حق ادا کوؤ او که نه ادا کوؤ د الله حق څه دے هغه دا چې مونځ وخت راشی نو مونځ په جمع سره ادا کول، د روژے په میاشت کښې روژه نیول نو چې کله هم انسان په دې کښې د الله حق نه پوره کوی الله ورته په رزق کښې خیر او برکت نه اچوی نو یو خبره دا چې د الله عبادت او د الله حق به انسان نه هیروی.

## ګناه پریخودل:

دویمه وجه زمونږه ګناهونه دی د رزق بے برکتی ځکه ده چې مونږه همیشه د الله نافرمانی او ګناهونه کوؤ د ګناه سره د انسان د زړۀ نه نورانیت او د مال نه خیر او برکت ختمیږی ډیر کرته یو انسان نفلی ذکر واذکار کوی هغه د دې د پاره چې په مال کښې، تجارت کښې څه خیر او

برکت پیدا شی خو سره د دې نه ګناهونه نه پریږدی هر قسم دهوکه کوی دروغ وائی د الله نافرمانی ګناه کوی نو دغه ذکر به دې انسان ته څه فائده ورکړی یو خو دا ذکر په دې نیت نه کوی چې دا د الله حکم دے او عبادت دے بلکه دا په دې نیت کوی چې مال او کاروبار مې روان شی دا د خود غرضے په نیت کوی نو یاد ساتل پکار دی که ډیر وظائف او ذکرونه کوی خو چې ګناه نه پریږدی د دې انسان په مال کښې به خیر او برکت نه وی.

## کثرت او برکت:

کله کله به کثرت د مال وی خو دغه مال د دې انسان د آخرت په فائده کښې نه لږی د دنیا په عبس او فضول کارونو کښې به رونه خرچ کیږی ډیر خلق وائی فلانی ته اوګوره څومره لوے مال او دولت ورسره دے نه مونځ پیژنی، نه مسجد پیژنی، نه حج ادا کوی، نه روژه نیسی نو یاد ساتل پکار دی چې د مال کثرت جدا څیز دے او د مال خیر او برکت د دنیا او د آخرت په حقیقی فائده کښې خرچ کیدل دا جدا څیز دے.

او په یو حدیث کښې راځی: ﴿إِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزقَ بِالذَّنْبِ يُصِيْبُهُ﴾(احمد) بنده د رزق نه د ګناه د وجے نه محرومه کیږی.

## د رزق ناشکری او بې قدری:

دریم څیز زمونږ ناشکری ډیره ده د ناشکرے د وجے نه انسان د خپلے حصے د رزق نه محرومه کیږی او قرآن دا اصول ذکر کړی دی ﴿لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيْدَنَّكُمْ﴾(ابراهیم:۷) اے خلقو که چرته تاسو د الله د نعمتونو شکریه ادا کړے نو څه به په تاسو باندے اضافی نعمتونه اوکړمه که یو انسان د جسم د نعمت شکریه ادا کوی نو الله ورته نور جسمانی قوت ورکوی او که څوك د کور د نعمت شکریه ادا کوی الله ورته نور

اضافه پکښې کوی او که انسان د رزق د نعمت شکریه ادا کوی الله ورته نور رزق زیاتوی او که څوك د دې نعمتونو ناشکری کوی نو بیا ورنه الله دغه نعمتونه اخلی که یو انسان وائی چې هیڅ نشته که په حقیقت کښې دا انسان شمار اوکړی نو د الله بے شماره نعمتونه په دې انسان باندے وی خو بیا هم ناشکری کوی که د یو انسان ډیر ښه کاروبار وی څوك ورنه تپوس اوکړی چې دکان دې څنګه دے نو جواب ورکړی چې یره بس وخت دے او مونږه ئے پاس کوؤ یا دا خبره کوی چې یره ګزاره کیږی څه اوکړو نور څه نشته د کولو د پاره دا نه کوی چې د الله شکر ادا کړی الحمد لله اووائی خو زمونږه حالت دا دے چې همیشه ګله، شکوه کوؤ نو د ناشکرے سره په رزق کښې کمے راځی.

## د لوے والی دعوی کول:

بله وجه دا ده چې مونږه د کاروبار او تجارت د ترقے نسبت په ځائے د الله خپل ځان ته کوؤ او وایو چې ما دا اوکړل ما دا اوکړل دا مونږه یوه خپله بهادری او کمال تصور کوؤ. حال دا دے چې دا هر څه انسان نشی کولے بلکه دا هر څه الله کوی الله په قرآن کښې د قارون تذکره کوی چې هغه د لوئے دعوی کړے وه هغه لره چې الله کوم مال دولت ورکړے وو هغه د دې مال نسبت خپل ځان ته کړے وو او دا خبره ئے کړے وه ﴿إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِي﴾(قصص:۷۸) دا زما د علم د وجے نه ماته ملاؤ شوی دې دا خو ما په دی خپلو لاسونو او متو باندے محنت کړے دے ځکه ماته دا مال دولت او سرمایه ملو شوے ده نن صبا هم دا حالت دے چې زمین دار زکوة نه ورکوی ځکه هغه دا خبره کوی چې دا ټول پټی ما په خپل مشقت محنت باندے آباد کړے او کرلے دے نو په دې کښې د الله څه حق نه کیږی مالداره تاجر او سرمایه دار دا خبره کوی

چې ما د ملکونو سفرونه کړی دی ځکه الله دا مال راکړے دے نو په دې کښې د الله څه حق نه کيږی دا د هغه قارون نقش قدم دے چې مونږه وربانددے روان شوی يو او د هغوی دا خبره مونږه نقل کوؤ.

## د غريب حق نه ادا کول:

بله وجه د رزق نه د محرومه کيدو دا ده چې مونږ په دې رزق کښې د غريب مسکين حق د هغه سره خير ښيګړه نه کوؤ. امير شريعت سيد عطاء الله شاه بخاری رحمۃ اللہ علیہ به دا خبره کوله چې زه په دنيا کښې د دوؤ سړو په تلاش کښې يمه يو دا سړے چې سخی وی د غريب مسکين او د دين حق په خپل مال کښې ادا کوی او دا سړے د دې د وجے نه غريب شوے وی ځکه چې خپل مال دولت په غريبانانو باندے لګوی او د دې وجے نه غريب شوے وی داسے سړے ما په دنيا کښې نه دے ليدلے ځکه که داسے اوشی نو د الله وعده به رشتيا نه وی چې ﴿مَا نَقَصَ مَالَ امْرِءٍ صَدَقَةٌ قَطُّ﴾ (رواہ مسلم) هرګز د يو انسان مال د صدقے د وجے نه دے کم شوے بل دا چې يو انسان ظلم کوی په دنيا کښې او بيا هم الله دې انسان ته څه نه وائی دا ممکن نه ده ځکه د ظالم انسان نه الله خامخا بدله اخلی او د هغه ظلم او جبر ته بقاء نه ورکوی . دا پنځه خصلتونه چې چا کښې وی نو د هغه په مال کښې برکت نه وی او که څوك د دې مرضونو نه ځان خلاص کړی نو الله به ورته په مال کښې برکت واچوی .

## د نيک تاجر صفات:

په احاديثو کښې د نورو څه صفاتو ذکر هم شوے دے چې هغه په يو تاجر کښې موجود کيدل ضروری دی.

يو دا چې دا به امانت دار او ديانت دار وی لکه حديث کښې راځی:

﴿التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الْأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ﴾ (ترمذی)

رشتنے تاجر به د پیغمبرانو، رشتینو او شهیدانو نیکانو سره به د دې انسان حشر کیږی او د قیامت په ورځ به د هغوی په صف کښې راپاسیږی.

بل دا چې رشتنے به وی حقیقت حال به وائی، دروغ ګوئی، دهوکه بازی به نه کوی، عیب به ښکاره کوی.

د خپلے ګټے سره سره به د بل د خیر خیال هم ساتی، ظلم زیاتے به نه کوی حدیث کښې راځی:

﴿ الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ ارْحَمُوا مَنْ فِي الأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ ﴾ (ترمذی)

په رحم کونکو رحمن الله رحم کوی تاسو رحم کوے د زمکے واله باندے په تاسو به اسمان واله ذات رحم اوکړی.

بل سحر وختی تجارت ته تللو کښې برکت راځی لکه نبی ﷺ دا دعا کړے ده: ﴿ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِيْ فِيْ بُكُوْرِهَا ﴾ (ترمذی)

الله دې زما امت لره په سحر وخت کښې برکت واچوه.

یو صحابی چې دا حدیث واؤریدو نو د سحر سره به دکان ته تلو بیا مشاهده دا وه چې دغه صحابی لره الله ډیر زیات مال دولت ورکړے وو.

او د عبدالرحمان بن عوف رضی اللہ عنہ نه چا تپوس کړے وو چې دا دومره مال دولت تا لره الله څنګه درکړے دے نو هغه ورته اوفرمائیل: یو دا چې ما د قرضو معامله نه ده کړے یعنې د قرضو د معاملے نه ځان ساتمه. بل دا چې چرته ما د سودا عیب نه دے پټ کړے چا لره دهوکه نه ورکومه. دریم دا چې سحر وختی زه تجارت ته ځمه مونږه دغه وخت د غفلت په خوب کښې اخته یو مونږ خلاف فطرت لاره خپله کړے ده.

بل دا چې ادب دا دے چې انسان دې د معاملے هغه تولے خبرے لیکی چې صبا ورکښې څه جنګ جګړه نشی کیدے او ګواهان هم قائم کول پکار دی.

بل دا چې تاجر سړے به په ناپ تول کښې کمے نه کوی الله د شعیب علیه السلام قوم باندے د دې د وجے نه عذاب راوستے وو او د دې سره دهوکه هم نه کول نبی ﷺ په یو موقع باندے بازار ته لاړو هلته د یو کس سره غنم وو د بره طرف نه وُچ وو نبی ﷺ چې د لاندے نه لاس وردننه کړو نو هغه لامدۀ وو نبی ﷺ ورته اووئیل چې دا ولے دا دننه رابره کړه بیا د دی د خرخولو خبرےکوه دهوکه مه کوه هغه ورته ووئیل یارسول الله ﷺ دهوکه نه کومه خو د شپے په وخت کښې باران شوے وو او دا بره غنم بیا وُچ شوی دی او لاندے غنم په همدغه حالت باندے دی بیا نبی ﷺ او فرمائیل: ﴿ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا ﴾(مسلم) ځوك چې دهوکه کوی هغه زمونږ نا نه دے زمونږ د شریعت خلاف دے.

والحمد لله رب العالمین.

# حب المال

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ﴾ (فاطر:۵)

څنګه چې انسان ته دنيوی مرضونه لاحق کيږی نو دغه شان دې انسان ته باطنی مرضونه هم لګی او په دې باطنی مرضونو کښې د ټولو نه زيات مهلک او خطرناک مرض د وخيزونه دی يو ته حب المال او يو ته حب جاه وئيلی کيږی او دا يو روايت کښې راځی چې د دوه څيزونو سره محبت د هغه دوه شرمخانو نه زيات خطرناک دې کوم چې د ګډو او بيزو په جماعت باندې حمله اوکړی او دغه ځناور مات کړی تس نس ئې کړی يعنی دغه دوه څيزونه دومره نقصان نشی کوې څومره نقصان چې دين ته دا دوه مرضونه ورکوی.

حب مال مطلب دا دې چې د مال سره محبت که يو انسان د دنيا سميدل غواړی نو دا يقينی خبره ده چې دنيا ددين نه بغير نه صحيح کيږی د دنيا اصلاح اپه دين سره کيږی او دا دواړه لازم او ملزوم دی دا جدا جدا څيزونه نه دی.

زمونږه سوچ دا دې چې دين جدا څيز دی او دنيا جدا څيز دې د دنيا ددين سره هيڅ تعلق نشته چې څنګه زمونږه زړه غواړی نو دغه شان

به مونږه دنیا پیدا کوو او دا غلط سوچ دې ځکه د داسې انسان نه دنیا هم خطا شی او دین ته هم نقصان ورکړی.

او که بالفرض د یو انسان لاس ته په دې صورت کښې دنیا هم راشی نو یو بل څیز دې چې هغه اطمینان دې هغه به ورسره نه وی دا هر څه سهولت به وی لیکن اطمینان او سکون به نه وی ځکه راحت او سکون انسان ته د دنیاوی سهولت سره نه ملاویږی دا به انسان ته هغه وخت ملاویږی چې دا انسان دنیا د دین مطابق جوړه کړی نو راحت او سکون به ورته ملاو شی.

د دین او دنیا په مینځ کښې برابری او توازن وی نه به دین کمزوری کوی او نه به دنیا ته غلبه ورکوی بلکه دین ته به د مقصد په نظر باندې کتلې شی او دنیا ته به د ضرورت نظر کولی شی یو مسلمان به دنیا ته دومره ترجیح نه ورکوی چې د دې دنیا د وجې نه د دې مسلمان نه الله رسول، او آخرت هیر شی او هغه روسته کړی او دې ته حب المال وئیلی کیږی چې دې دنیا ته دومره توجو ورکړې شی چې د دې په بنیاد بیا د حلالو او حرامو په مینځ کښې تمیز او فرق نه کویو او خپل او پردی حق پیژنی یا د مال د حصول د پاره ظلم کوی یا د بل چا حق پامال کوی نو دا انسان بیا خپل دین هم په دنیا باندې برباد کوی او الله او رسول هم خفه کوی دا حب مال دې او دا یو انتهائی خطرناک مرض دې او اسلام د دې - څیزونو خلاف نه دې چې د یو انسان سره به مال نه وی یا ګاړی به نه وی نا دا څیزونه که د حلال مال والا وی نو ښۀ خبره ده.

د دنیا او مال دولت حوالې سره انسان نه اسلام د یو بل څیز مطالبه کړې ده چې هغې ته زهد وئیلې کیږی دا په شریعت قرآن، حدیث کښې استعمال شوې لفظ دې نو د کوم څیز چې حکم شوې دې هغه زهد دې او د کوم څیز نه چې منع کړې شوې ده هغه څیز حب مال دې او د زهد مطلب دا دې د دنیا بې رغبتی د دې دا مطلب نه دې چې دنیا پریږده لیکن دا یو باریک څیز دې چې په دې کښې اسلام توازن پیدا کول غواړی او هر کله چې دا برابر والې او توازن پیدا شی نو دا انسان زاهد جوړ شی او دا انسان په حب مال کښې مبتلا نه وی او د دې څه وضاحت دا دې چې اسلام دا مطالبه نه کوی چې مسلمان به دنیا بالکل پریږدی او د معاشرې نه به لرې شی او نه دا مطالبه کوی چې د مال سره د زړهٔ نه مینه او محبت پیدا کړې شی او الله د انبیاؤ بعثت د دې خبرې د پاره کړې دې چې د دې دنیا او دین دا توازن پیدا شی چې امتی او مسلمان ته د دنیا د فائدو سره سره د آخرت فائدې هم ورکړې شی او د دنیا نعمتونو سره ورته الله د آخرت نعمتونه هم ورکړی.

او د دې آسان تعبیر دا دې چې د صحابه کرامو دنیا په لاس کښې وه لیکن دین د هغوی په زړهٔ کښې وو که د دنیا او دین مقابله به پیدا شوه نو دنیا به ئې پریخوده لیکن زمونږه دین په لاس کښې وی او دنیا په زړهٔ کښې وی که مقابله پیدا شی نو دین پریږدو او د نیا خپله کړو دغه وجه ده نبی علیه السلام فرمائی:

حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ. (شعب الإیمان)

يعنې د دنيا دا محبت د ګناهونه جرړه ده دنيا مراد نه ده ليکن د دنيا محبت مراد دې دا هغه دقيق او باريک فرق دې که بالفرض صرف مال د ګناهونو بنياد وی نو الله به دا مال حضرت عثمان، عبد الرحمان بن عوف او ابوبکر صديق په شان صحابوو ته نه وې ورکړې او که بالفرض دا دنيا دغه شان د ګناهونو بنياد وی نو دا دنيا به الله حضرت سليمان او داود عليه السلام ته نه وی ورکړی؟

نو د مال محبت منع دی ځکه د دې وجې نه ګناهونه انسان کوی که غلا وی او که دهوکه او که د چا قتل وی نو دا ټول څيزونه د دې مال د وجې نه کيږی ځکه که دا انسان د حلال او د حرام فرق نه کوی نو غلا پسې روان شی ځکه د مال سره محبت دې او که د مال سره محبت نه وی نو دی انسان به د خپل ضرورت مطابق حلال مال پيدا کړی وی او د دې د پاره به دې انسان جائز طريقه اختيار کړی وی.

او د دنيا محبت ځکه نا جائز دې چې دا زړهٔ الله داسې يو اندام پيدا کړې دې چې په دې کښې د دوه څيزونو محبت نه جمع کيږی، که د يو انسان په زړهٔ کښې د دنيا حقيقی محبت وی نو د دغه انسان په زړهٔ کښې د دين حقيقی محبت نه وی او که د يو انسان په زړه کښې د دين حقيقی محبت وی نو د دغه انسان په زړهٔ کښې د دنيا محبت نه وی دغه وجه ده چې نبی عليه السلام د ابوبکر صديق رضی الله عنه په حق کښې فرمائی چې:

لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ أُمَّتِيْ خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ وَلَكِنْ أَخِيْ وَصَاحِبِيْ

(صحيح البخاری)

یعنی که بالفرض ما د زړهٔ دوست هغه دوست چې ټول محبت د هغه سره وی او په زړهٔ کښې د هغه نه علاوه بل څوک نه وی نیولے نو په داسې دوستئ سره به ما ابوبکر صدیق رضی الله عنه دوست جوړ کړې وې، سره د دی نه چې ابوبکر رضی الله عنه د نبی علیه السلام دوست هم وو او د انبیاؤ نه بعد لوې مقام خاوند دې او د نبی علیه السلام سره د هغه د سفر ژوند د هجرت او په قبر کښې هم نزدې دې لیکن وجه داده چې دغه حقیقی محبت تقسیم نه قبلوی.

ځکه په زړهٔ باندې صرف یو محبت حاوی کیږی دومره خبره ده چې نور محبتونه په زړهٔ کښې د څه نه څه درجې پورې وی.

مولانا روم رحمه الله فرمائی: چې د دې دنیا او د انسان د زړهٔ مثال د اوبو او د کشتئ په شان دې که کشتئ په اوبو کښې روانه وی او کشتی ته اوبه دننه نشی نو نقصان به نه کیږی لیکن که دغه اوبه کشتئ ته دننه شی بیا نقصان کیږی دغه شان که د انسان نا چارچاپیره دنیا وی نو هیڅ نقصان نهٔ کیږی لیکن که دا دنیا د انسان زړهٔ ته دننه شی نو بیا ورته نقصان او تاوان کیږی.

صحابه کرامو د دنیا دغه پرواه نه وه کړی ځکه یو ځل د جهاد دپاره ضرورت وو نو یو صحابی د کور ټول مال پیش کړې وو یو بل صحابی خپل نیم مال ورکړې وو او عثمان رضی الله عنه ډیر زیات مال ورکړو او بیا د هغه پوره قافله وه هغه ئې هم د الله رضا د پاره وقف کړه.

لیکن زمونږه حالت دا دې چې د دنیا د پیدا کولو د پاره د حلالو او حرامو تمیز نشته او دغه شان که د کروړونو روپو مال موجود وی نو یو

لاکهـ یا دوه لاکهـ ورکول ورته یو غم ښکاره کیږی او هر وقت د مفتی صاحب نه مختلف تپوسونه ددی غرض د پاره کوی چې دا راته اووائې چې مال مه خرچ کوه یا ته زکاة مه ورکوه ځکه زما دپاره به بهانه جوړه شی چې دا ماته مفتی صاحب یا مولوی صاحب وئیلی وو.

د مال سره محبت د هر انسان وی لیکن دا محبت به په خپل ځان باندې نه حاوی کوی او د دې مثال داسې دې چې یو انسان مکمل عمارت یا یو کور جوړ کړی نو دا فطری خبره ده چې په دغه قیمتی او ښائسته عمارت کښې به واش روم موجود وی ځکه دا ضرورت دی لیکن د دې ضرورت کیدو مطلب دا نه دې چې د دغه ټول کور مکمل زمکه به د دغه واش روم یا بیت الخلاء د پاره خاص وی نه دا به د ضرورت حد پورې وی او که په دې کښې ناسته وی نو هغه به هم د ضرورت حد پورې ناسته وی او د ضرورت نه به زیاته نه وی.

دغه شان مثال د دنیا هم دې او دا یو ضرورت دې او دا دنیا به د ضرورت حد پورې وی دا به په زړهٔ باندې داسې حاوی نه وی چې د دې د وجې نه د انسان نه الله یا رسول هیر کړی او د دې پته به په دې صورت کښې معلومیږی، چې یو انسان په دوکان کښې ناست وی او د مونځ وقت وی نو که دې انسان دوکان بند نکړو، بیا د دې مطلب دا دې چې دې انسان خپل زړهٔ ته دنیا دننه کړې ده ځکه د دې دا مطلب دې چې د دې انسان په زړهٔ کښې د دنیا محبت پروت دې، دغه شان که غم، ښادی وی او په دغه موقع د ښځې او بچو مطالبه دا وی چې ټنګ ټکور دې وی او دې انسان د خپلې ښځې یا د خپلو بچو خبری ته د الله په حکم باندې

مخکښې والې ورکړو نو د دې مطلب دا دې چې د دنیا مینه د الله او د رسول په مینه باندې غالب ده ځکه انسان به د الله او د رسول حکم د ښځې او بچو د وجې نه نۀ متاثره کوی.

ځکه الله فرمائی:

**يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ. (فاطر:٥)**

ائ خلقو د الله وعده رشتیا ده خیال کوئ چې تاسو د دنیا مینه او د دنیا ژوند دهوکه نکړی، (ولا یغرنکم بالله الغرور) یعنې دا خیال هم کوئ چې هغه دهوکه باز شیطان هم تاسو دهوکه نکړی.

# په معلاماتو کښې نرمی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد ! بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى.﴾ (بخاری)

د بخاری شریف یو حدیث ذکر کړې شو په دې حدیث کښې نبی علیه السلام خپل امت ته د معاملاتو د لین دین څه اصول بیان کړی دی چې د یو مسلمان معاملات لین دین اخستل خرڅول به څنګه وی که دا دوکاندار دې او که اخستونکې دې نو د دهٔ اخلاق به څه وی یعنې په معاملاتو کښې به د یو مسلمان څه اخلاق وی چې یو تاجر به کوم کوم صفات په خپل ځان کښې په معاملاتو کښې موجود کوی.

په دې حدیث کښې دا بیان شوی دی ځکه اسلام صرف د څه عباداتو نوم نه دې بلکه دا پوره د ژوند د پاره یو نظام دې ځکه الله فرمائی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً . (بقره:۲۰۸)

ائ مومنانو! په اسلام کښې تاسو مکمل داخل شئ او دا زمونږه غلطی ده چې مونږه اسلام د مسجد پورې خاص کړې دې حال دا دې چې اسلام به دمسلمان په هر ځاې او هره مرحله کښې موجود وی که هغه دینی کارونه وی او که په ظاهر کښې دنیاوی کارونه وی لکه په دې کښې کاروبار هم دې چې مسلمان به په دې کښې د اسلام نه رهنمائی اخلی.

ځکه دنیا د دین نه جدا څیز نه دې حدیث کښې راځی طلب الحلال فريضة بعد الفريضة ، یعنی حلال رزق طلب کول دا د دین نه بعد په مسلمان یوه بله فریضه ده مطلب دواړه فریضې په مسلمان باندې لازمی دی او څنګه چې یو مسلمان په دین کښې د قرآن او سنت پابند دې دغه شان مسلمان به دَ دنیا په معاملاتو کښې هم د قرآن او د سنت پابند وی.

په دې حدیث کښې نبی علیه السلام د معاملاتو اخلاق بیان کړی دی چې دا صفت به انسان په دې درې موقعو کښې په خپل ځان کښې پیدا کوی او څوک چې دا صفت په خپل ځان کښې پیدا کوی نو دغه انسان ته نبی علیه السلام دعا کړې ده چې رحم الله رجلا یعنې الله دې په هغه انسان باندې رحم اوکړی دا رحم دې الله په هغه انسان باندې اوکړی چې هغه په خپل ځان کښې د نرمۍ صفت پیدا کړی او دا په درې موقعو کښې په خپل ځان کښې پیدا کړی: **إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى.** (بخاری)، یعنې الله دې په هغه خرڅوونکی یا اغستونکی یا فیصله کونکی باندې رحم اوکړی چې هغه د خرڅولو یا اغستولو یا د قرض اغستلو په وقت کښې نرمی اختیار کړی.

لکه مثال که یو انسان دوکاندار نه تپوس اوکړی چې دا څیز په څو روپې دې نو هغه ورته قسم اوکړی چې دا په پنځه روپۍ دې نو بغیر د ضرورت نه دا قسم کول یو قسم سختی ده دغه په قیمت کښې ګنجائش نه کول دا هم یو قسم سختی ده مطلب په ګټه کښې څه نه څه نرمی اوکړه .

او دویم هغه سړې چې یو څیز اخلی نو خرڅونکی ته به څه نه څه ګټه پریږدی بالکل په پوره قیمت اغستل یا هغه لره تاوان ورکول دا سختی ده.

او ډیر خلق داسې هم کوی چې دوکاندار یو څیز په لس روپۍ ورکوی او دا اغستونکی ورته نهه روپۍ ورکړی او نور روان شی نو دا صورت هم ناروا دې ځکه دا د هغهٔ د زړهٔ نه نه دی او حدیث کښې راځی :

أَلَا لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ إِلَّا بِطِيْبِ نَفْسٍ مِنْهُ ( صحیح الجامع)

یعنې د مسلمان مال د هغه د زړهٔ د رضا نه بغیر حلال نه دې که دغه اضافی یوه روپۍ ولې نه وی لیکن دا دې انسان د پاره حلاله نه ده ځکه هغه انسان دې ته مجبوره شوې دې او که دوکاندار قیمت نه کموی نو هغه لره دا اختیار هم شته دې لیکن صرف هغه د اخلاقو معامله باندې عمل اونکړو.

او د دې معاملاتو په باره کښې نبی علیه السلام بله خبره دا کړې وه

وَإِذَا اقْتَضَى، یعنې کوم وقت چې خپل حق قرض د بل چا نه وصول کوی نو په دې وصول کولو کښې نرمی کوی یعنې یو انسان ظالم او د چا حق هم نه خوری او غل نه دې لیکن مجبوره دې غریب دې بې وسه دې د دغه انسان سره نرمی ضروری ده او د دې د پاره اصول دا دی چې دا انسان به دغه بل انسان د خپل ځان قائم مقام کړی یعنې که په ما باندې د یو انسان دا قرض وی او زما په شان خبری ماته اوکړی نو زما به څنګه حالت وی دغه شان حالت به د دې انسان هم وی .

ځکه حديث کښې راځی نبی علیه السلام يو صحابی ته دا ارشاد کړې وو چې د خپل رور د پاره هغه څه خوښ او محبوب کړه کوم څه چې ته د خپل ځان د پاره محبوب کوی .

نو ته چې د خپل ځان بې عزتی ردې بدې اوريدل نه غواړې دغه شان د بل انسان بې عزتی هم مه کوه، که يو انسان دهوکه باز وی يا د بل انسان حق خوری نو که د هغه سره سختی اوکړې شی د خپل حق د حصول د پاره دا بيا جائز ده ليکن افسوس دا دې چې دا معاملاتی اخلاق نن نه په دوکاندار کښې شته او نه په اغستونکی کښې شته او نه دا اخلاق په حق وصول کونکی کښې شته.

اسلامی ملکونه څه په جهاد سره فتح شوی دی او څه په معاملاتی تجارت سره په اسلام کښې داخل شوی دی په هغه زړه زمانه کښې اصول او اخلاق هغه وو کوم چې اسلام بيان کړی دی نو د مسلمانانو نه به خلقه متاثره کيدل.

همدغه اسلامی اصول مسلمان پريخودل او کافر خپل کړل مفتی شفيع رحمه الله فرمائی: چې باطل په هيڅ يو ميدان کښې ترقی نشی کوې او حق هيڅ کله ختميدې نشی، که يو ځاې کښې باطل په ترقئ باندې روان وو نو ياد اولرئ چې دې باطل د ځان سره څه حق يوځاې کړې دې يا د حق شکل او صورت ئې خپل کړې دې او که حق ختميږی نو معلوميږی چې حق د خپل ځان سره باطل يو ځاې کړې دې نو په دې زمانه کښې کافرانو معاملاتی اخلاق خپل کړل د دې وجې نه د هغوی معاملاتو ترقی اوکړه او د هغوی تجارت مخکښې روان دې سره د دې نه چې هغه باطل او د دې په مقابله کښې زمونږه سره حق موجود دې ليکن

مونږه معاشره او اخلاق د باطل اختيار کړی دی ځکه د دې وجې نه ترقی نه کيږی او مسلمان په تنزل روان دی ځکه چې د معاملاتو د معاشرې په آدابو باندې زمونږه عمل نشته ځکه نبی عليه السلام د دې نرمۍ په باره کښې حکم کړې دې.

او په دې کښې دا هم شامل دی چې يو انسان يو څيز خرڅ کړی او بيا دوباره دغه څيز واپس کړی نو دا هم يو معاملاتی خلق دی بلکه حديث کښې راځی چې څوک خرڅ کړې شوې څيز واپس کړی نو.

أَقَالَ اللهُ عثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (ابوداؤد)

يعنې د قيامت په ورځ به الله د دې انسان خطا معاف کړی ليکن په دې دور کښې د مسلمان دا حالت دې چې دغه څيز به بالکل صحيح سلامت وی او دغه نه واپس کوی بلکه د دکان په رسيد ئې ورته دا ليکل کړی وی چې خريدا هوا مال واپس نهيں هوگا، يعنې اغستلې شوې مال به نه واپس کيږی حال دا دې چې دا اسلامی اخلاق نه وو نو د دې اسلامی معاملاتو اخلاقو پابندی ډيره لازمی ده او په دې زمانه کښې مسلمان دې ته ډير زيات محتاج دې.

والحمد لله رب العالمين.

# معاشي نظام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَنْ نَتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَنْ نَفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ﴾

(هود:۸۷)

﴿وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : مَا عَالَ مَنِ اقْتَصَدَ﴾ (احمد)

د قرآن پاک په دې ايت کښې الله د حضرت شعيب عليه السلام يوه مکالمه د خپل قوم والا سره نقل کوی چې د هغه قوم ماده پرست دنيا پرست مال پرست او سرمايه دارانه ذهن لرونکی خلق وو، شعيب عليه السلام خپل قوم والا ته دا خبره بيان کړې وه چې ستاسو دا سرمايه دارانه ذهن دې او د دې اصلاح اوکړۍ قوم والا دا خبره نه وه منلې او شعيب عليه السلام ته ئې دا جواب ورکړې وو چې دا زمونږه خپل مال دولت او دنيا ده .

په دې کښې زمونږه خپله مرضی ده چې څنګه پيدا کوو او په کومه طريقه دا خرچ کوو نو دا زمونږه خپله دنيا ده او د دې مال مونږه مالکان وو د دې حوالې سره په دې زمانه کښې دا خبره ده چې زمونږه د دور د خلقو دا سوچ او فکر دې چې مال دولت دنيا زياته کړې شی که هغه په هره طريقه باندې وی او دا ئې خپل مقصد او سوچ ګرځولې دې او د دې فکر د وجې نه په دنيا کښې دوه معاشی نظرې وجود ته راغلې وې يوه ته سرمايه دارانه نظام او يو ته اشتراکی نظام وئيلی کيږی، دې دوه نظريو بحيثيت مجموعی انسانيت ته غټ نقصان او لوې تاوان ورکړو او د

نیمې صدۍ نه زیات وقت اوشو چې د دوی دا کشمکش او جهګړه شروع ده نظریاتی او عملی دواړه تصادم شته دې او اویا کاله بعد په اکثری دنیا کښې اشتراکی نظام بې کاره شو ځکه دروس ختمیدو سره اشتراکی فلسفه هم ختمه شوه.

د دې نه بعد دریم معاشی نظام هغه اسلامی معاشی نظام دې او دا درې واړه نظامونه د معاملاتو، اقتصادیاتو او معیشت په باره کښې دی چې یو انسان به مال دولت څنګه پیدا کوی او دا به په کومه طریقه خرچ کوی، د اشتراکی نظام والو دا نظریه ده چې د فرد هیڅ څه اختیار نشته او کوم څه چې د انسان سره موجود دی نو دا هر څه به د حکومت په لاس باندې خرچ کیږی او د دې مثال د یو جیلی یا هسپتالی انسان په شان دې چې انسان به ټوله ورځ محنت اوکړی نو د دې نه بعد به دې انسان ته د یو وقت د پاره خوراک ورکړی بس د دې انسان د ټول محنت دا ثمره ده او د دې مقابله کښې د سرمایه دارانه نظام نظریه داده چې فرد په خپل ملکیت کښې مکمل آزاد او خود مختار دې چې په کومه طریقه مال پیدا کوی او په څه طریقه باندې ئې خرچ کوی لیکن د دې په مقابله کښې اسلامی نظام دې او هغه د اعتدال او توازن قائل دی.

اسلامی معاشی نظریه ده چې که انسان هر څه حکومت وقت ته حواله کړی او د دهٔ خپل اختیار نه وی نو دا ظلم دې ځکه چې د دغه انسان هغه محنت او مشقت ضائع شو او بل انسان به هیڅ څه محنت نه وی کړې او هغه ته مفت دا هر څه ملاو شو دغه شان د سرمایه دارانه نظام مقابله کښې د اسلام دا حکم دې چې د انسان ذاتی او انفرادی ملکیت شته دې .

لیکن په دې انسان باندې څه پابندۍ شته دې چې د دې به پابند وی لیکن دغه اشتراکی نظام د دې وجې نه په دنیا کښې وجود ته راغلې وو چې سرمایه دار خلق په دغه دور کښې ورځ په ورځ په ترقۍ باندې روان وو او غریب به ورځ په ورځ غربت طرف ته روان وو نو د دې په مقابله کښې اشتراکی نظام پیدا شو او د دې نظریه دغه وه چې څه سرمایه یا دولت پیدا کیږی نو په دې کښې به د فرد ملکیت نه وی بلکه دا به د حکومت په ملکیت او تصرف کښې وی او حکومت به د دې مالک او اختیار مند وی.

بیا دغه نظریه د روس په شکست سره ختمه شوه ځکه په دی کښې هم بې اعتدالی وه او انصاف پکښی موجود نه وو او وجه دا وه چې فرد به ټوله ورځ محنت او مزدوری اوکړی او د دې محنت پوره صله او بدله به ورته ملاؤ نه شوه لیکن په دې سره د سرمایه دارانه نظام هغه ظلم ختم نه کړې شو.

بلکه هغه نور زیات شو او ترقی ئې اوکړه نن دوباره په دنیا کښې خاص غریب ملکونو کښې دغه آواز دوباره پورته کیږی د سرمایه دارانه نظام خلاف ځکه په سرمایه دارانه نظام کښې د انصاف او د عدل فقدان دې ځکه سرمایه دارانه نظام ټول ملکیت بغیر د څه پابندۍ فرد ته ورکړو نو نتیجه دا شوه چې د ټولې د نیا په اقتصاد او معیشت باندې په شمار یو څو افرادو او خاندانونو قبضه اوکړه.

# سرمایه دارو ته څلور هدایات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ﴾ (قصص:۷۷)

په دنیا کښې درې قسمه معاشی نظامونه دی یو سرمایه دارانه نظام دې چې هغه نن هم په دنیا کښې موجود دې او یو اشتراکی نظام دې او دا دواړه د الله په بغاوت باندې بناء دی او په دې کښې غټ افراط او تفریط شروع دې.

دریم قسم هغه اسلامی نظام دې او دا په عدل او انصاف باندې بناء دې ځکه اسلامی نظام د اشتراکی نظام خلاف هم دې چې په دې کښې د فرد هیڅ څه مقام او حیثیت نه وی او د دې سره د سرمایه دارانه نظام نه مخالف هم دې ځکه چې فرد ته مکمل آزادی نشته چې فرد په کومه طریقه دولت پیدا کوی او په کومه طریقه ئې خرچ وی مکمل آزاد وی چې د حلال حرام تمییز د پاک او مردار تمییز پکښې نه وی په دې آیت کښې الله د لوې سرمایه دار په ذهنیت باندې رد کوی چې دغه غټ سرمایه دار قارون چې کوم ذهنیت والا وو.

نو دغه ذهنیت، سوچ، او فکر غلط وو، ځکه په دې کښې د الله سره بغاوت دې الله فرمائی:

﴿إِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى﴾

يعنی قارون د موسی علیه السلام د قوم نه وو فبغی علیهم یعنی هغه بغاوت کړې وو یعنې دغه نظام د الله په بغاوت باندې بناء کړې شوې وو، او د بغاوت ډیر قسمونه دې په دې کښې دۀ په خپل مال باندې بغاوت کړې وو ﴿وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ﴾ یعنې دومره لوې سرمایه دار وو چې صرف دولت نه بلکه ددۀ دولت د چابیانو سر معلوم نه وو نو د هغه د دولت به څه حالت وو.

په دې ایت کښې الله قارون ته د څلورو خبرو هدایات کړی دی دا خطاب اګر چې قارون ته دې لیکن قرآن یو عام قانون دی نو دا خطاب ټول امت ته دې یعنې هر دولت مند او سرمایه دار ته دا هدایت دې که یو سرمایه دار د دې څلورو هدایاتو خیال او کړی نو د دۀ د پاره به دا سرمایه د بغاوت او د الله د نافرمانۍ نۀ بلکه دا به د نجات او د خلاصی سبب وی او دا څیزونه به ددۀ د پاره سبب د هدایت جوړ شی او دا د سرمایه دارو د پاره په صحیح لار باندې د روانیدو سبب دې.

1. **وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ.** یعنې سرمایه دار د پاره ذهنیت برابر وی چې ستا دا سرمایه دارانه ذهنیت ختم کړه یعنې ستا سره چې څه څیز موجود دې نو دا د الله دې دا ستا ذاتی نه دې بلکه په دې سره د خپل آخرت د جوړولو د پاره کوشش اوکړی.
2. **وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا** دا دویم هدایت دې چې د دې سرمایه سره خپله د دنیا حصه مۀ هیره وه یعنې داسې مه جوړیږه چې دنیا بالکل پریږدی او هیڅ پرواه نه وی یا د عیسایانو په شان په غار او سمسه کښې پناه واخلی نو د دنیا د حالت نه خبر نه وی او نه ورسره هیڅ څه غم وی نو داسې مۀ کیږه بلکه د ضرورت مطابق دغه سرمایه د خپل ځان د پاره په دنیا کښې استعمال کړه.

3. وَ اَحۡسِنۡ کَمَاۤ اَحۡسَنَ اللّٰہُ اِلَیۡکَ يعنې صرف په خپل ځان باندې دا مال، دولت مۀ خوره بلکه د عام سماج خيال اوکړه که يو انسان د دنيا په ګټولو کښې روسته دې يا غريب دې بې وسه دې نو د هغه خيال هم کوه يعنې په دنيا کښې د بغاوت د الله د رسول د نافرمانۍ او د شريعت د مخالفت سبب جوړ نشې.

4. هسې نه چې د دې سرمايه د وجې نه انساني سماج تباه شي او انسانيت ته نقصان پيدا شي.

5. وَلَا تَبۡغِ الۡفَسَادَ فِی الۡاَرۡضِ ؕ يعنې د فساد کوشش مه کوه په زمکه کښې هسې نه چې ستا د وجې نه په زمکه کښې فساد پيدا شي، نو دا څلورم هدايت دې دا څلور هدايات دی که يو سرمايه دار په دې قرآني هداياتو باندې عمل اوکړی او د دې پابند جوړ شي نو په دنيا کښې امن او انصاف شروع شي.

اوله خبره دا وه چې دا ستا مال په دې کښې د الله رضا طلب کړه ځکه د مسلمان عقيده او سوچ به دا وی چې دا مال د الله دې او په دې کښې زما هيڅ څه کمال نشته او د کافر دا نظريه ده چې دا مال زما خپل دی او دا مال په خپل کمال باندې پيدا کړې دې نو د دې په خرچ کښې هم زما خوښه ده چې زه دا څنګه په کوم ځاې کښې په کومه طريقه خرچ کومه نو په ما باندې هيڅ څه پابندی نشته او زۀ په دې کښې آزاد او خود مختاره يمه، او بل هيڅ چاته دا اختيار نشته چې هغه ماته لاره سيدها کړی چې دا مال په دې طريقه په دې ځاې کښې خرچ کړه ځکه د قارون دا عقيده وه.

اِنَّمَاۤ اُوۡتِیۡتُہٗ عَلٰی عِلۡمٍ عِنۡدِیۡ ، يعنې زما دا مال ماته زما د علم او عقل او د کمال د وجې نه راکړې شوې دې دا زما د خپلو ګوتو زور او

محنت دي او په دې کښې د بل هيڅ طاقت تصرف نشته او دا د مسلمان او د کافر د سوچ فرق او امتياز دې او دا غلطه عقيده د شعيب عليه السلام د قوم والا هم وه ځکه هغوی شعيب عليه السلام ته دا جواب ورکړې وو.

أَن نَّفْعَلَ فِيٓ أَمْوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْ، يعنې ستا دا خوښه ده چې مونږه به په خپل مالونو کښې د خپلې مرضۍ مطابق تصرف نه کوو، نن هم څه داسې خلق شته دې چې د هغوی دا سوچ دې چې دا مال زما دې او په دې کښې د مفتي صاحب د عالم څه کار دې چې دا د هغه په وئيلو سره خرچ کړې شي يا دا حلال دې او دا حرام دې دا غلط ذهن د قارون ذهن وو.

او دا د مغرب سوچ دې د هغوی يو قانون دې فری اکانومی يعنې آزادانه تجارت چې هيڅ تميز يا قيد پکښې نه وی او دا سوچ د قارون هم وو.

دويمه خبره داوه چې دغه مال د خپل ځان د پاره د آخرت د فائدې ذريعه جوړه کړه داسې نه ده چې ستا ذاتی مال نال دا ستا ذاتی مال دې بلکه د الله درکړې شوې دے د الله د مرضۍ مطابق ئے خرچ کړه.

د مسلمان د مال د ګټلو د پاره به سوچ دا وی چې زه په دې سره حقوق ادا کړمه ځکه په ما باندې د ښځې د بچو د رونړو او خويندو حقونه دی هغه زه ادا کړمه او که هغه د الله حق دې نو هغه هم ادا کړی شي.

او دويمه خبره دا وه چې دا د مال انتقال ورل راوړل دا ټول هر څه زه د دې د پاره کومه چې د مخلوق سره خير خواهی اوکړی شي، او مخلوق خدا ته فائده ملاؤ شي، او د دې فائده دا ده چې کوم وقت د يو تاجر کاروباری په ذهن کښې دا دوه خبرې وی نو ددهٔ دا کاروبار او لين دين به مکمل عبادت اوګرځی.

ځکه نبی علیه السلام فرمائی **التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الْأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ** ، یعنې رشتینی او امانت دار تاجر به د قیامت په ورځ د پیغمبرانو، شهیدانو، او رشتینو خلقو سره وی او د دې په مقابله کښې بل حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی: **إِنَّ التُّجَّارَ يُبعَثُونَ يَومَ القِيَامَةِ فُجَّارًا ، إِلَّا مَن اتَّقَى اللّٰهَ وَبَرَّ وَصَدَقَ** ، یعنې دا تاجران به د قیامت په ورځ باندې ګناهګار وی لیکن هغه انسان به ګناهګار نه وی چې هغه نیکی کړی وی او د الله نه ئې یره کړی وی او رشتینی وی او که دا درې خبرې پکښې نه وی نو دغه انسان به فاسق او فاجر وی د قیامت په ورځ باندې .

بله خبره دا وه چې انسان که دغه شان پابند شی نو بل هیڅ څه به نه کوی نو قرآن دا بیان اوکړو چې **وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا** یعنې هسې نه چې ته د لین، دین او د دنیا لارې بندې کړې نو داسې مه کوه په دنیا کښې خپله حصه مه هیروه ځکه اسلام په انسان د دنیا پابندی نه ده لګوی چې یو انسان به نه خوراک څکاک کوی او نه به لین ، دین تجارت کوی بلکه قرآن یو لفظ استعمال کړې دې هغه دا چې نصیبک نو دا صرف ضرورت دې او مقصد نه دې ځکه د ضرورت مطابق تجارت لین، دین عبادت دې لیکن د مغرب نظریه دا ده چې صرف معاش د انسان بنیادی ضرورت دې او دا د انسان کمال دی چې څنګه به دنیا پیدا کړی دغه وجه ده چې مغرب انسان ته سوشل اینمل او اکنامک ورته وائی.

مطلب معاشرتی ځناور او اقتصادی ځناور لیکن اسلام چاته ځناور نه وائی او دا تصور د انسان په باره کښې بالکل غلط دې.

بلکه د انسان دا تعریف غلط دې او دا د انسان سره ظلم دې بلکه انسانیت ئې تباه وبرباد کړو.

څلورمه خبره دا وه چې دغه سرمایه د فساد د پاره سبب جوړ نشي ځکه نن چې سرمایه دار خپله سرمایه د فساد سبب جوړ کړې دې ځکه د دنیا په ټول دولت او سرمایه باندې د یو څو خلقو مکمل قبضه ده او غریب تباه دې غریب هره ورځ تباه کیږی او مالداره هره ورځ مخ په وړاندې روان دې چې هغه سره د خپل مال حساب معلوم نه دې دا نن چې معاشی کمزوری ده نو دا د دې نظام وجه ده ځکه معاش، تعلیم، میډیا هر څه د مغرب په اختیار کښې دی هغوی چې د دې استعمال په کومه طریقه باندې غواړی نو په دغه طریقه ئې استعمال کوی او هیڅ څوک وړباندې اعتراض نشي کوې ځکه قرآن په دغه نظام باندې رد کړې دې او د قارون او د قوم شعیب علیه السلام سوچ او فکر باندې ئې مکمل رد کړې دې.

# رزق حلال (۱)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ﴾(بقره:۱۶۸)

﴿وقال رسول الله طَلَبُ الرِّزْقِ الْحَلَالِ وَاجِبٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ﴾ (ابن ماجة)

د قرآن پاک يو آيت او د نبي عليه السلام يو حديث ذکر کړې شو په دې کښې د حلال او حرام فرق بيان کړې شوې دې چې دا څيز د کامل مسلمان کيدو د پاره دارومدار دې او د د انسان په ژوند باندې ډير لوې اثر کوی او مسلمان بلکه حقيقی مسلمان هغه دې چې د حرامو نه خپل ځان بچ کړی او د حلال رزق طلب شروع کړی، او په دې آيت کښې الله مومنانو ته خطاب کړې دې.

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ﴾ (بقره:۱۶۸)

ای مومنانو څه په زمکه کښې حلال څيزونه دی هغه خوری او د دشمن د قدمونو تابعداری مۀ کوی ځکه شيطان ستاسو د پاره ښکاره دشمن دې.

په دې ځاې کښې الله عام مومنانو ته دا خطاب کړې دې او په سورة انبياء کښې الله دا خطاب انبياء کرامو ته کړې دې ﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا﴾ (المؤمنون:۵۱)يعنې ائ پيغمبرانو حلال او پاک خوراک کوئ او نيک عمل کوئ يعنې د نيک عمل نه مخکښې پاک

او حلال خوراک ضروری دي او نبی علیه السلام فرمائی ﴿طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ﴾ يعني حلال مال طلب كول دا د الله د حق نه بعد بله فريضه ده ځکه حقونه دوه قسمه دی يو د الله حق دي لکه مونځ، روژه، حج، زکوة وغيره د اول حق دي د دي نه بعد د انسان خپل ضروريات دی لکه د انسان خوراک، څکاک، لباس دی نو د دي نه بعد دا بله فريضه ده او په انسان باندي لازمه ده او يو بل حديث کښي راځي نبی علیه السلام فرمائی:

طَلَبُ الحَلالِ وَاجِبٌ على كُلِّ مُسْلِمٍ يعني د حلال او پاک رزق طللب په هر مسلمان باندي لازم او واجب دي يعني څنګه چي مونځ حج، روژه، زکوة په مسلمان باندي فرض دی دغه شان په دي مسلمان باندي د حلال مال طلب هم فرض او لازم دی او د مسلم شريف په حديث کښي راځي:

إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا يعني الله پاک او صفا ذات دي او د خپل بنده نه الله صفا او پاک عمل قبلوی او ، ان الله امر المؤمنين بما امر به المرسلين، يعني الله مومنانو ته د هغه څيز په باره کښي حکم کړي دي د کوم څيز حکم چي الله خپلو پيغمبرانو ته کړي دي او د دي وضاحت مخکښي بيان کړي شو.

علماء کرامو د دي حديث په تشريح کښي دا خبره بيان کړي ده چي الله رب العزت په بله هيڅ څه طريقه باندي نه د انسان عمل قبلوی او نه د انسان عمل پاک کوی بلکه صرف او صرف د حلال مال په خوراک سره د انسان عمل پاک کيږی او په هم دي حلال مال سره د انسان عمل د الله په دربار عاليه کښي قبليږی.

او د دې حدیث نه دا معلومه شوه چې په حرام سره د انسان په عمل باندې اثر کیږی او د الله په دربار کښې د دهٔ عمل نه قبلیږی بلکه د انسان په هر عمل باندې د حرامو یو خاص اثر وی.

څنګه چې د جسمانی خوراک خپل خاص اثر دې لکه که یو انسان طاقت ور مضبوط خوراک اوکړی نو د هغه جسم ته فائده ملاؤ شی او که بې کاره خراب شوې څیز او خوری نو نقصان ورته ملاؤ شی نو دغه شان د خوراک روحانی نقصان او فائده شته دې په روح باندې د خوراک خپل اثر وی د حلال خوراک سره الله انسان ته د نیک عمل توفیق ورکوی او په حرام خوراک سره الله د انسان نه د نیک عمل هغه توفیق اخلی او دا انسان بیا د نیک عمل نه محرومه شی.

دغه وجه ده چې په حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی چې د انسان په یوې لقمې د حرامو سره د دغه انسان څلویښت ورځې مونځ نه قبلیږی دا د حرامو روحانی اثر دې.

علماء یوه واقعه بیان کړې ده چې امام شافعی د خپل شاګرد امام احمد سره یو ځل میلمه شو نو د امام احمد وړې لور د اودس د پاره تیارې کړی شوې اوبهٔ کیخودې وې دغه شپه امام شافعی د امام احمد په کور کښې خوراک کړې وو چې د سحر وقت شو نو دغه لور د خپل پلار امام احمد نه تپوس اوکړو چې ستا دا استاد څنګه لوې او غټ عالم دې حال دا دې چې ما دهٔ ته د اودس د پاره اوبهٔ کیخودې وې او دهٔ ورباندې اودس نه دې کړې امام احمد دغه خبره خپل استاد امام شافعی ته اوکړه نو استاد ورته جواب ورکړو چې نن شپه ما دومره پاک او حلال خوراک کړې دې چې ټوله شپه ما د قرآن او د احادیثو د مسائلو استنباط کړې دې ځکه دا

د پاک خوراک اثر دې او د دې وجې نه زما اودس نه دې مات شوې او زه د شپې اودهٔ شوې نه یمه.

د دې حلالو او حرامو تعریف څه دې؟ نو علماء کرامو د دې تعریف بیان کړې دې الحلال ما اباحه القرآن والسنة والحرام ضده یعنی حلال هغه څیز دې چې هغه قرآن او سنت جائز کړی وی او حرام څیز د دې په مقابله کښې دې او دا ډیر څیزونه دی.

د دې حلالو او حرامو فائده او نقصان څه دې؟ نو د حلالو یوه غټه فائده داده چې د حلالی انسان دعا الله قبلوی حدیث کښې راځې چې حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه یو ځل د جمعې په خطبه کښې ودریدو او عرض ئې اوکړو چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله نه زما دپاره دعا اوکړه چې الله ما لره مستجاب الدعوات یعنې دعا قبلونکی جوړ کړې.

نبی علیه السلام ورته او فرمائیل چې ائ سعد **أَطِبْ مَطْعَمَكَ تَكُنْ مُسْتَجَابَ الدَّعْوَةِ۔** یعنې خپل طعام خوراک پاک کړه نو الله به ستا دعا قبلوی، او بیا ورته فرمائی چې څوک د حرامو مال یوه لقمه خیټې ته دننه کړی نو د دغه انسان الله رب العزت څلویښت ورځې مونځ نه قبلوی او د کوم انسان په جسم او بدن کښې چې یوه ټکړه د غوښې د حرامو د وجې نه پیدا شی نو د دغه جسم دپاره جهنم ډیر لائق دی چې د جهنم په اور باندې اوسیزل شی.

حافظ ابن رجب فرمائی چې یو ځل د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه تپوس اوکړی شو چې دا څه وجه ده الله ستا دعا ښهٔ قبلوی نو هغه

ورته جواب ورکړو چې په ټول عمر کښې ما حرام خوراک نه دې کړې دغه وجه ده او دا تعلیم نبی علیه السلام ورکړې وو.

زمونږه حالت دا دې چې مونږه د حلالو او حرامو تمییز او فرق نه کوو او که څوک یو څیز راوړی کور ته نو بیا هم دا تپوس نه وی چې دا څیز حلال دې او که حرام دې بلکه هغه بچې مور او پلار ته ډیر زیات محبوب او نزدې وی کوم بچې چې ډیر مال، دولت او سرمایه پیدا کوی د دې تپوس نشته چې دا څیز حلال دې او که حرام دې ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی چې ما به څه څیز نبی علیه السلام ته نزدې کړو نو نبی علیه السلام به تپوس اوکړو چې دا څیز د کوم ځاې نه راغلې دې لکه یوه ورځ ورته ما پۍ پیش کړل نو تپوس ئې اوکړو **مِنْ اَیْنَ هٰذا اللبن یا عائشه!**

ائ عائشی دا پۍ د کوم طرف نه راغلی دی نو ما ورته جواب ورکړو چې دا فلانی صحابی رالیږلی دی بیا نبی علیه السلام دغه پۍ اوڅکل، د دې تپوس وجه داده چې آدم علیه السلام په جنت کښې د ونې نه منع کړې شوې وو او هغه تپوس نه وو کړې نو هسې نه چې زه د تپوس نه بغیر خوراک اوکړمه او دا زما د پاره د نقصان سبب جوړ نشی ځکه د نبی علیه السلام دا معمول جوړ شوې وو ځکه سهل بن عبد الله فرمائی چې یو انسان څلویښت ورځو پورې حلال او پاک خوراک که اوکړی نو د دې انسان به هره دعا الله قبلوی.

د حلال خوراک یوه بله فائده داده چې د دې په ذریعه انسان کښې تقوی او خشیت الهی پیدا کیږی ځکه حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی:

﴿وَلا وَرَعَ كَالْكَفِّ عن الحرام﴾ يعنې د حرامو او ناجائز څيزونو نه ځان بچ كيدو نه علاوه بله تقوى نشته مطلب غته تقوى داده چې يو انسان خپل ځان د حرام او ناجائز څيزونو نه بچ كړى، او دا ځكه چې د دې مثال د هغه مريض په شان دى چې حكيم هغه ته دا هدايات كړى وى چې ته به خپل ځان د بد پرهيزۍ نه بچ كړې او دا دوائى به په خپل خپل وقت باندې استعمال كوې نو دغه انسان دوائى استعمال لوى ليكن خپل ځان ورسره د منع شوى څيزونو نه نه بچ كوى نو دا انسان كه ډير زيات عبادتونه كوى او د حرامو نه خپل ځان نه بچ كوى نو د دې عبادت څه فائده نشته لكه څنګه چې د دوائۍ فائده د بد پرهيزۍ سره نه وى يو حديث كښې راځى نبى عليه السلام صحابى ته فرمائى ﴿اتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ﴾ ، خپل ځان د حرامو نه بچ كړه نو ته به په دې ټولو خلقو كښې ډير عبادت ګذاره انسان ئې، او يو بل حديث كښې راځى چې الله هغه بنده ډير زيات خوښ ګڼړى كوم سړى چې خپل ځان د حرامو نه بچ او لرې كړى. **والحمد لله رب العالمين**

# رزق حلال (۲)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰأَيُّهَا الَّذِيْنِ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَ لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ اِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِيْنٌ﴾ (البقرة:۱٦۸)

## ټول انسانيت ته خطاب:

د قرآن پاك يو ايت تلاوت شو په دې كښې الله خپلو بندګانو ته خطاب كوى چې تاسو حلال مال خورئ كه چرته يو انسان په دنيا كښې د خوراك ضرورت پوره كوى نو دغه ضرورت به د حلال مال نه پوره كوى د انسان خوراك به په دنيا كښې د څه قيدونو پا بند وى په دې خوراك څكاك كښې به انسان آزاد نه وى كه يو مسلمان دغه ضرورت د حرام مال نه پوره كوى نو دې انسان ته به د دې نقصان په دنيا او اخرت دواړو كښې وې په دې ايت كښې الله عام خطاب كوى (يَاَيُّهَاالنَّاسُ) اے د ټولې دنيا مسلمانانو په زمكه كښې حلال او پاك مال نه خوراك كوئ يعنې د خوراك حكم او د پاك مال حكم صرف مسلمان ته نه دے بلكه د تمام دنيا انسانانو ته الله دا حكم وركړے دے او په يو بل ځائے كښې الله دا حكم پيغمبرانو ته كړے دے (يَاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا) اے انبياؤ مطلب هر پيغمبر ته خپل خپل دور كښې الله دا حكم كړے وو چې تاسو پاك خالص خوراك كوئ ﴿اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ﴾ بيا چې كله د

دي په بنياد تاسو كوم عمل كړے وى زۀ د هغه عمل نه خبردار يمه زۀ به د دغه پاك حلال رزق په قوّت باندې دَ ادا كړى شوى عمل تاسو ته بدله دركړمه دې ايت كنبې دې طرف ته اشاره ده دې خبرې ته چې د پاك رزق خوړونكى انسان عمل د الله په دربار كنبې قبول او منظور وى.

## د حلال مال طلب:

په يو حديث كنبې راځى نبي عليه السلام فرمائى﴿طَلَبُ الْحَلَالِ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ﴾(طبرانى) يو د الله فرض او لازم حق دے په انسان او مسلمان باندې چې هغه مسلمان د عبادت په شكل كنبې ادا كولے شى د دينه بعد وربانديې الله دا لازم كړى دې چې حلال رزق او حلال مال به د خپل بال بچ د پاره پيدا كوى دا هم د الله يوه مقرر كړے شوې فريضه ده خو د عبادت نه بعد د دې درجه ده دا د مسلمان ذمه دارى ده او يو بل حديث كنبې دى چې حلال مال ګټل او طلب كول په مسلمان باندې واجب دى او يو بل حديث كنبې راځى ﴿اِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ اِلَّا طَيِّبًا﴾ (مسلم) الله پاك ذات د شريكانو معبودانو نه پاك صفا ذات دے او د خپل بنده نه پاك صفا حلال مال قبلوى او يو روايت كنبې وى﴿اِنَّ اللهَ اَمَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ بِمَا اَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِيْنَ﴾(مسلم) الله مومنانو ته د هغه څه په باره كنبې حكم كړے دے چې كوم حكم الله پيغمبرانو ته كړے وو الله پيغمبر ته د حلال پاك مال خوړلو په باره كنبې حكم كړے وو هم دغه حكم الله مومنانو ته هم كړے دے او د نيك عمل په باره كنبې الله پيغمبرانو ته حكم كړے وو هم دغه حكم الله مومنانو ته هم كړے دے

مفسرينو د دې ايت په تفسير كښې دا خبره كړې ده چې الله د حلال رزق نه علاوه په بله طريقه سره د حاصل شوى رزق عمل الله نه قبلوى د الله په دربار كښې د عمل قبليدو معيار رزق حلال دے.

يو طرف ته كه د حلال مال واله انسان عمل الله ته قبول وى نو بل طرف ته په دې انسان باندې د حلال مال د وجې نه نور ډير ښۀ او نيك اثرات وى او حرام مال د فساد عمل او د تباهى بد عملى د پاره سبب دے او د انسان په ژوند باندې نور ډير اثرات لرى نو د حلال او حرام دواړو مالونو د انسان په ژوند باندې يو خپل تاثير دے حلال خور ته الله د نيك عمل د پاره توفيق وركوى او حرام خور انسان نه الله د نيك عمل توفيق سلب كړے وى.

## د امام احمد حلال رزق:

امام شافعى د امام احمد استاد دے امام شافعى په مصر كښې دے او امام احمد په بغداد كښې دے امام احمد به د خپل استاذ ډيره زياته تذكره كوله خو د ډير مصروفياتو د وجې نه ډير وخت ملاقات نه وو شوے په يو موقعه امام شافعى د امام احمد خوا ته راغلے وو امام احمد په كور كښې اطلاع وركړه چې زما استاذ امام شافعى راغلے دے كور كښې د امام حمد لور خدمت كوى او دا د ځان د پاره سعادت ګڼړى خوراك څكاك تيار شو امام شافعى ته پيش كړے شو امام شافعى ډير په شوق سره دغه خوراك اوخړو كله چې د خوب وخت رانزدې شو نو تيارې اوبه د امام احمد لور په دغه كمره كښې د اودس كولو د پاره كيخودلې وې چې په دې اُوبو باندې به امام شافعى د شپې د تهجدو د پاره اودس اوكړى كله چې د سحر

وخت داخل شو استاذ او شاګرد مسجد ته د مونځ د پاره لاړل دوباره چې راځی نو د امام احمد لور د خپل پلار نه تپوس کوی چې دا څنګه لوې عالم ولی الله دے چې د شپې د عبادت د پاره نه پاسیږی څکه دا تیارې شوې اُوبه د شپې په وخت کښې نه دی استعمال شوې امام احمد د خپل استاد امام شافعی نه دغه تپوس اوکړو امام شافعی جواب ورکړو چې کله ما ستا دغه رزق خوړلے وو ټوله شپه ما خوب نه دے کړے څکه زۀ د قرآن یو ایت ته متوجې شوې وومه او د سحر وخت پورې ما د دغه ایت نه مسئلې استنباط کړی دی نو زما اودس نه دے مات شوے او دا حالت پیدا کیدل ستا د حلال رزق وجه ده دغه خوراك حلال رزق دے او په دې کښې الله دا برکت او نورانیت کیخودلے دے.

## دَ یو غریب مزدورکار رزق:

په دیوبند علاقه کښې یو غریب سړے وو د هغه د آمدن ذریعه دا وه چې ټول کال به هغه ګیاه ریبله او یا به هغه خشاك راجمع کړو بیا به ئې دغه خشاك خرڅ کړو په دې طریقه باندې به هغه مال سرمایه پیدا کوله او په کال کښې یوه ورځ به هغه د دارالعلوم دیوبند بزرګانو اُستاذانو د پاره د خوراك څکاك د پاره دعوت ورکولو د یعقوب نانوتوی رحمت الله علیه چې دا یو لوې عالم دے د هغه نه چا تپوس کړے وو څه وجه ده چې تاسو د دې غریب سړی خوراك ته خوشحاله کیږۍ نو یقوب نانوتوی رحمت الله علیه جواب ورکړو چې د دې انسان په دې رزق کښې الله دومره خیر او برکت کیخودلے دے چې مونږه ټول کال د دغه ورځ انتظار کړے وی چې کومه ورځ باندې دا انسان مونږه لره د خوراك د پاره دعوت

راکوی او الله د دے انسان په رزق کښې دومره زیات نورانیت کیخودلے دے چې د ډیر وخت پورې دغه نورانیت مونږه ته محسوس کیږی.

نو د حلال او د حرام ورسره د احتیاط او بے احتیاطۍ واله رزق د بنده په اعمالو باندې لوې اثر لری د عمر رضی الله عنه په دور خلافت کښې هغه ته چا دا اطلاع ورکړه چې د مدینې قصابان د ځناور و نه څرمن د ژوندینې په حالت کښې اوباسی مطلب پوره یخ مړ شوے نه وی چې دوی ورنه څرمن لرې کوی عمر رضی الله عنه حیران شو چې دا څه کوی ؟ دا خو په انسان لوې اثر لری قساوت قلب د دې د وجې نه پیدا کیږی اعلان ئې ورته اوکړو او سرکاری حکم ئې ورته اوکړو چې حلاله ذبحه به د حلق اولُبّه په مینځ کښې وی او څرمن به تر هغه وخت پورې نه لرې کیږی تر څو پورې چې ورنه ساه نه وی وتلې کله چې مکمل ساه ورنه لاړه شی نو بیا به ورنه څرمن لرې کیږی.

## حلال طعام او د عمل قبولیت:

او احتیاط ځکه ضروری دے چې په یو موقع نبی علیه السلام د قرآن دا ایت تلاوت کړو ﴿يَاأَيُّهَاالَّذِيْنِ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَا لاً طَيِّبًا﴾ (سورة البقرة:۱۶۸) اے ایمان والو حلال او پاك مال خورئ په دې حالت کښې یو صحابی حضرت سعد بن أبی وقاص رضی الله عنه اودریدو او مطالبه ئې اوکړه یا رسول الله زما د پاره دا دعا اوکړه چې الله ما لره مستجاب الدعوات، دعا قبلیدونکے جوړ کړی چې الله زما دعا په خپل عظیم الشان دربار کښې قبلوی نبی علیه السلام ورته جواب ورکړو ﴿أَطِبْ مَطْعَمَكَ تَكُنْ مُسْتَجَابَ الدَّعْوَةِ﴾ پاك خوراك د ځان د پاره لازم کړه نو الله

به ستا دعا قبلوی یعني پاك حلال مال خوړل په دې سره الله دعا قبلوی او دا د مستجاب الدعوات کیدو سبب او زریعه ده او بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل زما دې په هغه ذات باندې قسم وی چې زما روح د هغه په لاس کښې دے که یو انسان یوه لقمه د حرام مال اوخوری نو د دې انسان څلویښت ورځې الله نیك عمل نه قبلوی او ورسره نبی علیه السلام دا هم اووئیل که د یو انسان جسم د یوې لقمې حرام مال نه نمو غټ والے حاصل کړی نو دغه انسان جنت ته نشی داخل کیدے او ابن رجب حنبلی وائی چې د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه چا تپوس کړے وو څه وجه ده چې الله ستا دعا نه ردکوی او ستا دعا قبلیږی نو هغه دا جواب ورته ورکړو چې ما یوه لقمه نه ده اغستې مګر د دغه لقمې نه مخکښې ما ځان مطمئن کړے دے ما دا معلومات کړی دی چې آیا دا لقمه حلاله ده اوکه حرامه ده دا د صحابو احتیاط دے.

## د طعام باره کښې د نبی علیه السلام احتیاط:

او د نبی علیه السلام سیرت هم دا دے عائشه رضی الله عنه وائی چې یو خو د کور خپل خوراك وی اوکه چرته د باهر طرف نه به خوراك راغلے وو نو بار بار ما نبی علیه السلام لیدلے دے چې هغه به دا تپوس کړے وو (مِنْ أَيْنَ هٰذا يَاعَائِشَةَ) اے عائشه دا خوراك د چرته نه راغلے دے او په یوه موقعه څۀ پئ د څکلو د پاره یو صحابی رالیږلے وو نبی علیه السلام تپوس اوکړو (مِنْ أَيْنَ هٰذا) دا پئ د کوم طرف نه راغلې دی اے عائشه ما ورته جواب ورکړو چې دا خو هغه فلانکی صحابی رالیږلی دی بیا نبی علیه السلام دغه اوڅکل ، نبی علیه السلام دا تپوس ولے کړے دے ځکه د الله حکم انبیاؤ ته دا دے ( كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبَاتِ) تاسو پاك او

حلال مال خورئ نو ځکه انبياء دا احتياط کوی چې هسې نه د الله د حکم خلاف ورزی اونهٔ کړے شی د هغوی په نظر کښې دا احتياط ځکه ضروری وو چې آدم عليه السلام يوه دانه بغير د علم نه په هيره سره خوړلې ده نتيجه دا وه چې د جنت نه راوويستلے شو نو هغه صحابی ته نبی عليه السلام دا ارشاد کړے وو که دعا قبليدل غواړې نو حلال او پاك مال لازم کړه.

**غټه تقوی:**

او يو حديث کښې راځی ( **لَا وَرَعَ كَالْكَفِّ**) د حرامو نه ځان بچ کيدو نه غټه تقوی بله نشته مطلب لويه تقوی دا ده چې انسان به خپل ځان د حرام مال نه بچ ساتی او د دې نه به انسان لرې وی، هله به دا انسان ديندار او تقوی داره وی ځکه نفلی مونځونه او تسبيحات ضروری نه دی لکه څنګه چې د حرام مال نه خپل ځان ساتل ضروری دی او ابوهريره رضی الله عنه وائي چې نبی عليه السلام يو څو وصيتونه ماته کړې وو يو وصيت دا دے ﴿ **اِتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاس**﴾ (ترمذی) خپل ځان د حرام مالونو نه بچ کړه نو تهٔ به د ټولو نه لوې عبادت ګذار او نيك عمله انسان ئې.

که يو انسان ډير عبادتونه فکرونه حج عمرې کوی خو د هغهٔ مال دولت کار کسب حلال نه وی نو دغه ټول عبادتونه فضول عبث او ضائع دی دې انسان ته هيڅ څهٔ فائده نه ورکوی ځکه يو بل حديث کښې راځی چې څلور څيزونه د انسان په کامل ايمان باندې د لالت کوی يو دا چې په دې انسان کښې د امانت حفاظت راشی دويم دا چې رشتيا خبرې کوی دروغ نه وائي دريم دا چې دا انسان د نيك او ښه اخلاقو خاوند وی څلورم

دا چې خپل خوراك او رزق كښې د حلالو اهتمام كوؤنكے وى دا څلور خصلتونه چې الله يو بنده ته وركړې وى نو كه دې انسان ته هيڅ نه وى ملاؤ شوې دا د دې انسان د پاره د دنيا او مافيها نه غوره او بهتر دى.

والحمدلله رب العالمين

# اسلامی معاملات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ (1) الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ (2) وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ (3) أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ (4) لِيَوْمٍ عَظِيمٍ﴾ (مطففين)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلتَّاجِرُ الصَّدُوقُ الْأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ﴾ (ترمذی)

مخکښې دا خبره بیان شوې وه چې رزق حلال د انسان یو بنیادی ضرورت دې او د الله د عبادت نه بعد په انسان باندې یوه اهمه فریضه ده او په دې کښې د حلال او د حرام تمیز په مسلمان باندې بحیثیت مسلمان لازمی دې، ځکه د الله حکم دې **کلوا من الطیبات** یعنې ائ خلقو تاسو پاک او حلال مال خورئ، په مسلمان باندې دا لازمه ده چې دا به د حلال او د حرامو نه خپل ځان بچ کوی، عام طور تجارت، لین دین، معاملات د رزق حلال د پیدائش د پاره ذریعه ده لکه حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی چې رزق لس حصې دې او په دې کښې (۹) نهه حصې رزق الله په تجارت کښې کرځولې دې او یوه حصه په نورو څیزونو کښې تقسیم کړې شوې دې دغه تجارت چې دا د معاش د پاره غټه ذریعه ده د دې بنیاد په دوه خبرو باندې بناء کړې شوې دې یوه خبره اخستل او دویمه خبره خرڅول چې دې ته بیع او شراء هم وئیلی شی.

لیکن عام قانون د دې بیع او شراء د پاره د تاجرانو یا څه خپل اصول وی چې هغوی د دې مطابق تجارت کوی یا ورسره بنۀ اخلاق وی

چې د دغه اخلاقو په بنياد خپله سودا خرڅوي يا يوه خپله طريقه وي چې د هغې مطابق تجارت کوي نو په عام عرف کښې دغه انسان ته کامياب تاجر وئيلی شي.

ليکن د مسلمان تاجر د پاره بحيثيت مسلمان دا خبره لازمی ده چې مسلمان به د اسلامی اصول تجارت نه خبر وي او د حلال او حرام څيز فرق او تميز به کوې شي نو دا انسان به په دنيا او آخرت دواړو کامياب وي ځکه نبي عليه السلام فرمائی:

**اَلتَّاجِرُ الصَّدُوقُ الْأَمِينُ** يعنې هغه تاجر چې هغه رشتينی او امانت دار وي نو دا انسان به د قيامت په ورځ د پيغمبرانو او صديقينو او شهداؤ سره يو ځاې وي د دغه اسلامی تجارت د پاره يو پنځه خبرې ډيرې اهمې او ضروری دی.

۱)يوه خبره داده چې د دغه تاجر او دوکاندار په ناپ او تول کښې به کمې او فرق نه وي ځکه په ناپ تول کښې کمې گناه ده او په قرآن او احاديثو کښې د دې سخت سخت عذابونه او وعيدونه ذکر کړې شوی دی دا د آخرت نقصان دې او دنياوی نقصان دا دې چې د ناپ، تول د کمی د وجې نه آخر د دې انسان دا کاروبار تباه وبرباد او ختم شی، او خلق ورسره معاملات پريږدی ځکه اعتماد ختم شي، او د دې انسان په مال کښې بې برکتی او نحوست پيدا شی او که يو انسان پوره او برابر ناپ تول کوی يا درون ورکوی نو په دې انسان باندې اعتماد نور زيات شی او خلق ورسره معاملات کوی او الله د کمی کونکی خلقو مذمت په قرآن کښې بيان کړی دی.

**﴿وَيۡلٌ لِّلۡمُطَفِّفِينَ﴾** يعنې هلاکت او تباهی ده د کمی کونکو د پاره هسې رشتيا اووائی چې يو انسان ته الله خيرې اوکړی نو دغه انسان به

کله هم کامیاب نشی او دا مطففین هغه خلق دی ﴿الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ﴾ یعنې چې د خلقو نه ناپ او تول اخلي نو پوره او برابر ئې اخلي او که بل انسان ته ناپ یا تول ورکوی نو کم ئې ورته ورکوی او دا انسان دا ګمان نه کوی چې زۀ به یوه ورځ د الله په دربار کښې پیش کیږمه او الله به زما نه د دې خلقو د حقونو په باره کښې تپوس کوی بلکه مخکښې قومونو کښې الله د حضرت شعیب علیه السلام قوم والا په ناپ تول کښې د کمی د وجې نه هلاک او تباه کړی وو، په دغه وقت کښې مدین یو لوې تجارتی مرکز وو او شعیب علیه السلام ورته وئیلی وو چې تاسو ډیر په ښه حالت کښې ئې الله در باندې رحم کړې دې لیکن دا په ناپ تول کښې کمی مۀ کوئ نو قوم والا ورته په جواب کښې وئیلی وو چې دا مال او دولت زمونږه دی او مونږه د دې مالکان یو نو په دې کښې ستا خبره څنګه اومنو نو په دې وجه الله هلاک کړل نن زمونږه د بازارونو حالت دا دې چې هیس یو دوکان د ناپ د کمی نه بچ شوې نه دې بلکه ښۀ مونځ ګزاره ذکر کونکی او حاجی صاحب به وی لیکن د ناپ تول د کمی نه به هغه نه وی بچ شوې.

دویم څیز هغه د دهوکې او فراډ نه خپل ځان بچ ساتل دی چې د مسلمان په کاروبار لین دین کښې به دهوکه نه وی دهوکه بازی عظیمه ګناه ده او د دې مختلف صورتونه دی یو صورت دا دې کله یو انسان یو څیز خرڅوی نو په هغې کښې ملاوټ اوکړی یا د اصلی څیز په نوم باندې جالی او دویم نمبر څیز خرڅ کړی یا په دغه سودا کښې څه عیب یا نقصان وی او دغه اغستونکی ته ښکاره نکړی، نبی علیه السلام فرمائی: مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا یعنې څوک چې دهوکه اوکړی نو دا زمونږه امتی نه دې ځکه دا غټه خبره ده او دا د غیرو صفت دی او د دې وجه

داده چې په دې سره ملک، قوم، او ملت تباه کیږی، لکه نن زمونږه د ملک دا حالت دې چې د خوراک څکاک نه واخله تر دوائی او علاج پورې په هر څیز کښې دهوکه ده.

حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی: **لا يَحِلُّ لِأَحَدٍ اَنْ يَبِيْعَ شَيْئًا الَّا بَيَّنَ مَا فِيْهِ**، یعنې د هیڅ یو انسان د پاره جائز نه ده چې هغه څیز خرڅ کړی کوم څیز چې عیب پکښې موجود وی او دا انسان ورته هغه عیب بیان نه کړی که د یو انسان د عیب سره یو څیز خوښ وی نو صحیح ده او که داسې نه وی نو هغه ته به د هغه څیز عیب خامخا بیانوی.

دریمه خبره هغه په لین دین، معاملات او کاروبار کښې دروغ نه وئیل، نن صبا حالت دا دې چې کوم سړی په لین، دین کاروبار کښې دروغ ډیر وائی نو خلقه وائی چې دا سړی کمال ته رسیدلې دې حال دا دې چې په دې سره د انسان د پاره نفع حرامیږی، که هغه دروغ په اصل قیمت کښې وی مثلا یو څیز یو انسان په اتیا روپۍ اغستې وی او دا وائی چې دا څیز ما په سل روپۍ اغستې دې نو په دې کښې دا شل روپۍ حرامې دی، یا په دروغو سره قسم کول حدیث کښې راځی څوک چې قسم اوکړی په لین دین کښې نو د دې انسان د نفع انجام به خراب وی.

څلورم څیز د ذخیر اندوزۍ نه بچ کیدل، دا د اسلامی اصول تجارت نه خلاف ده مثلا په بازار کښې یو څیز نه ملاویږی او خلقو ته د هغې ضرورت دې په دغه دوران کښې یو انسان د خپل ځان د فائده او د ډیرې نفع په نیت دغه څیز د خپل ځان سره کیږدی او د فقدان او قحط په وقت کښې په ډیر قیمت سره ئے خرڅ کړی، نبی علیه السلام فرمائی **اَلْجَالِبُ مَرْزُوْقٌ وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُوْنٌ**، یعنې کوم سړې چې ذخیره اندوزی نه

کوی نو هغه ته الله رزق ورکوی او کوم سړې چې ذخيره اندوزی کوی نو په دغه انسان باندې د الله لعنت دې.

حضرت عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه يو لوې تاجر صحابی دې او د وفات په وقت کښې د هغه نه په اربونو باندې مال پاتې شوې وو، د هغه نه چا تپوس اوکړو چې الله ستا په دې مال کښې دا دومره برکت د څه وجې نه ګرځولې دې نو هغه جواب ورکړو چې دا څلور وجې دی:

- دا وجه ده چې ما د هيڅ يو انسان نه په قرضو باندې سودا نه ده کړې .
- او دويمه خبره دا چې ما په سودا کښې عيب نه دې پټ کړې بلکه که په سودا کښې څه عيب موجود وی نو هغه ما ښکاره کړې دې نن حال دا دې چې په هر څيز کښې دهوکه ده نبی عليه السلام يو ځل په بازار کښې روان وو او دَ کهجورو يو لوې ډيرې ئې اوليدو نو په هغه ډيری کښې نبی عليه السلام خپل لاس دننه کړو او د هغې په مينځ کښې لمدې کهجورې وی نبی عليه السلام ورته اووئيل چې دا مه کوه چې ښکاره يو قسم کهجوری وی او په پټه ئی بل قسم کهجوری وی ځکه دا دهوکه ده .
- او دريمه خبره داده چې په سودا کښې ما ذخيره اندوزی نه ده کړې.
- او څلورمه وجه داده چې ما په قرضو باندې خرڅ نه دې کړې دا د شريعت لازمی حکم نه دې ليکن دا د هغه په اصولو کښې شامل خبره وه.

د اسلامی تجارت يو بل اصل دا دې که يو انسان يو څيز واخلی او بيا ورته د هغه ضرورت نه وی نو دغه خرڅونکی به دغه څيز دوباره په

خوشحالۍ سره واپس کوی او نه به ئی رد کوی او دا څیز نن صبا نشته هاں که یو څیز داسی وو چې په هغې کښې نقصان پیدا شوې دې نو بیا جائز ده د یو بزرګ باره کښې راځی چې هغه دوکان کولاؤ کړې وو نو یو څو ورځې بعد ئې دغه دوکان دوباره بند کړو یو انسان ورنه تپوس اوکړو چې ستا دا دوکان خو روان شوې وو نو تا دوباره ولې بند کړو هغه جواب ورکړو چې ما دا دوکان په دې نیت کولاؤ کړې وو چې په حدیث کښې راځی کوم انسان چې خرڅ کړې شوې مال واپس کړی نو د دغه انسان ګناه او خطا به الله د قیامت په ورځ واپس کړی او ما هم یو څیز خرڅ کړې وو هغه ما دوباره واپس کړو نو د دې نه بعد ماته هیڅ څه ضرورت د دوکان نشته چې ما په دې سنت باندې عمل اوکړو نو ځکه مې دوکان بند کړو.

حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی:

**إِنَّ هَذَا الْبَيْعَ يَحْضُرُهُ اللَّغْوُ، وَالْحَلِفُ** (احمد) یعنې په دې لین دین کښې لغو او عبث خبرې کیدی شی او کله کله انسان ورباندې قسم اوکړی نو دا په صدقه کولو سره لری کړی یعنې که څه نقصان په دې سودا کښې پیدا شوی وی نو دغه نقصان په صدقې سره لری کړی.

والحمد لله رب العالمین

# د نکاح اهمیت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿هُوَ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا﴾ (اعراف:۱۸۹)

﴿وقال تعالى: يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ﴾ (نساء:۱)

﴿وقال رسول الله ﷺ: اَلنِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِيْ وَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ﴾

(ابن ماجه)

په دنيا کښې چې يو انسان نيک عمل کوی نو دا ضروری ده چې په دغه نيک عمل او احکامو باندې خپل ځان پوهه کړی او د الله او د رسول د حکم او طريقې مطابق هغه کار پوره کړی دوه قسمه احکام دی يو ته فضائل وئيلی کيږی چې د دې عمل مقام او مرتبه څه ده او د دې په بيان سره د عمل شوق پيدا کيږی او دويم ته مسائل وئيلی کيږی او په دې مسائلو او احکامو سره په عمل کښې صحت او درستګی پيدا کيږی، دا دواړه خبری ضروری دی او دواړه د قرآن او سنت حصه ده که يو انسان د حديثو په کتابونو باندې نظر اوکړی نو د احاديثو کتابونه د فضائلو او مسائلو نه ډک دی ځکه دا دواړه مطلوب دی.

د الله په دغه حکمونو کښې يو حکم نکاح هم ده ځکه نکاح د اسلام او شريعت اهم حکم دې او انسانی ضرورت او فريضه هم ده ليکن د عام مسلمانانو په نظر کښې نکاح نن صبا يو رسم و رواج دی

ځکه د نکاح په موقع خلاف شریعت کارونه ښکاره کیږی او د دې د احکامو او مسائلو نه نا خبره دی دغه وجه ده چې د نکاح نه بعد په کور کښې مختلف قسمه اختلافات او جنګ جهګړی پیدا شی وجه داده چې په دغه موقع الله خفه کړی شوې وی نو روسته ژوند هم خراب او تباه شی، ځکه دا د الله قانون دې چې په کوم ځیز تا الله خفه کړی وی هم په دغه ځیز به الله تا لره خفه کړی.

اوله خبره دا ضروری ده چې نکاح ولې ضروری ده او د انسان دې ته څه ضرورت دې؟ نو دا ځکه ضروری ده چې د نکاح په وجې سره انسانی معاشره وجود ته راځی او دا د معاشرې د وجود د پاره اوله مرحله ده نن چې په دنیا کښې دا ځومره شان وشوکت ښکاری نو دا د دغه رشتې او ښځی او خاوند د تعلق نتیجه ده ځکه که دغه تعلق ختم شی نو انسانی نسل به وجود ته راتلل بند شی موجوده انسانان به ختم شی او په دې سره به دنیا هم ختمه شی او د دې ښځې او د خاوند د رشتې نه بعد د مور او لور د ځوی او پلار د رور او خور رشتې وجود ته راځی او په دې کښې مختلف رشتې او قرابتونه پیدا کیږی، او په دې سره انسانیت ترقی کوی دغه وجه ده چې الله د اول انسان د پیدائش سره د هغه بی بی هم پیدا کړې وه، او په دې سره انسانی نسل آباد شوې دې .

بله خبره داده چې نکاح د انسان فطرت دې او د اسلام احکامات د انسانی فطرت سره مطابق او یو شان دی ځکه الله فرمائی هن لباس لکم وانتم لباس لهن، یعنې دغه زنانه د انسان د پاره لباس دی او نارینه د زنانه

د پاره لباس دې لکه څنګه چې حیاء او پاکدامني د انسان په فطرت کښې موجود ده.

دغه شان نکاح وغیره د انسان په فطرت کښې موجود ده او دا د انسان عقلي او جنسي ضرورت هم دې د دغه جنسي میلان او شهوت پوره کیدو د پاره الله انسان لره نکاح ضروري کړه چې دا انسان په دې سره د حرامو څیزونو نه بچ شي او د دغه نکاح ذمه دار د کور مشر دې پلار او نیکه د دغه ذمه دارۍ نه خلاص نه دي ځکه که دا خلاص کړې شي نو په دغه بچي کښې دا ضرورت موجود دې او بیا به دا بچي دا خپل ضرورت په غلطه طریقه پوره کوي.

دا نکاح د پیغمبرانو او انبیاء کرامو سنت طریقه هم ده ځکه الله فرمائی:

**وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً** (سورة الرعد:۳۸)

یعنې ستا نه مخکښې ما نور پیغمبران پیدا کړي وو او د هغوی د پاره ما بچي او بیبیانې ګرځولې وې، او حدیث کښې راځي نبي علیه السلام فرمائی اربع من سنن المرسلین یعنې څلور خبرې د انبیاء کرامو سنت دي یو حیاء ده ځکه پیغمبران بې پرده او بې حیاء نه وو.

دویم عطر او خوشبو لګول او دریم مسواک کول او څلورم نکاح ده ځکه په اسلام کښې ترک نکاح یعنې نکاح نه کول منع دي او دا د عیسایانو خود ساخته نظریه وه چې هغوی الله ته د رسیدو د پاره ترک دنیا او ترک نکاح اختیار کړې وه نو په هغوی کښې بعضې خلقو خوراک، څکاک پریخودو او بعض خلقو لین دین پریخودو او بعضو نکاح پریخوده نبي علیه السلام فرمائی:

لَا رَهْبَانِيَّةَ فِي الْإِسْلَامِ (شرح السنة) یعنې په اسلام کښې رهبانیت نشته کمال دا دې چې انسان په دې دنیا کښې موجود وی او سره د دې دنیا د وجود نه الله ته اورسیږی.

ځکه عبد القدوس گنگوهی فرمائی چې یو کارِ ولایت دې او یو کارِ نبوت دې کارِ ولایت هغه دې چې یو انسان الله ته اورسیږی نو هغه دوباره دنیا ته نه راځی او کار نبوت دا دې چې یو انسان الله ته د رسیدو سره سره د نورو خلقو د اصلاح کوشش کښې وی او د دنیا سره سره ورته خپل آخرت یاد وی.

لیکن د کارِ ولایت فائده انسان ته صرف ذاتی فائده وی او د کارِ نبوت فائده عام فائده وی ټول انسانیت ته شامله وی او صحابه کرامو کارِ نبوت خپل کړې وو ځکه هغوی د کار کسب او ښځې بچو او دنیا سره الله راضی کړې وو ځکه قرآن گواه دې رضی الله عنهم ورضوا عنه یعنې الله د صحابوو نه راضی دې او دا صحابه د الله نه راضی او خوشحاله دی.

یو صحابی دې عثمان بن مظعون رضی الله عنه هغه د نبی علیه السلام نه مطالبه اوکړه چې ماته د نکاح نه کولو او د دنیا نه د جدا کیدو د پاره اجازت اوکړه نو نبی علیه السلام د دغه صحابی دا مطالبه رد کړه او د دې اجازت ئې ورته ورنکړو.

یو بل حدیث کښې راځی چې څه صحابوو د امهات المؤمنین نه د نبی علیه السلام د عبادت په باره کښې تپوس اوکړو نو امهات المؤمنین ورته د نبی علی السلام عبادت بیان کړو هغه صحابوو وعزم اوکړو او یو صحابی اووئیل چې زه به ټوله ورځ روژه کیږمه او روژه به نه ماتومه بل صحابی اووئیل چې زه به ټوله شپه د الله عبادت کومه او بل صحابی اووئیل چې زه به نکاح نه کومه ځکه پیغمبر ته الله مغفرت کړی وی او

سره د دې دومره لوې مقام هغه دومره عبادت کوی نو مونږه به هم دا عبادت مستقل کوو نبی علیه السلام ته د دوی دا خبرې معلومې شوې او پته ورته ولګیده نو نبی علیه السلام ورته اووئیل:

**أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا** ،(غاية المرام) یعنی تاسو دا دا خبرې کړې دی خبردار زهٔ د الله نه زیات یریږمه لیکن زه اصوم و افطر یعنې روژه نیسمه او کله ئې ماتومه **وَ أُصَلِّي وَأَرْقُدُ** یعنې د شپې نفل کومه او اودهٔ کیږمه او زه نکاح هم کومه نو تا سو هم دا کارونه کوئ۔

او دا نکاح د انسان ایمانی ضرورت هم دی لکه حدیث کښې راځی:

**إِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ**، یعنې کله چې یو بنده نکاح اوکړی **فَقَدِ اسْتَكْمَلَ نِصْفَ إِيْمَانِهِ** یعنی ددهٔ انسان نیم ایمان پوره شی **فَلْيَتَّقِ اللهَ فِي النِّصْفِ الْبَاقِيْ** او د الله نه د ویریږی په نور نیم ایمان کښې او په جمع الفوائد کښې روایت دې ﴿**مسكينٌ مسكينٌ مسكينٌ رَجُلٌ لَيْسَتْ لَهُ امْرَأَةٌ**﴾ یعنې هغه انسان مسکین دې مسکین دې د کوم انسان چې وادهٔ او بی بی نه وی صحابوو ورته اووئیل او هغه ښځه مسکینه ده د کومې ښځې چې خاوند نه وی نو دا یو معاشرتی فطری او ایمانی ضرورت دې.

او د دې نکاح فوائد هم ډیر زیات دی او د نکاح نه کولو نقصانات زیات دی.

د نکاح یوه فائده داده چې دا د انسان د پاره د اطمینان سکون او راحت سبب او ذریعه ده ځکه الله فرمائی:

**وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا** ،(روم:۲۱) یعنې د الله د قدرت یوه نخهٔ داده چې الله ستاسو د پاره ستاسو د جنس نه بیبیانې ګرځولی دی ځکه که سړې د یو جنس والا وی او ښځه د بل

جنس والا وی نو ژوند به ډیر زیات ګران وو او بیا الله فرمائی: وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً یعنې الله د دې ښځې او خاوند په مینځ کښې مینه او محبت ګرځولې دې او د دې یوه بله فائده داده چې دا د انسانی نسل د پاره د بقاء ذریعه ده ځکه انسانی نسل به هغه وقت پورې باقی وی تر څو پورې چې نکاح وی کوم وقت چې په دنیا کښې نکاح ختمه شی نو انسانی نسل به ختم شی، ځکه نبی علی السلام فرمائی:

تَزَوَّجُوا الوَدُودَ الوَلُودَ ، فَإِنِّ مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأَنْبِيَاءَ يومَ القِيَامَةِ ، (ابن حبان) یعنې تاسو بچو والا او مینه کونکی زنانه سره نکاح کوئ ځکه زۀ به د رباندې د قیامت په ورځ فخر کومه چې دا زما امت دې.

امام غزالی فرمائی چې نکاح د یو څو وجوهاتو د وجې نه ضروری ده یو دا چې په دې سره انسان کښې احساس ذمه داری پیدا کیږی.

او دویم دا چې دا د قیامت په ورځ د نبی علیه السلام د پاره د فخر ذریعه ده او دریم دا چې نیک اولاد د انسان د پاره صدقه جاریه ده او څلورم دا چې دا به د قیامت په ورځ د دغه انسان د پاره د شفاعت کولو ذریعه وی، نو دا دَ نکاح فائدې دی.

او د نکاح نه کولو نقصانات ډیر زیات دی یو دا چې نکاح نه وی نو زنا به عامه وی او قرآن او سنت د زنا نه منع کړې ده ځکه حدیث کښې راځی نبی علیه السلام ځوانانو ته فرمائی: یا معشر الشباب ائ ځوانانو څوک چې په تاسو کښې طاقت او قوت د نکاح لری نو نکاح دې اوکړی ځکه چې په دې سره د انسان نظر محفوظ شی او په دے سره د انسان عورت بچ وی او که څوک د نکاح طاقت

ورسره نه وی نو د هغه د پاره روژه ضروری ده ځکه د روژې په ذریعه به دغه انسان د ګناه نه محفوظ شی.

یو ځوان نبی علیه السلام ته راغې او مطالبه ئې اوکړه چې زما د نکاح طاقت نشته ماته اجازت راکړه صحابه کرام په دې سوال غصه شو نبی علیه السلام منع کړل او ورته ئې اوئیل چې آیا ته دا زنا د خپلې خور یا مور دپاره خوښه ګڼړې نو هغه جواب ورکړو چې نا زه دا نه غواړمه بیا نبی علیه السلام د خپل ځان سره نزدې کړو او د هغه د پاره ئې دعا اوکړه.

**اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ ذنبَهٗ وَطَهِّرْ قَلْبَهٗ وَحَصِّنْ فَرْجَهٗ**،(مسند احمد) یعنې الله د دۀ ګناه معاف کړې او زړۀ ئې صفا کړې او عورت ئې پاک کړې چې د بدکارۍ نه بچ شی دغه ځوان وائی چې د دې نه بعد ټول عمر زما په زړۀ کښې د زنا خواهش نه دې پیدا شوې.

والحمد لله رب العالمین

# د دعوت اهمیت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ (آل عمران: ۱۰۴)

﴿وقال النبی ﷺ: مَنْ رَأٰى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهٖ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ وَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ﴾ (ترمذی)

د قرآن پاک څه آیتونه او د نبی علیه السلام یو حدیث ستاسو مخکښې پیش کړې شو په دې کښې الله د امر بالمعروف او نهی عن المنکر موضوع بیان کړې ده، د انسان د وجود او ایمان نه بعد د انسان انفرادی لحاظ سره او د امت په اجتماعی لحاظ سره دا ذمه داری ده چې خلقو لره به دعوت ورکوی که امت اجتماعی دعوت پریږدی نو دا ټول امت ته نقصان دې، او دا اجتماعی خبرې د دې خلاصه دوه خبرې دی یوه خبره هغه دعوت د دین او دویمه خبره هغه اقامت دین دې.

بیا په قرآن او په احادیثو د دې ډیر زیات تاکید او بیان شوې دې او دې ته دعوت وئیلی کیږی، او بیا دا د **امر بالمعروف** او **نهی عن المنکر** د امت په اجتماعی ذمه داریانو کښې بنیادی او اساسی ذمه داری ده د دې وجې نه ئې دې امت ته امت وسط وئیلې دې یعنې غوره اعلی او اوچت امت دا ورته د دعوت د وجې نه وئیلې شوې دې.

قرآن کښې الله د مومنانو ډير صفتونه بيان کړی دی په دې ټولو کښې ئې **امر بالمعروف** او **نهی عن المنکر** والا صفت مخکښې بيان کړې دې. ﴿**وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ**﴾ (*سورة التوبہ :۷۱*) يعنې مومنان سړی او ښځې بعض د نورو دوستان دی او دوی به امر بالمعروف کوی او نهی عن المنکر به کوی بيا د دې نه بعد الله د مومنانو نور صفتونه بيان کړی دی او دا اهم صفت ئې مخکښې بيان کړې دی.

او الله فرمائی چې د دعوت د فرائضو د ادائيګۍ د پاره به يو جماعت او يوه ډله موجود وی چې هغوی به دا د دعوت کار کوی،

﴿**وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ**﴾ (*آل عمران:۱۰۴*)

يعنې په تاسو کښې دې يو جماعت داسې وی چې هغه قرآن او سنت ته رابلل کوی.

نو هر يو شخص به انفرادی لحاظ سره خپله ذمه داری ادا کوی که پوره يو جماعت موجود وی او که نه وی که تحريکی لحاظ سره وی او که هغه تحريکی لحاظ سره نه وی.

مثلا که يو انسان بل ثوک په يو ناروا کار باندې اوګوری نو دا انسان به ورباندې رد کوی چې دا د ګناه کار دې که په مجلس کښې وی کهٔ غم يا ښادۍ وی کښې که په سفر باندې روان وی او که په حضر کښې وی نو په هر وقت کښې به په دې منکراتو باندې رد کوی .

او په بل ځاې کښې دا هدايات بيان شوی دی چې يو جماعت به دا کار په منظم طريقې سره اجتماعی حيثيت سره کوی او د اصولو مطابق به امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی او داسې يو مضبوط مرکز او جماعت د دې د پاره ضروری دې.

چې منکر بذات خود د دوی نه يريږی چې داسې کار که اوکړې شی نو دوی به د دغه کار په خلاف کښې را پورته کيږی.

او دا جماعت په حکومتی سطح باندې هم ضروری دې ليکن د عوامی او حکومتی دواړو جماعتونو د پاره څه خپل خپل شرائط دی چې د دې لحاظ او رعايت به کولی شی.

او په حديث کښې چې کوم بيان شوې دې .

﴿مَن رَأَى مِنكُم مُنكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ﴾

يعنې څوک چې يو منکر کار اوګوری نو هغه به ئې په لاس باندې منع کوی او که په لاس باندې طاقت نه وی نو بيا به په ژبې سره د هغه څيز روک تام کوی او که په ژبه باندې هم طاقت نه لری.

نو په زړۀ کښې به ورسره نفرت لری ليکن دا په لاس سره منع کول دا ذمه داری د حکمرانانو او حاکمانو ده هاں که يو ځاې داسې وی چې هلته په ژبې سره هم بيان نشی کيدې.

نو بيا عزيمت دا دې چې د دغه منکر رد اوکړې شی اګر که انسان هم ورباندې قتل کړې شی او رخصت د دې خبرې هم دې چې که دا انسان بيان اونکړی نو هيڅ ګناه نشته ليکن په زړۀ کښې به ورسره په هر صورت کښې نفرت کوی.

او د دې سره دا خبره هم ضروری ده چې انسان به امر بالمعروف او نهی عن المنکر دواړه کوی که بالفرض یو انسان صرف امر بالمعروف کوی او نهی عن المنکر نه کوی نو د دهٔ انسان دا دعوت نیمګړې دې .

لکه په دې زمانه کښې دا قسمه خلق ډیر موجود دی، او د دې مثال د انسان د لاسونو په شان دې او دا نهی عن المنکر د دې مثال د خې لاس په شان دې ځکه دا ډیر اهم دې که د یو انسان لاس مات شی نو دا انسان نیمګړې شی.

نو د امر بالمعروف یو خپل مقام دې انسان به دې ته هم سپک نظر نه کوی او دَ نهی عن المنکر یو خپل مقام دې دا د اعتدال لاره ده چې نه افراط او کړې شی او نه تفریط اوکړې شی.

لیکن صرف دا خبره ده چې د معروف بیان آسان کار دې او د منکر رد هغه ګران کار دې هاں د معروف دومره اثر نشته ځومره چې د منکر په رد کښې دې، او دغه شان د کافرانو نفرت په منکر باندې زیات دې او هغوی په معروف دومره نه خفه کیږی ځومره چې هغوی په رد منکر باندې زیات پریشانه کیږی ځومره چې انبیاء کرام دی نو د دوی ټولو دعوت د رد منکر نه شروع شوې دې او د انبیاؤ سره مخالفینو مقابله هم په دې باندې کړې وه چې ته زمونږه قانون ولې چېلنج کوې او په دې باندې رد ولې کوې.

په قرآن کریم کښې الله په سورة العصر کښې دا د څلورو خبرو تاکید کړې دې یو ایمان او بل عمل صالح دې لیکن د دې سره سره د قوم د فلاح د پاره یو بل ضروری څیز هغه تواصی بالحق ده چې دا د امر

بالمعروف په صورت کښې کیدې شی او بل ضروری څیز هغه تواصی علی الصبر ده.

او د دې وجه داده چې په ایمان او عمل صالح باندې انسان ته ذاتی فائده کیږی لیکن د دې امت یو خصوصیت دا دې چې د خپل ځان د ذاتی فائدې سره به د قوم د مفاداتو فکر مند هم وی او د خپل ځان د جهنم نه د بچ کیدو سره به د مخلوق خدا د پاره هم د نجات فکر کوی.

ځکه الله په قرآن کښې فرمائی:

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ.(آل عمران:۱۱۰)

یعنې تاسو یو غوره امت ئی او د دې غوره والی یوه وجه هغه داده چې ستاسو پیدائش د انسانیت د فائدې د پاره شوې دې او دې امت ته الله د انبیاؤ کار په ذمه ورکړې دې ځکه نبی علیه السلام آخری نبی علیه السلام دی او دا امت آخری امت دې مخکښې د دعوت د پاره د پیغمبر بعثت کیدو لیکن د دې امت هر هر فرد د دعوت ذمه دار دې.

په دنیا کښې که الله په یو انسان باندې نعمتونه اوکړی نو دا انسان د دهٔ په ذهن کښې دا خبره پیدا شی چې دا عبادتونه مونځ، روژې، د غریبانانو خلقو کار دې او دا په هغه باندې لازم دې کوم څوک چې د دنیا په ترقیۍ کښې روسته پاتې شوی دی، د دې انسان ټوله توجه ورځ او شپه په خپله دنیا کښې وی او په یوه خپله نشه کښې روان وی.

اوس دا انسان ده ته د دین لار ښودل دا ډیر ګران کار دې ځکه نبی علیه السلام فرمائی:

أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ. (مسند احمد)

يعنې غوره بهترين او اعلى قسم جهاد هغه د ظالم بادشاه په دربار کښې د حق او رشتيا کلمه وئيل دی او دا تواصی على الحق ده.

تواصی بالصبر ځکه ضروری ده چې په بعض حالاتو کښې يو انسان د ډيرې غريبۍ نه تنګ شی او دا انسان خپل ذاتی ضروريات نشی پوره کوې نو دا انسان د نه برداشت او د صبر نه کولو د وجې نه د الله د رحمت نه نا اميده شی.

تر دې پورې چې مونځ، روژه، هم پريږدی او آخر کله کله داسې هم اوشی چې د خپل قيمتی دولت او سرمايه د ايمان نه هم محرومه شی نو نتيجه دا وی چې هر قسم باطل ته تسليم کيږی، او د باطل مقابله په ميدان کښې نشی کوی او د بل غلام جوړ شی، نو داسې انسانانو ته د صبر تلقين پکار دې، او دا دوه خبرې د خسران نه د بچ کيدو د پاره ډيرې زياتې ضروری او همې دی.

امام غزالی په خپل کتاب احياء علوم الدين کښې فرمائی:

﴿فَإِنَّ الْأَمْرَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْيَ عَنِ الْمُنْكَرِ هُوَ الْقُطْبُ الْأَعْظَمُ لِهٰذَا الدِّيْنِ﴾.

يعنې امر بالمعروف او نهی عن المنکر دا دواړه د دين د پاره غټ قطب دی او قطب هغه څيز ته وئيلی کيږی په کوم څيز چې بل ولاړ وی يعنی بنياد وی، نو دا امر بالمعروف او نهی عن المنکر هم د دين د قيام او احياء د پاره بنياد دې که په يو امت يا يو جماعت کښې دعوت ختم شی نو دا جماعت په نيشت حساب دې او دا جماعت بيا ترقی نشی کوې او مخکښې نشی تلې، نو دا د دعوت فائده ده چې دين، تحريک او جماعت ورسره ترو تازه وی.

په حديث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی چې تاسو به امر بالمعروف او ورسره نهی عن المنکر کوئ او که داسې نه وی نو الله به ستاسو شرارتی خلق ستاسو په غوره او نیکانو خلقو باندې مسلط کړی او دغه شری او فسادی قوم به د دوی مشران وی، او دغه نیک خلق به بیا دعاګانې کوی نو دا به نه قبلیږی.

دا دَ امر بالمعروف او نهی عن المنکر د ترک او پریخودلو نقصان دی او یو حدیث کښې راځی چې که دا خلق نهی عن المنکر نه کوی نو په دې خلقو باندې به الله عام عذاب نازل کړی چې د دوی وړوکی، غټ، ځوان، بوډا، نارینه، زنانه، الغرض هر فرد به په دې عذاب کښې مبتلا وی.

د دعوت دوه فائدې دی یو انسان ته د دعوت ذاتی فائده ده او دویمه دا چې د دعوت نورو خلقو ته هم فائده شته دې د دنیا سخت بدبخته او شرارتی قومونه د هغوی اصلاح په دعوت سره کیدې شی.

بعض خلق دا وائی چې زه پخپله پوره نه یمه او زما پخپله عمل کمزورې دې نو نورو خلقو ته څنګه دعوت ورکړمه نو دا غلطه خبره ده بلکه د دعوت په مزاج سره د انسان ذاتی اصلاح هم کیږی او مفتی شفیع رحمه الله فرمائی چې د دې مثال داسې دې چې یو انسان مونځ نه کوی او ورسره روژه هم پریږدی چې زه خو مونځ نه کومه نو دا روژه هم د دې ضرورت نشته بلکه د مونځ خپل یو مستقل مقام دې او د روژې خپل یو مستقل مقام دې نو دغه شان د دعوت خپل مستقل مقام دې او د عمل خپل یو مستقل مقام دې.

بلکه د دعوت دومره لوې مقام دې چې د قیامت په ورځ به الله د دعوت په باره کښې تپوس هم کوي قرآن کښې الله فرمائی چې:

**لِمَ تَعِظُونَ قَوۡمًا ٱللَّهُ مُهۡلِكُهُمۡ أَوۡ مُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗا قَالُواْ مَعۡذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمۡ.** (اعراف:۱۶۴)

یعنې تاسو ولې هغه قوم ته نصیحت کوۍ او دعوت ورته ورکوۍ چې الله دغه قوم ته عذاب ورکوی نو دې داعیانو به ورته جواب ورکړو چې دا د دې د پاره چې د قیامت په ورځ به مونږه خپل عذر الله ته پیش کوو.

چې الله ستا دعوت مونږه دوی ته ورکړې وو او زمونږه غاړه آزاده ده او په شریعت کښې هم دا خبره ده چې د مسلمان ذمه داری هغه صرف د الله د پیغام بیان دې که څوک ورباندې عمل کوی او که ورباندې عمل نه کوی نو د چا د عمل د نه کولو د وجې نه به څوک دعوت نه پریږی.

په قرآن کښې الله فرمائی:

**وَمِمَّنۡ خَلَقۡنَآ أُمَّةٞ يَهۡدُونَ بِٱلۡحَقِّ وَبِهِۦ يَعۡدِلُونَ.** (اعراف:۱۸۱)

یعنې ائ خلقو په تاسو کښې به داسې خلق وی چې هغوی به د حق کلمې دعوت نورو خلقو ته ورکوی او پخپله به هم په دې باندې قائم وی. عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چې دې امت ته الله دا ټول امتیازی شان او مقام او اعزاز د دعوت د وجې نه ورکړې دې، امت څکه کمزورې طرف ته روان دې چې امت خپله اهمه فریضه پریخودې ده او په دې باندې عمل نه کوی نو دا اهمه فریضه مسلمان لره د دې اهمیت ډیر ضروری دې.

والحمد لله رب العلمین

# اسلام او مغرب تهذيبي ارتداد

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾

(مائده:۵۱)

د سورت مائده يو آيت تلاوت شو په دې آيت كښې الله مومنانو ته خطاب كړې دې او يوه اهمه ډيره اهمه خبره ئې ورته واضحه كړې ده، او هغه دا خبره ده چې ستاسو دوه غټ دشمنان دى يو يهودى او دويم نصارى دى د دوى سره د زړۀ دوستانه او ملګرتيا مۀ كوىء او دويمه خبره داده چې ﴿وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ﴾ يعنې چې څوك هم د دوى سره د زړۀ تعلق لرى او د دوى تقليد كوى يا د دوى فكر خپلوى يا د دوى د تهذيب او كلچر نه متاثره وى.

او يا په وضع، قطع كښې د دوى سره يو شان والې كوى نو دا انسان د دوى نه شمار كيدې شى ځكه دا انسان ظالم دې او الله ظالمانو ته هدايت د سمې لارې نه كوى څوك چې قصدا خپل ځان ړوند، كوڼ كړى نو دا د غيرو سره مشابهت هم منع دى او تشبه او مشابهت هغه دا دې چې مسلمانان د غيرو سره يو شان والې اوكړى او د هغوى نقالى د ژوند په طريقو كښې خپله كړى.

او یا خپل صورت او سیرت پریږدی او د غیرو صورت او سیرت خپل کړی نو دا هم مشابهت دې.

که یو انسان په عقیده او عبادت کښې د غیرو مشابهت اختیار کړی نو دا انسان په دې سره بعینه کافر کیږی، هاں که په تمدن وضع، قطع، یا هیئت کښې ورسره یو شان والې اختیار کړی نو دا څیز کفر نه دی لیکن ممنوع ضرور دې او نبی علیه السلام فرمائی: چې دا انسان زمونږه نه نه دی مطلب دا چې دا انسان ظاهری او عملی د کافرو ملګرې دې.

په دې دور کښې تقریبا تقریبا تمام اسلامی ملکونه او اسلامی ریاستونه د دې بلا او مصیبت ښکار شوی دی او په دې باندې د کافرانو ورځ شپه کوششونه وی چې د مسلمان تهذیب، تمدن، لباس، وضع، قطع، او هیئت به په کومه طریقه ختم کړې شی.

په دې درو کښې د کافرانو د طرف نه په مسلمانانو باندې دوه قسمه جنګونه مسلط کړې شوی دی یو عسکری جنګ دې او هغه دا دې چې د مسلمانانو ملکونه قبضه کړی شی او په دې کښې وسلې، ټوپک، کارتوس، ټینک، توپ، میزائیل نه کار اغستلې شی، دا عسکری جنګ دې او دویم جنګ هغه فکری او تهذیبی جنګ دې او دا ډیر زیات خطرناک دې او هغه دا دې چې د مسلمان امت اسلامی تشخص او امتیاز او استقلال ختم کړې شی، ځکه چې دا څیزونه ختم شی نو د وخت وخت سره به د مسلمان تعلق د اسلام سره ختم شی او مسلمان به د اسلام نه لرې شی او دا مسلمان به مرتد شی بل مذهب به قبول کړی او که

بالفرض مرتد نه شی، نو کم از کم په خپل دین کښې به دا انسان د شکوک او شبهاتو قابل شی په خپل مذهب کښې به د دهٔ انسان شک پیدا شی نو فکری اعتقادی او ذهنی تعلق به د اسلام سره باقی نه وی نو که څوک اسلام ته هر قسمه نقصان دین ته ورکوی نو د دې انسان به وربانديې هیڅ قسمه پرواه نه وی بلکه دا انسان که په خاص خاص موقعو کښې په دینی شعارو کښې شاملیت کوی نو دا په دې غرض نه وی چې دا یو دینی فریضه ده بلکه دا په دې غرض وی چې دا یو قومی رسم یا روایت دې زما قوم والا دا کار کوی نو زه هم دا کومه لکه د اختر مونځ یا د جنازې مونځ ادا کوی نو دا په دې غرض وی چې دا یو خاندانی یا قومی روایت دې.

نو د عبادت هیڅ پرواه نه کوی او د حرامو او د حلالو سره د دې انسان هیڅ واسطه او غرض نه وی.

بلکه دا څیزونه د دې په باره کوی دا نظریه لری چې دا د مذهب نه باهر څیزونه دی او د مذهب د دې سره هیڅ قسمه تعلق او مناسبت نشته نو دا د فکری جنګ او د تهذیب جنګ نتیجه ده او دا جنګ یقینا کافرانو ګټلې دې ځکه هر هر فرد د دې څیزونو ښکار بلکه هیڅ یو اسلامی ملک او ریاست د دی څیز نه خالی نه دی.

عسکری جنګ کښې سره د دومره طاقت وسلې نه دا خلق روسته او ناکامه دی لکه صرف په افغانستان کښې په یوه مدې کښې درې کفری طاقتونو شکست اوخوړو.

دا تهذيبي او فکری جنګ مغرب د ميډيا په زور باندې زمونږه په مسلمانانو باندې مسلط کړو ځکه دا جنګ ډير د مخکښې زمانې نه راروان وو ليکن د سوشل ميډيا او اليکټرانک ميډيا په ذريعه دې جنګ ته طاقت ملاؤ شو.

نو دغه مغربي ميډيا چې څه څيز وائی يا څه څيز ښکاره کوی نو بله ورځ همدغه څيز د مسلمان په دل او دماغو کښې برقرار وی د دې جنګ د وجې نه نوجوان مسلمان په دې دور کښې د شک او شبهې ښکار شوی دی د الله د وجود په باره کښې ورته شک دې چې الله موجود دې او که هغه موجود نه دې د نبی عليه السلام د رسالت په باره کښې ورته شک دې چې دا رسالت به په رشتيا وی او که دا هسې يو انقلابي فرضی سوچ وو.

د قرآن په حقانيت کښې شک مند دی دغه شان د مسلمان نوجوان ، قطع داده چې دۀ ته په خپل لباس کښې خپل ځان ښۀ نه ښکاری بلکه د مغرب په لباس باندې فخر کوی.

دغه شان د ګيرې څه لحاظ نشته بلکه بعضې مسلمانانو ملکونو کښې د ګيرې په پريخودو باندې پابندی ده.

او يو دور هغه وو چې ګيره به د تقوی او ايمانداری نخښه وه ليکن اوس دا دور دې چې ګيرې والا ته د هشتګرد او فسادی وئيلې کيږی، که د امريکې يورپ والا ګيرې ته فساد اووائې نو دا خطرناکه خبره نه ده ليکن مسلمان هم دې ته نن دهشتګردی وائی او دا لويه خطرناکه خبره ده.

دغه وجه ده چې الله فرمائی:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ﴾ (المائدة:٥١)

ائې مؤمنانو د یهودو او نصاراؤ سره دغه تعلقات مۀ ساتئ ځکه د هغوی سره دنیاوی یا سفارتی تعلقات منع نه دی لیکن د هغه د عقیدې، فکر، تمدن، او کلچر نه به مسلمان نه متاثره کیږی.

نن ورځ هم په دې مسلمانانو ملکونو کښې یوه ورځ مناویږی چې دا مغربې تهوار دی او دې ته ویلنټائن ډې وئیلې کیږی د دې مطلب دا دې چې د انسان سره محبت او همدردی لیکن د دې پس پرده بې حیائې، فحاشۍ او عریانۍ ته رواج ورکولې کیږی، که د کافرانو سره په حقیقت کښې د انسانانو سره همدردی وی نو دا دومره د انسانیت قتل عام به نن نه کیدې.

همدغه کفری طاقتونه نن په شام کښې په فلسطین په برما او په کشمیر او په افغانستان کښې د انسانیت د وینو سره لوبې کوی د هیڅ وړوکی، غټ، نارینه او زنانه پرواه نه کوی نو انسانیت ئې مکمل تباه وبرباد کړو لیکن بل طرف ته د میډیا په زور دا نعرې وهی چې د انسانیت سره محبت او همدردی ضروری ده لیکن دا څیزونه صرف او صرف د اسلامی شعار او اقدار د کمزوری کولو د پاره کوی.

بلکه دا مغربې سوچ په مسلمان باندې دومره غالب دې چې نن د مسلمان د پاره رول ماډل هغه خلق دی چې کوم خلق د مغرب د پاره د ژوند نمونه ده، فلمی اداکار، کرکټر، فټ بالر د دغه خلقو اداګانې مسلمانان کوی لیکن د مسلمان نه خپل مذهبی خیرخواه خلق هیر شوی دی بلکه که څوک د مسلمان نه د محمد بن قاسم، طارق بن زیاد، عقبه

بن نافع، موسی بن نصیر، یوسف بن تاشفین صلاح الدین ایوبي په باره کښې تپوس اوکړی نو دا نه پیژنی بلکه دومره کمزورې حالت دی.

چې د مسلمان په نصاب تعلیم کښې هم ددغه خلقو تذکره نشته، بلکه د شکسپیر، بلګیټ، آئن سټائن کارل مارکس او هټلر تذکره موجود ده لیکن د مسلمان هیرو هیڅ ذکر نشته، نو د مسلمان د پاره دا ډیره ضروری ده چې په مسلمان کښې دا څیزونه ژوندی کړی شی او دا خبره یاد لری چې کوم قوم والا خپل روایات او کلچر روسته کړی او هغه پریږدی نو دا قوم والا آخر کار ختم شی او د نورو قومونو مکمل رسم و رواج، طور او طریقه خپله کړی بلکه ددغه قوم نوم او هیڅ اثر برقرار پاتې نشی، الله دې ټول مسلمانان د غیرو قومونو د تهذیب نه محفوظ کړی.

والحمد لله رب العالمین.

# مغربی تهذیب زما جسم او زما مرض

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَى﴾ (بقره:۱۲۰)

مخکښې دا خبره په تفصیل سره بیان شوې وه چې دین اسلام یو مکمل نظام حیات دې دا خپل منونکو ته د ژوند یو مکمل نظام ورکوی.

او دویم دا چې دین اسلام یو مکمل تهذیب هم دې ځکه اسلام نه په تمدن کښې هیڅ یو بل مذهب ته محتاج دې او نه په تهذیب عبادت کښې بل مذهب ته محتاج دې او نه په تهذیب عبادت کښې بل مذهب ته احتیاج لری.

په نن زمانه کښې چې مغرب د کوم تهذیب او تمدن دعوی کوی نو دا څه څیز دې د دې حقیقت او بنیاد څه دې مغرب دا دعوی کوی چې زمونږه دا تهذیب جدید تهذیب او تمدن دې او دا عالمی څیز دې د دې د عالمگیرت دعوی کوی چې دا د دنیا آخری تهذیب دې او دا ترقی یافته تهذیب دې او په مسلمان او اسلام باندې دا الزام لګوی چې اسلام او مسلمان چې د کوم تهذیب کلچر او تمدن قائل دی نو دا د څوارلس سوه کاله مخکښې تهذیب دې او دا د دې دور او زمانې سره د چلیدو قابل نه دې پاتې شوې، بلکه مسلمان، اسلام، مسجد او مدرسه دنیا ته دا پیغام ورکوی چې دا دنیا یو ځل دوباره بیا هغه دور ته روسته لاړ شی کوم دور چې څوارلس سوه کاله مخکښې وو.

يعنې د هغه دور د ژوندی کولو د پاره کوشش کوی کوم دور چې ختم او لوټو والا دور وو او د دې دعوو نه زمونږه جدید تعلیم یافته ځوانان او د دین نه لری خلق هم متاثره دی او د هغوی هم دا ذهن سازی شوی ده، او مغرب د دغه خپل تهذیب دعوت نورو قومونو ته ورکوی او د دوی اول هدف دا دې چې اسلامی تهذیب ختم کړی ځکه نن په دنیا کښې د مغرب په مقابله کښې کار آمد تهذیب اسلام دې او د دې وجه داده چې مغرب ته دا خبره معلومه ده چې د دنیا ټول تهذیبونه مکمل ختم شو او هغه د مغرب په تهذیب کښې ضم کړې شو یو ځای کړې شو لیکن اسلامی تهذیب خپل مد مقابل نه منی ځکه د اسلام خپل مکمل اسلامی نظام دې او دا مستقل هم دی.

زمونږه د اسلام نظریه داده چې صرف اسلامی تهذیب د ټول انسانیت د پاره د قیامت ورځ پورې صرف او صرف اسلامی تهذیب دې او ټول مکمل د عالم انسانیت عدل او انصاف د اسلامی تهذیب نه علاوه په بل تهذیب کښې نشته، او دا مغربی تهذیب نه مکمل دې او نه پکښې عدل و انصاف شته، او نه د انسانیت په مفادو کښې دې او نه انسانیت ته انصاف ورکوې شی او جدید هم نه دې دا صرف د مغرب یوه دروغژنه دعوی ده او د دې دعوې هیڅ حقیقت او پس منظر نشته.

بلکه دا د جاهلیت دور والا تهذیب دې صرف فرق دا دې چې هغه جاهلیت قدیمه وو او دا جاهلیت جدیده دې نو دې مغربی تهذیب ته مونږه جدید تهذیب وئیلی نه شو البته جدید جاهلیت ورته وئیلو شو، او د دې وجه دا ده چې د مغرب په دې جدید تهذیب کښې څو خبرې دی چې هغه د بنیاد حیثیت لری او بنیادی مقام ورته حاصل دې.

یو څیز هغه د مغرب معیشت دې اکا نومی ده نو د مغرب ټول معیشت او اقتصاد په سود بازارۍ، رشوت، د هوکه بازۍ جوارګرۍ باندې بناء دې او همدا څیزونه څوارلس سوه کاله مخکښې د نبی علیه السلام د بعثت نه مخکښې هم دا څیزونه وو نو په دې څیزونو کښې جدید څه څیز دې.

بل بنیاد د مغرب هغه فری اکانومی مطلب دا چې انسان ته د مال د حصول د پاره هر قسمه ذریعه اختیارول جائز ده ځکه انسان په معیشت کښې آزاد دې چې په کومه طریقه دا سرمایه مال دولت پیدا کوی یا خرچ کوی نو په دې انسان هیڅ قسمه پابندی نشته صرف دومره خبره وی چې ملکی نظام وربانديې متاثره نشی د حلال او حرام هیڅ تمیز او امتیاز پکښې نشته، نو دا څیز هم جدید نه دې بلکه دا هم هغه د شعیب علیه السلام د قوم والا جاهلیت دې.

چې قرآن کریم د هغې بیان کړې دې چې شعیب علیه السلام خپل قوم والا ته دا هدایات بیان کړی وو چې تاسو په ناپ تول کښې کمې مۀ کوۍ بلکه برابر او پوره ناپ تول کوۍ نو قوم والا شعیب علیه السلام ته جواب ورکړې وو.

**أَن نَّفْعَلَ فِيٓ أَمْوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْ. (هود:٨٧)**

یعنې ته مونږه لره د دې نه منع کوی چې مونږه به په خپلو مالونو کښې د خپلې مرضۍ مطابق تصرف نه کوو بلکه مونږه په دې خپلو مالونو کښې مکمل آزاد یو نو دا مغرب چې نن د فری اکانومی دعوی کوی نو په دې کښې د جدت هیڅ څه نشته بلکه دا هم هغه جاهلیت قدیمه دې لیکن د میډیا په زور ورته مغرب نوم بدل کړې دې.

بل د مغرب د تهذیب د آزادۍ او د جدت بنیاد هغه فحاشي او عریاني ده او دا هم نوې نه ده بلکې فحاشي هم هغه قسم فحاشي ده کومه چې په مخکښې دور جاهلیت کښې هم وه.

بلکه د هغه دور په نسبت دې فحاشۍ لګه ترقي کړې ده څو کاله مخکښې په مصر قاهره کښې د اقوام متحده یو اجلاس شوې وو او په دغه اجلاس کښې په دې خبره زور ورکړې شوې وو او د ټولو اسلامي ملکونو نه دا مطالبه شوې وه چې هم جنس پرستۍ ته دې قانوني حیثیت ورکړې شي سړی که د سړي سره دَ نکاح خواهش لري نو آزادي دې ورته ورکړې شي او برطانیه کښې دا عدالتي فیصله منظوره شوې هم ده او امریکې هم دا بل پاس کړې دې نو دا هم هیڅ نوې څیز نه دې بلکه په زرګونو کاله مخکښې دا جنس پرستي د لوط علیه السلام قوم کړې وه او په هغوی کښې دا قبیح مرض موجود وو، او دا هغه جرم دی چې د دې د وجې نه الله د اسمان عذاب نازل کړې دې او د دې د وجې نه مکمل کلي اولټه کړې شوی وو، نو په دې کښې د جدت هیڅ څه نشته.

دا زنا دا شراب دا ناچ ګانې دمتوب دا کهانت او نجوم پرستي دا ټول څیزونه چې نن د مغرب د تهذیب اهمه او لازمي حصه ده دا ټول قدیم جاهلیت کښې موجود وو او د دې د ناکامۍ او نقصاناتو وضاحت پیغمبر اسلام څوارلس سوه کاله مخکښې کړې وو او په حجة الوداع کښې نبي علیه السلام دا عالمي منشور بیان کړې وو چې:

أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ تَحْتَ قَدَمِيَّ مَوْضُوعٌ. (صحیح مسلم)

مطلب هر د جاهلیت والا کار زما د قدمونو نه لاندې دې مطلب په دین اسلام کښې د جاهلیت د دور د کار هیڅ څه مقام او حیثیت نشته نن نه بعد جاهلي تهذیب ختم دې.

د مغرب بله دعوی داده چې دا آخری تهذیب دې او د دې نه بعد بل تهذیب نشته نو دا هم صحیح خبره نه ده ځکه دین اسلام آخری تهذیب او تاریخی تهذیب دے نبی علیه السلام فرمائی: انا والساعة کهاتین، یعنې زه او قیامت د دې دوه ګوتو پشان یو مطلب دا چې زما د بعثت نه بعد به بل تهذیب نه وی بلکه قیامت به وی.

بیا د دغه تهذیب نتائج څه دی، نو دا ښکاره خبره ده چې په ټوله دنیا کښې دغه خطرناکې نتیجې ښکاره دی بلکه په ۸ آٹهـ مارچ باندې (womanday) خواتین ډې ده مطلب د ښځو د حقوقو ورځ نو مغرب حق څه پیژنی هغوی خو د ښځې نه هغه موجوده حقونه هم واغیستل او صرف په ظاهری نعرو باندې ئې، دهوکه کړې، خاص په پاکستان کښې یو څو شمار باندی زنانه را پاڅیږی او هغوی دا آواز کوی چې زما جسم او زما مرضی او د دې مطلب دا دې چې خاوند د جیل خانې د قید نه دا آزادی ده لیکن په دې اسلامی ملک کښې داسې قسم نعره وهل په دې باندې دا حکمرانان ولې خاموش دی او میډیا دې خبرو ته هوا ورکوی، د دې مقصد صرف او صرف دا دې چې د مغرب معاشرتی او خاندانی نظام خو هسې هم تباه وبرباد دې لیکن هغوی دا غواړی چې د مسلمانانو دا معاشرتی او خاندانی نظام هم تباه کړی او د دغه مقصد د حصول د پاره مغرب ښځه میدان ته راویستې ده او د دې په ذریعه دغه خپل مقصد ته رسیدل غواړی، او د دې خبرې نتیجه به دا وی چې ښځې خو دا نعره کوی چې زما جسم او زما مرضی لیکن په حقیقت کښې دا ښځه د ټولې دنیا په شریکه باندې یوه کهیلونه وی، د یو خاوند د قید نه به خلاصه شی لیکن د زرګونو خلقو به شریکه وی مونږه دا وایو چې خاوند قید

نه دی بلکه خاوند د ښځے د پاره عزت او حفاظت دی نو دا مغرب ظلم کوی حق تلفی کوی او په دې طريقې سره ښځو لره دهوکه ورکوی.

دا نعره د دې مطلب يو دا هم دې چې زما جسم زما مرضی مطلب څوک چې په دې باندې بولی زياته کړی نو دا د هغه حق دې ليکن دا دهوکه کړې شوې او مظلومه زنانه که د دې عمر زيات شی او دا بوډۍ شی نو بيا د دې هيڅ څه حيثيت نه وی، ليکن بل طرف ته اسلام کښې چې څومره د زنانه عمر زيات شی نو د هغې عزت وقار زيات شی او هر څوک ورته د قدر په نظر باندې ګوری او دا ظاهره خبره ده چې زنانه کمزوری صنف دې نو د دې عزت به په دې کښې زيات وی چې پخپله په بازار کښې کار کوی او که نه په دې کښې د زنانه عزت زيات دې چې هغه په خپل کور کښې په اطمينان سره ناسته وی او د هغې رور، پلار، څوی ورلره رزق پيدا کوی نو دا دويم صورت د بادشاهی ژوند دی او دا مقام ښځی لره اسلام ورکړې دې او بل تهذيب کښې ښځې ته دا مقام نه دې ملاؤ شوے غرض دا چې دا د مغربی تهذيب نتيجه ده چې نن په يو اسلامی ملک کښې په آزادۍ سره دا نعره لګی او هيڅ څوک د دې روک تام نشی کوې.

والحمد لله رب العالمين.

# د اسلامي تهذيب بنيادونه

اَلۡحَمۡدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الۡاَنۡبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصۡحَابِهِ الۡاَتۡقِيَآءِ اَمَّا بَعۡد !

فَأَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ۔

﴿وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَى﴾(بقره:۱۲۰)

مخکښې نه په يو موضوع خبره شروع وه هغه دا چې اسلام يو مکمل نظام حيات دې او د ژوند تمام پهلوګانې په دې دين اسلام کښې موجود دی، او مسلمان په هيڅ څه څيز کښې بل چا ته محتاج نه دې.

دويمه خبره داده چې اسلام يو مکمل تهذيب هم دې په دې تهذيب تمدن او کلچر کښې مسلمان غيرو ته محتاج نه دې، په دې موقع يوه خبره داده چې د جديد کلچر او تهذيب دعوی کونکو دا اعتراض په مسلمانانو باندې دې چې اسلام مستقل خپل تهذيب نه لری بلکه د اسلام دا تهذيب د روم نه اغستلې شوې دې او مسلمانانو ورته يو نوې اسلوب ورکړې دې يعنې اسلام دا تهذيب د غيرو نه اغستې دې دا د يورپ او د مغرب په مسلمانانو باندې يو غلط او بې بنياده اعتراض دې او د دې اعتراض مقصد دا دې چې اسلام خپل تهذيب نه لری نو نن زمونږه نه تاسو دا تهذيب قبول کړی لکه څنګه چې تاسو د روميانو تهذيب قبول کړې وو، او بله دا خبره کوی چې دا تهذيب آخری تهذيب دې او په دې به دا دنيا ختميږی او د دې نه علاوه بل تهذيب د دنيا د پاره کار آمد نه دې قرآن دا خبره څوارلس سوه کاله مخکښې کړې ده.

﴿وَلَنْ تَرْضَىٰ عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ﴾

يعنې اۍ پيغمبره صلى الله عليه وسلم ستا نه به دا يهود او نصارى هغه وقت پورے رضاء نشى تر څو پورې چې تا د دوى د ملت او مذهب تابعدارى نه وى کړې نو په دې يوه يوه خبره منلو سره په تاسو باندې دا يهود او نصارى خپل ټول دين منى.

ليکن قرآن دا وضاحت هم کړې دې .

﴿قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ﴾

يعنې د ژوند د پاره قانون تمدن قانون او لائحه عمل به صرف او صرف د اسلام وى، مسلمان به د اسلامى تهذيب، تمدن، قانون، آئين نه علاوه بل هيڅ څه ته غاړه نه ګدى او نه به ور تسليم کيږى.

او دا اعتراض چې اسلامى تهذيب د روم نه اغستلې شوې دې نو دا اعتراض سراسر باطل او کمزورې دې ځکه ا سلام د خپل ذات په لحاظ سره مستقل دې ځکه پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته د تهذيب، دين، تمدن، او شريعت په باره کښې مستقل وحى شوې ده،دا نه دى وئيل شوې چې الله پيغمبر ته حکم کړې وى چې ما تاسو ته دين درکړو او تهذيب د روم يا د مغرب يا د يورپ والا ستاسو د پاره کافى دې نو دا په اسلام کښې نشته، هاں دومره خبره ضرور ده چې څه بعضې روآيات او طريقې په عربو کښې د مخکښې نه موجود وې ليکن هغه دومره کمې وې چې په نيشت باندې حساب دى، او د دې مثال داسې دې لکه يو پوره عمارت آبادى وى او د دې عمارت او آبادۍ بنياد وى .

لیکن په دې کښې څه نه څه نقش ونګار هغه د نورو عمارتونو په شان وی نو د دې دا مطلب نه دې چې دا عمارت د دې بنیاد هغه بل عمارت دې دا خبره د ظاهر عقل نه هم خلاف ده ځکه په دې عارض سره یو څیز د خپل اصل نه نه باهر کیږی.

لیکن خلقو نه دا غلطی شوې ده چې هغوی ظاهری سطح باندې یوې نیمې خبرې ته نظر کړې دې، او دویمه خبره هغه دا چې په دې مفهوم کښې غلطی شوې ده هغه دا چې د خلقو دا ګمان دې چې تهذیب وئیلی کیږی فنون لطیفه!!!، معاشرت یا انداز تمدن ته لیکن دا خبره غلطه ځکه ده چې دا د تهذیب نتیجه او ثمره وی اصل تهذیب د پاره یو څو خبرې ضروری دی او هغه دا دی او دا په اسلام کښې هم شته دې.

د اسلامی تهذیب د پاره دا پنځه خبرې بنیاد دې.

## مقصد حیات:

او د دې مطلب دا دې چې دَ دې دنیاوی ژوند مقصد څه دې نو دا د ژوند مقصد د یورپ او مغرب جدا څیز دې او د اسلامی ژوند مقصد جدا څیز دې، قرآن کریم د انسان د ژوند مقصد بیان کړې دې.

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ﴾ (ذاریات:۵۶)

یعنې ما دا انسانان او پیریان صرف او صرف د خپل عبادت دپاره پیدا کړی دی، نو که د اسلامی ژوند مقصد نه وی نو بیا به دا دعوی صحیح وه چې اسلامی ژوند د غیرو نه اغستلی شوې دې.

دویمه خبره داده چې د اسلامی ژوند تصور حیات څه دې، د دې مطلب دا دې چې د دې دنیا نه بعد کوم طرف ته تلل وی او دا مطلب هم اسلام بیان کړې دې.

دریم څیز هغه د انسانی تعمیر د پاره افکار او عقائد به څه وی، یعنی په کومو افکارو او عقائدو باندې به د اسلامی انسانی تعمیر کیږی، او د دې د پاره هم اسلام خپل مستقل افکار او عقائد لری .

څلورم دا چې د فرد د تعمیر د پاره په اسلام کښې څه اصول دی چې د فرد د اخلاقو اصلاح او کړی شی.

پنځمه خبره دا چې په دې معاشره کښې ډیر افراد او انسانان ژوند تیروی نو د دغه انسانانو د ژوند او تعلقاتو د پاره به څه ضوابط او اصول وی مثلا د خپل ګاونډی سره تعلق، د یو مسلمان د بل مسلمان سره تعلق یا د یو انسان د بل انسان سره تعلق نو دې ته اجتماعی نظام وئیلی کیږی.

او د اسلام خپل مستقل اجتماعی نظام هم موجود دې او دا پنځه څیزونه د اسلام خپل مستقل موجود دی او په هم دې څیزونو باندې د اسلام د تهذیب او تمدن بنیاد ولاړ دې.

نو د دې بنیادونو نه بعد چې کوم څیز په عام معاشره کښې په نظر باندې ښکاره کیږی نو دغه څیزونه به د اسلامی تهذیب ثمره او نتیجه وی د اول بنیاد تقاضه داده چې الله انسان د څه د پاره پیدا کړې دې او په دې دنیا کښې به انسان څه کوی.

او د دویم بنیاد نتیجه داده چې د دې ژوند نه بعد به کوم طرف ته تلل وی او د دریم بنیاد چې د مسلمان تعمیر به څنګه کیږی نو دا به په

هغه طریقه وی کومه طریقه چې اسلام مونږه ته ښودلې ده او بیا به په همدغه بنیاد د فرد اخلاقی تربیت او د معاشرې اجتماعی تربیت هم کیږی.

د دې په مقابله کښې د مغرب دا بنیادونه بدل او جدا دی د هغوی د ژوند مقصد دا دې چې ډیر مال او دولت پیدا کړه او د دې ژوند نه صرف ظاهری مادی فائدې پوره کړه.

دا د هغوی مقصد حیات دې او په هم دې بنیاد باندې د هغوی اخلاق او سیرت او کردار هم جوړیږی، ځکه مقصد دا وو چې دنیا پیدا کړه نو بیا په دې کښې د حلال، حرام، د جائز، نا جائز او د سود هیڅ څه فرق نشته دغه شان خواهشات پوره کول دی نو د دې د پاره هیڅ حد نشته چې څنګه د انسان خوښه وی په دغه طریقه خواهش پوره کوی که هغه د ځناور نه وی او که هغه د خپلې مور نه وی او که هغه د خپلې لور نه وی او که دا خواهش سړې د سړی نه پوره کوی او ښځه ئې د ښځې نه پوره کوی.

د ژوند د پاره هیڅ قانون او دائره نشته هر طرف نه مغربی انسان آزاد دې بلکه دا قانون هغوی جوړ کړې دې چې انسان په خپل ژوند کښې مکمل آزاد دې او دا انسان به خود مختاره وی د هیڅ چا به ورسره کار نه وی چې په کومه لاره په کومه طریقه روان وی نو هیڅ پابندی وربادنې نشته او دې قانون ته آزاد رائې والا قانون وئیلې کیږی صرف او صرف د ملک نظام به نه متاثره کوی.

لیکن د اسلام تعلیم د دې په مقابله کښې دا دې چې د انسان انفرادي ژوند به هم د شریعت پابند وی د خواهش د پوره کولو د پاره به یو حد وی او که مال پیدا کوی نو د دې به هم یو حد وی او د دې سره به د انسان اجتماعیت او عام نظام ته هم هیڅ نقصان نه ورکوی.

هرکله چې د دې خواهش پوره کولو دپاره معلوم حد نشته نو یورپ ورځ په ورځ څۀ نوې طریقې د شهوت د پوره کولو دپاره ایجاد کوی او نوې نوې قانونونه د دې د پاره پاس کوی او وجه دا ده چې د هغوی د ژوند تصور او مقصد هغه معلوم نه دې لیکن د مسلمان د ژوند مقصد معلوم دې او په دغه مقصد به د مسلمان سیرت سازی او اخلاق سازی کیږی او د دی مطابق به په دنیا کښې ژوند کوی، او د اجتماعی ژوند د پاره به هم یو نظام وی څکه الله فرمائی:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً. (بقره:۲۰۸)**

ائ ایمان والاو په دین اسلام کښې پوره پوره داخل شی صرف دا نه چې صرف په خولۀ باندې یو څو عقائد اومنلې شی یا څه نه څه عبادات کوی نو دا انسان به پوره مسلمان وی داسې نه ده بلکه مسلمان به عبادت عقیده، سیاست، حکومت، اخلاق، معاملات په دې ټولو څیزونو کښې اخذ د اسلام نه کوی د بل څیز نه به په دې کښې اخذ نه کوی.

او دا یو مکمل تهذیب هم دې چې د دې په بنیاد به دا انسان خپل غم ښادی کلی اولس وضع قطع برابر کوی کردار او ګرفتار هر څه به د دې برابر وی د مسلمانانو په ذهن کښې د اسلام ناقص تصور دی نو د دې

وجې نه څه چې ورته مغرب ښائی مسلمان په هغې پسې روان وی د مسلمان په دې دور کښې د مغرب سره د ویختو او ګیرې او د لباس او د خوراک رسومات شریک دی او ددی د پاره سبب میډیا ده او په دې جنګ کښې مغرب مسلمان متاثره کړې دې.

د خبرې خلاصه داده چې اسلامی تهذیب د روم نه نهٔ دې اغستلې شوې او بله خبره دا کوی چې مسلمانان دې زمونږه تهذیب قبول کړی او د دې د پاره ورځ او شپه کوششونه کوی دغه وجه ده چې جدید تعلیم یافته مسلمان نن شپه فکری الحاد کښې اخته شوې دې او تهذیبی ارتداد ئې اختیار کړې دې اسلام سره صرف روایتی تعلق دې که چرته پلار نیکه به ئې خپل ځان ته مسلمان وئیلو نو دا هم خپل ځان ته مسلمان وائی او که په غم او ښادی کښې به چرته دعا اوکړې شوه نو د دهٔ سره دا اسلام د دې حد پورې باقی دې نور اسلام نشته نو دا د مسلمان فکری نقصان او کمې دې.

والحمد لله رب العالمین.

# معاشره او معاملات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ كَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم۔

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾

(سورۃ النساء:۲۹)

﴿قَالَ تعَالىٰ: إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوْا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ﴾(سورۃ الحجرات:۱۰)

## د معاشرې دَ معاملاتو اهميت:

الله رب العزت زمونږه په دې دين اسلام کښې دوه حصې ګرځولې دی یوې حصې ته اعتقادی حصه وائی چې د هغې تعلق د ایمان او عقیدې سره دے د هغې په باره کښې مخکښې تفصیل بیان شوے وو د دې دین اسلام او شریعت دویمه حصه عملی حصه ده چې د هغې تعلق د انسان د ظاهری عمل او فعل سره دے د عملی حصې بیا مختلفې شعبې دی د ټولو نه اهمه عملی شعبه د عباداتو وه مونځ روژه حج زکوة وغیره د عمل دویمه شعبه اخلاق وو دریمه او څلورمه شعبه د عملی شریعت معاملات او معاشره ده چې د مسلمان د عباداتو سره سره د ښو اخلاقو سره سره د دهٔ معاملات او معاشره هم برابر وی او دې دواړو شعبو ته زمونږه په شریعت کښې لوے مقام او مرتبه حاصله ده څوك چې قرآن او حدیث کښې سوچ لری نو دا ورته معلومه وی چې د عقیدې عبادات او اخلاقو سره ځائے په

ځائے د معاملاتو او معاشرې ذکر شوے دے بلکه څوك چې د دې پابند وی هغه کامل مومن دے ځوك چې په دې باندې پابندۍ سره عمل نه کوی د هغه په ایمان او اسلام کښې نقصان وی او دا بیا د الله عجیبه نظام دے چې د دې دواړو شعبو تعلق زمونږه د ضروریاتو او خواهشاتو سره دے لکه لین دین تجارت کاروبار دا زمونږه خپل ضرورت دے او دا زمونږه خپل خواهش دے دغه شان په معاشره کښې ښځه بچی رونړه مور پلار تعلق داران هم زمونږه خپل ضرورت دے لیکن د اسلام جامعیت او د الله رحم دا دے چې دا زمونږه خپل ضرورت مونږه لره الله د خپل قرب او نزدیکت یوه زریعه او سبب جوړ کړے دے کله چې دغه خواهشات معاملات او ضروریات زمونږه د دین اسلام او شریعت مطابق وی.

## په معاملاتو او معاشره کښې کوتاهی:

بد قسمتی دا ده چې څومره د دې شعبو په دین اسلام کښې اهمّیت دے مسلمان د دې نه لری دے بلکه د عام مسلمانانو تصور دا جوړ شوے دے چې معاشره او معا ملات د دین اسلام حصه نه ده ځکه عام تصور دا دے چې دین اسلام صرف مسجد پورې محدود دے معاملاتو او معاشره کښې خپل ځان آزاد ګنړی چې زه څنګه معامله کومه اوکه معاشره کومه په دې کښې زما خپل اختیار دے زمونږه د دې خطې یو لوې عالم دین حکیم الأمت اشرف علی تهانوی د هغه یو کتاب دے آداب المعاشرت د دغه کتاب په شروع کښې هغه لوې افسوس او خفګان کړے دے چې مسلمان دین څه ته وائی ؟ آیا دین د یو څو عقیدو او عباداتو نوم دے یو څو خبرو باندې عقیده لرل او د یو څو عبادتونو پابندی دا دین دے او د

علماؤ حالت دا دے چې هغوی د کتاب حد پورې دا خبره منی چې آؤ دا هم د دین حصه ده او عوام خلق معاملات د دین حصه نه منی او بل ځیز معاشره ده نو دغه معاشره نه علماء د دین حصه منی او نه عام خلق ورته د دین په نظر باندې ګوری بلکه نا خبره او جاهله دی حال دا دے چې دا دواړه د دین اسلام اهمې حصې دی هم معاملات ورسره معاشره هم د دین اهمه حصه ده او د دې خیال او پابندی په مونږه باندې داسې لازم او ضروری ده لکه څنګه چې د عباداتو پابندی لازم او ضروری ده او په دې کښې کوتاهی داسې جرم دے لکه څنګه چې مونځ اودس کښې کوتاهی کول جرم دے.

## د معاملاتو او معاشرې معرفت:

اوس خبره دا ده چې دا معامله او معاشره څه ته وائی؟ نو د معاملاتو معرفت دا دے چې انسان خرید وفروخت اغستل خرڅول کوی قرض ورکول امانت کیخودل مزدوری ملازمت زمین داری اجاره داری تجارت لین دین دې ته معاملات وئیلے کیږی او د دې سره نور ډیر ځیزونه او معاشره دې ته وئیلے کیږی رهن سهن یو بل سره احسان ښه سلوك ښه برتاؤ رویّه تعلقات بیا څه تعلقات دائمی دی همیشه دغه تعلقات وی لکه مور پلار اولاد ښځه خاوند ګاونډی دا دائمی رشتې او تعلقات دی او یو عارضی تعلقات دی لکه یو انسان په سفر باندې روان وی په مدرسه سکول کالج کښې د کلاس یو ځائے ملګرے دے دا عارضی تعلقات دی دې دواړه قسمه تعلقاتو ته معاشره وئیلے کیږی اوس دغه معاملات به څنګه پوره کولے شی نو شریعت اسلامیّه د دې رهنمائی کړې ده.

دائمی همیشه تعلقات د څه حقوقو نوم دے چې یو انسان په معاشره کښې ژوند کول غواړی نو هغه لره دا پیژندل ضروری دی. چې زما بل چا باندې څه حقوق دی او په ماباندې د دې نورو خلقو څه حقوق دی ورسره ورسره حجره مسجد کور کلے وطن ملك کښې انسان اوسیږی نو د دې څه اداب دی او د دې حقوق څه دی ؟ دا ټولې خبرې په تفصیل سره دین اسلام بیان کړې دی.

## د الله او د انسانانو حقوق:

دا ټولې د دین اسلام شعبې دی او دا شعبه ځکه ضروری او اهمه شعبه ده چې په دې معاشره او معاملاتو کښې د انسان ضرورت او خواهش د الله حق او د نور مخلوق د حقوقو کشمکش او مقابله وی لکه مثلاً کاروبار لین دین دے د انسان همیشه په خپله فائده او نفع باندې نظر وی د بل انسان هیڅ پرواه نه لری کله دروغ وئیلو ته مجبوره وی کله ورته خپل نفس د دهوکې دعوت ورکوی اوس په دې سخت حالاتو کښې د الله حکم او د بل انسان حق ته نظر کول او د هغې خیال ساتل دا مشکل او ګران کار دے دا وجه ده چې د دې اهمیت زیات دے دوه رکعته نفل ذکر اشراق دا آسان کار دے او خپل نفس دباؤ کول د بل د حق خیال ساتل خواهش روسته کول دا هغه مشکل او ګران کار دے.

د دې د اهمّیت دویمه وجه دا ده چې مونځ حج روژه زکوٰة په دې کښې د الله حق غالب وی ځکه دا صرف الله د پاره وی که په دې کښې نقصان تلافی راشی نو دغه پوره کول اسان وی او معاملات ورسره معاشره په دې کښې د الله د حق سره سره د بنده د حق پهلو زیاته غالبه وی اوس

که په دې کښې نقصان راشی د بل انسان دل ازاری پکښې وی د هغه حق غصب کول وی نو د دې تلافی انسان ته مشکله شی تر دې پورې چې دا په توبه او استغفار سره هم نه معاف کیږی ځکه د توبې سره به د حقدار حق هغه ته واپس کولے شی او په هغه باندې به دغه حق د هغه معاف کولے شی نو بیا به دا معاف کیږی اوکه داسې نه وی نو نه معاف کیږی اګر که دا انسان ډیر مونځ ګزاره ذکر فکر د نفلی عباداتو پابند وی بیا هم نه معاف کیږی او په آخرت کښې به د دغه انسان د دې حق په باره کښې مطالبه کیږی او د آخرت سزا بیا ډیره خطرناکه سزا ده.

## د خرابې معاشرې انجام:

د مسلم شریف حدیث کښې راځی چې ډیر خلق داسې دی چې د هغوی زیاتې نیکۍ وی عبادات وی نفلی روژې حجونه عمرې زکاتونه صدقې وی خو د دې انسان معامله او معاشره خرابه وی د بل چا ناجائز حق ورسره وی یا ده د چا سره ظلم کړے وی د بل عزت ته هغه نقصان ورکړے وی نو دا انسان چې د آخرت په ورځ راشی او د حساب کتاب په مقام باندې ودریږی نو په دغه ځائے کښې به هغه یو یو انسان راځی چې ده ورسره د معاملې او د معاشرې نقصان کړے وو هغه حقداربه راځی او د ده نه به د دغه خپل حق په باره کښې مطالبه کوی الله به دغه خرابې معاشرې واله انسان ته وائی اوس ده لره د ده حق ورکړه په دغه ځائے کښې به د حق ادا کولو طاقت نه لری نو الله به فرشتو ته حکم اوکړی د دې انسان یوه یوه نیکی دغه بل حقدار ته ورکړۍ دا ځومره لویه خزانه چې د دې انسان سره وه نو دغه نیکۍ به ختمې شی بیا به هم حقدار راروان وی

نو آخر به د دغه حقدارو ګناهونه دې انسان ته ورکړې شی او حکم به اوکړے شی چې دا انسان جهنم ته داخل کړی دومره لوې اهمیت د معاشرې او د معاملاتو دے او یو حدیث کښې دی ابودرداء رضی الله عنه وائی نبی علیه السلام په یو مجلس کښې اوفرمائیل چې آیا زه تاسو ته خبر درنه کړم د روژه دار او مونځ ګزار انسان نه په درجه کښې لوې مرتبې واله انسان درته نه ښا یمه؟ صحابو ورته اوئیل د الله پیغمبره دغه څوك دے مونږه ته خبر راکړه چې د مونځ ګزار او روژه دار انسان نه به درجه د چا اوچته وی نو نبی علیه السلام اوفرمائیل ﴿صَلاَحُ ذَاتِ الْبَيْنِ﴾ په خپل مینځ کښې صحیح معامله او صحیح معاشره لرل دا درجه ډیره لویه درجه ده د مونځ روژې خیرات زکوة نه لویه درجه دا ده بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل چې د چا معاشره او معامله خرابه وی نو ﴿فَسَادَ ذَاتِ الْبَيْنِ هِيَ الْحَالِقَةُ﴾ مطلب خرابه معامله او معاشره د انسان نیکی تباه وبرباد کوی لکه مخکښې تفصیل ذکر شو دې دواړو احادیثو کښې د معاملې او معاشرې د صحیح والی څومره اهمّیت بیان شوے دے خو لیکن بل طرف ته دین داره مسلمان عام مسلمان نه بلکه دین داره مسلمان هغه د دې خبرو هیڅ پرواه نه لری بلکه په معاملاتو او معاشره کښې ورته خپل ځان آزاد خیال ښکاری چې زه په دې خیزونو کښې هیڅ چاته هیڅ حکم ته محتاجه نه یمه لکه څنګه چې زما د زړهٔ یا د نفس خواهش وی په هغه طریقه باندې به زه په دې باندې عمل کوم که یو طرف ته څه لګ شان د عباداتو خاوند دے نو بل طرف ته دغه عباداتو ته دې انسان د غلطې معاملې او غلطې معاشرې د وجې نه نقصان ورکړے دے. عبد الله بن

عمر رضی الله عنه ته نبی علیه السلام فرمائی د معاملاتو په باره کښې که يو انسان په لس درهمو باندې کپړې واخلی اوپه دې لسو درهمو کښې يو درهم حرام وی د دې انسان مونځ به الله تر هغه وخت پورې نه قبلوی تر څو پورې چې په دې انسان باندې دغه لباس وی او بيا دغه صحابی قسم خوری چې دا خبره ما په دې خپلو غوږونو باندې د نبی عليه السلام نه دغه شان اوريدلې ده او داسې راته ياده ده لکه نن ورځ چې راته ياده ده دا ځکه چې د دې انسان په معاملاتو کښې لګ شان نقصان دے.

## پاک حلال مال:

او يو بل حديث کښې هم د دې معاملاتو په باره کښې راځی نبی عليه السلام فرمائی ﴿إِنَّ اللّٰهَ طَيِّبٌ وَلاَ يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا﴾(بقره:۱۷۲) الله پاك ذات دے او د خپل بنده نه هغه پاك څيز قبلوی ناپاك څيز که ډير زيات شی الله ته قبول نه وی او بيا نبی عليه السلام د يو سړی تذکره اوکړه چې هغه لوې سفر کړے وی د سفرونو د وجې نه د دې انسان دا حالت وی ويختهٔ ببر ببر وی ګردو غبار ورته رسيدلے وی او د الله نه دعا غواړی يا رب خو د دې انسان حالت دا وی حرام خوراك كوی حرام څكاك كوی او په حرامو سره د دهٔ غذا شوی وی نو د دې انسان دا دعا به الله څنګه قبوله کړی؟ چې د دهٔ تربيت په حرامو سره شوے دے او په يو حديث کښې راځی چې جنت ته هغه جسم نشی دننه کيدے چې په حرامو سره پالل شوے وی دا د معاملاتو حالت دے چې په دې سره د انسان نيك عمل نه قبليږی.

او د معاشرې په باره کښې یو حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی کامل مسلمان هغه دے چې د دهٔ د ژبې او د لاس د ضرر او تکلیف نه نور مسلمانان محفوظ وی که یو مسلمان ډیر لوې بزرګ وی مونځو نه تهجدونه نوافل ذکرو اذکار په پابندئ سره کوی خو د دې انسان ژبه خرابه وی د دهٔ د ژبې نه بل ته نقصان وی فحش ګوئی کنځل غیبت یا د ده د لاس نه بل ته تکلیف وی نو نبی علیه السلام فرمائی چې دا انسان کامل مسلمان نه دے.

## د معاشرې حقوق:

او دې نه علاوه نور ډیر آداب او حقوق نبی علیه السلام د معاشرې په باره کښې بیان کړی دی کور کښې دننه د کور باهر د ګاونډی حق د لارې حق د مسجد حق دا ټول په معاشره کښې داخل دی په یو حدیث کښې راځی چې دا د ایمان حصه ده چې انسان تکلیف ده نقصانی څیز د لارې نه لرې کړی که هغه هر څیز وی خو چې نقصان لری نو انسان به هغه د لارې نه لرې کوی مفتی شفیع رحمت الله علیه فرمائی چې په لاره کښې نقصانی څیز کیخودل ګناه او یو قسم بے ایمانی ده نن زمونږه دا حالت دے چې دا معاشره مونږه ته د دین حصه نه ښکاری نور د کور نه ګند راباهر کړی اولاره یا په روډ باندې ئې ګوزار کړی هم دغه زمونږ دَ دین اسلام تعلیمات مونږه پریخودل او یورپ خپل کړل او بیا زمونږه سترګی هغوی ته وی چې اوګوره څنګه نظام دے؟

او نبی علیه السلام فرمائی که په لاره باندې انسان روان وی نو د لارې د حق خیال به ساتی که سورے وی خلقه ورته اودهٔ کیږی د ګرمی

په موسم کښې یا نمر دے چې خلقه ورته د یخنۍ په موسم کښې کینی په دغه ځائے کښې به انسان اودس ماتے نه کوی او نه به په دغه ځائے کښې ګندګی اچوی او نۀ به د میوه دار اونې بوټی نه لاندې اودس ماتے کوی.

## په معاشره کښې د ځناورو حقوق:

دا خو لا څه کوې چې د دې معاشرې په آدابو کښې نبی علیه السلام د ځناورو خومره حق بیان کړے دے هغه ځناور چې مونږ ته په نظر باندې ډیر لاندې او بے قیمته دی د هغې حق ئې بیان کړے دے تکلیف ورته مۀ ورکوۍ یو حدیث کښې راځی که انسان د ځناور په شاباندې ناست وی نو د دې نه منبر مۀ جوړ وۍ چې د ناستې په حالت کښې ورباندې انسان خبرې یا تقریر شروع کړے وی او ځناور ته تکلیف وی او د سفر په حالت کښې نبی علیه السلام څه پرندې مرغۍ اولیدې چې شور ئې شروع کړے وو نبی علیه السلام اوفرمائیل دا پرندې چا په تکلیف کړې دی نو صحابو ورته اووئیل فلانکی صحابی د دې د جالې نه بچے راغستے دے نبی علیه السلام ورته اووئیل چې هغه ورته واپس کړۍ مخکښې یو حدیث بیان شوے وو چې د سپی سره د خیګړې د وجې نه یوه بد عمله بدکاره زنانه الله جنت ته داخله کړې وه او د یو پیشو سره د ظلم زیاتی د وجې نه الله یوه نیك عمله زنانه جهنم ته داخله کړې وه که یو انسان آبادی جوړ وی نو بیم بشونه به د بل ګاونډی په دیوال نه ګدی ځکه هغه ته به تکلیف وی خو دا څیزونه دې چې مونږ ته د دین حصه نه ښکاری.

## سیاست او عبادت:

دا زمونږه په دې خلقو باندې د عیسائیت اثر شوے دے چې دین د مسجد پورې محدود وی ځکه د هغوی په نزد دین جدا څیز دے او معاملات معاشره سیاست جدا څیز دے دا عقیده او نظریه زمونږه مسلمانانو د جهالت د وجې نه د عیسایانونه اغستې ده زمونږه په دې دین اسلام کښې دا یو څیز دے جدا جدا نه دې مونږه روزانه پنځه وخته په مونځ کښې دعا غواړو خو ورباندې نه پوهیږو الله په دنیا او آخرت دواړو کښې کامیابی راکړې ځکه دا دواړه جدا نه دی دغه وجه ده علامه اقبال وائی:

*جدا ہو دین سیاست سے*
*تو رہ جاتی ہے چنگیزی*

دین او دنیا دین او سیاست او حکومت چې جدا شی نو بیا صرف چنګیزیت باقی وی نن که دا حالات مونږه ته رامخامخ شوی دی نو وجه دا ده چې زمونږه په ذهن کښې د دین جدا تصور دے او دنیا د پاره جدا تصور د الله ملاقات د پاره مسجد ته راځو او ورته وایو باهر مه رازه دلته دننه حد پورې  ته ښه يُ؟ نو بیا نه مونږه ته د معاشرې معلومات شته او نه د معاملاتو نه خبر یو په دې ایتونو کښې الله دغه دواړه خبرې ذکر کړې دی یو معامله ده﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾ (سورة النساء:۲۹) اے ایمان والو  خپل مالونه د یو بل په مینځ کښې په باطله طریقې سره مهٔ خورئ ځکه د دې سره معاملات تباه کیږی او د معاشری په باره کښې وائی ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾(سورة الحجرات: ۱۰)

مؤمنان ټول رونړه رونړه دی اګر که ژبه علاقه زبان جدا جدا وی بیا هم ټول مسلمانان یو دی د دې خپلو رونړو په مینځ کښې معامله درسته کړې اصلاح راولې ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ دا الله نه اویریږې که تاسو مومنان ئې او دغه وجه ده یو روایت کښې راځی چې الله مسلمان ظالم حکومت سره مدد نه کوی او الله کافر عادل حکومت سره مدد کوی لکه نن صبا دا حالت دے دا قانون الهی د عام خلقو د پاره دے که مسلمان وی که کافر وی.

والحمدلله رب العالمین

# د مړي احکامات او مسائل

نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي.

**جَدِّدُوا الْإِيْمَانَ**(احمد) يعنې د ايمان تجديد کوئ.

د ايمان تجديد ځکه ضروری دے چې انسان کمزورے دے او د ګناه خطره هر وخت واقع وی.

يو حديث کښې نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائي.

**إِذَا أَذْنَبَ الْعَبْدُ نُكِتَ فِيْ قَلْبِهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ** (ترغيب وترهيب)

يعنې کله چې يو مؤمن ګناه اوکړې نو په زړهٔ باندې يئ يو تور داغ اولګی.نو که دا ګناه بيا هم جاری وی نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائي **حتى تَعْظُمَ فِيْ قَلْبِهِ**

يعنې دا ګناه پوره زړهٔ راګير کړی.

قرآن کريم کښې هم الله تعالیٰ فرمائی.

﴿**كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ**﴾ [المطففين :۱۴]

يعني د دوی په زړونو باندې زنګ دے.

ځکه بيا په دهٔ نيکه خبره اثر نه کوی.

الله تعالیٰ فرمائی. ﴿**خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَ عَلٰى سَمْعِهِمْ**﴾ (بقره:۷)

يعنې الله تعالیٰ د دوی په زړونو او غوږونو مهر لګولے دے.

د دے وجوهاتو د وجے نه تجديد د ايمان ضروری دے.

﴿**كَيْفَ نُجَدِّدُ إِيمَانَنَا؟**؟﴾ يعني مونږ څه رنګه د ايمان تجديد اوکړو.

نو د دے د پاره تجديد د ايمان ضروری دے. ځکه نبی کريم د صحابو په جوا ب کښې اوفرمائيل﴿**أَكْثِرُوا مِنْ قَوْلِ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللّٰهُ**﴾

د توبے د پاره بل شرط په نيك عمل باندې استقامت دے .

ځکه چې الله تعالیٰ ته هر هغه عمل محبوب وی چې په هغې باندې انسان استقامت اختیار کړې.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي.

﴿أَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ﴾ (صحیح الجامع)

یعنې الله تعالیٰ ته محبوب عمل هغه دے چې په ثابت قدمۍ سره اوکړے شی اګر که لګ ولے نه وی.

د توبے د پاره بل شرط دا دے چې د حقوق العباد د ادائیګۍ کوشش دے اوکړې. ځکه چې د قیامت په ورځ به بیا د دۀ نیکۍ دغه حقدار له ورکړې او ګناهونه به پرے انبار کړی.

دا رنګ شهید به هم د قرض د وجے نه په اعراف کښې بانده وی ځکه چې دا هم حقوق العباد دی.

د مرګ په تیارو کښې دریم تیارے هغه وصیت دے.

الله تعالیٰ فرمائي.

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ﴾ (بقره:۱۸۰)

یعنې کله چې انسان ته د مرګ اثار ښکاره شی نو په پاتے شوې مال کښې وصیت فرض کړے شوے دے د والدینو، رشته دارانو د پاره دا کار متقیانو سره ډیر لائق دے.

یو حدیث کښې نبی کریم فرمائي چې دوه شپے دے په چا نه تیریږي مګر دے د پکښې وصیت لازمی کوی.

یو وصیت واجب دے لکه په چا چې د الله تعالیٰ یا د بنده حق وی نو د هغے وصیت کول واجب دی.

او دویم وصیت مستحب دے.لکه د خپل مال نه تبرعا چاله برخه ورکول غواړی نو کولے شی خو دا وصیت به د خپلو ورثاؤ د پاره نه کیږی.
حدیث کښې راځی چې لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ [سنن ابن ماجه]
یعني د وارث دپاره وصیت جائز نه دے.
دا وصیت قولی هم کیږی او تحریری هم کیږی او په بیان سره هم کیږی.
دا رنګ وصیت به په دریمه حصه کښې کیږی .
نبی کریم له یو صحابی راغے چې زۀ د خپل مال نه څه حصه صدقه کوم نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل.
﴿الثُّلُثُ، والثُّلُثُ كَثِيرٌ، أَنْ تَدَعَ ورَثَتَكَ أَغْنِياءَ خَيْرٌ مِن أَنْ تَدَعَهُمْ عالَةً﴾
(بخاری)
یعني د دریمے حصے صدقه کافی ده . یعني که ته خپل ورثاء مالداره پریږدے نو دا به د محتاجه پریخودو نه غوره وی.
دا رنګ وصیت د نیك کار او صدقاتو هم کولے شی خو که د صدقے جاریے وصیت اوکړی نو ډیر ه به بهتره وی.
نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه یو صحابی د پلار د وفات نه د صدقے کولو په باره کښې تپوس اوکړو چې څه اوکړم ؟
نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چې د اوبو څکلو کوهی اوباسه.
نو دا سے خیرات او صدقات پکار وی چې د هغې ثوابونه ورپسے همیشه رسی.
الله تعالیٰ دے په دے باندې مونږ ته د عمل توفیق رانصیب کړی. امین

# اتباع سنت او رد بدعت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا (103) الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا (104) ﴾ (الکھف)

﴿وقال رسول الله : وَشَرَّ الأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلالَةٌ وَكُلَّ ضَلالَةٍ فِي النَّارِ اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ﴾ (سنن نسائی)

## اتباع رسول:

په دين اسلام کښې د يو امتی مطلب هم دا دے چې د خپل پيغمبر اتباع به کوی. او د هغه په سنت باندې به عمل کوی.

الله تعالیٰ هم قرآن کريم کښې فرمائي

﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّٰهِ﴾ (نساء:٦٤)

يعنې مونږ رسولان د دے د پاره رالیږلے دي چې د دوی تابعداری اوکړے شی.

## د پیغمبر دا نسان کیدو حکمت:

هم دغه وجه وه چې الله تعالیٰ پيغمبران هم د انسانانو په شکل کښې راليږلے دی چې د نورو انسانانو دپاره يو عملی نمونه اوګرځی چې انبياؤ په خپل ژوند کښ کوم عمل کړے دے چې هغه امتيان هم اوکړی.

که چرته پيغمبر انسان نه وی فرشته وی نو خوراک څکاک طريقه ورنه نه زده کيږی غم ښادی طريقه به دهغه سره نشی کيدې د هغوی په طبيعت مزاج به هيڅ يو انسان ته معلومات نه وی .

د فرشتې به بیماری صحت وفات ښځه بچی معاشره رشته داری تجارت لین دین دوستان نه وی نو امتیانو به داخبرې ثنګه زده کولی .

دا د الله تعالی مهربانی ده چې الله فرشته په صورت کښی انسانانو ته پیغمبر نه دی رالیږلی بلکې انسانانو ته ئی د انسان په شکل کښې پیغمبر رسول راستولي دي .

انبیاؤ په خپل عمل سره امت ته خودلی دی دا ټول اعمال په هر طریقه سره او دغه شان په تربیت سره .

د نبی کریم د سیرت هره حصه د الله تعالیٰ په فضل سره محفوظه ده.

د امت هریو فرد دپاره د نبی کریم په ذات کښې یو بهترینه نمونه شته دے. که هغه حقوق الله دې او که حقوق العباد دی. یا لکه خوشحالی، غم، بیماری، صحت،سفر، حضر، جنګ، صلح ، والدین ، اولاد، سربراه، رعیت، جماات، بازار ته تلل، قربانی، حج وغیره کول.

که په دی انسان وادۀ خوشحالی راشی نوپه پیغمبر داراغلی دی طریقه ورته معلومه وی اوکه په دې انسان غم مصیبت راشی مجلس مشاورت ته خبره پیخه شی نوپه پیغمبر داټول دهغه په ژوند کښې راغلی دی دې انسان ته خپل دَ پیغمبر طریقه معلومه وی اونوری دژوند سره تړلې خبرې او طریقې.

دا ټول نبی کریم کړے دې نو د امت د پار ه پکښې بهترینه نمونه شته دے.

امتی به اوس هر هغه انسان ته وائی چې هغه به په دې هره طریقه لحظه عمل کوی د خپل پیغمبر د تعلیماتو پابند به وی او بل طرف ته به په هیڅ یو صورت کښې اعراض نه کوی مخ به نه اړوی .

د زندګۍ داسې موقعه اومور نشته چې د پیغمبر ارشاد اوهدایات د هغه د طرف نه نه وی انسان ته .

## اسوهٔ حسنة:

الله تعالیٰ هم فرمائی. ﴿لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾(احزاب:۲۱)
يعني ستاسو دپاره په رسول الله کښې بهترینه نمونه شته دے.

دومره عجيبه، مشفق،مهربانه وسيع الظرف،د معاشرې په ضروریاتو باندې آگاه پیغمبر داسې پیغمبر چې د اودس ماتی طريقه ئی هم امت ته ښودلے ده. لکه په اوچت ځائ کول، د سیلئ په رخ نه کیناستل، قبلے ته مخ کول یا شاکول به نه کوے وغیره.

دا هم ئی وئیلے دی چی که یو انسان لاړې توک کړی نو د قبله طرف ته ئی دې نه توک کوی .

غټ غټ معاملات غټ غټ دنیاوی معلومات خولاځه چې دې عظیم پیغمبر خپل امت ته د دومره وړو وړو خبرو پیش کش هم کړې دې.

او د امت دا فریضه ده چې د دې طریقو نه به په هر لحظه په هر قدم ځان خبروی اوپه دې باندې به عمل کوی .
بلکه د نوکونو اغستو طريقه هم نبی کریم ښودلے ده.
د دے وجے نه نبی کریم فرمائي.
﴿لَيْسَ مِنَّا مِنْ عَمَلٍ عَمَلًا بِغَيْرِ سُنَّتِنَا﴾ (الطبرانی)
يعني هغه انسان زما امتی نه دے چې عمل کښې ئی زما طریقه نه وی.

چې نسبت دخپل ځان ځما طر فته کوی او طريقه ځما نه اختیار وی طريقه د بل چا اختیار وی په دعوی امتی امتی نه شی کیدې ترڅو چې په صحیح معنی کښې متبع سنت نه وی .

دا رنګ نبی کریم فرمائیلے وو.

**فَإِنَّ خَيْرَ الحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ، وَخَيْرُ الهُدَى هُدَى مُحَمَّدٍ، وَشَرُّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا، وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ.** (مسلم)

يعني بهترينے خبرے د الله تعالىٰ کتاب دے او بهترين د هدايت لاره د رسول الله لاره ده.

که يو سړې غواړې چې ځه په هدايت شمه نو د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د سنت تابعداری دی وکړی.

او بدترين اعمال نوے اعمال پيداکول دي او هر نوے کار بدعت دے او هر بدعت ګمراهی ده.

په يوموقع نبی عليه السلام فرمائيلی وو چې په دې امت کښې به څه خلق د مخکښې امتونو قدم په قدم تابعداری کوی تردې که په مخکښې امتونو کښې يو کس خپلې مورته په شهوت سره راتلل کړی وی بدفعلی ئې کړی وی نوپه دې امت کښې به هم داسې خلق وی .

**درې اويا ډلی:**

او بل يو روايت کښې راځی **وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِيْ النَّارِ** (مسلم)

يعني هره ګمراهي به په اور کښې اچولے شی.

دارنګ يو حديث کښې نبی کريم فرمائی

چې زما په امت کښې به درے اويا ډلے جوړے شی ټول به جهنم ته ځی سواء د يوے ډلے نه . نو صحابه تپوس اوکړو چې د غه ډله کومه ده ؟ نو نبی کريم اوفرمائيل **مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِيْ** (ترمذی)

يعني هغه ډله به بچ کيږی کومه چې زما او د صحابو په لاره روان وی.

## دعبادت معيار:

د دے وجے نه حضرت حذيفه فرمائي
**كُلُّ عِبَادَةٍ لَا يَتَعَبَّدُهَا أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا تَعَبَّدُوْهَا؛ فَإِنَّ الأَوَّلَ لَمْ يَدَعْ لِلآخِرِ مَقَالًا**

يعني كوم عبادت چې صحابو نه دے کړے نو تاسو ئي هم مه کوئي ځکه چې اولنو خلقو يعني صحابو د روستو خلقو د پاره هيڅ څيز د دين نه نه دے پرېخودې.

د ثواب او د دين کارونه هغه دی چې پيغمبر اوصحابو کړی وی اوکم کار چې پيغمبر اوصحابو نه وی کړی هغه کار د ثواب او د دين کارنه شی کيدې.

دارنګ عبد الله بن مسعود فرمائې.

زمونږ د اصحابو په طريقو باندې روان شئ ځکه چې دين مکمل شوے دے نو نوے نوے کارونه د ځان نه مه راؤباسئ.

ستاسو دين پوره شوې دې د الله پيغمبراوصحابه کرامو بيان کړې دې.

بهرحال امتی وائې دے ته چې د نبی کريم او د صحابو په لاره به روان وی او که داسے نه وی نو دے ته کامل امتی نه شی وئيلے.

## د بدعت قباحت:

بدعت د سنت په مقابل کښې نوے کار په نيت د ثواب باندې راويستل او عمل پرے کولو ته بدعت وائی.

زمونږه په معاشره کښی ځومره داسې خلق دی چې هغوی بدعت کوی او د سنت په نظر ورته ګوری او دا د دين تباهی ده بربادی ده .

چې يوكار قرآن وحديث كښې نه وى. صحابو نه وى كړے ، د تابعينو تبع تابعينو ، ائمه مجتهدينونه نه وى نقل.

په دنيا كښې څلور قسمه غټ ګناهونه دى.

اول شرك دے ، دويم بدعت دے. دريم فسق دے.

خواجه نظام الدين اولياء فرمائ

***بدعت ازمعصيت بالاتر است وبكفر نزديك است***

يعني بدعت د معصيت نه غټه ګناه ده او كفر ته نزدے كيدونكے دے.

بدعت او معصيت كښې فرق دا دے.

بدعت زياتى ته وئيلے كيږي او معصيت كمى ته وئيلے كيږى.

د كمى حل موجود وى خو د يو څيز زياتى كيدلو سره هغه څيز د خپل اصل نه اوځى.

لكه په تركارئ چې مالګه كمه وى نو علاج ئې كيږى خو كه د يو چمچ په ځائ دے دوه ورواچول نو بيا علاج مشكل وى.

**معصيت ته دثواب نظر:**

دارنګ معصيت چې څوك كوى نو ګناه ئې ګڼرى او بدعت ته څوك ګناه نه وائى بلكه په نيت د ثواب ئې كوى.

د دې وجې الله تعالىٰ د داسې خلقو په باره كښې فرمائى.

**قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا (103) الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا (104) (كهف)**

يعني اے پيغمبره دے خلقو ته اووايه چې تاسو ته تاواني اعمالو والا خلق ښائم. دا هغه کسان دي چې په دنيا کښې ئې اعمال برباد دې او دوی دا ګمان کوی چې مونږ ښه کار اوکړو.

لکه يو انسان د سحر د دوؤ رکعتو په ځائې باندې درے رکعته اوکړی نو پدې به دۀ ته ثواب نه ملاويږی بلکه مفتی به ورته اووائي چې دا مونځ واپس راؤګرځوه.

دا رنګ درود شريف وئيل ډير فضيلت لری خو که په څلور رکعت والا مونځ کښې څوك په دويم رکعت کښې په قعده کښې درود شريف اووائي نو سجده سهو پرے لازم کيږی.

## اتباع سنت اوصحابه:

دا رنګ د حضرت علی په وخت کښې يو سړے د اختر د مانځه نه مخکښې په عيدګاه کښې په نفلو ولاړ وو نو حضرت علی پرے په زور سلام اوګرځوو نو هغه سړی ورته اوئيل چې الله تعالیٰ خو چاله په مونځ عذاب نه ورکوی. نو حضرت علی ورته اوفرمائيل چې ما نبی کريم چرے هم د اختر په ورځ د مانځه نه مخکښې نفل مونځ باندې نۀ وو ليدلے.

دا رنګ سعيد بن مسيب يو ورځ يو کس د مازيګر مانځه نه بعد د نفلو نه منع کړو نو هغه سړی ورته اووئيل چې ولے الله تعالیٰ به ماته په مونځ عذاب راکوی نو سعيد بن المسيب ورته اوفرمائيل چې نه خو د نبی کريم د سنت عمل په مخالفت باندې به تاله سزا درکوی.

## د عبدالله بن عمر واقعه:

دا رنګ عبد الله بن عمر يو ورځ د امام مجاهد سره يو جمات ته راغے نو هغے کښې يو کس خلقو ته چغه اووهله چې مونځ له راشئ.

نو عبد الله بن عمر پرے رد اوکړو چې دا څه کوے ؟ نبی کریم خو چرے هم د آذان نه بعد داسے نه ووکړے .

او بيا ئې امام مجاهد ته اوفرمائيل

**اخْرُجْ بِنَا فَإِنَّ هَذِهِ بِدْعَةٌ**

يعني ماد دے جمات نه اوباسه ځکه چې دلته کښې بدعت کيږی.

او بيا اما م مجاهد فرمائي.

**وَلَمْ يُصَلِّ فِيْهِ**

يعني په دغه جمات کښې ئې مونځ اونکړو.

دا د صحابه کرامو د نبی کریم سره مينه او محبت وو چې د نبی کریم په سنت عمل کښې ئې بدعت نه شو برداشت کولے.

الله تعالیٰ دے مونږه هم د صحابه کرامو په نقش قدم روان کړی. امين

# د سیرت النبی صلی اللّٰه علیه وسلم مطلب او اهمیت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ.﴾ (ال عمران:۱۶۴)

دا اسلامی میاشتو کښې دریمه میاشت ده دې میاشت کښې وفات شوې وو په دې میاشت کښې د نبی علیه السلام د سیرت په باره کښې لږه تذکره کولے شی دا یقینی خبره ده چې د نبی علیه السلام سیرت د یوې ورځ یا میاشت یا کال سره هیڅ تعلق نه لری ځکه دا د ټول عمر د پاره د عملی کیدو لائق دې هیڅ یوه ورځ یا میاشت یا کال یا ساعت یا منټ د نبی علیه السلام د تذکرې نه خالی کیدل نه دی پکار او د دې وجه دا ده چې د نبی علیه السلام د سیرت سره د انسان دومره نزدې تعلق ضروری دې څومره چې زمونږه دې جسم د پاره خوراک، څکاک سره ضروری او اهم دې بله وجه داده چې د مسلمان هر عمل هر حرکت به د نبی علیه السلام په طریقه وی ځکه د نبی علیه السلام سیرت طیبه د مسلمان د پاره عملی ژوند دې ځکه الله په قرآن کښې فرمائی:

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الاحزاب:۲۱)

ائ خلقو ستاسو د پاره د نبی علیه السلام په ژوند کښې یوه ښائسته طریقه د عمل موجود وه نن زمونږه د مسلمانانو حالت دا دې چې د فحاشی پرچار کونکی او ادا کارانو او فلم کارو طرز ندګۍ باندې فخر کوی حال دا دې چې د مسلمان د پاره به طرز زندګی د نبی علیه السلام سیرت طیبه او ژوند مبارک وی او دا د قرآن کریم مطالبه هم ده.

یو صحابی دې هغه د غزوې نه واپس شو او د نبی علیه السلام نه ئې تپوس اوکړو چې یا رسول الله تاسو ته د ټولو نه محبوب انسان څوک دې نبی علیه السلام جواب ورکړو چې عائشه رضی الله عنه، بیا هغه تپوس اوکړو چې په سړو نارینه کښې تاته محبوب څوک دې نبی علیه السلام جواب ورکړو چې ابوبکر رضی الله عنه دې او بیا عمر رضی الله عنه دې اوبیا عثمان رضی الله عنه دې دغه د نبی علیه السلام محبوبه د هغې نه چا تپوس اوکړو چې د نبی علیه السلام اخلاق او سیرت څه څیز وو عائشه رضی الله عنها جواب ورکړو چې د نبی علیه السلام اخلاق او سیرت د هغه د ژوند هره طریقه قرآن کریم دې .

ځکه قرآن چې څه څیز وئیلې دې هغه نبی علیه السلام په خپله عملی کړې دې او د نبی علیه السلام سو فیصد ژوند هغه په قرآن باندې عمل کول دی.

بیا دا خبره ده چې د نبی علیه السلام مستند سیرت به انسان ته کوم ځاې کښې ملاؤ شی، نو جواب دا دې چې د نبی علیه السلام مستند او جامع سیرت قرآن کریم بیان کړې دې علماؤ فرمائی چې قرآن په دوه

قسمه دې يو ته قرآن ناطق وئيلې کيږى او دويم ته قرآن صامت ويلى کيږى.

د قرآن صامت مطلب دا دې چې چپ قرآن کوم قرآن چې خبرې نشى کوې بلکه د دغه قرآن سره به ته خبرې کوې او دغه په کتابى شکل کښې زمونږه سره موجود دې او بل قرآن هغه دې چې حرکت کوى او خبرې کوى او دغه قرآن د نبى عليه السلام وجود دې ځکه دا کتابى قرآن نه دې بلکه دا عملى قرآن دى.

په دنيا چې څومره مذاهب دې که هغه الهامى دې او که هغه غير الهامى دې د دې مذهبونو چې څومره بانيان او مشران دې نو د هغوى سيرت يا خو موجود نه دې او که بالفرض موجود دې نو هغه ناقص دې کامل نه دې او د دغه مذاهبو منونکى خلق هم په دې شک او شبه کښې دى چې د دغه بانى کومه پهلو قابل عمل ده نن که غټ غټ پيغمبران د هغوى حالات اوکتلې شى لکه موسى او عيسى عليهما السلام نو د دوى حالات زندګى او سيرت مکمل نه دې او که هغه څه نه څه موجود هم دې نو هغه مستند نه دې او د دې په عکس کښې د نبى عليه السلام ژوند کامل او مکمل دې او مستند او يقينى ثابت هم دې څنګه چې قرآن کريم جامع مستند کامل او مکمل دې دغه شان د نبى عليه السلام سيرت هم جامع کامل مکمل او مستند دې بلکه د نبى عليه السلام سيرت يو مکمل فن دې يو مستشرق چې د هغه نوم سپرنګر دې هغه وائى چې د نبى عليه السلام دا سيرت دومره جامع دې چې دا يوه مستقله معجزه ده د نبى عليه السلام د پاره ابن القيم په خپل کتاب زاد

المعاد کښې فرمائی چې د نبی علیه السلام د سیرت علم د هر مسلمان د پاره زده کول فرض او لازم دی ځکه ددنیا او آخرت کامیابی د نبی علیه السلام په سیرت کښې ده او د هغه په سیرت باندې به یو انسان هغه وقت عمل کوې شی چې د هغه د سیرت نه خبر وی.

مولانا ادریس کاندهلوی رحمه الله فرمائی چې د هر مسلمان د پاره د ایمان نه مخکښې د نبی علیه السلام د سیرت مطالعه لازمی ده ځکه دغه انسان به دا خپل ایمان د نبی علیه السلام د سیرت په تناظر کښې پیش کوی او که یو انسان مومن وی او د نبی علیه السلام د سیرت نه خبر نه وی نو د دغه انسان دا ایمان د دهٔ دَ عقل مطابق او د سوچ مطابق دې لیکن د نبی علیه السلام دسیرت مطابق نه دې ځکه ایمان هغه ایمان معتبر دې کوم چې د نبی علیه السلام په ژوند کښې مونږه ته ملاؤ شوې دې نو د نبی علیه السلام د سیرت پیژندل ډیر ضروری دی.

الله فرمائی:

﴿لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ﴾ (ال عمران:۱۶۴)

یعنې الله احسان کړې دې چې الله پیغمبر رسول دنیا ته مبعوث کړې دې یوه ورځ صحابه کرام په یو مجلس کښې ناست وو او د دې احسان په باره کښې ئې تذکره شروع کړې وه نو نبی علیه السلام مجلس ته تشریف راوړو او تپوس ئې اوکړو چې تاسو د څه څیز په باره کښې خبرې کوی.

صحابه کرامو جواب ورکړو چې د اسلام او د پیغمبر پاک د احسان په باره کښې زمونږه دا خبرې وې نبی علیه السلام اوفرمائیل چې

الله رب العزت ستاسو په دې مجلس باندې د فرشتو په مجلس کښې فخر کوی نو دا ډیر لوې او غټ احسان دې.

د دغه پیغمبر څه حقوق دی یو دا چې په هغه باندې ایمان راوړلې شی.

دویم دا چې د نبوت سره هغه سید البشر او افضل البشر اوګنړلې شی

دریم دا چې خاتم الانبیاء اومنلې شی .

څلورم حق دا دې چې واجب الاطاعت اوګنړلې شی.

پنځم دا چې د دغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم محبت او احترام اوکړې شی ځکه دا محبت او احترام د نبی علیه السلام حق دې او دا د ایمان تقاضه هم ده لیکن دا محبت د پیغمبر سره څنګه پیدا کیږی یو دا چې د نبی علیه السلام د سیرت نه خبر کړې شی او بل دا چې په نبی علیه السلام باندې درود شریف اووئیلې شی. والحمد لله رب العالمین.

# د سيرت خصوصيّات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدُ!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُوْ اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَ ذَكَرَاللّٰهَ كَثِيْرًا﴾ (احزاب:۲۱)

﴿وقال رسول اللهؐ: لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى أَكُوْنَ أَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ﴾ (بخاری)

د ربيع الأوّل مياشت شروع ده،او دا مياشت قابل توجّو ځکه ده چې په دې کښې درې غټ او عظيم واقعات راپش شوی دې يو واقعه دا چې د نبی عليه السلام ولادت په دې مياشت کښې شوے دے اګر چې په دغه ورځ کښې او په تعيين تاريخ کښې اختلاف دے چې هغه کومه ورځ او کوم تاريخ دې چې نبی عليه السلام ورکښې پيدا شوے ؤ،دويمه واقعه هغه دا ده چې د نبی عليه السلام هجرت د مکې نه مدينې ته په دې مياشت کښې شوے وو، د هجرت دا واقعه د اسلامی ژوند او قانون انقلاب کښې لوې مؤثر کردار لری ځکه د هجرت نه بعد الله مسلمانانو ته طاقت،رياست آزادی ورکړه او نور ډير نعمتونه ورباندې الله د هجرت نه بعد کړی وو، او امن او غلبه پيدا کيدل د مسلمانانو اکثريت کيدل وغيره، او دريمه واقعه چې هغه اُمّت او خاص کر د نبی عليه السلام د صحابوو دپاره ډيره د غم، او خفګان واقعه وه هغه دا چې بيا نبی عليه السلام هم په دې ربيع الأوّل کښې وفات شو، نو د مسلمانانو ځکه د دې

میاشت سره عقیدت دے چې په دې کښې د نبی علیه السلام پیدائش، هجرت او وفات درې واړه واقعات راځي ته شوې دی،اګر چې دا میاشت د سیرت د بیان د پاره خاص میاشت نه ده لیکن مسلمانان په نسبت د نورو میاشتو په دې میاشت کښې د نبی علیه السلام سیرت طرف ته ډیره توجو ورکوی او نظر ورباندې لری،اګر چې د نبی علیه السلام سره د محبت اظهار صرف د دې یوې میاشت یا یوې ورځ حد پورې به نه وی،بلکه د مسلمان مینه او محّبت به د نبی علیه السلام سره دولس میاشتې، مکمل کال وی، هر ساعت هره لحظه به د مسلمان زړهٔ ربیع الأوّل ، ربیع الأوّل وی، مطلب د نبی علیه السلام سیرت به هر وخت مسلمان ته د هغه سترګو ته مخکښې وی او د دې نه به نظر نه اړوی.

څنګه چې مسلمان لره د نبی علیه السلام په بعثت باندې شکر ګزار جوړیدل ضروری دی دغه شان به مسلمان د نبی عیله السلام د ولادت او بعثت د مقصد او پیغام نه نا خبره نه وی بلکه د دغه عظیم مقصدونو نه به مسلمان خبردار وی او په دې باندې به نظر کوی،چې د پیغمبر د بعثت او دنیا ته د رالیږلو مقصد او مطلب څه دے، آخر هغه څه ضرورت وو چې دغه پیغمبر ئے دې دنیا ته د پیغام دپاره راولیګلو د دې څه مقصد او تعلیم دے،اُمّت ته دغه پیغمبر څه پیغام ښودلے دے او څه تعلیم ئې ورته ورکړے دے نو که یو مسلمان د دې بنیادی خبرونه خبردار شی، یقینًا چې دا مسلمان به کامیاب او کامران ورسره خوشحاله مسلمان وی او که چرته یو انسان صرف په ظاهره باندې خوشحاله وی لیکن په دغه مقصد باندې د هغه نظر نه وی نو بیا دغه انسان ته د کامیابۍ حصول مشکل، او ګران کار دے،ځکه د پیغمبر په پیدائش باندې

خوشحالی دا صرف کامیابی نه ده اوکه چرته دا کامیابی وے نو د پیغمبر علیه السلام ترهٔ ابولهب به کامیاب شوے وے،ځکه هغه د نبی علیه السلام په پیدائش باندې دومره خوشحالی کړې وه چې یوه خپله وینزه،غلامه ئی آزاده کړې وه، خو چې کله ایمان نه وو او د پیغمبر تابعداری او اطاعت نه وو، او نه د پیغمبر په لاره باندې روان شوے وو، او د هغه د بعثت خلاف ئې آواز اوچت کړے وو، نو قرآن ګواه دے چې کامیاب نه بلکه تباه وهلاك شو،﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾(سورة لهب)تباه شو دواړه لاسونه د ابولهب او هلاك شو نو بنیادی خبره دا ده چې انسان به د پیغمبر په هغه پیغام باندی نظر کوی چې د کوم څه د پاره الله دنیا ته رالیګلے وو.

دویمه خبره دا ده، چې سیرت څه ته وئیلے کیږی،نو سیرت په اصل کښې د نبی علیه السلام طریقه کار ته وئیلے کیږی،او سیرت د ژوند نمونې ته وئیلے کیږی د یو مسلمان دپاره بغیر د نبی علیه السلام د ژوند د نمونې نه بله نمونه نشی کیدے، بلکه د مسلمان دپاره په هره مرحله کښې د نبی علیه السلام په ژوند کښې مثال او حکم موجود دے مسلمان به هره طریقه په هره مرحله کښې طرز زندګی د محمد رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه اخلی او د هغی مطابق به روان وی،ځکه قرآن وائی﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ستاسو دپاره د نبی علیه السلام په ژوند کښې یو خائسته مثال د عمل موجود وو، نو هر کله چې د مسلمان دپاره د کامیابۍ بله لاره بغیر د نبی علیه السلام د ژوند نه نشته نو مسلمان به په هر کار کښې د هغه اقتداء کوی،ځکه علامه ابن القیم په زاد المعاد کتاب کښې وائې چې د مسلمان دپاره د سیرت علم فرض دے

ځکه د دواړو جهانو کامیابي د نبي علیه السلام په سیرت کښې ده، نو انسان به هله کامیاب کیدے شي چې دغه د پیغمبر د ژوند نه خپل ځان خبردار کړي، او مولنٰا ادریس کاندهلوی په خپل کتاب سیرة المصطفی کښې وائي چې مسلمان له د خپل ایمان د پیژندلو نه مخکښې د نبي علیه السلام سیرت پیژندل ضرورے دے،ځکه یو انسان به د پیغمبر د ژوند د پیژندلو نه بغیر ایمان څنګه اوپیژني دا خو چې کله یو انسان د پیغمبر ژوند خپل ځان ته مخې ته کړي، نو الله،پیغمبر،ایمان به ورته معلوم شي او دا به اوپیژني او بیا ذکر کوي چې د پیغمبر د سیرت علم ذکر بیان، مطالعه،اوریدل،د مسلمان په زړه کښې د پیغمبر پاك صلی الله علیه واله وسلم مینه او محبّت پیدا کوي،که یو انسان دا تمنا آرزو لري چې ځما د پیغمبر سره مینه او محبّت پیدا شي نو دا انسان دِ د پیغمبر سیرت مطالعه کړي او د دې مطالعه دې شروع کړي نو د پیغمبر محبّت به د دې انسان په زړهٔ کښې پیدا شي،او د پیغمبر پاك صلی الله علیه واله وسلم شان،مقام،عظمت،مرتبه به ورته معلومه شي.

او د نبي علیه السلام د سیرت بل خصوصیّت او کمال دا دے چې د هغه په سیرت او ژوند کښې داسې صفات او کمالات موجود دي چې دغه صفات،خصوصیات او کمالات د بل انسان په ژوند او سیرت کښې نه موندلے کیږي،یو دا کمال دے چې د نبي علیه السلام سیرت سدا بهار همیشه،دائمي سیرت دے، د دې مطلب دا دے چې د نبي علیه السلام سیرت د یو وقت، یو قوم،یوملك،یو موقع پورې خاص نه دے بلکه د قیامت د ورځې د صبا پورې به همیشه وي او عمل به ورباندې کیږي، دا تروتازه او ژوندے سیرت دے،د خلقو دپاره په هر څه کښې او په دور

کښې د عمل نمونه ده، لکه څنګه چې د الله رب العّزت توحید همیشه او دائمی دے او تر ورځ د قیامت پورې به دا بیا نیږی او د انسانانو ورته ضرورت دے دغه د نبی علیه السلام سنت او سیرت هم همیشه دے او همیشه به بیا نیږی او د قیامت تر ورځ پورې به دا طریقه جاری او ساری وی،نن که په دنیا کښې توحید موجود دے نو قیامت نه دے قائم شوے ځکه حدیث کښې راځی چې تر څو پورې په دنیا کښې الله الله وئیل موجود وی نو په دغه خلقو باندې به قیامت نه قائمیږی خو کله چې دا کلمه ختمه شی نو بیا به قیامت راځی، نو دغه شان د نبی علیه السلام سیرت هم سدا بهار سیرت دے ځکه کوم ځائے کښې چې په قرآن یا احادیثو کښې د توحید ذکر راغلے دے نو په هم دغه ځائے کښې ورسره د نبی علیه السلام د رسالت ذکر هم راغلے دے لکه د اسلام په کلمه کښې اول جزء(**لا اِله اِلا الله**) دے او دویم جزء(**محمد رسول الله**) دےدا به په دې طریقه د قیامت پورې وی او هم دغه شان په آذان کښې یوطرف ته (**اشهد أن لا اله الا الله**) ذکر دے نو بل طرف ته (**واشهد أنّ محمد رسول الله**) هم ورسره ذکر شوے دے.دغه په اقامت،مونځ، التحیات کښې په هره موقع د الله د وحدانیت سره د نبی علیه السلام د رسالت ذکر دے ځکه دا دواړه د یو بل سره لازم او ملزوم دی.

او بل خصوصیّت د نبی علیه السلام د سیرت هغه دا دے چې یو جامع،کامل او مکمل سیرت دے په دې کښې د هیڅ څیز بیان نیمګړې،ناقص نه دے پاتې شوې، هر څه پکښې الله په مکمل طریقې سره ذکر کړی دی،او د انسانی زندګۍ ژوند تمام ضروریات په دې کښې موجود دې لکه څنګه چې د الله کتاب قرآن جامع کتاب دے د ژوند هره

پهلو پکښې بیان شوې ده او دا دستور حیات دے،بلکه انسانی ژوند تیرلو دپاره قانون،او نظام دے،دغه شان د نبی علیه السلام سیرت یو جامع سیرت دے،ځکه د قرآن عملی تفصیل،شرح او وضاحت د نبی علیه السلام ژوند مبارك دے یو انسان به په قرآن باندې هله عمل کونکے جوړیدے شی چې د نبی علیه السلام عملی ژوند ورته معلوم وی،قرآن د ایمان او د توحید مطالبه کړې ده که څوك اووائي چې دغه توحید څنګه اومنو او په دې باندې یقین اوکړو نو څنګه چې نبی علیه السلام توحید منلے وو او په توحید باندې چې څنګه نبی عمل کړے وو دغه شان ئې اومنی او یقین ورباندې اوکړی.

قرآن وائي(أَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ) مونځ اوکړی، روژه اونیسی، حج ادا کړی،جهاد اوکړی ،زکوة ورکړی،نوکه یو انسان اووائی چې دا څیزونه مونږه څنګه اوکړو نو دغه انسان ته په اووئیلے شی چې څنګه دا څیزونه نبی علیه السلام ادا کړی وو هم دغه شان ئی ته هم ادا کړه،ځکه نبی علیه السلام د دې عملی شکل او صورت ښودلے دے،او قرآن د اخلاقو په باره کښې حکم کړے دے نو انسان به دغه قرآنی اخلاق د نبی علیه السلام د ژوند نه زده کوی،او قرآن اجتماعی،انفرادی ژوند،عدالت، سیاست،معاملات، لین دین،ښودلے دے نو دا هر څه به یو انسان د قرآن د ښودلی شوی حکم مطابق پوره کوی،او دا هر څه به په هغه طریقه وې لکه څنګه طریقه چې د دې نبی علیه السلام ښودلې ده،لکه څنګه چې قرآن جامع کتاب دے دغه شان د محمد صلی الله علیه واله وسلم تفصیل،شرح او وضاحت به هم جامع وی،نو د نبی علیه السلام ژوند زمونږه دپاره په هره مرحله کښې مشغل راه او رهنما دے، د دې اُمّت

محمدی دا خصوصیت دے چې دوی په هیڅ عقیده،نظریه،قانون، سیاست ،معاشره، معاملاتو هیڅ څه کښې بل قوم،بل اُمّت،بل مذهب ته محتاجه نه دی او څکه محتاجه نه دې چې الله دوی ته دا هر څه کره پوره، برابر، مکمل ورکړی دی،دا هیڅ چرې نشی کیدے چې یو مسلمان به په یو طریقه کښې د بل مذهب والو نه متأثره شی،یا به د بل مذهب عقیده قبوله کړی یا به د بل قوم رسم ورواج خپل کړی، یا به د نورو خلقو نه اخلاق زده کړی او یا به د بل اُمّت والو نه معاملاتو کښې رهنمائي واخلی،دا هیڅ کله نشی کیدے،کله چې یو انسان د نبی علیه السلام سیرت نه خبردار او د نبی علیه السلام په ژوند باندې پوهه لری.

او د عائشه رضی الله عنها نه چا تپوس کړے وو،چې د نبی علیه السلام اخلاق څه وو،نو عائشې رضی الله عنها ورته جواب ورکړے ؤو(**كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآن**)(احمد) د نبی علیه السلام اخلاق قرآن وو مطلب قرآن چې د کومو اخلاقو په باره کښې تعلیم ورکړے دے ، نو هم دغه اخلاق د نبی علیه السلام وو،او وجه دا ده چې د پیغمبر ټول ژوند د قرآن شرح او وضاحت دے،څکه پیغمبر د قرآن په هر یو حکم باندې عمل کړے دے،دغه وجه ده علماء فرمائي چې د قرآن دوه شکلونه دوه صورتونه دی،یو ته قرآن صامت وئیلے کیږی او دویم ته قرآن ناطق وائی، قرآن صامت مطلب خاموش قرآن چې هغه خبرې نه کوی هغه قرآن دغه قرآن دے کوم چې په الماروو کښې تختونو کښې پروت دے،څکه دا خبرې نه کوی بلکه ده سره به ته خبرې کوې دا ستا سره خبرې نه کوی او د دې سره خبرې د دې قرآن تلاوت دے،او دویم قرآن ناطق مطلب خبرې کونکے قرآن چلتا پهرتا قرآن هغه ذات د محمد رسول الله صلی الله علیه

واله وسلم دے، ځکه د قرآن تمام حکمونه او تمامه وینا د نبی علیه السلام په ژوند کښې موجود وه،د نبی علیه السلام انفرادی ژوند دَ قرآن مطابق ؤو،اجتماعی ژوند،ناسته ولاړه،معاملات، معاشره،سیاست دا هر څه د قرآن موافق او مطابق وو.

دریم خصوصیّت د نبی علیه السلام د سیرت دا دے چې د دهٔ سیرت محفوظ او مستند سیرت دے،څومره تاریخی شخصیّات چې په دنیا کښې تیر شوی دي د هغوی سیرت او د ژوند حالات معلوم نه دی،تر دې پورې چې د انبیاء علیهم السلام سیرت هم محفوظ نه دے بغیر د هغه سیرت نه چې هغه قرآن یا د نبی علیه السلام په احادیثو کښې ذکر شوے دے،اګر چې په دغه انبیاؤ ایمان فرض او واجب دے لیکن تفصیلی د هغوی د ژوند حالات هیڅ یو مؤرّخ ته ،هیڅ یو کتاب واله ته صحیح معلومات نشته دې،که د عیسائیانو نه د عیسی علیه السلام په باره کښې او د یهودیانو نه د موسیٰ علیه السلام په باره کښې تپوس اوکړے شی چې تاسو مونږه ته د عیسی علیه السلام او د موسی علیه السلام سیرت او د ژوند حالات بیان کړۍ نو د هغوی سره د دې سوال جواب او د دې اعتراض حل نشته ځکه هغوی سره د خپلو پیغمبرانو د ژوند حالات او سیرت محفوظ اومستند یقینی نشته ځکه جواب ورکوې نشی او اکثر دغه خلقو د الله په پیغمبرانو پورې د دروغو او ځان د طرف نه د جوړ شوی واقعاتو تړل کړی دی،او بل طرف ته زمونږه د پیغمبر پاك صلی الله علیه واله وسلم ټول ژوند د پیدائش نه واخله تر وفات پورې محفوظ دے بلکه د پیدائش نه مخکښې د هغه تاریخ شته دے،بلکه شجره نسب،خاندان او د هغه د قوم تاریخ محفوظ شته دے او دا حالات او واقعات او تواریخ دروغ

د ځان نه جوړ کړے شوی نه دی بلکه مستند مؤرخینو دا خبرې په پوره غور، فکر سره صحیح سلامت رانقل کړی دی ، او د نبی علیه السلام سیرت صرف د ژوند حالات نه دی بلکه دا یو تهذیب،یو ملّت،یو تمدّن، یو ثقافتاو د اُمّت مسلمه داستان دے،ځکه د پیغمبر ورتلو سره تهذیب،تمدّن، ملّت، اوثقافت بدل شو او نوے تهذیب،تمدّن،مذهب،دین اوملّت د زمکې وجود ته راغلے بلکه د نبی سیرت یو فن ګرځیدلے دے او خلقه د دې نه قوانین،احکامات،د ژوند د تیرولو طریقه زده کوی یو متشرق وائي چې د څوارلس سوه کالونه بعد هم د نبی علیه السلام سیرت ختم نه شو او تر دې دور پورې په دې باندې تحقیقات کیږی.

والحمدلله رب العالمین

# سيرت رسول (صلى الله عليه وسلم)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ﴾ (نور:۵۴)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ﴾ (ترمذي)

په اسلامی مياشتو کښې دريمه مياشت د ربيع الاول ده. زمونږ د مسلمانانو په مينځ کښې دا مشهوره ده چې د دے اهميت د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د پيدائش د وجے نه دے.

د نبی کريم صلی الله عليه وسلم پيدائش د عامو خلقو د پاره عموما او د مسلمان د پاره خصوصا لوے نعمت دے. د دے وجے نه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره مينه ساتل د يو مسلمان دپاره لازمی فريضه ده.

نبی کريم صلی الله عليه وسلم هم فرمائي.

﴿لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهٖ وَوَالِدِهٖ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾ (بخاری)

يعنې په تاسو کښې يو تن تر هغے پورے کامل مومن نشې کيدے تر څو چې زه هغه ته د هغه د پلار، اولاد او ټولو خلقو نه زيات محبوب شوے نه يم.

دا رنګ د یومسلمان دپاره ځان پیژندل دومره ضروری نه دی ځومره چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم پیژندګلو ضروری ده.

الله تعالیٰ هم قرآن کریم کښې فرمائي.

﴿ النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ﴾

یعنې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مومنانو باندې د خپلو ځانونو او مالونو نه زیات ګران دے.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حضرت عمر نه تپوس اوکړو چې تاته زه ځومره ګران یم؟ نو حضرت عمر ورته جواب ورکړو چې د هرڅانه راته زیات ګران ئے.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم ترینه تپوس اوکړو چې د ځان نه زیات درته ګران یم؟

نو حضرت عمر چپ شو او بیا لږ ساعت پس ئې اوفرمائیل چې او د خپل ځان نه هم راته زیات ګران ئے.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چې (الاٰ ن یاعمر)

یعنې اوس دے ایمان مکمل شو.

د دے مینے او محبت زیاتولو د پاره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سیرت کتل پکار دي ځکه چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سیر ت په کتلو سره د صحابو د سیرت مطالعه هم اوشي.

دارنګ د سیرت په کتلو سره ایمان کښې زیادت پیدا کیږي.

مولانا محمد ادریس کاندهلوی په خپل کتاب سیرة مصطفی کښې فرمائي.

چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سیر ت کتلو سره ایمان کښې قوت پیداکیږی او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره مینه محبت پیداکیږی.

دا رنګ د سیر ت په مطالعے سره د قرآن کریم د اٰیاتونو او د نبی کریم د ارشاداتو په مطالبو باندی پوهیدل پیدا کیږی.
دا رنګ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سیرت یو کامل سیرت دے چې د زندګئ هرے پهلو ته شامل دے او یوه حصه هم ترینه بهر نیشته.
د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پیدائش نه واخله تر د وفات پورے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم هره خبره محفوظه ده او په سیر ت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم کښې لیکلے شوے ده.
د عیسی علیه السلام سیرت خو څه کئ چې د هغوی کتاب هم محفوظ نه دے.
دا رنګ د موسی علیه السلام د سیرت حال هم دے.
دا اعجاز د قراٰن کریم دے چې اٰیاتونه او کلمات خوڅه کئ زبر ، زیر او حرکات ئې هم محفوظ دی او په کوم حالت او په کیفیت کښې په نبی کریم صلی الله علیه وسلم نازل شوے دے. هغه هم محفوظ دی.
بلکه د کومے خبرے چې د دین او د عمل سره تعلق هم نیشته هغه هم زمونږ په دین کښې او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په سیرت کښې محفوظ ده.
د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د شمائلو سره زمونږ د عمل څه تعلق نیشته خو بیا هم هغه په داسے انداز کښې مونږ ته صحابو رارسولے دې چې د انسان ذهن ته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم صورت مستحضر کیږی.
دا رنګ صحابه کرامو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ګیرے سپین ویختهٔ هم شمیرلے وو او محفوظ دی په سیرت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم کښې.

نو خلاصه دا چې کوم پیغمبر دومره لوے فضیلت لرې نو د داسے پیغمبر سیرت هر وخت بیانول ضروری دی . دا صرف په یو موقع پورے خاص کول د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سیرت بیانولو سره ظلم دے.

محققینو لیکلے دي چې د باران نعمت په ټوله دنیا کښې په چوبیس گهنټو کښې مسلسل جاری وی. کله یو ځاې او کله بل ځاې. خو باران جارې وي. نو دارنګ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم تذکره هم په ټوله دنیا کښې په هر ځاې کښې جاری ده.

ځکه چې د اذان په باره کښې راځي چې په چوبیس گهنټو کښې په مختلفو خطو کښې د اذان اواز مسلسل جاری وی. اذان کښې هم د نبی کریم صلی الله علیه وسلم تذکرے دی.

**اشهد ان محمد رسول الله.**

دا رنګ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم تذکرے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پیدائش نه مخکښې هم کیږی.

زرګونو کاله مخکښې ابراهیم علیه السلام د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د بعثت دپاره د الله تعالیٰ نه دعاء غواړی.

دارنګ تورات کښې د نبی کریم تذکرے دې.

دارنګ عیسی علیه السلام خپل امت ته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د راتلو زیرے ورکوی.

دا رنګ د ټولو پیغمبرانو نه د نبی کریم د رسالت تصدیق او لوظ اغستلے کیږی.

مشکوٰة شریف کښې یو روایت کښې راځي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د صحابو سره په یو کوڅه کښې روان وو. د یو یهودی کره د هغه لسو کالو ماشوم وفات کیدو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم د هغه

پوختنے له ورغے نو د هغه پلار د هغه سر ته د تورات تلاوت کوو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل چې ستاسو په دے تورات کښې زما تذکره ، علامه یا صفت شته؟

نو دے یهودی جواب ورکړو چې نه. ستا تذکره پکښې نیشته. دغه وخت هغه ماشوم رابیدار شو او وے فرمائیل. چې (کذب ابی) ځکه چې تورات ستا د تذکرو نه ډك دے او بیا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په دعوت د غه ماشوم مسلمان شو.

دا رنګ یو ورځ ابو سفیان د خپل ملګری سره روان وو چې ناڅاپه په یو هوسئ ئې نظر شو چې شیر مخ ورپسے وو. نو چې هوسئ کله حرم ته داخله شوه نو شیر مخ واپس شو. نو ابوسفیان دے خپل ملګری ته اوونیل چې څومره د تعجب خبره ده چې الله تعالیٰ زمونږ دے حرم له دومره عزت ورکړے دے.

شیرمخ چې کله دا خبره واؤریده نو اودریدو او ګویا شو چې د دے نه زیات د تعجب والا خبره دا ده چې ستاسو په دے وطن کښې یو سړے تاسو لره جنت ته رابلی او د هغے دعوت درکوی او تاسو ځانونه جهنم ته رابلئ.

دا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم رفعت شان دے چې الله تعالیٰ په خپل قرآن کښې فرمائیلی دی چې وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ (اشراح:۴)

الله تعالیٰ دے مونږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په سیرت باندې روان کړی. امین

# کامل اسوهٔ حسنه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ﴾ (الاحزاب:۲۱)

د قرآن مجید دَ یو آیت مبارکه څۀ حصه تلاوت شوه. په دې کښې الله رب العزت مونږه ټول امت ته د نبی ﷺ د سیرت، اسوهٔ حسنه خپلولو ترغیب راکوی. د نبی ﷺ سیرت د هغه قول او فعل ستاسو د پاره د اقتداء یوه بهترینه نمونه ده. جدید اصطلاح کښې دی ته رول ماډل (RoolModel) وائی که یو انسان غواړی چه مونږه چا پسے روان شو د چا زندګی خپله کړو، څوك دخپل ځان د پاره مشعل راه جوړ کړو نو هغه د محمد رسول الله ﷺ ذات بابرکت دے بلکه د نبی ﷺ اسوهٔ زندګی کامله زندګی او سیرت دے.

او دا ځکه کامله اسوه ده چه الله رب العزت پخپله د هغے ترغیب مونږه ته راکوی چې دا خپل کړے. د کوم څیز چې خالق کائنات خپله ترغیب ورکوی یقینًا د هغے د پاسه بله طریقه حیات بله اسوه زندګی نشی کیدے بلکه که نن امت د نبی سیرت مخے ته کړی او په صحیح طریقے سره په هغے باندې پابند عمل شی نو زمونږه د تمامو مشکلاتو حل د نبی ﷺ په سیرت مبارکه کښې دے.

د نبی ﷺ سیرت څنګه چې ایمانیات، عقائد اخلاقو کښې دے هغه شان عقیده اختیار کړے، څنګه عمل او اخلاق چې د نبی ﷺ وو هغه شان عمل او اخلاق اختیار کړے څنګه عبادات چې د نبی ﷺ وو

هغه شان عبادات اوکړے ځنګه غم،ښادی چې نبیﷺ کړے وو هغه شان غم او ښادی اوکړے. غرض دا چې د نبیﷺ طریقه د هغه اسوه زمونږه د پاره په عالمی مسائلو کښې، سماجی مسائلو کښې، معاشرتی مسائلو کښې، انفرادی او اجتماعی مسائلو کښې دا زمونږه د پاره ضروری او لازم ده. قابل اتباع نه بلکه واجب الاقتداء دی په کښې زمونږه د پاره خپل پیغمبر چې څۀ کړی دی یا د څۀ ارشاد او تعلیم هغه ورکړے دے دا هر څۀ په امتی بحیثیت امتی لازم او ضروری دی.

## د سیرت مطالعه او مسائلو حل:

او دا هر څۀ هله کیدے شی چې انسان د نبیﷺ د سیرت د هغۀ د ژوند مطالعه اوکړی او بیا د هر قسمه مسائلو د حل په هغے کښې تلاش کړی د دې ډیر مثالونه دی لکه د نبی جهادی، دفاعی جنګی ژوند کوم غزوات چې نبیﷺ کړی دی په دې کښې د نن صبا دور مجاهدینو جنګیالو د پاره لوئے عبرت دے لکه د نبیﷺ د خپل دور لوې عظیم سپه سالار کمانډر دے د هغه دا ژوند مسلمان خو لا څۀ چه کافر هم د دې قائله دے چې هغه یو عظیم سپه سالار دے عظیم جرنیل دے ځکه د نبیﷺ د غزوه احد او غزوه بدر پالیسی یا د خندق منصوبه که انسان مطالعه کړی نو ماهرین جنګ نن هم هغے ته حیران دی!. بیا د میدان جنګ نظم وضبط سنهبال ساتل دغه شان د نبیﷺ د مدینے ژوند کښې څۀ د پاسه سل واړۀ غټ جنګونه شوی دی او په دې کښې مجموعی تعداد او اموات څۀ د پاسه زر (1018) دی. دا ډیر کم معمولی تعداد دے. په سل جنګونو کښې دومره تعداد مړۀ کیدل ډیر معمولی تعداد دے او د معمولیت اندازه انسان ته هله کیږی چه د دنیا جنګ عظیم حالت مخے ته کړی. پهلی، اوّل جنګ عظیم چې ورته وائی په هغے کښې دوه

کروړه انسانان برباد شوی دی، په جنګ عظیم دوم ثانی کښې پانچ کروړ انسانیت مړۀ شوی دی. دا فرق دے په غزوات نبوی او د دې زمانے په جنګ کښې حالانکه نن یورپ او مغرب نبیﷺ ته دهشت ګرد وائی او یوه عظیمه فتنه او پروپیګنډه ئے د مسلمان خلاف برپا کړې ده، دهشت ګرد ځکه دې چې هغه په سل جنګونو کښې شرح فیصد اموات (1018) او ستا په دوؤ جنګونو کښې شرح فیصد اموات سات کروړ دے او دا اوس چه کومه فتنه او فسادات په دنیا کښې امریکے او کفر برپا کړے دے چې په عراق کښې کوم قتل اوشو په شام، لیبیا، فلسطین کښې چې کوم قتل شوې دې او کوم قتل و غارت چې په افغانستان کښې شروع دے او دغه شان په کشمیر کښې چې کوم معصوم بچی د هغې وینے توے شوے، بوډے ګانې کمزوری خلق شهیدان شو او دا هم لوې فرق دے چې په سل کاله جنګ کښې هیڅ کله بغیر د جنګیالی نه بل انسان نه دے مړ شوے. نۀ بوډا مړ شوے، نۀ زنانه مړه شوې ده دا ټول هر څۀ محفوظ دی. دغه شان نبیﷺ یو لوې منتظم هم وو او دا خبره د مسلمان سره کافر هم منی داسے نورې ډیرې کارنامے دی.

## د مدینې ریاست:

کله چې نبیﷺ هجرت اوکړو مدینے ته د هغه ځائے آبادی (10000) دس هزار وه او په دې کښې (500) کسان مسلمانان وو نبیﷺ چې کله هجرت اوکړو نو د مدینے خلقو سره دا خطره او یره پیدا شوه چه دغه ځائے به مسلمان ریاست شی او بیا به په یو ځل په مونږه حمله آور کیږی نو دهمکیانې ئے شروع کړې چې تاسو یا به نۀ اوسیږئ او یا به مونږه په تاسو باندې حمله اوکړو نو نبیﷺ په دغه موقع دا حکمت عملی اختیار کړه چې یکدم دۀ شپږو میاشتو په دورانیه کښې

ئے د مدينے ټول سرداران، مشران راجمع کړل. په هغوی کښې يهود،نصارٰی او مشرکين مدينه هم پکښې راجمع شوی وو او مسلمانان هم دوه ډلے د مدينے خپل خلق او باهر نه راغلے مهاجرين او د هغوی سره ئے معاهدې اوکړے په دغه طريقه اسلامی رياست وجود ته راغے نو که نبیﷺ دا نهٔ وے کړے نو مکے والو به حمله آور کيدل بيا که روستو حمله اوکړی نو نبیﷺ به دَ دشمن محفوظ نه وی ځکه د هغوی سره معاهده وه او که داسے نه وی نو د مدينے يهودو، نصاراؤ او مشرکينو نه خطره اول پيدا کيده، منافقينو به همت کړے وے، نبیﷺ دا ټولې دراوزې بندې کړې او صرف بيرونی دشمن ته ئے مخه شوه او اندرونی اختلافات او انتشار نه ئے مدينه بچ کړه.

## د مدينې په رياست کښې امن وامان:

د نبیﷺ د هجرت نه بعد په مدينه کښې دوه قبيلے وے يوے ته اوس وئيلے کيږی، بل ته خزرج او دوی به هميشه خپل مينځ کښې جنګ جهګړے کولے د نبیﷺ د راتلو سره هغوی خپل مينځ کښې رونړه رونړه شو. اندرونی اختلاف، انتشار، افتراق، نسل پرستی، قوم پرستی، لسان پرستی هر څهٔ يو طرف ته شو ځکه دا څيزونه د ملك د پاره يو ناسور وی. دې سره ملك تباه کيږی نو پيغمبر دا هر څهٔ ختم کړل. دغه شان د باهر نه چې کوم مهاجرين راغلی وو د هغوی د پاره ئے يوه عجيبه منصوبه بندی اوکړه. داسے ئے او نهٔ کړل چه د مهاجرينو د پاره ئے جدا کيمپونه جوړ کړل نا داسے د الله پيغمبر اونهٔ کړل بلکه هغه مهاجرين ئے د مدينے په آبادئ، کورونو، زمکو کښې آباد کړل ځکه دغه ځاې يوه نوې معاشره وجود ته راتله او تشکيل کيده نو د داسے قوم اونچ نيچ ختمولو د پاره نبیﷺ دغه ځائے کښې ټول په اتفاق کړل دلته هميشه قيام وو دوباره

مکې نه تلل نه وو نو دلته ئے خپلو کښې رونړه رونړه کړل په خپلو کښې ئے تقسیم کړل خو دا تقسیم د رورولے تقسیم وو. چې دا د کور مسئلے په کور کښې ختم شی دغه شان د مدینے د ریاست او مملکت حدود اربعه مقرر کړے شو ځکه که حدود مقرر نه شی نو خطرات پیدا کیږی اعلان نبیﷺ کړے وو چې د مدینے ریاست حدود د مشرق او مغرب طرف ته ما بین اللابتین د دې دوو غونډو تر مینځه دې شمال او جنوب طرف نه جبل ثور نه واخله تر جبل عیر پورے ئے دا حدود مقرر کړل او دومره غټ حدود ئے ځکه مقرر کړل چې د مدینې خپل مسلمانان هم وو او د باهر نه راغلی د مکے مسلمانان به هم وی نو د هغوی د پاره یو لوئے زمکه پکار وه.

بیا دغه مردم شماری په مختلف موقعو نبیﷺ کړے ده په دویمه هجرۍ کښې بیا د صلح حدیبیه په موقع بیا په آخری کال کښې هم دا د دې د پاره چه دې ریاست کښې مسلم آبادی زیاته شی او د دې ډیرے فائدې دی یو دا چې د مسلمان د تعلیم او تربیت انتظامات برابر شی.

## د اسلام دوه طریقې په دې ملك کښې:

او د تعلیم ، تربیت ، مسلم ریاست غټے فائدے دا هم دی چې زمونږه دې ملك ته اسلام په دوۀ طریقو سره راغلې دے یو د عربو په لاره باندې بل د افغانستان دَ اولیاؤ او علماؤ په لاره چې هغوی به روان وو په لاره کښې یو قوم یو علاقے والا سره به ملاؤ شو غټے غټے خبرے به ئے ورته اوکړې او بیا به ئے هجرت اوکړو دا لوئے اولیاء نظام الدین اولیاء، اجمیر صاحب، پیر بابا، کاکا صاحب وغیره دا ټول خلق بیا به لاړل خو د دغه ملك ریاستی نظام نه وو ځکه زمونږه په دې ملك کښې د

هندوانو رسمونه او رواجونه عام دی او خلقو ته د اسلام طریقه ښکاری دا غتهٔ د خطرے خبره ده.

بل د ریاست د قیام فائده دا وه چې هلته عام باندو والا خلق وو ساده مزاج والا کلك خلق وو نو نبیﷺ اراده دا وه چه دا خلق د دې ځائے نه خوارهٔ شی او د دوی د ځان سره ښهٔ اخلاق ښهٔ سلوك نرم مزاج تعلیم اغستے وی نو په صحیح توګه به د اسلام پرچار او ترجمانی اوکړی.

دغه شان نورے ډیرے منصوبے لکه کله چه مکه فتح شوه نو نبیﷺ بیا په هجرت باندې پابندی اولګوله او دا ئے اوفرمائیل﴿لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ﴾(مسند ابوداود طیالسی) د فتح مکه نه بعد هجرت نشته څهٔ مطلب دا مسلمان ریاست نور هم وسیع شو نو د دې وجے نه فتح مکه نه بعد هجرت نشته اوس تمام جزیرة العرب مسلمان شوه اوس که مسلمان کوم ځائے کښې وی نو دا مسلمان دې مخکښې صرف مدینه وه او بله دا وجه وه چه هسے نه چه د مدینې آبادی ډیره زیادته شی او بله مسئله پیدا نه شی نو نبیﷺ ارشاد اوکړو چه اوس په خپل خپل ځائے کښې اوسیږے. او د اسلام د نشر واشاعت کوشش کوے.

## دمدینې نه باهر قیام:

یوه قبیله وه مزینه ورته وائی د مدینه نه شل میله باهر پاتے کیده هغوی سل کسان مسلمان شو نو هغوی مدینې ته راتلل نبیﷺ ورته اووئیل تاسو په خپله علاقه کښې اوسیږے هغوی اووئیل یا رسول اللهﷺ د هجرت اجر و ثواب نه به محرومه شو. نبیﷺ ورته اووئیل الله ئے تاسو ته درکوی او پوره اجر و ثواب درکوی په خپل علاقه کلی کښې اوسیږے او تاسو ته به د مهاجرینو ټول مراعات ملاویږی.

بل یو صحابیؓ دے د هغه نوم سلمه بن الاکوعؓ دے هغه د

دي وجه نه باهر تلے وو چه د نبی ﷺ نه ئے اوریدلی وو چه تاسو د مدینه خواؤ شاه مضافات،درے آبادې کړئ، ځکه مدینه کښې آبادی زیاته شوې وه او ابو ذر غفاری رضی الله عنه وائی چه نبی ﷺ فرمائی کله چې د مدینه آبادی جبل سلع ته اورسی بیا تاسو مدینه پریږدے او شام ته لاړ شے دا عجیبه منصوبه بندی ده د پیغمبر ﷺ او نن صبا غټه مسئله یوه دا ده ګنجان ابادی مطلب ډیره ګنړه آبادی په یوځائے راجمع شی نو ژوند تیرول ګران شی ځکه نبی ﷺ نوې ښارونه آباد کړل ځکه عمر رضی الله عنه په خپل دور خلافت کښې بصره او کوفه نوې ښارونه آباد کړل دا خبره څوارلس سوه کاله مخکښې شوې ده خو څوك چې ورباندې عمل کوی او څوك چې د سیرت مطالعه کوی. و الحمد لله رب العالمین

# زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او دین خصوصیات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ (المائدۃ:۳)

د سورت مائده په دې آیت کښې الله رب العزت د نورو پیغمبرانو په نسبت د نبی علیه السلام یو عظیم خصوصیت بیانوی او دا د دې دین خصوصیت هم دې په نسبت د نورو دینونو باندې دا یقینی خبره ده چې ټول پیغمبران انسانان او بشر وو، هیڅ یو پیغمبر نورانی مخلوق یعنې فرشته یا ناری مخلوق یعنې جنی پیرې نه وو.

پیغمبران ټول بشر او انسانان وو د انسانانو نه پیدا شوې وو او د انسانانو سره ئې نکاح شوې وه او د دوی نه هم انسانان پیدا شوې دی، عام انسان او پیغمبر کښې فرق دا وی چې پیغمبر ته الله وحی کړې وی او عام انسان ته وحی نۀ وی شوې.

دغه شان پیغمبران ټول د ګناهونو نه پاک صفا او معصوم وی لیکن عام انسان دا شان نه وی که ولی وی که بزرګ وی او که عالم وی دا ټول ګناهګار کیدې شی لیکن پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ګناه نه پاک وی دا صرف د پیغمبر خصوصیت وی.

د عربو دا عادت وو چې خپل بچی به ئې بانډو والاؤ ته ورکول چې د دغه بچی تربیت او کړی نبی علیه السلام د حلیمه رضی الله عنها سره وو د هغې خپل بچی هم وو او دا هم ورسره وو د ماشوموالی په وقت کښې حلیمه رضی الله عنها خپله سینه به نبی علیه السلام ته ورکوله چې په سینه کښې به پې ختم شو نو نبی علیه السلام ته به ئې دا بل طرف ورکول غوختل چې دا مور شی نو نبی علیه السلام به ترینه مخ واړو.

په دغه وخت کښې نبی علیه السلام ته وحی نه ده شوې لیکن دا بزبان حال دلیل دې چې څلویښت کاله بعد به الله ماته نبوت راکړی او زۀ به خلقو ته دا تعلیم ورکومه چې تاسو د خپلو رونړو حق مۀ قبضه کوې.

داسې ډیر واقعات شته دې چې نبی علیه السلام د ماشوم والی په دور کښې هم د الله د دست قدرت نه لاندې وو او د الله مدد ورسره شامل حال وو.

ماشوم والی په دور کښې ماشوم د پلار طرف ته ګوته نیسی د نبی علیه السلام د پیدائش نه مخکښې ئې خپل پلار وفات شوې دې او کۀ مور ژوندۍ وی نو مور طرف ته ګوته نیسی دغه مور هم ترینه الله د شپږو کالو په عمر کښې واغیسته دا د دې وجې نه چې د پیغمبر تربیت براه راست الله کوی دا د پیغمبر خصوصیت دې.

د عامو پیغمبرانو په نسبت هم د نبی علیه السلام خصوصیات شته دې لیکن د عام پیغمبرانو دعوت د هغوی د قوم، علاقې په سطح باندې وو لکه الله فرمائی:

**لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ(الاعراف:۵۹)**

یعنې ما نوح علیه السلام د هغهٔ د قوم د هدایت د پاره مبعوث کړې دې دغه شان عادیانو ته هود علیه السلام ثمودیانو ته صالح علیه السلام او مدین والا ته الله شعیب علیه السلام مبعوث کړې وو، بنی اسرائیلو ته موسی او عیسی علیه السلام الله مبعوث کړې وو.

نو هر پیغمبر الله یوې خطې، یوې علاقې، او یو قوم والاؤ پورې خاص کړې وی لیکن کله چې الله زمونږ نبی ته نبوت ورکړو نو الله اعلان اوکړو.

**وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِلنَّاسِ.** (سورة سباء:۲۸)

یعنې ما تاله دې ټول قوم او ټول انسانیت د پاره رسول ګرځولې ئې او ته د دې ټول عالم د پاره رحمت ئې، هغه نور پیغمبران د یو قوم یا علاقې د پاره خاص وو لیکن ستا دا نبوت دې ټولې علاقې او د ټول عالم د پاره دې هر پیغمبر به دا نعره ولګوله یاقوم، یا قوم لیکن نبی علیه السلام د یا **ایها الناس** نعره وهلې ده ائ د ټولې دنیا خلقو انی رسول الله الیکم جمیعا، زه تاسو ټولو ته د الله د طرف نه پیغمبر یمه دا صرف د نبی علیه السلام خصوصیت دې.

زمونږ د دین او پیغمبر صلی الله علیه وسلم بل خصوصیت دا دې چې الله هر پیغمبر ته کتاب یا صحیفې ورکړې دې لکه داود علیه السلام ته زبور موسی علیه السلام ته تورات عیسی علیه السلام ته انجیل، آدم، شیث، ادریس، او ابراهیم ته الله اسمانی صحیفې ورکړې وې دغه هیڅ یو کتاب او هیڅ یوه صحیفه نن په دنیا کښې په اصلی شکل او صورت کښې نشته لیکن دا د قرآن او د پیغمبر پاک صلی الله علیه وسلم

معجزه ده چې کوم قرآن الله نبی علیه السلام ته ورکړې وو هغه نن هم په خپل اصلی شکل کښې محفوظ دې او په دې کښې هیڅ قسمه تحریف، ردوبدل نشته، بلکه د عثمان رضی الله عنه په لاسونو باندې لیکل شوې قرآن هغه نن هم د روس ماسکو په عجائب ګهر کښې محفوظ دې دا صرف د نبی علیه السلام دکتاب خصوصیت دې.

د نبی علیه السلام او د نورو پیغمبرانو د معجزو په مینځ کښې فرق دا دې چې الله نورو پیغمبرانو ته محدود معجزات ورکړې وو او نبی علیه السلام ته الله غیر محدود معجزې ورکړې دی او د نورو پیغمبرانو معجزې عملی معجزې وې لیکن د نبی علیه السلام معجزه علمی معجزه ده د نورو پیغمبرانو د معجزو حالت دا دې چې که پیغمبر به په دنیا کښې موجود وو نو معجزه به موجود وه لیکن که پیغمبر به وفات شو هغه معجزه به هم ورسره ختمه شوه لیکن د نبی علیه السلام معجزه د هغه ژوند پورې خاص نه ده بلکه د هغه د ژوند نه بعد هم باقی ده او همیشه به وی.

د دین اسلام بل خصوصیت دا دې چې په دې دین کښې د هر پیغمبر عزت او قدر شته دې په دې دین کښې دا تعلیم دې چې هر پیغمبر قابل قدر دې لیکن نورو دینونو او مذهبونو کښې دا تعلیمات نشته هغوی صرف خپل پیغمبر ته د عزت او قدر په نظر باندې نظر کوی او دخپل پیغمبر نه علاوه نورو پیغمبرانو ته هیڅ حیثیت نه ورکوی بلکه د هغوی بې عزتی کوی.

او زمونږه په شریعت کښې کۀ یو انسان د هر پیغمبر ګستاخی یا بې عزتی اوکړی نو دا کفر دې او که د یو پیغمبرنه انکار اوکړی نو بیا هم دغه انسان کافر کیږی لیکن په نورو شریعتونو او مذهبونو کښې دا تعلیم نشته.

نن که د یهودی نه څوک تپوس اوکړی چې یهودیت د حقانیت د پاره ستا سره څه دلیل دې نو هغه جواب نشی ورکوی او که د یو عیسائی نه څوک تپوس اوکړی چې د عیسائیت په حقانیت ستا سره څه دلیل دې نو هغه سره هیڅ دلیل نشته لیکن که د یو مسلمان نه څوک دا سوال اوکړی.

نو د مسلمان سره ډیر دلائل شته یو دلیل دا دې چې قرآن په خپل اصلی شکل وصورت کښې زمونږه سره موجود دې او په دې کتاب کښې د زبر، زیر، تحریف نه دې شوې او کفر ته دا چلینج قرآن څوارلس سوه کاله مخکښې ورکړې دې او دا به تر د قیامت ورځ پورې وی چې د دې قرآن جواب یا مقابله هیڅ څوک نشی کوی.

د نبی علیه السلام بل خصوصیت دا دې لکه څنګه چې قرآن محفوظ دې دغه شان د نبی علیه السلام سیرت هم محفوظ دې د پیغمبر هر عمل که هغه د کور نه دننه ژوند وی او که هغه د کور نه بهر ژوند وی که هغه په مسجد کښې وی او که هغه په بازار کښې دې نو دا هر قسمه ادا او هر قسمه عمل د پیغمبر محفوظ دې.

د پیغمبر هغه حالات هم محفوظ دې د کومو حالاتو سره چې د عمل تعلق شته دې او هغه حالات هم محفوظ دې د کومو حالاتو سره چې

د عمل تعلق نشته يعنې مونږه د هغې په عمل باندې نۀ يو مكلف كړې شوې لكه صحابى وائى چې د وفات په وقت كښې د نبى عليه السلام په ګيره مباركه كښې اوولس (۱۷) سپين ويختۀ وو.

بل خصوصيت دا دې چې په دنيا كښې هيڅ يو مشر، رهنما، قائد دا دعوى نه ده كړې چې زما د ژوند مقصد پوره شو ليكن نبى عليه السلام دحجة الوداع په موقع د يو لاكهـ صحابوو په ګواهئ سره دا خبره كړې وه چې ائ خلقو كوم مقصد د پاره چې زۀ الله دنيا ته راليږلې ووم هغه پوره كړې شو او كه نه؟

نو ټول صحابو دا ګواهى وركړه چې تا د الله پيغام پوره كړو او الله د دې په باره كښې آيتونه نازل كړل چې نن ستاسو دا دين مكمل شو.

والحمد لله رب العالمين.

# محبت رسول

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللّٰهُ بِأَمْرِهِ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ﴾ (سورۃ التوبۃ:۲۴)

﴿وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ﴾ (صحیح البخاری)

د نبی علیه السلام د رسالت بیان شروع شوې وو ځنګه چې د نورو پیغمبرانو په رسالت ایمان ضروری دې دغه شان په نبی علیه السلام باندې هم ایمان ضروری دې لیکن صرف دا ایمان بغیر د محبت نه کامل کیدې نشی، د ایمان سره ډیر ضروری څیز بیا د نبی علیه السلام محبت دی.

د یو مسلمان د پاره د الله د محبت نه بعد د نبی علیه السلام محبت ډیر اهم او ضروری دې دا د الله او د نبی علیه السلام حکم هم دې او په دې خبره باندې د صحابه کرامو سیرت ګواه دې او که یو انسان د نبی علیه السلام په خیګړو او احساناتو باندې نظر اوکړی نو خپل عقل به ورته داخبره وړاندې کړې چې د نبی علیه السلام سره محبت ضروری دې.

او بله خبره داده چې نن که په دنیا کښې مسلمانان په نظر باندې ښکارې نو دا ایمان دې امت ته د نبی علیه السلام او د هغه د صحابه کرامو د ډیر محنت او قربانۍ د وجې نه ملاؤ شوې دې او په دې باندې د عرفات په میدان کښې چې نبی علیه السلام د خپل امت د پاره کومې دعاګانې غوختلې دې دغه دعاګانې یو ډیر لوې دلیل دې چې نبی علیه السلام به د خپل امت سره مینه او محبت کوو، او دا د امتی خوش قسمتی ده چې هغه د نبی علیه السلام سره خپله رشته قائم کړی.

الله خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ډیر لوې مقام ورکړې دې که دا امت د خپل پیغمبر تعریف اونکړی نو بیا هم نبی علیه السلام ته الله درجه ورکړې ده او الله پخپله په قرآن کښې د نبی علیه السلام تعریف او تذکره کړې ده.

﴿وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ﴾ (الم نشرح:۴) یعنې مونږه ستا ذکر ډیر عالی شان ګرځولې دې په دنیا کښې په هر ځاې کښې د نبی علیه السلام په آذانونو کښې تذکره ده بلکه د نبی علیه السلام تذکره په زمکه، اسمانونو، او د دنیا په هر ځاې کښې کیږی نو زمونږه د نبی علیه السلام سره محبت نه کول او د هغه تذکره نه کول د هغه په شان کښې هیڅ کمی نشی راوستې، لیکن دا صرف یو امتحان دې او الله دا ګوری چې څوک زما د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره مینه کوی او څوک ورسره مینه او محبت نه کوی تر دې پورې چې یو انسان هغه وقت پوری مسلمان نشی جوړیدې کوم وقت پورې چې هغه د الله د توحید سره د نبی علیه السلام د رسالت ګواهی نه وی ورکړې او الله نبی علیه السلام ته دومره غټه

مرتبه ورکړی ده چې الله ورباندې خپله رحمتونه لیږی او فرشتې هم ورباندې رحمتونه او درود شریف وائی او د عام مسلمانانو نه هم الله دا مطالبه کړې ده.

حدیث کښې راځي نبی علیه السلام فرمائی چې یو انسان هغه وقت پورې کامل مسلمان نشی کیدې ترڅو پورې چې ورته زۀ د خپل پلار او بچو نه زیات محبوب نه شمه یو ځل حضرت عمر رضی الله عنه نبی علیه السلام ته اووئیل چې اې د الله رسوله صلی الله علیه وسلم ته ماته د هر څه نه محبوب ئې صرف زما د خپل ځان نه راته ډیر زیات محبوب نۀ ئې.

نبی علیه السلام ورته اووئیل چې ته سوچ اوکړه بیا ورته نبی علیه السلام خپل لاس مبارک په سینه باندې کیخودو، عمر رضی الله عنه اووئیل چې اوس ماته ته د خپل ځان نه هم ډیر زیات محبوب ئې او قرآن کښې الله فرمائی:

﴿النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ﴾ (الاحزاب:٦)

یعنې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره به د مومنانو د خپل ځان نه هم زیاته مینه او محبت وی اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی چې څوک د نبی علیه السلام سره د خپل ځان نه زیاته مینه نۀ کوی نو دا انسان مسلمان نۀ دې.

یو د انسان غیر اختیاری محبت دې لکه د خپلو بچو یا ښځې سره محبت او یو د انسان اختیاری محبت دې دا اختیاری محبت به د انسان د نبی علیه السلام سره د هر څه نه زیات وی.

دغه شان کۀ یو انسان ته د یو طرف نه د خپل مور، پلار حکم وی یا د خپلو بچو حکم ورته وی او بل طرف ته د الله او د رسول حکم وی نو دا انسان به د الله حکم مخکښې کوی او دا نور ټول حکمونه به روسته کوی دا د نبی علیه السلام سره محبت دې، او د دې عملی شکل یقینی طریقې سره صحابه کرامو دنیا ته پیش کړې وو، په تاریخ کښې د صحابه کرامو د محبت په شان محبت د هیڅ یو قوم په تاریخ کښې نشته، دا صحابه کرام وو چې هغوی ټولې رشتې او ټول تعلقات د نبی علیه السلام په محبت باندې قربان کړې وو که یو طرف ته به رور وو یا به پلار یا ترۀ وو نو هغوی به ئې پرېخودل او صرف د نبی علیه السلام په حکم باندې به روان وو.

ابوحذیفه رضی الله عنه یو ځوان صحابی دې دا په میدان جنګ کښې ولاړ وو او بل طرف ته د دۀ پلار ولاړ وو هغه آواز اوکړو هَلْ مِنْ مُبَارِزٍ آیا شته داسې یو انسان چې هغه د مقابلې میدان ته راشی نو ابو حذیفه رضی الله عنه میدان ته روان شو، یو انسان ورباندې آواز اوکړو چې آیا ته د خپل پلار سره مقابله کوې دا خو ستا پلار دې او ستا په رګونو کښې دده وینه شامله ده نو ابو حذیفه رضی الله عنه جواب ورکړو چې د نبی علیه السلام رشتې زما نه دا ټولې رشتې هیرې کړې دی.

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه بچی عبد الرحمن هغه ته وائی چې د احد په میدان کښې زما پلار زما د تورې نه لاندې راغلې وو لیکن ما ورباندې ګوزار او نه کړو ځکه چې دا زما پلار دې، ابوبکر جواب

ورکړو چې که ته زما د تورې نه لاندې راغلې وې نو مابه ستا هیڅ څه لحاظ او خاطر نه وې کړې.

د بدر په موقع چې کوم وقت قیدیان د مسلمانانو لاس ته راغلل نو عمر رضی الله عنه نبی علیه السلام ته اووئیل چې تۀ به خپل ترۀ عباس په لاس خپل باندې مړ کړې او ابوبکر رضی الله عنه به خپل رشته دار او زه به خپل رشته دار په خپل لاس باندې مړ کړمه.

د احد په غزا کښې مصعب بن عمیر رضی الله عنه شهید شوې وو او دا صحابی د نبی علیه السلام سره په شکل او صورت کښې مشابه وو نو مدینه کښې اواز اوکړې شو چې نبی علیه السلام شهید کړې شو په دې آواز سره د مدینې خلق ټول را ووتل په دغه وقت کښې یوه زنانه وه چې هغې منډې وهلې د احد طرف ته په لاره کښې ئې تپوس اوکړو چې نبی علیه السلام څنګه دې.

جواب ورکړې شو چې ستا پلار شهید شوې دې بیا هم روانه وه دوباره ورته په لاره کښې خبر ورکړې شو چې ستا رور شهید شوې دې د دغه زنانه هیڅ پرواه نه وه کوم وقت چې د احد میدان ته دننه شوه او ورته معلومه شوه چې نبی علیه السلام ژوندې دې نو خوشحاله شوه او دا ئې ووئیل چې ستا نه بعد هر مصیبت معمولی مصیبت دې.

الله رب العزت په قرآن پاک کښې د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم د محبت واقعه د خپل امت سره بیان کړې ده الله فرمائې:

**عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ** یعنې په نبی علیه السلام باندې هغه څه ډیر زیات نا خوښ دې کوم څه چې تاسو په تکلیف او مشقت کښې واقع

کوی او بالمؤمنين رؤوف رحيم يعنې په مومنانو باندې ډير شفقت کونکې دې او په يو روايت کښې راځې انما انا لکم بمنزلة الوالد يعنې زۀ ستاسو د پاره د پلار پشان مثال لرم څنګه چې يو پلار د خپلو بچو سره مينه لری دغه شان زه هم ستاسو سره مينه او محبت لرمه.

نو څنګه چې پيغمبر د خپل امت سره محبت کوی دغه شان به امت هم د خپل پيغبر سره مينه او محبت کوی او دا محبت به په داسې درجه کښې وی چې د دې د پاره به هر څه قربان کوی دَ خپل مال پرواه به نه لری د خپل عزت خيال به په دې مسئله کښې نه کوی د خپل نفس او جان به هم هيڅ پرواه نه لرې او هر قسمه رشته به د دې رشتې د پاره قربانی کوې نو د دې نه بعد به دا انسان عاشق رسول جوړيږی صرف په خولۀ باندې د عشق دعوی کولو سره انسان عاشق رسول نشی جوړيدې.

والحمد لله رب العالمين

# د پیغمبر تابعداری او اطاعت کول

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّٰهِ﴾(النساء:٦٤)

﴿وقال تعالى: مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّٰهَ﴾ (النساء:٨٠)

## د نيا ته د پيغمبرانو د راتلو مقصد

د الله رب العالمين لوې احسان او فضل په خپل مخلوق باندې دا دې چې په هيڅ يو دور او زمانه کښې الله خپل بندګان د هدايت او کتاب او رسول نه بغير پريخودلي نۀ دی، په هر دور او په هره زمانه کښې الله پيغمبران راليږلے دی او د پيغمبرانو د راتلو دا عظيم مقصد وو چې دې خلقو ته د الله معرفت حاصل شی او خپل رب او پيژنی او انسان ته دا خبره معلومه شی چې د الله حکم څۀ څيز دې الله په کوم څيز باندې خوشحاله کيږی او په کوم څيز باندې الله ناراضه کيږی.

بيا دغه پيغمبران د الله او د الله د مخلوق په مينځ کښې واسطه وی او د دوی حکم منل لازم وی قرآن کښې الله فرمائی:

وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّٰهِ (النساء:٦٤)

ما چې دا څومره پيغمبران خپلو قومونو ته مبعوث کړی دی نو د دوی د بعثت يو مقصد دې هغه دا چې د الله په حکم سره د دوی تابعدری اوکړی شی او بيا الله فرمائی:

مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّٰهَ (النساء:٨٠)

ځوک چې د نبی علیه السلام تابعداری کوی نو دغه انسان د الله هم تابعدار دې یعنې د انبیاؤ خبره او حکم منل دا د الله حکم منل دی.

## عصمت انبیاء علیهم السلام

او د مخلوق نه مخکښې د الله د حکم اول تابعدار پیغمبر وی، پیغمبر د پیغمبرئ نه مخکښې روسته په هر حالت کښې د الله تابعدار وی او دا ځکه که پیغمبر د الله تعالی تابعدار نشی نو بل چاته به څنګه د اطاعت الهی په باره کښې حکم اوکړی او نورو خلقو ته به څنګه دعوت ورکړی.

او دا حفاظت د ګناهونو نه د نبوت د ډیوې نه مخکښې هم وی الله په قرآن کښې فرمائی د ابراهیم علیه السلام په باره کښې:

**وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ** (الانبیاء:۵۱)

یعنې مونږه ابراهیم علیه السلام ته د نبوت نه مخکښې د هغهٔ پوهه او قوت حکمت او دانشمندی د نبوت نه مخکښې ورکړې وه او مونږه په دې باندې پوهه یو چې دا د الله د نافرمانۍ نه ځان بچ کونکې انسان دې او د یوسف علیه السلام په باره کښې راځې چې **إِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ** (یوسف:۳۳) الله که تهٔ زما نه د دوی دا تدبیر لرې نهٔ کړې نو زهٔ به ورته میلان اوکړمه نو پیغمبران ټول د الله په حفاظت سره محفوظ وی د هر قسم ګناه نه دا یو پاک جماعت دې.

د نبی علیه السلام نه یوځل تپوس اوکړې شو چې اې د الله پیغمبره! د نبوت نه مخکښې په مکه کښې ډیر بوتان وو هغه وخت کښې تاسو د یو بت عبادت کړې دې او یا تاسو په یو موقع چرته شراب څکلی دی.

نبی علیه السلام جواب ورکړو چې نۀ ما شرک کړې دې او نۀ ما شراب څکلي دې بلکه د نبوت نه مخکښې هم دا ماته ګناه ښکاریده.

یو صحابی دې زید بن حارثه رضی الله عنه هغه د نبی علیه السلام یوه واقعه د نبوت نه مخکښې بیانوی چې زۀ د نبی علیه السلام سره وومه اوما طواف اوکړو د طواف نه بعد ما د مشرکانو مطابق د صفا او مروه دوو بتانو اساف او نائله نه سر لاندې کړو نبی علیه السلام منع کړم چې داسې مۀ کوه صحابی وائی چې ما دغه کار دوباره اوکړو نو نبی علیه السلام ماته غصه شو او راته ئې اوئیل چې تۀ مانۀ وې منع کړې چې داسې مۀ کوه او بیا وائی چې نبی علیه السلام ما د نبوت نه مخکښې هم چرته د شرک په کار باندې نۀ دې لیدلې.

او دغه شان مشرکانو یو ځل طعام روټۍ تیاره کړې وه نبی علیه السلام د هغې د خوړلو نه انکار اوکړو تپوس او شو چې تۀ دا ولې نۀ خورې نو نبی علیه السلام جواب ورکړو چې دا د مشرکانو په نوم باندې منخته ده ځکه دا نۀ خورمه، زۀ صرف هغه څیز خورمه چې کوم څیز د الله په نوم باندې حلال کړې شوې وی او په دغه موقع زید بن عمرو بن نفیل هم د دغه خوراک نه انکار کړې وو.

## نذر عبادت دې

او قرآن پاک بار بار دا مسئله په مختلفو طریقو سره بیان کړې ده لکه الله فرمائی: **إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ** (البقرة:۱۷۳)

يعني الله مرداره حرام کړې ده دغه شان وينه د خنزير غوښه او کوم څيز چې د الله نه علاوه د بل چا په نوم باندې حلال کړې شی او زمونږ په شريعت کښې دا مسئله ده چې نذر او منخته عبادت دې او دا د بل چا په نوم باندې کول حرام کار او شرک دې په بحر الرائق کښې علامه ابن نجيم فرمائی: النذر عبادة والعبادة لغير الله كفر، يعنې نذر عبادت دې او د الله نه علاوه د بل چا عبادت کول کفر او شرک دې.

د نذر مطلب دا دې چې د يو انسان حاجت ضرورت الله پوره کړی او دا په خپل ځان باندې د الله د رضا د پاره يو څيز لازم کړی مثلاً که يو بنده ته الله بچې ځوې ورکړو او دۀ په خپل ځان باندې ګډ يا چېلې لازم کړو چې دا به حلال کړم نو دا نذر دې د نذر په باره کښې الله قرآن کښې فرمائی: (**وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ**) (سورة حج: ۲۹) يعنې دا خلق دې خپل نذرونه او منختې پوره او مکمل کړې خو دا نذر او عبادت به صرف د الله په نوم او د الله د رضا د پاره وی د بل چا غير الله قربت به پکښې مقصود نۀ وی.

## د نذر او خيرات په مينځ کښې فرق

د نذر او عام خيرات په مينځ کښې فرق دا دې چې نذر به انسان صرف غريبانانو او مسکينانو ته ورکوی خپل اهل وعيال باندې به ئې نۀ خوری او عام خيرات انسان په خپله او خپل اهل وعيال او عام غريبانانو ته هم ورکولې شې خو دا دواړه به صرف د الله په نوم باندې وی او د الله نه علاوه د بل مخلوق په نوم باندې به نه وی بلکه قرآن کريم نذر لغير الله ته اوؤه (7) کرته شرک وئيلې دې قرآن پاک کښې الله د مور سره نکاح حرامه کړې ده د جاهليت په دور کښې که پلار به مړ شو نو بچی به مور

په نکاح واغستله قرآن کښې الله حکم نازل کړو ﴿وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ﴾ (النساء:۲۲) يعنې د کومې ښځې سره چې پلار نکاح کړې وی بچې به د دغه ښځې سره نکاح نۀ کوی که خپله مور وی او که میرنه مور وی دا په دواړو صورتونو کښې حرام کار دې.

غرض دا دې چې قرآن د مور د نکاح حرمت صرف يو ځل ذکر کړې دې او د نذر لغیر الله ذکر ئې اوؤه (7) ځله کړې دے مطلب دا دې چې د الله نه علاوه د بل چا په نوم نذر او منخته کول د مور سره د نکاح کولو نه غټه او لويه ګناه ده خو سره د دې تاکيد نه مسلمانانو ته دا ګناه نه ښکاريږی.

دغه وجه ده چې نبی علیه السلام د نبوت نه مخکښې هم د قريشو د نذر نه انکار کړې وو او هغه ئې نه دې خوړلې.

او زيد بن عمرو بن نفيل هم د دغه خوراک نه انکار کړې وو دۀ به په خپل بيانونو کښې وئيل ائ خلقو! دا نذر کړې شوې څيزونه ګډه چيلۍ غوا الله پيدا کړې دی او دا تاسو د الله نه علاوه د بل چا په نوم باندې د خپل ځان د پاره حلال ګرځوی، په دې خبره به مکې والو او وهلو او وينې به ئې ورباندې روانې کړې.

ددې ټول تفصيل مطلب دا دې چې نبی علیه السلام د نبوت نه مخکښې هم هيڅ ګناه نۀ ده کړې نه ئې شراب څکلې دې او نۀ ئې زنا کړې ده او نۀ ئې د بتانو عبادت او نذر کړې دے د هر قسمه ګناه نه الله محفوظ کړې وو.

دغه شان نبي عليه السلام د نبوت نه بعد هم هيڅ ګناه نۀ ده کړې عائشه رضی الله عنها فرمائی نبی عليه السلام چې به خپل کور ته داخل شو نو په کور کښې به د خوراک د پاره څو څو ورځې اور نه وو بل شوې که څه کهجورې يا پئ به تيار وو نو نبی عليه السلام به اوڅکل او که نور څه به وو نو نبی عليه السلام به تپوس کوو **مِنْ اَيْنَ هٰذَا** يا عائشه، ائ عائشې دا څيزونه د کوم طرف نه راغلې دی، که جواب به ملاؤ شو چې دا فلانی صحابی راليږلے دې نو بيا به ئې اوخوړو دا تپوس به نبی عليه السلام ځکه کوو چې په دې کښې احتياط دې ځکه د بې احتياطې د وجې نه آدم عليه السلام د جنت نه دنيا ته راکوز شوې وو.

زمونږه خلقو کښې دا احتياط نشته که خوراک څنګه وی خو چې خوړلې کيږی نو هيڅ پرواه نۀ کوی د محرم په موقع باقاعده شيعه دا وائی: نذر خدا نياز حسين يعنې د حسين په نياز او د هغه د نامې نو دا هغه نذر لغير الله دې.

## د غير اللّه په نوم منلې شوې څيز په بسم اللّه وئيلو سره نه حلاليږی

شاه عبد العزيز دهلوی رحمه الله فرمائی: که يو انسان د الله نه علاوه د بل چا په نوم باندې نذر اوکړی او بيا د ذبح وخت کښې ورباندې کلمه اووائی يا د خوړلو په وخت کښې ورباندې بسم الله اووائې نو بيا هم دغه څيز سره د دې کلمې نه حرام دې لکه څنګه چې خنزير حرام دغه شان د دې مثال هم دې ځکه د شرک نجاست په دغه څيز کښې دننه شو

او فقهاء وائی کوم څيز چې د غير الله په نوم حلال يا نامزد کړې شی دغه څيز به حيواناتو او ځاروو ته هم نشی ورکړې کيدې ځکه په دې کښې د غير الله تعظيم دې بلکه دغه څيز به دفن کيدې شی.

نور پيغمبران د نبوت نه مخکښې او بعد دواړو زمانو کښې د بد اخلاقۍ، دَ ګناهونو او شرکياتو نه محفوظ کړې شوې وی او وجه داده چې پيغمبر د قوم د اصلاح او هدايت د پاره راغلې وی که د هغۀ خپله اصلاح نۀ وی شوې او هدايت يافته نه وی نو بل چاته به څنګه د دې په باره کښې حکم اوکړی.

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

# نبی علیه السلام یو عظیم رهنما

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ﴾ (آل عمران:۱۶۴)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم: لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾ [بخاری]

د الله رب العزت په دې مخلوقاتو باندې خصوصا انسان باندې ډېر زيات بې شماره انعامات او احسانات دی.

که يو انسان صرف په خپل ځان باندې نظر اوکړی نو د انسان دا وجود هم د الله يو عظيم الشان نعمت دې ځکه انسان د خپل ځان د پاره دنيا ته د راتلو او موجود کيدلو هيڅ څه سوال نه وو کړې او بيا د انسان په دې بدن کښې هر هر اندام د الله رب العزت يو عظيم نعمت دې.

او همدغه وجه ده چې يو حديث کښې راځې چې هر سحر صبا په وقت کښې په انسان باندې ددۀ د اندامونو صدقه واجب ده او د دې صدقې نه دوه رکعت دچاشت مونځ ادا کول کافی کيږی، نو د انسان په جسم او خارج کښې الله په انسان دومره بې شماره نعمتونه کړې دی چې دغه نعمتونه په شمير کښې نه راځی.

او بيا په دې کښې د ټولو نه غټ او عظيم نعمت هغه د نبی عليه السلام دنيا ته بعثت دې.

د نبي علیه السلام بعثت عظیم دې دا ځکه چې د الله نعمتونه دوه (۲) قسمه وی یو ظاهری نعمتونه دي او دویم باطني نعمتونه دی، ظاهری نعمتونه هغه دي چې هغه هر انسان ته په نظر باندې راځی او انسان ته ښکاری چې دا د الله نعمت دې او باطني نعمتونه هغه دی چې هغه انسان ته په نظر باندې نۀ ښکاره کیږی لیکن په قرآن او په حدیث کښې الله بیان کړې دی او په انسانانو باندې الله د هغې احسان کړې دې لکه: ایمان، اسلام، بعثت رسل، دغه شان عقل، علم، سخاوت او نور ډیر نعمتونه دی، په دې ظاهری او باطني نعمتونو کښې د ټولو نه عظیم نعمت هغه د نبي علیه السلام بعثت دې ځکه الله په سورة آل عمران کښې فرمائی:

﴿لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ﴾
(آل عمران:۱۶۴)

یعنې الله په دې مؤمنانو باندې ډیر غټ او عظیم احسان کړې دے ځکه چې الله دوی ته پیغمبر رالیږلے دې او د دې وجې نه د الله د نعمتونو او احساناتو نه بعد لوې نعمت او احسان د دې امت سره هغه د نبي علیه السلام احسان دې.

چې نبي علیه السلام د دې امت مسلمه سره ډیر غټ احسان کړې دې او د نبي علیه السلام د وجې نه دې امت ته اشرف الامم وئیلې شوې دی، او الله چې څنګه په دنیا کښې په دې امت باندې د نبي علیه السلام احسان کړې دې.

دغه شان به په آخرت کښې هم د نبی علیه السلام ډیر عظیم احسان د دې امت سره وی او شفاعت به کوی ځکه نبی علیه السلام ته د دې امت عظیم محسن وئیلې کیږی.

په مسلمان، مؤمن، امتی باندې دا خبره ډیره لازمی ده چې د دهٔ اخلاق کردار، مسجد، حجره، معاشره، معاملات، غرض هر قسمه حکم کښې به د نبی علیه السلام د سنت طریقې تابعدار وی او په دې باندې به عمل کوی که یو انسان د دې نه انحراف او اعراض اوکړی نو دا د دې انسان د پاره د تباهۍ او بربادۍ ذریعه ده ځکه الله فرمائی:

**لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الاحزاب:۲۱)**

یعنې ائ خلقو ستاسو د پاره د نبی علیه السلام په ژوند کښې یوه بهترینه او ښائسته طریقه د عمل شته دې.

د نبی علیه السلام څه حقوق دې چې د دغه حقوقو خیال او لحاظ به هر انسان کوی که د دغه حقوقو خیال اونکړی نو دا انسان خپل ځان ته د نبی علیه السلام امتی نشی وئیلې او په دې حقوقو کښې بیا دوه خبرې ډیرې زیاتې ضروری دې یوه خبره هغه د نبی علیه السلام اطاعت دې او دویمه خبره هغه د نبی علیه السلام سره محبت دې دا دواړه خبرې په مسلمان باندې ډیرې لازمی دی که یو مسلمان کښې دا دوه څیزونه نه وی او بیا د نبی علیه السلام د امتی کیدو دعوی کوی نو دا انسان په دې خپله دعوی کښې دروغژن دې او دا صرف د خولې په دعوی سره امتی دې په عمل او په نفس الامر کښې د نبی علیه السلام امتی نه دې.

نن هر څوک د محبت رسول او عشق رسول دعوی کوی او حقيقی محبت رسول دا دې چې يو انسان خپل ځان خپل مال، او خپل وقت د نبی عليه السلام د پاره قربان کړې دا حقيقی محبت دې.

حديث کښې راځی نبی عليه السلام فرمائی: **لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ**

يعنې يو انسان هغه وقت پورې کامل مسلمان نشی جوړيدې تر څو پورې چې زۀ دغه انسان ته د خپل پلار، بچو او ټولو انسانانو نه محبوب او خوښ نشمه، که د يو انسان د خپل پلار، بچو، رشته دارانو سره مينه ډيره وه او د دغه انسان د نبی عليه السلام سره مينه نه وه نو دا انسان کامل امتی نه دې.

حضرت عمر رضی الله عنه يو ځل نبی عليه السلام ته عرض اوکړو چې ائ د الله رسوله صلی الله عليه وسلم تۀ ماته د هر څه نه زيات محبوب ئې مګر زما د نفس نه راته زيات محبوب نه ئې نبی عليه السلام اوفرمائيل چې د بنده ايمان هغه وقت پورې کامل نشی کيدې تر څو پورې چې ورته زۀ د هر څه نه محبوب نه يمه.

عمر رضی الله عنه عرض اوکړو چې ائ د الله رسول اوس راته تۀ د خپل ځان نه هم ډير زيات محبوب ئې، او يو بل صحابی دې هغه مشرکانو ګرفتار کړې وو او ورته ئې اووئيل چې آيا ته داخبره خوښه ګڼړې چې ستا په دې ځاې کښې نبی عليه السلام شهيد کړې شوې وې او هغه قتل شوې وې دغه صحابی جواب ورکړو چې د نبی عليه السلام شهادت او قتل ډيره لويه خبره ده زه دا هم نه خوښوم چې د نبی عليه السلام په خپه

کښې دې يو ازغی لاړشي يعنې زۀ د خپل ځان په بدله کښې دومره وړوکی تکليف هم د نبی عليه السلام په حق کښې نه برداشت کوم او دا خبره خو ډيره بعيده ده چې هغه قتل کړې شي.

حضرت حسان رضی الله عنه د نبی عليه السلام په محبت کښې به اشعار وئيل:

اِنَّ اَبِیْ وَوَالِدَهُ وَعِرْضِیْ
لِعِرْضِ مُحَمَّدٍ مِنْكُمْ وَقَاءُ

يعنې الله دې زما پلار، نيکه او د هغوی عزت د نبی عليه السلام عزت نه قربان کړی، اوکه صحابه کرام به هم د نبی عليه السلام مجلس ته دننه شو نو نبی عليه السلام ته به ئې وئيل: فداک ابی وامی، يعنې ائ رسول الله صلی الله عليه وسلم په تاسو باندې دې زما مور پلار قربان شی، د صلح حديبيه په موقع باندې مشرکان راغلې وو د معاهدې د پاره نبی عليه السلام اودس کوو د اودس چې کومې اضافی او زياتی شوې اوبه وې نو صحابو به دغه اوبه په زمکه باندې نه پريخودلې دومره د صحابو د نبی عليه السلام سره مينه او محبت وو.

که يو انسان اووائی چې صحابو نبی عليه السلام ليدلې وو او د هغه په محبت کښې پاتې شوې وو ځکه د هغوی د نبی عليه السلام سره دومره محبت وو، نن خوارلس سوه کاله بعد به د يو انسان مينه د نبی عليه السلام سره څنګه پيدا کيږی؟ مولانا ادريس کاندهلوی په خپل کتاب سيرت مصطفی په مقدمه کښې ذکر کړې دی چې د نبی عليه السلام سره محبت د هغه د سيرت په مطالعه سره پيدا کيږی، څومره چې يو انسان د

نبي علیه السلام د سیرت نه خبر وی نو دومره به د دې انسان د نبي علیه السلام سره مینه او محبت وی نن که د مسلمان د خپل پیغمبر سره مینه نشته د دې غټه وجه داده چې دا مسلمان د نبي علیه السلام د ژوند او د هغه د سیرت نه خبر نه دې او د نبي علیه السلام سره د محبت د پاره د دې نه بعد دا خبره ضروری ده چې دا انسان به د نبي علیه السلام سیرت او د هغه زندګی په خپل ژوند کښې را پیدا کوی، او الله په قرآن کښې دا د ایمان د پاره شرط ګرځولې دې﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ﴾ ائ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ستا په رب قسم چې دا خلق هغه وقت پورې کامل ایمان والا نشی کیدې تر څو پورې چې دوې ستا دا فیصله په خپل ژوند کښې منلې نه وی او نبي علیه السلام فرمائی:

﴿لَيْسَ مِنَّا مَنْ عَمِلَ عَمَلًا مِنْ غَيْرِ سُنَّتِۭ﴾ هغه څوک زما امتی نه دې چې هغه یو عمل کوی او د دې انسان دغه عمل زمونږه د سنت مطابق او برابر نه وی.

او د نبي علیه السلام سره محبت د پاره دویم څیز هغه اطاعت رسول دې قرآن کښې الله فرمائی:

قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ(ال عمران:۳۱)

یعنې که تاسو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره محبت کول غواړۍ نو زما اطاعت اوکړۍ تفسیر مدارک والا د دې آیت په تشریح کښې فرمائی:

فَمَنِ ادَّعٰى مَحَبَّتَهُ، وخالَفَ سُنَّةَ رَسُولِهِ، فَهو كَذّابٌ، وكِتابُ اللهِ يُكَذِّبُهُ

يعنې څوک چې د نبي عليه السلام د محبت دعوی کوی او د هغهٔ د سنت نه خلاف کوی نو دا انسان دروغژن دې او د الله کتاب د دهٔ تکذيب کوی، ځکه د دنيا دا قانون دې چې څوک د چا سره مينه لری نو دا انسان د هغهٔ په نقش قدم باندې روان وی يو شاعر وائی:

اِنْ كَانَ حُبُّكَ صَادِقًا لَاَطَعْتَهُ

اِنَّ الْمُحِبَّ لِمَنْ يُحِبُّ مُطِيْعُ

يعنې که ستا دا محبت رشتيا وی نو تا به د نبي عليه السلام اطاعت او اتباع کړې وې ځکه چې څوک د چا سره محبت کوی نو دا انسان د هغهٔ تابعدار وی او د هغه خبره منونکی وی.

والحمد لله رب العالمين.

# خاندان نبوّت(۱)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم۔

﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُوْلٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَؤُوْفٌ رَّحِيْمٌ﴾ (توبہ:۱۲۸)

د نبی علیه السلام د سیرت یوه پهلو او یوه حصه دا ده چې د نبی خاندان،اهل بیت،اهل وعیال،قوم څوك وو، د دې وضاحت ضروری دے اوّله خبره دا ده چې د نبی علیه السلام خاندان او قوم واله په دغه وخت کښې د دنیا د ټولو نه غټ خاندان د لوې مقام واله او د لوې مرتبې او شان واله قوم وو،او د دې وجې نه قرآن کریم کښې الله په سورة توبه کښې فرمائي﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُوْلٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَؤُوْفٌ رَّحِيْمٌ﴾ د دې ایت د معنی نه دا معلومیږی چې په دې ایت کښې د نبی علیه السلام مقام او د خپل اُمّت سره د هغه د مینې،محبت او شفقت بیان هم شوے دے،تاسو ته ستاسو د نفسونو نه یعنې یو انسان،یو بشر الله رسول دنیا ته رالیږلے دی، دا دومره شفقت ناك او مینه کر پیغمبر دے چې دۀ ته ستاسو تکلیف او مشقت خوښ نه دے او نه دا برداشت کوے شی بلکه ستاسو تکلیف دۀ لره هم تکلیف ورکوی او ستاسو درد هغه ته درد او مصیبت رسوی او دا پغمبر که یو طرف ته د خپل اُمّت په نقصان او تاوان باندې خفه کیږی نو بل طرف ته

د دې خپل اُمّت په خیر او خوشحالۍ باندې هغه حرص کوی او په هم تاسو باندې ډیر شفقت کونکے او مهربانه هم دے دا د دې ایت مطلب دے.

او په دې ایت کښې یو لفظ دے (**مِنْ أَنْفُسِكُمْ**) نو په دې کښې یو بل قراءت هم شته دے او د دې لفظ یوه بله معنٰی هم په حدیث کښې ذکر شوې ده لکه انس رضی الله عنه فرمائي یوه ورځ نبی علیه السلام د ایت تلاوت کړو او د دې ایت دا لفظ ئې (**مِنْ أَنْفُسِكُمْ**) اووئیلو او بیا ئی اوفرمائیل(**أَنَا أَنْفُسُكُمْ نَسَبًا وَصِهْرًا**) مطلب زه په تاسو کښې د ډیر نفیس،عمده،بهترین خاندان واله یمه،د نسب په اعتبار د حسب او د نسل په اعتبار تر دې پورې چې د سحرګنی په حیثیت زه په تاسو ټولو کښې بهترین خاندان او قومیّت واله یمه،او بیا ئې اوفرمائیل چې د ادم صَفِيُّ الله نه واله تر ځما د خاندان پورې په دې کښې هیڅ یو زنا کار انسان نه دے پیدا شوے او نه ځما په دې ټول خاندان کښې ولد الزّناء انسان پیدا شوے دے،بلکه دا ټوله سلسله د ادم علیه السلام نه واله تر دې وخت پورې دا شجره په حلاله او پاکه طریقه نکاح سره را روانه ده.

او په بخاری شریف کښې یوه واقعه ده په باب الوحی کښې چې نبی علیه السلام د روم بادشاه هر قل ته یوه دعوتی خط لیږلے وو او د اسلام دعوت ئې ورته په دغه خط کښې ورکړے وو،کله چې د روم بادشاه ته د نبی علیه السلام خط ملاؤ شو نو حکم ئې اوکړو چې ماله د عربو د مکې یو انسان راپیدا کړۍ چې زه ورنه د دغه پیغمبر په باره کښې تپوسونه اوکړمه،اتفاقًا په دغه وخت کښې ابوسفیان د تجارت په عرض شام ته تلے وو او د روم بادشاه هرقل هم د څه په باره کښې شام ته راغلے

وو، ځکه شام په دغه وخت کښې د روم یوه حصّه وه،او دا هرقل بادشاه بیت المقدس ته د عبادت د پاره راغلے وو،ځکه دا عیسائي وو،خلقو ورته ابوسفیان ورمخامخ کړو چې دا د مکې د قریشو د خاندان سره تعلق لری، نو دې هرقل بادشاه د ابوسفیان نه لس دولس تپوسونه کړی وو او دهٔ ابوسفیان ورته جوابونه ورکړی وو،او دغه جوابونو باندی هرقل بادشاه تبصره کړې وه،په دغه سوالانو کښې یو سوال دا هم وو، چې هرقل د ابوسفیان نه تپوس کړے وو د نبی علیه السلام په باره کښې چې (**كَيْفَ نَسَبُهُ فِيْكُمْ؟**) دا پیغمبر په دې مکه کښې د څنګه نسب واله انسان دے،نو ابوسفیان جواب ورکړے ؤو(**هُوَ فِيْنَا ذُوْ نَسَبٍ**)(مسلم) دا پیغمبر زمونږه په دې خاندان کښې د ډیر لوئي نسب مالك دے،نو هرقل جواب ورکړو چې دغه شان پیغمبران په لوئي او اوچت نسب والو خلقو کښې راپیدا کیږی، ځکه دا هرقل بادشاه د اهل کتابو نه وو، نو دهٔ ته دا معلومات وو چې پیغمبر د کوم خاندان او قوم واله سړے کیدے شی،نو عیسیٰ پیغمبر وو د اوچت نسب والا خو تهمت او الزام ئے درباندې لګولے وو، او هغه ته ئې نسبت د ولدالزناء کړے وو، او د هغه مور ته ئې د زانیه کیدو نسبت کړے وو، او د دغه تهمت صفائي الله رب العزّت په وړوکوالی کښې د عیسی علیه السلام په خُلې باندې کړې وه،چې په دغه حالت کښې هیڅ یو ماشوم د خبرو طاقت نه لری.

او د نبی علیه السلام چې څنګه نسب اوچت او اعلی نسب دے نو دغه شان د نبی علیه السلام بیبیاني هم پاکې بیبیانې وې او په دغه حدیث کښې نبی علیه السلام د دې خبرې بیان کړے دے چې زه په تاسو کښې عمده او نفیس خاندان والا کیدو سره د عمده،نفیس او بهترین

سخرګنۍ خاوند هم یمه، او دا هم د الله نظام دے چې هر پیغمبر ته الله حیاء واله او پاکه بی بی ورکړې وی کله کله منافقه او مشرکه ښکښې وی لیکن د نسب،حیاء او عفّت په لحاظ د لوې مقام واله زنانه وی، الله په قرآن پاك کښې د ابراهیم علیه االسلام د بی بی واقعه بیان کړې ده کله چې الله ابراهیم علیه السلام ته دا اتیاؤ کالو په عمر کښې بچے ورکولو نو فرشتو ورته زیرے راؤړو په دغه وخت کښې د ابراهیم علیه السلام بی بی هم دا خبره واؤریده او ورسره ئې دا خبره اوکړه چې (**أَ أَلِدُ وَأَنَا عَجُوزٌ عَقِيمٌ**) دا څنګه خبره ده ځما به بچے پیدا کیږی او زه خو یو شنډه،بوډۍ زنانه یمه،فرشتو ورته جواب ورکړو (**أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللهِ**) ایا ته د الله د حکم په باره کښې تعجب کوې، دا خو د الله حکم دے (**رَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ**) د الله رحمت او برکات دی په تاسو باندې وی اے د کور والو، نو د دې بیان نه دا معلومه شوه چې د پیغمبرانو بیبیانی پاکې ښځې وی او د دې ایت نه دویمه خبره دا معلومه شوه چې اهل بیت صرف د پیغمبر بچی نه بلکه د پیغمبر بیبیانو ته هم وائې، لکه په دے ملك کښې څه خلق دی چې د اهل بیتو والو سره د محبت دعوی لری او د نبی علیه السلام د بیبیانو اُمّهاتُ المؤمنین سره دشمنی او نفرت کوی، د قرآن د ګواهۍ مطابق او د نبی علیه السلام د ارشاد مطابق د محمد رسول الله صلی الله علیه واله وسلم بیبیانۍ او د هغه اهل بیت ټول د الله په رحمت خاصّه کښې شامل خلق وو.

د ترجمان القرآن ابن عّباس رضی الله عنه نه روایت دے چې (**مَابَغَتْ امْرَأَةُ نَبِيٍّ قَطُّ**) د پیغمبر بیبانې هیڅ کله بدکاره،او بدکرداره نشی کیدے، د پیغمبر بیبیانې پاکې ښځې وی.

بله ضروری خبره دا هم ده چې د نبی علیه السلام په خاندان کښې څوك شامل دی او څوك پکښې شامل نه دی،نو دا خبره یاساتل ضروری دی چې نبی علیه السلام د ابراهیم علیه السلام په خاندان کښې دے او ابراهیم علیه السلام د نبی علیه السلام د بعثت دپاره دعا د الله نه کړې ده، کله چې د الله په حکم سره ابراهیم علیه السلام بیت الله تعمیر کړو نو د بیت الله د تعمیر نه بعد د دغه مقدّس مقام دپاره ابراهیم علیه السلام د الله نه د معلم،او رسول په باره کښې دعا کړی وه چې ﴿رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولاً مِنْهُمْ﴾ (بقره:۱۲۹) الله په دې مکه والو کښې د دوی د طرف نه یو پیغمبر رااولیږې، مطلب د دې کور د ظاهری تعمیر سره باطنی تعمیر هم اوکړې، د ابراهیم علیه السلام دوه بچی دې یو اسماعیل علیه السلام او یو اسحاق علیه السلام دے بیا د اسحاق علیه السلام بچے یعقوب علیه السلام وو، او د دهٔ لقب اسرائیل وو، دا عبرانی لفظ دے او د دې معنیٰ ده د الله بنده او یهودو ته ځکه بنی اسرائیل وئیلے کیږی چې دا قوم د یعقوب علیه السلام اولاد دے او د هغه نسل دے اګر چې ګمراه شوے دے د دغه یعقوب علیه السلام په اولاد کښې بنی اسرائیلو ته الله درې زره پیغمبران رالیږلی وو، او د اسماعیل علیه السلام په اولاد کښې هیڅ یو پیغمبر نه دے پیدا شوے په آخر کښې الله یو پیغمبر، عظیم الشان، او په ټولو باندې اوچت پیغمبر ئې ورکښې پیدا کړو چې هغه محمد رسول الله صلی الله علیه واله وسلم دے او د دغه اسماعیل علیه السلام نه مکه آباده شوې ده،ځکه هاجره یواځې بغیر د بل انسان نه د خپل بچی سره په دغه ځائے کښې پاتے شوه، بیا ورته الله اوبهٔ پیدا کړې تر دې پورې چې د یمن یوه قافله هم په دغه ځائے کښې آباده شوه، او په دغه

بنوجرهم قبیله کښې اسماعیل علیه السلام وادهٔ کړے وو او د دې نه بعد روسته بیا قریش وجود ته راغلی وو، په دغه قریشو کښې بنو هاشم کښې الله دا پیغمبر پاك صلی الله علیه واله وسلم پیدا کړے دے، او یو روایت کښې راځی چې الله د ابراهیم علیه السلام په اولاد کښې د اسماعیل علیه السلام د اولاد انتخاب اوکړو او بیا روسته د دغه اسماعیل علیه السلام په اولاد کښې الله د بنو کنانه انتخاب کړے وو او په بنو کنانه کښې الله د قریشو انتخاب کړے وو او په قریشو کښې الله د بنو هاشم انتخاب کړے وو او بیا په دغه بنو هاشم کښې الله زما انتخاب اوکړو او زه ئے پیغمبر جوړ کړمه.

والحمدلله رب العالمین

# خاندان نبوّت(۲)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدُ!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ.........﴾(احزاب:٦)

د نبی علیه السلام د خاندان،یعنې خاندان نبوّت په باره کښې خبره شروع وه،چې اوّل خو د نبی علیه السلام نسب په نسبونو کښې اوچت نسب دے،نن په دې موضوع باندې خبره کوو چې د نبی علیه السلام په خاندان کښې کوم کوم شخصیّات شامل وو او څوك د نبی علیه السلام د خاندان خلق دی، نو اول دا چې د نبی علیه السلام خاندان د بنو هاشم خاندان وو او دا د قریشو یوه حصه وه، د نبی علیه السلام د پلار نوم عبدالله بن عبد المطلب دے، دا د عبد المطلب وړوکے،کشر ځوئے وو او دا د نبی علیه السلام د پیدائش نه مخکښې وفات شوے دے،یعنې نبی علیه السلام پیدا شوے نه وو د خپلې مور په ګېډه باندې وو چې پلار ئې وفات شو، او د نبی علیه السلام د مور نوم امنه بنت وهب دے، دا د نبی علیه السلام د پیدائش نه بعد کله چې نبی علیه السلام د پنځو یا د شپږو کالو وو نو دا وفات شوې وه، نو د پلار سهاره ورنه الله د پیدائش نه مخکښې اغستی وه او د مور د شفقت نه په لږ عمر کښې محرومه شو، او د نبی علیه السلام تربیت د دې نه بعد د نبی علیه السلام نیکهٔ عبد المطلب بن هاشم کړے دے او دا په دغه وخت کښې د قریشو سردار وو دَ نبی

علیه السلام د پلار د طرف نه د نیا نوم فاطمه بنت عمرو وه او د مور د طرف نه د هغه د نیکه نوم وهب بن عبد مناف دے، او د مور د طرف نه د نیا نوم ئې بَرَّةَ بنت عبدالعزّی وو، دا د نبی علیه السلام د پلارانو تفصیل وو.

د عربو د دستور مطابق کله چې به یو ماشوم پیدا شو، نو دغه ماشوم به ئے د تربیت د پاره کلو، باندو ته اولیږل، او وجه دا وه چې د دغه علاقو آب وهواء به ښه وه دویم دا چې اصل،فصیح زبان به دغه ماشوم زده کړو او د عربې ژبې ثقافت یا فته به جوړ شو، د دغه دستور مطابق نبی علیه السلام هم د بنو سعد دا یوه قبیله وه دغه باندو طرف ته دوی ته حواله کړے شو، د نبی علیه السلام مربیّه مور حلیمه وه او د دې د خاوند نوم ابوکبشه وو،دې وجې نه قریشو به کله د نبی علیه السلام نسبت کښې ابن أبی کبشه هم وئیلو لکه کله چې ابوسفیان هرقل بادشاه ته صحیح صحیح جوابات ورکړل نو هرقل بادشاه ابوسفیان ته وائي که دا پیغمبر په رشتیا باندې داسې وی لکه ځنګه چې تامالره خبر راکړو نو دا به ځما د دې خپو د لاندې چې کومه زمکه ده د دې مالك به هم جوړشی،مطلب شام او فلسطین به د دهٔ د حکومت او خلافت د لاندې راشی نو ابوسفیان اووئیل(**لَقَدْ أَمِرَ أَمْرُ ابْنِ أَبِيْ كَبْشَةَ**) (بخاری)د ابوکبشه دا کار خو ډیر لوې شو ځکه د دهٔ نه د زیړو خلقو بادشاه مطلب د روم بادشاه هم ورنه یره کوی، نو دا ابوکبشه د نبی علیه السلام رضاعی پلار وو، او دا دواړه رضاعی مور او پلار حلیمه او ابوکبشه دواړه مسلمانان شوی دی.

او د نبی علیه السلام خپل رونړه خویندې نه وې البته د دهٔ رضاعی رونړه او خویندې موجود وو،نبی علیه السلام په ماشوم والی کښې د ثویبه رضی الله عنه پئ هم څکلی وو،دا د ابولهب وینزه او نوکره وه کله چې نبی علیه السلام پیدا شو،نو ابولهب ته چا خبر ورکړو چې ستا ورارهٔ پیدا شو نو هغه ډیر خوشحاله شو، او د ډیرې خوشحالۍ د وجې نه ئې دغه خپله وینزه آزاده کړه ځکه د ابولهب د رور عبدالله قائم مقام پیدا شو،نو دغه ثویبه رضی الله عنه وینزه هم د نبی علیه السلام رضاعی مور ده او هم دغه ثوبیه رضی الله عنه بیا حمزه رضی الله عنه چې کوم د نبی علیه السلام تره دے هغه ته هم پئ ورکړې دی،نو نبی علیه السلام او حمزه رضی الله عنه یو طرف رضاعی رونړه او بل طرف ته ترهٔ ورارهٔ دی،نو رضاعی رونړه او خویندې د نبی علیه السلام شته دے،د حنین په موقع صحابه کرامو په دغه بنو سعد قبیله کښې پړاؤ کړے وو، نو په دغه موقع یوه زنانه د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضره شوه او نبی علیه السلام ته ئي اووئیل چې زه ستا خور یمه،نبی علیه السلام انکار اوکړو چې زما خپلې خویندې نشته،نو دغه زنانه شیمه ورته وائی،چې زه د خلیمې سعدیّه لور یمه،او د خپل د ماشوم والی څه واقعات ئې ورته ذکر کړل نو نبی علیه السلام ئې تصدیق اوکړو چې اؤ بالکل ته زما خور ئې،بعد کښې ورته نبی علیه السلام تحفې،تحائف ورکړې او ډیر په قدر او احترام سره ئې رخصت کړه،او دا هم مسلمانه شوې وه،او یو بل صحابی دے د هغه نوم ابوسلمه رضی الله عنه دے هغه د نبی علیه السلام رضاعی رور دے دا د نبی علیه السلام د رونړو او خویندو څه لږ شان تفصیل وو.

بیا د نبی علیه السلام بیبیانې نو د نبی علیه السلام ازواج مطهّرات زمونږه او ستاسو موریانې دی،لکه قرآن کښې الله فرمائي (وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ)(احزاب:٦) د نبی علیه السلام ازواج مطهّرات د أمّت روحانی میندې، موریانې دی،دوی ته به د مور پشان په نظر کتلے کیږی او خپلې مور پشان قدر،احترام او عزت به ئے کولے شی،د دوی سره د وفات نه بعد نکاح نشی کیدے.

د نبی علیه السلام د بیبیانو تعداد یؤولس (١١) دے د دوی سره د نبی علیه السلام نکاح شوې وه، اوّله نکاح د خدیجة الکبری رضی الله عنها سره شوې وه، دویمه نکاح ئې د سیدتناسودة رضی الله عنها سره او دریمه د سیدتنا عائشة رضی الله عنها سره څلورمه سیدتناحفصة رضی الله عنها پنځمه سیدتنا زینب بنت حارث رضی الله عنها وه چې دې ته اُمّ المساکین هم وئیلے کیږی د دې نه علاوه دا نورې بیبیانې د نبی علیه السلام د وفات نه بعد وفات شوی دی.

د نبی علیه السلام اوله بی بی خدیجة الکبری تعلق د مکې د قریشو خاندان سره وو، یوه ډیره صبرناکه،عزتمنده،او حوصله ناکه زنانه وه،او د تجارت لین دین سره ئے ډیره واسطه او تعلق وو، نبی علیه السلام د دې خدیجې په مال باندې د نبّوت نه مخکښې تجارت کړے وو،او دغه ډیر د برکت او دیانت داری نه ډك تجارت وو، بیا نبی علیه السلام د خپل ترۀ په مشوره د خدیجة رضی الله عنها سره نکاح کړې وه،د نبی علیه السلام عمر په دغه وخت کښې د پنځه ویشتو ( ٢٥)کالو وو او د خدیجة رضی الله عنها عمر په دغه وخت کښې د څلویښتو کالو(٤٠) وو،او خدیجة

رضی الله عنها کونډه هم وه،د خدیجة رضی الله عنها په ژوند کښې نبی علیه السلام د بلې زنانه سره نکاح نه ده کړې، او بیا د نبی علیه السلام پنځوس(۵۰)کاله عمر وو چې خدیجة رضی الله عنها وفات شوې وه، او د وفات نه بعد به نبی علیه السلام د هغې ډیره تذکره او ذکر کوو، تر دې پورې چې عائشة رضی الله عنها وائي چې نبی علیه السلام به د خدیجة رضی الله عنها دومره ذکر کولو چې یو ځل وربانددی ما ته غیرت راغلے چې دا دومره ذکر د هغې د مرګ نه بعد هم کیږی، دا د نبی علیه السلام د اولې بی بی خدیجة رضی الله عنها څه مختصر حالات وو.

والحمدلله رب العالمین

# خاندان نبّوت(۳)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدُ!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً وَمَاكَانَ لِرَسُوْلٍ أَنْ يَأْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلاَّ بِاِذْنِ اللّٰهِ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ﴾(رعد:۳۸)

د نبی علیه السلام په سیرت کښې د خاندان نبّوت په باره کښې د ازواج مطهراتو ذکر شروع شوے وو،د خدیجة رضی الله عنها او د سورة رضی الله عنها حالات بیان شوی وو،دریمه بی بی د نبی علیه السلام هغه سیدة عائشة رضی الله عنها ده،دا د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه لور ده،او نبی علیه السلام د دې سره نکاح کړې وه، د دې نکاح د نبی علیه السلام سره خبره په مکه کښې شوې وه، کله چې د عائشة رضی الله عنها عمر شپږ کاله وو، او بیا رخصتی په مدینه کښې د هجرت په اول کال یا دویم کال باندې شوې ده، او دا نکاح د شوال په میاشت کښې شوې وه،کله چې وړوکے اختر تیر شوے وو،او د دې وجه دا وه چې په دغه وخت کښې یو غلط او باطل رسم دا جوړ شوے وو چې په دې میاشت کښې به دغه خلقو نکاح نه کوله،ځکه د جاهلیت د دور دا عقیده وه چې کله د دوه اخترونو په مینځ کښې نکاح اوکړے شی نو دغه نکاح بے خیره او سپیرهٔ وی،په دې کښې څه خیر او برکت نه وی، او دا عقیده هم دغه شان نن هم زمونږه په دې پښتنو کښې شته دے چې دا خلق په شوال میاشت

کښې د دوه اخترنو په مینځ کښې نکاح،یا وادهٔ نه کوی اوکه چرته وادهٔ کوی نو نکاح وربانديږ د رمضان د میاشتې نه اوکړی او بیا صرف رخصتی په دغه وخت کښې اوکړے شي او دا د جاهلیّت رسم نن څکه موجود دي چې مسلمان د قرآن او د نبی علیه السلام د سیرت نه لری شوے دے د دې سره هیڅ تعلق او مناسبت نه لری نو نبی علیه السلام د عائشة رضی الله عنها سره نکاح څکه په دې میاشت کښې کړې ده چې دغه غلط او باطل تصوّربانديږ عملی رد او کړے شي.

د نبی علیه السلام د وفات په وخت کښې د عائشة رضی الله عنها عمر (۱۸)اتلس کاله عمر دے او بیا روسته هم ورته الله لوې غټ عمر ورکړے دے څلور پنځوس کاله ژوندی وه او خپله عائشة رضی الله عنها شاعره هم وه،عالمه فقیهه هم وه،بلکه د سوال جواب فتوی دپاره به لوې لوې صحابوو دې طرف ته رجوع کوله تر دې پورې چې د عمر رضی الله عنه په شان دویم خلیفه اسلام به هم د دې روازې ته د فتوی د پاره راتلو او سوال جواب به ئې ورته ورکولو،اوکله کله به ئې د نورو صحابوو په فتوؤ باندې رد هم اوکړو چې فلانکے صحابی په دې فتوی کښې خطا شوے دے، او نبی علیه السلام ته په ټولو بیبیانو کښې ډیره خوښه او محبوبه هم وه،او په سخاوت کښې هم ډیره مشهوره وه.

عمره رضی الله عنه دا د اُمّ المؤمنین شاګرده ده او لویه تابعیه هم ده دا وائي یو ځل عائشه رضی الله عنها ته چا په تحفه کښې یو لاکه درهم راولیږل څکه تمام خلفائے راشیدنو به د بیت المال نه دوی ته خرچه ورکوله بلکه نبی علیه السلام ته به د هغه په ژوند کښې د مال غنیمت

خمس ملاویدو او د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم د امدن لس زریعې وې پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم غریب نه وو مالداره وو، لیکن د هغه سخاوت دومره وو چې څه څیز به لاس ته راغلے نو هغه به ئې تقسیم کړو ځکه زاهد وو د دنیا سره ئې مینه او محبت نه وو،څه مال دولت چې به لاس ته راغلے نو هغه به ئے د الله په لاره کښې خرچ کړو او د دې هیڅ پرواه به ورسره نه وه نو د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم غریبی اختیاری غریبی وه دغه اضطراری غریبی نه وه دا د الله د طرف نه وه بلکه دا د پیغمبر اعلی او اوچت مقام د بے رغبتی وو،د نبی علیه السلام د وفات سره هغه ټولې دَ امدن زرائع بیت المال ته ورکړے شوې،بیا به عائشة رضی الله عنها ته صرف د خمس مال ورکولے کیدو نو دغه یو لاکه درهم بیا عائشة رضی الله عنها په لوښی کښې کیخودل او تقسیم ئې کړل تر دې پورې چې کله دغه ټول دراهم ختم شو او د روژه ماتی وخت رانزدې شو نو دغه عمرة رضی الله عنه ورته وائې چې تاخو به دومره څه پریخودلے وے چې مونږه ورباندې اوس وخت روژه ماتے کړے وے، عائشة رضی الله عنها ورته وائې چې تا دا خبره مخکښې وخت ولے اونه کړه چې ماته را په یاد شوے وے نو ما به د روژه ماتی دپاره څه انتظام کړے وے، خو که هیڅ څه نه وی نو دا اوبه د الله غټ نعمت دے دا خو موجود دی نو د پیغمبر پشان سخاوت د هغه په بیبیانو کښې هم وو او دا د عائشة رضی الله عنها د سخاوت اندازه وه.

بل فضیلت د عائشة رضی الله عنها دا دے چې الله تعالیٰ د دې د صفائې د بیان د پاره پوره یو سورت نازل کړے دے،ځکه منافقانو ورباندې

بدنامه،تهمت لګولے وو نو الله پاك سورة النور د عائشة رضی الله عنها د پاکۍ او صفائۍ د بیان د پاره رانازل کړو،او کله کله به عائشې رضی الله عنها دا خبره اوکړه چې الله د یوسف په صفائي باندې یو انسان ګواه کړے دے او زما په صفائي باندې الله بذات خود ګواه دے او ورسره به ئے دا هم وئیل چې پیغمبر پاك صل الله علیه واله وسلم زما په غیږه کښې ورنه روح قبض شوے دے او وفات شوے دے، نو دا د پیغمبر پاك صلی الله علیه واله وسلم دریمه بی بی ده.

څلورمه بی بی سیدة حفصة رضی الله عنها ده دا د عمر رضی الله عنه لور ده او عائشة د ابوبکر صدیق لور ده، د دې مخکښې خاوند خنیس رضی الله عنه چې کله وفات شو ځکه هغه په غزوه بدر کښې زخمی شوے وو بیا روسته وفات شو دا کونډه شوه، دوباره د کور آباد کیدو د پاره ئۍ عمر رضی الله عنه عثمان رضی الله عنه ته اووئیل که ستا خوښه وی نو دا به تالره په نکاح سره درکړو، نو عثمان رضی الله عنه جواب ورکړو چې زما بی بی اوس اوس وفات شوې ده، او د هغې غم راباندې دے نو زه په دې وخت کښې د نکاح خواهش نه لرمه، او بیا زه د ابوبکر الصدیق خواته لاړمه او هغه ته مې د حفصې رضی الله عنها د نکاح پیغام ورکړو نو هغه راته نه د اثبات جواب راکړو او نه ئي راته د نفی جواب راکړو نو عمر رضی الله عنه سخت غصّه شو چې نه راته اثبات کوې او نه نفی کوې یو جواب به ئے راته راکړے وے څو ورځې بعد ورپسې نبی علیه السلام د نکاح پیغام راولیګلو نو نبی علیه السلام ورسره نکاح اوکړه نو کله چې د نبی علیه السلام سره نکاح اوکړے شوه بیا ورته ابوبکر رضی

الله عنه وائي چې شاید ته راته غصّه شوے ئے ځکه ما په هغه موقع هیڅ جواب نه وو درکړے خو ما د نبی علیه السلام نه په یو مجلس کښې اوریدلې وو چې هغه د حفصه رضی الله عنه تذکره کړې وه او د هغې د نکاح د خواهش اظهار ئې کړے وو نو دا دَ پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم راز وو ځکه هغه دا خبره په یو خاص مجلس کښې کړې وه نو ما ته دا ښه نه ښکاری کیدل چې د هغه د راز خبره اوکړمه، عمر رضی الله عنه وائي چې د دې نه بعد زما هغه ټوله غصه ختمه شوه، نو دې سره نکاح نبی علیه السلام د کونډه کیدو نه بعد کړې ده او دا د امیر معاویة رضی الله عنه په دور کښې وفات شوې ده.

بله بی بی د نبی علیه السلام هغه سیدة زینب رضی الله عنها ده، د نبی علیه السلام د دوو بیبیانو زینب نوم دے او لور نوم ئې هم زینب دے، او د نوسے د علی رضی الله عنه د لور هم زینب نوم دے، د دې لقب أمُ المساکین دے. د دې د مخکښې خاوند نوم عبدالله بن مجش رضی الله عنه دے او هغه په احد کښې شهید شوے دے او د دې نه بعد ورسره نبی علیه السلام نکاح کړې ده،او د نکاح نه څومیاشتې بعد د نبی علیه السلام په ژوند کښې دا وفات شوې ده، او اُمّ المساکین ورته ځکه وئیلے کیږی چې د دې سخاوت او شفقت مشهور وو د غریبانو سره به ئے ډیر تعاون او مدد کولو د دے وجې نه به ورته اُمّ المساکین وئیلے کیده.

او د دې نه بعد اُمّ سلمه رضی الله عنها ده، د دې اصل نوم هنده یا هند دے، دا د مکې په مهاجرینو کښې دے د دې خاوند ابوسلمه رضی الله عنه په جنګ احد کښې شهید شوے وو کله چې ورباندې نبی علیه

السلام جنازه اوکړه نو د هغه ډېر تعریف ئې اوکړو، دې زنانه او خاوند دواړو ته د ایمان نه بعد ډېر تکلیفو نه ورکړے شوی وو، او هغه داسې چې کله دا مسلمانه شوه او خاوند ئې هم مسلمان شو نو د دې دواړو د هجرت اراده وه چې د هجرت په نیّت روان شو په لاره کښې ګرفتار کړے شو او د اُمّ سلمه رضی الله عنها د پلار کور واله ابوسلمه ته وائې چې زمونږه دا لور بلې علاقې ته مهٔ بوځه دا به دلته زمونږه سره وی اوکه ته ځې نو لاړ شه،هغه روان شو اُمّ سلمه سره د خپل بچی نه په مکه کښې پاتې شوه،څه وخت بعد د ابوسلمه رضی الله عنها د پلار خاندان واله راغلل او دغه بچے د اُمّ سلمه ئې اوغښتو چې دا خو زمونږه ماشوم دے او دا تاسو مونږه ته حواله کړئ نو په دې سره اُمّ سلمه رضی الله عنه نوره هم غمژنه شوه او ژړل به ئې په لاره کښې به ناسته وه چې ابو سلمه رضی الله عنها به کله راځي یو ځل دا په لاره کښې ناسته وه او د دې د ترهٔ ځوئے په دغه لاره باندې روان وو او دې ژړل نو د هغه ورباندې زړهٔ خوږ شو او د دې مور پلار ته ئې اووئیل چې دا خو یوه عاجزه،بےضرره زنانه ده دا تاسو ولے بنده کړې ده د دې لاره آزاده کړئ او دا پریدوئ، هغوی دا شفارش قبول کړو او اُمّ سلمه رضی الله عنها ته ئې د مدینې د هجرت اجازت ورکړو دغه اُمّ سلمه د مکې نه واخله تر د مدینې پورې یواځې ،ځان له راغلې ده، اته(۸)شپې او ورځې مسلسل ئې دا سفر کړے دے بیا ورته هغه خپل بچے دوباره الله ورکړو نو د ابو سلمه د شهادت نه بعد ورسره نبی علیه السلام نکاح اوکړه.

دا اُمّ سلمه رضی الله عنها وائي يو ځل نبی علیه السلام یوه دعا وئیلی وه کله چې ابوسلمه دغه دعا واؤریده نو اُمّ سلمه رضی الله عنها ته ئي هم دغه دعا بیان کړه هغه دا چې کله يو انسان وفات شی،مړشی یا مصیبت وباندې راشی نو دا دعا دې وائي،﴿**اللَّهُمَّ أُجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا إِلاَّ أَخْلَفَ اللَّهُ لَهُ خَيْرًا مِنْهَا**﴾ (مسلم)الله ماله په دې مصیبت کښې اجر راکړې او د دې نعم البدل او عوض هم راته راکړې، کله چې زما خاوند وفات شو نو زه ډیره غمژنه شومه چې دا دومره تکلیفونه او بیا خاوند وفات کیدل دا زما د پاره لوې مصیبت وو، نو ما په خپل ځان باندې دا دعا په اهتمام سره وئیل شروع کړل او زما سوچ دا وو چې د ابوسلمه نه بعد به بل څوك ښه خاوند وی چې ماته به ملاؤ شی، د الله قدرت دا وو چې کله زما د عدّت مدت ختمه شو نو پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم زما سره د نکاح دپاره پیغام راولیږو نو ماله یقین راغلے چې دا د دې دعا د قبولیّت اثردے او بیا ورسره د نبی علیه السلام نکاح شوې وه او په ټولو کښې اخر کښې د نبی علیه السلام دا بی بی وفات شوې وه.

والحمدلله رب العالمین

# خاندان نبوّت(٤)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم۔

﴿وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِىٓ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ.....﴾ (احزاب:٣٧)

د نبی علیه السلام په خاندان کښې د ازواج مطهّرات تذکره شروع وه،او د شپږو حالات په دې کښې بیان شوے وو، په ترتیب نکاح کښې اووم نمبر زینب رضی الله عنها وه،د نبی علیه السلام د دوو بیبیانو نوم زینب دے یو هغه زینب ده چې د نبی علیه السلام په ژوند کښې وفات شوې ده او هغې ته اُمّالمساکین وائي او دویمه زینب د نبی علیه السلام د ترور لور وه د بنوهاشم سره ئے تعلق وو او د دې اوّل نکاح د زید رضی الله عنه سره شوې وه،او زید د نبی علیه السلام متبنّٰی وو او غلام ئې هم وو او په ماشوم والی کښې غلا کړو،ډاکوانو د مور د غیږې نه اغستے وو او په مکه کښې ئې خرڅ کړے وو او بیا خدیجة رضی الله عنها ته ملاؤ شوے وو،هغې دا خپل غلام نبی علیه السلام ته هبه کړے وو، نبی علیه السلام آزاد کړو او د ترور لور زینب رضی الله عنها ئے ورته په نکاح کښې ورکړه بیا ورته زید رضی الله عنه طاق ورکړو او د الله په حکم ورسره نبی علیه السلام نکاح اوتړله او د زینب رضی الله عنها به په دې باندې فخر هم کولو چې زما نکاح الله تړلې ده او زما د نکاح تذکره په قرآن کښې ذکر شوې ده ځکه زما نکاح د الله په حکم نبی

عليه السلام كړي ده او د قرآن په دغه ايت كښې هم الله دا بيان كړے دے.

الله فرمائي﴿وَإِذۡ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَأَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِ﴾كله چې تا وئيله دا خبره هغه چاته چې الله وربانديِ انعام كړے دے الله وربانديِ دا انعام كړے دے چې الله مسلمان جوړ كړو د نبی عليه السلام خادم او صحابی ئے جوړ كړو او تاهم وربانديِ احسان كړے دے هغه دا چې تا آزاد كړے دے بيا ئے متبنی جوړ كړو او بيا ئے د ده تربيت اوكړو كله چې زيد رضی الله عنه طلاق وركړو نو نبی عليه السلام خفه شو او دوباره ئې ورته درخواست وركړو چې ستا دا بی بی د ځان سره كړه او طلاق ورته پوره مه وركوه او دويمه يره د نبی عليه السلام سره د دې خبرې وه چې هسې نه چې دا ترور راته وائی چې دَ ستا دَ وجې نه ورته طلاق وركړے شو اوس ورته ته د نكاح پيغام وركړه او خلق به دا بدنامه كوی چې پيغمبر صلی الله عليه واله وسلم د خپل متبنی ښځه په نكاح كښې واغيسته ځكه د جاهليت دا عقيده وه چې متبنی په ټولو احكاماتو كښې د خپل ځوی په شان وی هغه ته په ميراث كښې مقرّره حصه وی د هغه ښځه په دغه پلار باندې حرامه وی ځكه الله خپل پيغمبر ته وائي﴿وَتَخۡشَى ٱلنَّاسَ﴾ ته د خلقو نه يريدی هسی نه چې مسئله جوړه نشي دا خلق تهمت اونه لګوی﴿فَلَمَّا قَضَىٰ زَيۡدٞ مِّنۡهَا وَطَرٗا زَوَّجۡنَٰكَهَا﴾ هر كله چې ورته زيد رضی الله عنه طلاق وركړو نو الله وائي چې دا نكاح درته ما اوكړه،بذات خود الله زينب رضی الله عنها په نكاح سره نبی عليه السلام ته وركړې وه او د دې دپاره چې عملی طريقې سره دغه رسم ختم شی او باقی پاتی نه وی نو دا د نبی عليه السلام اوومه بی بی ده.

په یو موقع نبی علیه السلام فرمائیلی وو چې زما د وفات نه بعد به زما سره هغه بی بی زر وفات کیږی د چا چې لاسونه اوګده وی،کله چې نبی علیه السلام وفات شو نو د هغه د وفات نه بعد ورپسې زینب رضی الله عنه وفات شوه مونږه ته معلومه شوه چې د لاس د اوګد والی نه مراد دا دے چې د دې سخاوت ډیر وو، ځکه دا ډیره سخاوت کونکی بی بی وه.

اتمه بی بی د نبی علیه السلام هغه اُمّ المؤمنین جویریّة رضی الله عنها وه د دې تعلق د بنی مصطلق قبیلې سره وو او یوه غزوه شوې ده چې د هغې نوم غزوه بنی مصطلق دے په دغه غزوه کښې مسلمانوته الله فتح ورکره او د مسلمانانو په لاس کښې قیدیانو کښې ورته دغه زنانه جویریّة رضی الله عنها راغلې وه، او دا د دغه قبیلې د مشر سردار لوروه ،د غنیمت په تقسیم کښې دا جویریّة ثابت بن قیس رضی الله عنها ته ملاؤ شوه، صحابه کرامو مشوره اوکړه او نبی علیه السلام ته ئے اوونیل چې دا د سردار لور ده مناسب دا ده چې دا ستا په دې کور کښې وی نو ډیره غوره او بهتره به وی،نو نبی علیه السلام هغه ته د دې قیمت ورکړو او بیا ئے دا آزاده کړه او نکاح ئی ورباندې اوتړله،په دې طریقه ورسره نبی علیه السلام نکاح کړې وه،کله چې صحابو ته معلومه شوه نو د دې د قبیلې هغه ټول قیدیان صحابه کرامو آزاد کړل نو د دې د وجې نه هغه ټول خاندان آزاد کړے شو او دا د سیّدنا امیر معاویه رضی الله عنه په دور خلافت کښې وفات شوې ده.

نهمه بی بی د نبی علیه السلام هغه اُمّ حبیبه رضی الله عنها ده د دې خپل نوم رمله دے دا د ابوسفیان لور او د سیدنا امیر معاویه رضی الله عنه خور ده کله چې دا او د دې خاوند مسلمانان شو نو د حبشې طرف

ته ئے هجرت اوکړو او په هغه ځائے کښې د دې خاوند عيسائی شو والعياذ با لله نو دا د خپل خاوند نه جدا شوه،بيا د دې سره د نبی عليه السلام نکاح په حبشه کښې شوی ده او د دې مهر نجاشی بادشاه ادا کړے دے،او د دې نکاح هم نجاشی بادشاه کړې وه بيا روسته مدينې ته د هجرت مدينې نه بعد راغلې ده.

لسمه بی بی اُمّ المؤمنين ميمونه رضی الله عنها ده دا د عّباس رضی الله عنه خينې وه يعنې يوه خور د دې په عباس رضی الله عنه باندی وادهٔ وه او يوه دا په نبی عليه السلام باندې وادهٔ وه د دې د خاوند نوم ابو رُهُمْ؟؟ دے کله چې هغه وفات شو نو عباس رضی الله عنه ته د دې د نکاح پيغام ورکړے وو، د دغه ترهٔ په وينا باندې ئې ورسره نکاح اوکړه او نکاح هم ورته عّباس رضی الله عنها تړلے وه او د دې د نکاح واقعه دا وه چې نبی عليه السلام د عمرة القضاء په نيّت باندې روان وو کله چې دوباره درې ورځې بعد مدينې ته واپس کيدو نو په لاره باندې يو مقام دے د هغه مقام نوم سرف دے نو په دغه مقام کښې ورسره نبی عليه السلام وادهٔ کړے دے او صحابو ته ئے په هم دغه مقام کښې وليمه هم ورکړې ده او بيا روسته د نبی عليه السلام د وفات نه بعد دا ميمونه رضی الله عنها د عّباس رضی الله عنه د ځوی سره حج ته راغلې وه او په لاره کښې په دغه مقام کښې وفات شوې هم وه او په هم دغه ځائے کښې دفن شوې هم ده دا عجيبه اتفاق دے،او د دې جنازه بيا ابن عّباس رضی الله عنه کړې وه.

اخری بی بی اُمّ المؤمنين صفيّة رضی الله عنها ده، د دې اول مذهب يهوديّت وو او دا هم د يو سردار لور وه، د دې پلار او خاوند دواړه

په جنګ خیبر کښې مړۀ شوی وو، او د دې نه بعد چې کوم قیدیان وو په دغه قیدیانو کښې دا هم وه، او د مال غنمیت په تقسیم کښې دا د دحیةالکلبی په حصّه کښې وه بیا د نبی علیه السلام په وینا باندې هغه نبی علیه السلام ته حواله کړه او د خیبر نه د واپسۍ په سفر کښې د صحباء په مقام کښې د دې سره نکاح شوې وه او په دغه ځائے کښې ورباندې ولیمه هم ورکړې وه، صحابو ته معلومات نه وو چې دا به د نبی علیه السلام وینزه وی اوکه دا به اُمّ المؤمنین نو کله چې ورته نبی علیه السلام د پردې حکم او د پردې په باره کښې انتظام کړے وو نو صحابو ته معلومه شوه چې دا اُمّ المؤمنین رضی الله عنها ده د دې په مخ باندې یو داغ وو او دا هغه خپله واقعه بیانوی چې یو ځل ما خوب اولیدو چې سپوګمۍ زما په دې غیږه کښې راکوزه شوه نو ما دا خپل خوب خپل زوړ خاوند ته بیان کړو هغه ورباندې غصّه شو او ماله ئې یوه سپیړه راکړه چې آیا ته دا اراده لرې چې د مسلمانانو د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم سره نکاح اوکړې نو دا هغه داغ دے چې تراوس وخت پورې زما په دې مخ باندې دے او په هغه وخت کښې زما سوچ هم نه وو چې زه به د نبی علیه السلام سره نکاح اوکړمه، دا د نبی علیه السلام یوولس بیبیانې او د هغوی څه مختصر حالات وو. والحمدلله رب العالمین

# خاندان نبوّت(۵)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم۔

﴿يَاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّا اَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ الّٰتِيْ اٰتَيْتَهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ مِمَّا اَفَاءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبِنَاتِ عَمّٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبِنَاتِ خٰلٰتِكَ الّٰتِيْ هَاجَرْنَ مَعَكَ....... (احزاب:۵۰)

مخکښې د نبی علیه السلام د بیبیانو په باره کښې تفصیل بیان شوے وو، د دې ازواج مطهّراتو سره یو ځائے تړلے شوې خبره دا هم ده چې بعضې علماؤ د نبی علیه السلام په ازواج مطهّراتو کښې سیده ریحانه رضی الله عنها او ماریّه قبطیّة رضی الله عنها هم شمار کړی دی او بعضې علماء وائي چې دا د نبی علیه السلام بیبیانې نه بلکه دا د نبی علیه السلام وینزنې غلامانې وې ازواج مطهّرات هغه دې چې نبی علیه السلام ورسره نکاح کړې ده او وینزې هغه دې چې د نکاح نه بغیر په جهاد کښې د مال غنیمت په تقسیم کښې د نبی علیه السلام په حصّې کښې رسیدلې وی.

د سیده ریحانة رضی الله عنها د پلار نوم زید بن عمرو وو او د دۀ بنو قریظه او بنونظیر سره څه تعلقات وو د هغوی حلیف هم وو، د بنو قریظه سره د جهاد په قیدیانو کښې دا هم قید شوو وه،دا بیا مسلمانه شوې وه او نبی علیه السلام آزاده کړې وه او په یو روایت کښې دی چې نکاح ئې ورسره هم تړلې وه، د نبی علیه السلام ملکیّت ته دا په شپږم

کال د هجرت راغلې وه او بيا د نبی عليه السلام د حجّة الوداع د واپس کيدلو نه بعد وفات شوې وه او په جنت البقيع کښې دفن شوې ده.

د صلح حديبيّه نه بعد چې کله خطرات کم شو نو نبی عليه السلام قبائيلو ته خطوط شروع کړل او بادشاهانو ته ئې په اسلام کښې د داخليدو دعوت ورکړو، د مصر بادشاه چې د هغه نوم مقوقس دے نبی عليه السلام هغه ته خط اوليکو او دغه خط ئي حاطب بن أبی بلتعه ته ورکړو چې دا د مصر بادشاه ته ورکړه، دغه مقوقس بادشاه ته چې کله د نبی عليه السلام خط ملاؤ شو نو هغه د دې خط ډير قدر او احترام اوکړو ځکه هغه نصرانی بادشاه عالم هم وو او ورسره ئے دا خبره هم اوکړه چې زمونږه په کتابونو کښې د اخری پيغمبر ذکر موجود دے،او د نبی عليه السلام دغه صحابی ئې د ځان سره ځلور يا پنځه ورځې مقيم کړو، دغه مقوقس بادشاه مسلمان شوے نه دے خو نبی عيله السلام ته ئې څه تحفې تحائف ورکړی وو، دوه پکښې وينزې وې او يو هزار مثقاله سره شل(۲۰)جوړه جامې او ورسره ئے ورته يو خچر هم ورکړے دے. چې د دغه خچر نوم دلدل وو،نو چې کله دا نبی عليه السلام ته ملاؤ شو نو يو روايت دے چې نبی عليه السلام د ماريه رضی الله عنها سره نکاح کړې وه او يو روايت دے چې د دۀ وينزه وه او نکاح ئي ورسره نه ده کړې او د دې سره هغه بله وينزه سيرن ئے حسان بن ثابت ته ورکړه،او دا بيا مسلمانه شوې ده او د دې نه د نبی عليه السلام اخری اولاد سيدّنا ابراهيم عليه السلام پيدا شوے دے او هغه بيا د دوو کالو نزدې عمر کښې وفات شوے وو،عائشة رضی الله عنها وائي چې ماله به په دوو خبرو باندې غيرت او رشك راتلو يو دا چې دا ماريه رضی الله عنها ډير خائسته او نبی عليه

السلام ته محبوبه هم وه دويمه وجه دا چې الله د دې اولاد پيدا کړے وو ځکه ابراهيم عليه السلام د دې بچے وو. دا د نبی عليه السلام د ازواجو په باره کښې څه مختصر تفصيل وو.

د دې سره متعلقه خبره هغه دا ده کثرة ازواج ،د نبی عليه السلام ډيرې بيبيانې کيدل نو دا د مغرب په اعتراضونو کښې يو دا هم دے بلکه د هغوی غټ اعتراض دا دے چې په اسلام کښې د څلورو پنځو اجازت ولے دے او دا دومره زياتې بيبيانې نبی عليه السلام ولے کړی دی نو دا دوه اعتراضونه دی، يو دا چې نعوذ بالله دغه مستشرقين زنادقه او کفّار دا خبره کوی چې نبی عليه السلام دا دومره ډيرې بيبيانې ولے کړی دی دا (نعوذ بالله) شهوت پرست وو، د دې اعتراض دوه جوابونه دی يو الزامی جواب دا دے چې نعوذ بالله دغه اعتراض د دې سبب د وجې نه په ابراهيم عليه السلام موسی عليه السلام يعقوب عليه السلام سليمان باندې هم کيږی ځکه د هغوی هم ګڼړې بيبيانې وې او هغوی ډيرې بيبيانې کړې وې، دا ټول ستاسو د اهل کتابو پيغمبران دی دا اعتراض ستاسو په هغوی باندې هم کيږی تر دې پورې چې داؤد او سليمان عليه السلام خو دومره زياتې بيبيانې کړې دی دا اعتراض تاسو په هغوی باندې ولے نه دے کړے او بله خبره دا ده چې د دې ګڼړو ښځو اجازت نورو مذهبونو هم ورکړے دے لکه تورات،انجيل کښې يا هندو مذهب کښې د رام چند چې د هغه پلار مهاراجه درې ښځې کړې وې او دا د دې مذهب بانی وو او تورات او انجيل کښې د پيغمبرانو د ډيرو بيبيانو ذکر شته دے د داؤد عليه السلام (۹۹) نهه نوی بيبيانې وې او د سليمان عليه السلام (۱۰۰) سل او د يو روايت مطابق چې هغه اسرئيلی روايت دے شپږ سوه بيبيانې د

سلیمان علیه السلام وې په دغه پیغمبرانو دغه یهودو او نصاری اعتراض نه دے کړے لیکن د اسلام او پیغمبر اسلام سره د تعصّب د وجې نه هغوی په اسلام باندې دا اعتراضونه کوی.

او په شریعت کښې د څلورو ښځو اجازت ولے دے شوے اوکه یو انسان انصاف او عدل پکښې نشی کوے نو بیا ورته اجازت هم نشته، او دا ځکه چې دا د انسان ضرورت دے ځکه د یو انسان ښځه به بیماره وی خدمت به نشی کوے نو بلې ښځې ته به حاجت لری او د انسان په طبیعت کښې نفسانی خواهشات دی که دغه پوره نه کړے شی نو انسان په زنا کښې مبتلا کیږی د دې زنا نه د بچاؤ او د حفاظت د پاره ورته الله اجازت ورکړے دے نو دا یو فطری امر او ضرورت دے.

او د نبی علیه السلام کنړې بیبیانې د شهوت په بنیاد ځکه نه دې چې کله نبی علیه السلام ځوان دے نو په دغه وخت کښې هغه د چالیس (٤٠)کاله زنانه خدیجة رضی الله عنها سره نکاح کړې وه او بیا نبی علیه السلام ډیر عمر ورسره تیر کړے وو کله چې دغه وفات شوه نو د پچاس کاله په عمر کښې هغه دویمه ښځه سوده رضی الله عنها کړې وه نو د ځوانۍ ټول عمر تقریبًا نبی علیه السلام د دغه کونډې زنانه سره تیر کړی وو،بیا چې د پنځوس کاله په عمر کښې دویمه بی بی په نکاح کښې اخلی نو هغه هم کونډه ده او د عائشة رضی الله عنها سره نکاح په وقت کښې د نبی علیه السلام عمر (٥٤)څلور پنځوس کاله عمر وو او په دغه وخت کښې د نبی علیه السلام صرف دوه بیبیانې دې بیا یو کال د حفصة رضی الله عنها سره نکاح شوی وه او یوځو میاشتې بعد د زینب رضی الله عنها سره بیا څلورم کال د هجرت باندې د اُمّ سلمه رضی الله عنها سره پنځم

کال د هجرت باندې د زينب بنت حجش رضی الله عنها سره دغه وخت کښې د نبی عليه السلام عمر اَتۀ پنځوس کاله دے د دې نه بعد جويريّة رضی الله عنها او بيا زينب رضی الله عنها او په اتمه هجرۍ کښې ميمونه نو د عمر په اخری حصه کښې د نبی عليه السلام بيبيانې زياتې شوې دې نو دا وجه د شهوت نه وه بلکه دا يوه بله وجه وه او د دې بل څه حکمت دے دغه وجه ده چې الله صرف نبی کريم صلی الله عليه وسلم پورې خاص کړے دے او نبی کريم صلی عليه وسلم نه علاوه بل چاته د دې اجازت نشته.

او يو حکمت دا هم دے چې د پيغمبر صلی الله عليه واله وسلم د بعثت مقصد دا وو چې اسمانی تعليمات عام کړے شی دا تعليمات چې څنګه قولًا عام کيدل ضروری وو دغه شان به عملاً هم دا عام کيدے شی بلکه د معاشرتی ژوند،حکومت او سياست پورې د دې عموميّت ضروری دے،بلکه نبی عليه السلام چې څنګه د نارينوو پيغمبر دے هم دغه شان هغه د زنانوو پيغمبر هم دے، حقوق ادا کيدل، قسم قسم تعليمات ورکول،مساوات،عدل،انصاف کول، د اولاد پرورش وغيره يا د زنانوو سره متعلقه خاص خبرې د دې وضاحت بغير د دغه ګنړو بيبيانو نه نشی کيدے او دا وجه ده چې دعائشة رضی الله عنها نه دوه زره دوه سوه لس روايات نقل شوې دې د اُمّ سلمه رضی الله عنها نه درې سوه اتۀ اويا روايات نقل دی بلکه دغه عائشة رضی الله عنها د نبی عليه السلام د وفات نه بعد اتۀ څلويښت کاله ژوندۍ ده او د دغه تعليماتو پر چار کوی.
په دې کښې عمروبن ابی سلمه رضی الله عنها د نبی عليه السلام پرکتے دے په دې کښې د دې تعليم دے چې د پرکتۍ سره به څنګه رويّه کيږی

او ښنګه تعليم به ورته ورکولے کیږی او د ده د تربيّت د نبی علیه السلام په کور کښې شوے دے لکه دا وائي چې زه به کله د نبی علیه السلام سره ناست وومه نو هغه به راته د خوراك تعليم راكولو چې اے غلام بسم الله وايه او په ښی لاس باندې خوراك كوه او كوم خوراك چې درته نزدې وی نو هغه خوراك كوه،كله چې اُمّ حبيبة رضى الله عنها نبی عليه السلام په نكاح باندې اوكړه نو ابوسفيان په دغه وخت كښې مسلمان شوے نه وو چې كله خبر شو نو دا خبره ئې اوكړه(**هُوَ الْفَحْلُ لَا يُجْدَعُ أَنْفُهُ**) دا خو يو داسې ځوان دے چې د دۀ پوزه نه كټ كیږی يو طرف ته ورسره زمونږه د طرف نه زياتے كیږی او هغه بل طرف ته مونږه لره عزّت راكوی، نو دا د نبی عليه السلام يو سياسی جواب او اخلاقی شكست وو چې دغه مشركانو ته ئې په دې طريقې سره وركړے وو او د دې نه علاوه نور ډير حكمتونه هم پكښې وو.

والحمدلله رب العالمين

# د نبی علیه السلام زهد او سادګی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم۔

﴿وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَامَتَّعْنَا أَزْوَاجًا مِنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَّ اَبْقٰى....﴾ (طٰهٰ:۱۳۱)

مخکښې نه دا خبره شروع وه، چې د نبی علیه السلام زندګی څنګه زندګی وه چې هغه د اُمّت د پاره اسوۀ حسنه او پیغام اولائمه عمل جوړ شی چې دا ټول اُمّت ورباندی عمل اوکړی، د ژوند تیرولو په دې عبادتونو کښې د نبی علیه السلام یو عادت او خصلت هغه زهد او سادګی هم شته دے، الله د دې سادګۍ په باره کښې تعلیم نبی علیه السلام او د هغه اُمّت ته هم ورکړے دے، الله پاك فرمائی (**وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَامَتَّعْنَا أَزْوَاجًا مِنْهُمْ**) الله نبی علیه السلام ته فرمائي چې اے زما پیغمبره په دې دنیا کښې چې دې کافرو ته ما څومره زیب وزینت او ارائش، د دنیا سازوسامان، سهولیّات ورکړی دی نو دا صرف د یو څو ورځو خوشحالی او صرف د یو څو ورځو فائده ده او د دې غټ مقصد دا دے(**لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ**) چې مونږه ورباندې امتحان اوکړو دا د دې دنیا د ورکړې غټ او لوئے مقصد دے څکه د دې حساب کتاب،محاسبه،سوال جواب به کیږی او د دې په مقابله کښې د اخرت رزق او د اخرت کامیابی نو د هغے په باره کښې الله فرمائی (**وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ**) ستا د رب هغه رزق ډیر بهتر او غوره رزق دے، الله چې کوم رزق د قیامت په ورځ خپل بنده

ته ورکوی نو هغه ډیر بهترین او قیمتی رزق دے او په دنیا کښې هم د الله هغه لړ رزق باندې انسان خوشحاله او مطمئن وی.

انسان چې په دنیا کښې آباد شوے دے نو د دې انسان سره ډیرې تقاضې او خواهشات تړل شوی دی، د دې ضرورتونو، خواهشاتو، او تقاضو یو خپل خپل مقام دے په دې کښې مقصد څه څیز دے چې انسان ته مقصد معلوم وی او نا خبره په غفلت کښې نه وی، او په دې دنیا کښې ضرورت څه څیز دے چې دا ضرورت انسان ته راشی نو ورته معلوم وی او دریم خواهش دغه خواهش په جائز ځائے کښې پوره کول انسان لره منع نه دی چې انسان به خپل جائز حد پورې خواهش هم نه پوره کوی، بلکه په اسلام کښې دا منع دی چې یو انسان مکمل د خپل خواهشاتو غلام جوړ شی او ورځ او شپه په دغه خواهشاتو پورې منډې وهی ورپسې شوے وی او یا دنیا د خپل ژوند دپاره اول او اخر مقصد جوړ کړی او اخرت ورته یاد نه وی د دې دنیا په تلاش کښې ورځ او شپه ضائع کوی او د آخرت مقصدی ژوند ورنه هیر شوے وی د هغې په باره کښې ورسره هیڅ غم، درد او فکر نه وی،ګویا چې په دے انسان باندې مرګ نه راځی نو دا دنیا پرستی ده او دا په شریعت اسلامیّه کښې منع ده.

انسان الله په دنیا کښې فطرتًا ارائش پسند او نمائش پسند پیدا کړے دے دا دواړه به انسان د اعتدال په حد کښې ساتی او په دې کښې به د اعتدال نه ماوراء تصرّفات نه کوی لکه تکبر به نه کوی اسراف به نه کوی مثلاً یو انسان ته د سورلۍ ضرورت دے نوکه دا انسان د یو

سورلی په ځائے بغیر د ضرورت نه دوه، یا درې سورلے واخلی نو دا اسراف دے او په شریعت کښې بیا دا څیز منع دے.

او د دې سره مناسبه بله خبره دا ده چې که یو انسان ته الله په دنیا کښې څۀ څیز ورکړے وی نو د دغه څیز د وجې نه به دا انسان د الله د خوف او یرې نه نۀ بے پرواه کیږی، د الله خوف او یره به د دې انسان په زړۀ کښې هر وقت موجود وی،که الله ورباندې څه نعمت کړے وی نو د الله شکر به وربانديې اداکړی اوکه نعمت ورته ملاؤ نشی نو دغه انسان به صبر کوی د دې نه خلاف که یو انسان ته دا څیزونه ورکړے شی او شکر نه ادا کوی یا یو انسان ته نه دې ورکړے شوې او دا انسان دَ صبر او د استقامت نه کار نه اخلی نو دا دواړه قسمه انسانان په نقصان او خسران کښې مبتلا شوی دی.

او بله خبره دا ده چې انسان ته څه حلال څیز د الله د طرف نه ورکړے شی نو په دغه حلال څیز باندې به اکتفاء کوی که هغه لږ دې اوکه هغه ډیر وی د دې په مقابله کښې به یو انسان په هیڅ یو صورت دا کار نه کوی چې حرام مال د حاصلولو د پاره شپه او ورځ کوششونه کوی او د دې پرواه نه لری چې په دې طریقه باندې زما الله ناراضه کیږی او هغه ته دا طریقه خوښه طریقه نه ده، نو د داسے مال اخری انجام دا جوړ شی چې د غه انسان د پاره د هلاکت او تباهۍ سبب جوړ شی حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی﴿ **قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ، وَرُزِقَ كَفَافًا، وَقَنَّعَهُ اللَّهُ بِمَا آتَاهُ** ﴾(صحیح مسلم) هغه انسان کامیاب انسان دے چې اسلام ئے قبول کړے وی او الله ورته د هغه د ژوند دپاره کافی او پوره برابر رزق ورکړے وی او څه رزق یا نعمت چې وربانديې الله کړے وی نو په دغه

نعمت باندې دا انسان صبر اوکړی دا هغه کامیاب انسان دے چې د دنیا نه کما حقّه فائده دغه شان انسان اغستے شی، او په دې طریقه د دغه انسان نه الله هم راضی وی او په دې مال دولت کښې ورته الله خیر هم ورکوی.

او په یو بل روایت کښې د مسلم شریف راځی نبی علیه السلام فرمائي چې الله رب العزت دا خبره کوی چې انسان ټول عمر په خپله خُله باندې وائي چې دا زما مال دے دا زما مال دے او دا زما دولت دے او حقیقت دا دے چې صرف درې څیزونه دی چې دا انسان ورنه فائده اغستے شی او نور څیزونه د دې انسان په فائده باندې نه راځی یو هغه څیز دے چې(**مَا أَكَلَهُ فَأَفْنَاهُ**) دې انسان هغه څیز خوړلے وی او ختم شوے وی ځکه دا څیز په دنیا کښې د دې انسان په فائده باندې راغلے. او دویم څیز(**أَوْلَبِسَهُ فَأَبْلَاهُ**) یا دغه څیز دې انسان په خپل بدن باندې د ستر او پردی د پاره اغوستے وی او زوړ شوے وی او دریم څیز هغه دے چې(**فَأَعْطٰى وَاقْتَنٰى**) چې دا انسان ئے بل انسان ته غریب،مسکین ته یا د الله په لاره کښې ورکړی او دۀ ته دغه څیز د آخرت فائده ورکړی او د دې نه علاوه نور ټول مال (**وَمَا سِوَى ذٰلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُ هُوَلِلنَّاسِ**)(ترغیب و ترهیب) د دې نه علاوه ټول مال د دې انسان تلونکے دے او هلا کیدونکے دے ځکه دغه مال به د دې انسان نه په دنیا کښې پاتې شی او د دې هیڅ فائده به ورته نه وی، او صرف د دنیا پرستۍ په بنده باندې نبی علیه السلام لعنت وئیلے دے(**لَعَنَ اللّٰهُ عَبْدَ الدِّيْنَارِ وَ عَبْدَالدِّرْهَمِ**) (ترمذی) نبی علیه السلام فرمائي چې الله د دنیا په غلام چې صرف دنیا پرست انسان وی په دغه انسان باندې الله لعنت وئیلے دے،چې هغه د درهم او د پیسو غلام جوړ شوے وی او د الله عبادت د الله حق ورته یاد

نه وی د مسجد، د قرآن د عبادت سره د دې انسان مناسبت او تعلق نه وی، او بل مطلب دا دے چې د دنيا د پيسو د وجې نه خپل رشته دارو سره تعلق او رشته داری ختمه کړی.

يو صحابی په يو موقع د نبی عليه السلام مجلس ته حاضر شو او تپوس ئے ورنه وکړو چې اے د الله پيغمبر صلی الله عليه واله وسلم **﴿دُلَّنِيْ عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمَلْتُهُ أَحَبَّنِيَ اللهُ، وَأَحَبَّنِيَ النَّاسُ؟﴾**(ابن ماجه) ماله يو داسے عمل اوښايه چې د دغه عمل د وجې نه زما سره د الله او د الله د مخلوق مينه او محبّت پيدا شی نو نبی عليه السلام ورته جواب ورکړو **﴿ أَزْهِدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبُّكَ اللهُ﴾**(ابن ماجه) د دنيا،مال،دولت سره مينه او محبّت مه کوه نو الله به درسره محبّت اوکړی، ځکه دا د الله د محبّت د حصول دپاره يو معيار دے اوکه د خلقو مخلوقاتو محبّت غواړې نو **﴿ أَزْهِدْ فِيْمَا عِنْدَ النَّاسِ يُحِبَّكَ النَّاسُ﴾** د دې خلقو په لاسونو کښې چې څه څيزونه دې نو د دې نه بے رغبته شه د دې سره مينه مۀ کوه نو د خلقو محّبت به هم درسره پيدا شي او خلقو ته به محبوب جوړ شی ځکه الله دا خطاب خپل محبوب پيغمبر پاك صلی الله عليه واله وسلم ته هم کړے دے**﴿وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلٰى مَامَتَّعْنَابِهٖ﴾**(طٰهٰ:۱۳۱) اے زما پيغمبره د دې خلقو دنيا ته مۀ ګوره ځکه چې الله تالره کوم دولت درکړے دے دا دولت د هيڅ چاسره نشته او دويمه وجه دا ده چې دا صرف د يو امتحان په بنياد دې دنيا کښې دی خلقو ته الله دا د دنيا څيزونه مال،دولت،عزّت ورکړے دے او په اخرت کښې ورته هيڅ فائده نه ورکوی.

عمر رضی الله عنه فرمائي يو ځل زۀ د نبی عليه السلام کمرې ته دننه شوم نو هلته د نبی عليه السلام لباس صرف يو لنګ وو او يوه تکيه

وه چې هغه د کهجورو د پانړو نه ډکه شوې وه او صرف د يو موټی په مقدار څه وربشې يو طرف ته موجود وې، او بل طرف ته د څناور په څرمنې کښې څه اوبهٔ وې چې د هغې نه مشکيزه جوړه کړے شوې وه.

او يو بل روايت کښې راځی چې زهٔ د نبی عليه السلام کمرې ته لاړم نبی عليه السلام په يو پوزکی باندې اودهٔ شوی وو، چې راويخ شو نو د هغه په بدن کښې د دغه چټائی چاپونه جوړ شوی وو، ما ورته اووئيل يا رسول الله صلی الله عليه واله وسلم قيصر او کسری په کوم حالت کښې دی او ته خو د الله پيغمبر ئے ستا څه حالت دے او زهٔ ډير خفه شوم، نبی عليه السلام جواب راکړو(أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ لَهُمُ الدُّنْيَا وَلَنَا الْآخِرَةُ) آيا ته دا نه خوښے چې هغوی ته دنيا ملاؤ شی او مونږه ته الله اخرت راکړی ځکه دنيا صرف يو راه ګزر دے او يو بل روايت کښې راځي چې نبی عليه السلام عبدالله بن مسعود ته فرمائي چې زما د دنيا سره څه تعلق دے ځکه زما مثال خو د يو مسافر دے چې هغه په لاره باندې روان وی،صرف د ضرورت د پاره لږ ساعت ودريږی او بيا په خپله لاره منزل مقصود طرف ته روان وی.

د دې خبرو دا مطلب نه دے چې نبی عليه السلام تارك الدّنيا وو نا هغه تارك دنيا نه وو، ليکن دَ هغه دنيا مقصد هم نه وو، ځکه د مسلمان مقصد د اخرت خوشحالی او د اخرت کاميابی مطلوب ده، دنيا صرف د ضرورت اندازې پورې ورسره وه ځکه که ښهٔ لباس به ورته ملاؤ شو نو نبی عليه السلام د اغستو نه انکار نه دے کړے اوکه نور لباس به نه وو نو صرف يو څادر يا صرف په يو لنګ باندې به هغه اکتفاء اوکړه.

یو عالم د نبی علیه السلام په سیرت کښې لیکلي چې هغه به په زمکه باندې خوراك،څكاك كوو، او د ضرورت د پاره به بذات خود بازارته تلو، اوكه تكيه به خرابه شو نو هغه تكيه به ئې پخپله جوړه كړه، اوكه د خوراك نه بعد به څه خوراك د هغه په ګوتو مباركو باندې وو نو هغه به ئے اوسټلو او بيا به ئے دا خبره اوكړه (**إِنَّمَا أَنَا عَبْدٌ**) زه د الله يو بنده يمه،(**آكُلُ كَمَا يَأْكُلُ الْعَبْدُ**) زه هغه شان خوراك كومه لكه څنګه چې يو غلام خوراك كوی،ځكه په دې سره انسان د تكبر لوئے نه محفوظ وی. دا د نبی علیه السلام هغه بے تكلفه زندګی وه چې هر غريب او مالداره مسلمان وربانديې عمل كوے شی او په دې كښې په عمل كولو كښې ورته هيڅ نقصان يا تكليف نه وی بلكه د هر مسلمان دپاره يو مشغل راه دے،دا نن چې څومره مسائل،تكليفونه دی نو وجه دا ده چې مونږه ضرورت او خواهش نه دے پيژندلے كه صرف د ضرورت په اندازه په ضرورت باندې عمل اوكړے شی نو دا ټول معاشی مسائل به زمونږه ختم شی او هر طرف ته به خوشحالی وی، لكه يو حديث كښې راځي چې كله يو انسان په خرچ كښې د ميانه روئ نه كار واخلی نو دا انسان به هيڅ كله غريب نشی.

نن كه هر انسان دهوكه بازئ ته مجبوره دے يا غلا ته مجبوره دے او هر انسان شكايت كوي چې خرچه نه پوره كيږی نو د دې اصل سبب دا دے چې هر رسم او رواج باندې د انسان د مال تباهی كيږی، هر خواهش انسان پوره كول غواړی، بےتكلفه ژوند انسان ته ناخوښ دے نو دې هر قسم ګناه ته ئے خپل ځان پخپله مجبوره كړے دے.

د مدينې منوّرې په دور كښې چې په كوم وخت كښې نبی علیه السلام د رياست حكمران وو، او خپل تجارت هم ورسره وو او د دې نه

علاوه په مال غنيمت کښې به ورته خمس هم ملاويدو نو سره د دې مالدارۍ نه د نبی علیه السلام ژوند بے تکلفه وو لکه عائشة رضی الله عنها وائي چې د نبی علیه السلام تکیه،بالخت د څرمنې نه جوړ شوے وو، او د دغه بالخت په مينځ کښې د کهجورو پاڼړې کیخودلے شوې وې، او حفصه رضی الله عنها وائي چې یو ځل ما د نبی علیه السلام بستره څو قطه رایوځائے کړه دې دپاره چې نبی علیه السلام ورباندې په ښه شان ارام او خوب اوکړی نو نبی علیه السلام ورباندې د شپې په وخت کښې اُوده شو چې کله د سحر په وخت کښې رابیدار شو نو نبی علیه السلام حکم اوکړو چې(رُدُّوْهَا اِلٰی حَالَتِهَا الْاُوْلیٰ) دا بستره هم هغه زوړ خپل حالت ته دوباره واپس کړۍ ځکه د دې د وجې نه زما نه د شپې عبادت قضاء شو ځکه ما ته خوب راغلے وو او د شپې د عبادت د پاره د راپاسیدلو موقع راته ملاؤ نه شوه، که یو دغه شان بے تکلفه،زاهدانه، اوساده ژوند اختیار کړی نو د دې انسان ټول مسائل او مشکلات به حل شی او په رزق،مال،دولت کښې به ورته الله خیر او برکت کیږدی.

والحمدلله رب العالمین

# نظافت پسندی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ
وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!
فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔
﴿اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ﴾ (بقره:۲۲۲)
﴿وقال رسول الله ﷺ: اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَانِ﴾ (مسلم)

مخکښې نه د نبی علیه السلام د صفاتو او اخلاقو په باره کښې خبره شروع وه،په دغه صفاتو کښې د نبی علیه السلام یو بل ښه صفت،او نیك خصلت هغه نظافت پسندی او صفائی وه،ځکه نظافت نبی علیه السلام ته بذات خود محبوب صفت وو او اُمّت ته هم نبی علیه السلام د دې صفائي او نظافت په باره کښې تعلیم ورکړے دے، بلکه نظافت او صفائي د انسان فطرتًا مزاج او خاصّه ده چې انسان به نظافت پسند او صفائي خوښونکے وی او په دې سره صحتمنده معاشره وجود ته راځی ځکه په قرآن او حدیث کښې د صفائۍ په باره کښې دومره تأکید شوے دے.

د نورو صفاتو پشان د نبی علیه السلام د نظافت اقرار مخالفین،دشمنان هم کوی لکه یو مستشرقین لیکی چې زه د مسلمانانو پیغمبر ته حیران یمه چې دا څومره نظافت پسند او طهارت پسند انسان دے په هغه دور کښې د عربو په ریګستانی او صحرائي علاقو کښې به اوبه نه موندلے کیدې لیکن بیا هم پنځه وخته د اوبو استعمال هغه په

خپل ژوند کښې هره ورځ کړے دے او بیا هغه خپلو شاګرادنو ته هم دا تاکید کړے دے چې په هفته کښې یوه ورځ غسل کوی.

په یو موقع د نبی علیه السلام مجلس ته یو انسان حاضر شو د هغه ګنده او بے کاره جامې وې نبی علیه السلام ورنه تپوس اوکړو چې ایا ستا سره مال دولت شته دے هغه جواب ورکړو چې آؤ د الله پیغمبره زما سره ګډې، چېلۍ،اوښان هر قسمه مال شته دے او دا راته الله راکړے دے،نبی علیه السلام جواب ورکړو چې هر کله الله تاله مال درکړے دے نو الله ته دا خوښه ده چې د هغه د نعمت اثر په تا باندې ښکاره شی،ښه لباس،صفا او ستهرا لباس اغونده،او یو بل انسان دَ نبی علیه السلام مجلس ته داخل شو د هغه سر ګډوډ په بد حالت باندې وو،نبی علیه السلام چې هغه اولیدو نو نبی علیه السلام اوفرمائیل چې آیا دا انسان یو څیز نه مومی چې دا خپل سره ورباندې صحیح او برابر کړی او د هغه د کپړو په باره کښې نبی علیه السلام ارشاد اوکړو چې د ده سره دومره څه څیز نشته چې دا خپلې کپړی ورباندې اووینځی او دا صفا کړی نو دا صفائي د نبی علیه السلام مزاج او طبیعت وو، او دا د دین اسلام حصه او برخه ده.

لکه حدیث کښې راځی قاضی عیاض په خپل کتاب (الشفاء) کښې ذکر کړے دے چې نبی علیه السلام فرمائي ﴿بُنِیَ الاِسْلَامُ عَلَی النَّظَافَةِ﴾ (الشفاء) د اسلام بنیاد په نظافت او صفائۍ باندې جوړ کړے شوے دے او په یو بل حدیث کښې راځی ﴿ الطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِیْمَانِ﴾(ترمذی) دا صفائي د ایمان حصه ده او دا نیم ایمان دے ځکه یو د انسان ظاهر دے او یو باطن دے نو نیمه صفائی د ظاهر سره راشی او نور ورسره باطن صفا شی.

او دغه وجه ده چې نبي علیه السلام د وړو وړو خبرو په باره کښې د صفائي د پاره تعلیم ورکړے دے لکه حدیث کښې راځی چې نبی علیه السلام د جمعې مونځ د راجمع کیدو د پاره د غسل تعلیم صحابو ته ورکړے وو،ابن عبّاس رضی الله عنه وائي چې د نبی علیه السلام په دور کښې مسجد نبوی وړوکے وو او د خلقو راجمع کیدو د وجې نه به په مسجد کښې بدبوئي جوړه شوه، نو نبی علیه السلام دا تعلیم ورکړو چې څوك د جمعې د ورځې مونځ د پاره حاضر شی نو غسل دې اوکړی بل دا چې په هغه وخت کښې د خلقو لباس ډبل لباس وو او خلقو به د کهجورو د باغ نه د مانځه دپاره راغلل نو نبی علیه السلام ورته حکم ورکړے وو چې تاسو خامخا غسل اوکړئ بیا چې روسته په مسجد کښې د خلفائے راشیدینو په دور کښې وسعت پیدا شو نو دغه عذر نه وو ځکه د جمعې د ورځې غسل لره د سنّت مقام ورکړے شو.

اوکه په عام حالاتو کښې یو انسان د ګنړې یا اجتماعی یو ځائے ته ځی نو هغه لره صفائی ضروری ده، او نبی علیه السلام د خوراك ،څکاك د پاره هم د صفائئ په باره کښې حکم کړے وو، او یو حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی څوك چې د دې بد بوداري اُوني نه خوراك اوکړی نو دغه انسان دې بیا زمونږه مسجد ته نه نزدی کیږی، ځکه وجه دا ده چې فرشتو ته د هغه څیز نه تکلیف ملاویږی د کوم څیز نه چې بنی ادم ته تکلیف رسیږی، د نبی علیه السلام په دور کښې بد بوداره بوټی درې څیزونه وو، یوه اُوګه وه دویم پیاز وو، دریم ګندنه وه نو نبی علیه السلام اوفرمائیل که یو انسان دا څیزونه خوړلي وې بیا دې دغه انسان زمونږه

مسجد ته نه نزدې کيږي، دا څيزونه د دې خوراك حرام او منع نه دے ليکن کله چې يو انسان يوې مجمع ته حاضر کيږی نو هغه عام خلقو ته د دې نه تکليف وی د دې وجې نه نبی عليه السلام د دې نه منع کړې وه، او بلکه په دې ځائے کښې ورنه هر هغه څيز مراد دے چې هغه بد بودار وی ځکه زمونږه دا دين اسلام صرف د عباداتو دين نه دے بلکه د ژوند هر قسمه انفرادی او اجتماعی مسائل زمونږه په دې دين اسلام کښې شته دے.

د خُلے د صفائی د پاره نبی عليه السلام د خُلے د وينځلو حکم کړے دے او د هغه دور مطابق نبی عليه السلام د مسواك استعمال کړے دے او په يو روايت کښې راځي چې که چرته زما سره يره نه وے چې دا مسواك وهل به زما په اُمّت باندې فرض کړے شی نو ما به دې خپل اُمّت ته د هر مونځ په وخت کښې د مسواك په باره کښې حکم کړے وے او دا ځکه چې بل انسان ته د دې بد بوئۍ نه تکليف ورنکړے شی ځکه اُمّ المؤمنين عائشه رضی الله عنها وائي چې د نبی عليه السلام په خُلے کښې به هر وخت مسواك وو که کور ته به هغه رادننه شو او که د کور نه به باهر شو اوکه د شپې په وخت کښې به مونځ د پاره راپاسيدو نو په دې هر وخت کښې به د نبی عليه السلام سره مسواك وو او د هغې استعمال به ئے کولو.

د دې ټولو ارشاداتو نه دا خبره معلوميږی چې دا صفائي يو اضافی څيز نه دے بلکه دا د دين اسلام يوه شعبه او يوه حصّه ده، او د دې صفائۍ اثر په يو شخص نه بلکه پوره په محله او په ملك باندې وی که هر يو فرد د

صفائۍ خيال اوکړی نو ټول ملك به صفا وی او هر طرف ته به خوشحالی امن او اطمينان وی،دا نن چې زمونږه علاقې گنده دی کورونه او محلې بلکه پوره ملك گنده دے نو وجه دا ده چې انفرادی او شخصی صفائی نشته او نه د دې څوك خيال کوی او دا فرق زمونږه د دې ملك او د نورو ملکونو دے چې کوم احکامات او تعليمات اسلام مونږه ته د صفائي په باره کښې راکړی وو هغه تعليمات او احکامات نن کافرو خپل کړی دې او عمل ئې وربان‌دې شروع کړے دے او زمونږه د مسلمانانو ملکونو والو دغه د اسلام تعليمات پريخودلی دی او عمل وربان‌دې نه کوو نو د دې د وجې نه صفائي نشته او ټول ملك گنده دے، او دا صرف د حکومت ذمه داری هم نه ده بلکه دا د هر هر فرد انسان ذمه داری ده.

د سيرت کتابونو واله ليکی چې په اسلامی رياست مدينه کښې به فرق دا وو چې د مسلمان د کور مخه به صفا وه او د يهودی د کور خوا به صفا نه وه يو دا فرق وو او بل فرق دا وو چې د مسلمان د کور نه به د قرآن د تلاوت آواز راتلو ، نن دا خبره اُولټه شوې ده ځکه نن د مسلمان د کور مخه گنده وی او د يهودی د کور خوا صفا وی او د مسلمان د کور نه نن د گانو بجانو آوازونه راباهر کيږی او د يهودی د کور نه د تورات آواز راوځی نو د مسلمان عمل دا جوړ شوے دے چې هغه وربان‌دې مسلمان نه معلوميږی ځکه عمل ئے د کافرو اختيار کړے دے، او په صفائۍ کښې د اسلام د تعليماتو خلاف دا خبره هم ده چې د خپل کورنه گند راباهر کړے شی او په لاره يا سړك باندې کيخودلے شی،ځکه دا د مسلمان شان نه دے او دا نيمگړې صفائی ده پوره صفائی نه ده او بل

نقصان پکښې دا دے چې په دې سره ايذائے مسلم کيږی او د بندګانو د حقوقو تلفی هم ورسره کيږی،بلکه ټولو مسلمانانو ته د دې ګند د وجې نه په لاره باندې تکليف وی،او په حديث کښې راځي چې دَ ايمان څه د پاسه اويا شعبې دی يوه شعبه هغه دا ده چې د لارې نه تکليف ده څيز لرې کړے شی، او يو روايت کښې راځی نبی عليه السلام فرمائي چې په ماباندی زما د اُمّت نيك او بد عملونه پيش کړے شو نو ما د خپل اُمّت په نيك عملونو کښې بهترين څيز دا اوليدو چې يوه ګندګی يا د ضرر واله څيز د لارې نه لرې کړے شی او د دې اُمّت په بد اعمالو کښې راته دا او خودلے شوه چې توکانړی يا خراشکی په مسجد کښې وی او دفن نکړے شی ځکه د دې د وجې نه عام خلقو ته تکليف وی، او مفتی شفيع رحمت الله عليه وائي چې لکه څنګه تکليف ده څيز د لارې نه لرې کول ثواب دے دغه شان يو نقصانی يا تکليف ده څيز په لاره کښې کيخودل او اچول هم ګناه ده.

والحمدلله رب العالمين

# د نبی علیه السلام صدق او سچائی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم۔

﴿وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا﴾ (نساء:۱۲۲)

د نبی علیه السلام سیرت او د اخلاقو په باره کښې خبره شروع وه، چې د نبی علیه السلام سیرت د اُمّت د پاره یو عملی ژوند او نمونه وه،چې اُمّت د نبی علیه السلام عاداتو او اخلاقو باندې عمل اوکړی او په هغې پسې روان شی او دا د اُمّتی کیدو مطلب هم دے، چې یو مسلمان به په صحیح معنٰی کښې د نبی علیه السلام اُمتّی په هغه صورت کښې وی چې د هغه په طریقه باندې روان شی او عمل ورباندې اوکړی، په دغه ښه او نیك صفاتو او عاداتو کښې یو صفت هغه د نبی علیه السلام صداقت،سچائی او رشتیا وئیل هم وو، دا د نبی علیه السلام یو اعلی، مضبوط او زبردست صفت او خصلت دے چې په هغه کښې راز داری، سچائی وه او دروغ وئیل یا دهوکه بازی هیڅ چرې د هغه په دې ټول ژوند او سیرت کښې نشته، او دا صفت ورته الله دومره په کمال درجې سره ورکړے وو چې هغه مشرکین مکه کوم خلقو چې شپه او ورځ د نبی علیه السلام د مرګ کوششونه کړی وو نو هغوی هم دا خبره منلی وه چې دا پیغمبر رشتینی پیغمبر دے او دروغ نه وائی ځکه ورته د نبوّت نه مخکښې صادق او امین وئیلے کیدو.

او دا دومره اهم صفت دے چې د مسلمان د هر قول او فعل صحیح والے په دې صفت باندی بناء کیږی، ځکه کله چې یو انسان رشتینی انسان وی نو هر نیك عمل کار ورته اسان وی او عمل وربانديې کوی او کلې چې د یو انسان په ژوند کښې رشتیا والے نه وی نو هر د ګناه په کار کښې دغه اخته کیږی او د نیك عمل دروازې وربانديې الله بندې کړی وی د دهٔ د دروغو وئیلو د وجې نه او هم دا وجه ده لکه یو روایت کښې راځی (**الصِّدْقُ يُنْجِيْ وَالْكَذِبُ يُهْلِكُ**)(کنزل العمال) چې رشتیا انسان لره نجات ورکوی او دروغ وئیل انسان تباه او هلاك کوی،ځکه په رشتیا وئیلو سره انسان ته د نیك عملونو دروازې کولاویږی او په دروغو سره انسان ته د ګناهونو او بد عملونو دروازې کولاویږی.

بلکه دا رشتیا وئیل دومره فضیلت او مقام لری چې دا د الله په صفاتو کښې یو غټ صفت هم دے لکه په سورة النساء کښې الله فرمائي (**وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللهِ حَدِيْثًا**)(نساء:۸۷) څوك د الله نه ډیر رشتینی خبرې کونکے دے ځکه چې الله څه فرمائی او په کوم ځائے کښې ئې فرمائی هغه ټولې خبرې رشتینی او حق خبرې دی،دروغ یا مبالغه پکښې نشته او په دې سورت کښې الله فرمائي (**وَعْدَ اللهِ حَقًّا وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللهِ قِيْلًا**)(نساء:۱۲۲) د الله وعده حق او رشتیا وعده ده او څوك د الله نه زیات رشتینی خبرې کؤنکے کیدے شی، ځکه چې الله کومه وعده کړې وی هغه وعده الله پوره کوی نو دا رشتیا د الله په صفاتو کښې یو عظیم صفت دے د دې دا مقام او مرتبه ده، او ځکه الله دا صفت په انبیائے علیهم السلام کښې پیدا کړے دے او د انسانی اخلاقو د پاره الله دا

صفت بنياد جوړ کړے دے او ځکه الله د دې صفت په باره کښې مسلمانانو ته حکم کړے دے حديث کښې راځی نبی عليه السلام فرمائي(**تَخَلَّقُوْا بِأَخْلَاقِ اللهِ**)(طبرانی) اے خلقو تاسو د الله واله اخلاق اختيار کړی او په هغه اخلاقو باندې خپل ځان برابر کړی او عمل ورباندې اوکړی ځکه الله رشتينی ذات دے نو تاسو رشتيا وئيونکی جوړ شی او الله دروغ نه وائی تاسو هم دروغ مه وائی او الله خپله وعده پوره کوی تاسو هم وعده پوره کونکی جوړ شی.

او الله په قرآن کښې د انبياؤ د رشتيا وئيلو ذکر کړے دے لکه د ادريس عليه السلام په باره کښې وائي(**وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ،إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا**)(مريم:٥٦) اے زما پيغمبره دې خلقو ته دا ادريس عليه السلام په باره کښې تذکره اوکړه ځکه هغه يو رشتينی پيغمبر وو، او د ابراهيم عليه السلام په باره کښې وائي(**وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا**)(مريم:٤١) اے زما پيغمبره ياد کړه په کتاب کښې ابراهيم عليه السلام ځکه هغه هم د الله يو رشتينی پيغمبر وو، او د اسماعيل عليه السلام په باره کښې الله فرمائي(**إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ**)(مريم:٥٤)دغه اسماعيل عليه السلام رشتيا وعدې واله انسان وو،او الله په دنيا کښې هم مومنانو ته خطاب کړے دے (**وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ**)(توبه:١١٩) چې تاسو د رشتيا وئيونکو خلقو سره ملګری شئ، څوك چې په دين،تقوی، ايمانداری کښې رشتيا وائي د هغوی ملګری جوړشئ،چې په کومه موقع يو انسان رشتيا وائي که هغه معاملات دی اوکه دين او عقيده ده اوکه بله

خبره ده نو همیشه تاسو د رشتینو خلقو جماعت جوړ شئ او د دروغ وئیونکو سره مۀ کیږئ ځکه د قیامت په ورځ به انسان ته د هغه رشتیا عمل فائده ورکوی الله فرمائي ﴿هَذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ صِدْقُهُمْ ﴾ (مائده:۱۱۹) دا هغه ورځ ده چې رشتیا وئیونکو خلقو ته به د هغوی رشتیا فائده ورکړی، نو الله کامیابي او ناکامی د دې رشتیا وئیلو سره یو ځائے کړې ده.

عبدالله بن عمر رضی الله عنها فرمائي چې څلور صفتونه په یو انسان کښې موجود شی نوکه هغه ته د دنیا نور هیڅ څه څیز ملاؤ نشی بیا هم دغه انسان کامیاب دے،یو صفت دا دے چې د امانت حفاظت کوی او خیانت پکښې نه کوی،دویم صفت حسن خلق دی مطلب چې یو انسان د ښه اخلاقو خاوند وی ځکه ښه اخلاق بهترین صفت دے،دریم ښه صفت دا دے چې د یو انسان خوراك،څکاك حلال او پاك وی،او څلورم صفت دا دے چې دا انسان رشتیا وئیونکے جوړ شی او دروغ نه وائی.

او یو بل صحابی دے عبدالله بن عمرو بن العاص دا وائي چې ما د نبی علیه السلام نه تپوس اوکړو چې انسان په کومو اعمالو سره جنّت ته دا خلیدے شی،نو نبی علیه السلام راته جواب راکړو چې رشتیا وئیلو سره انسان جنت ته داخلیږی، ځکه کوم انسان چې رشیتا وائي نو نیکی ورته اسانه شی او کوم انسان ته چې نیکی اسانه شی نو د هغه ایمان ورسره کامل او مکمل شی او د چا چې ایمان کامل وی نو هغه انسان جنت ته داخیلږی دا صحابی وائي بیا د نبی علیه السلام نه ما تپوس اوکړو چې انسان په کوم عمل سره جهنّم ته داخیلږی نبی علیه السلام راته جواب راکړو چې انسان

په دروغو وئيلو سره جهنّم ته داخليږی او دا ځکه چې کله يو انسان دروغ وائي نو هغه په ګناهونو کښې اخته کيږی او چې کله دغه انسان ګناهونه ډير کړی نو آخر کفر ته نزدې شی او يا کافر شی هميشه جهنّمی شی.

او په يو روايت کښې راځی د نبی عليه السلام نه تپوس شوے وو چې يا رسول الله صلی الله عليه واله وسلم مسلمان،مومن بزدله کيدے شی؟نبی عليه السلام جواب ورکړو چې آؤ مسلمان،مومن بزدله کيدے شی،بيا ئی تپوس اوکړو چې ايا مومن مسلمان بخيل او کنجوسه کيدے شی؟نبی عليه السلام جواب ورکړو چې آؤ دا هم کيدے شی او ښه صفت نه دے،او بيا ئي تپوس اوکړو چې ايا مومن،مسلمان دروغژن کيدے شی؟ نبی عليه السلام جواب ورکړو چې نا مومن،مسلمان دروغژن نشی کيدے ځکه ايمان د صداقت او د رشتيا وئيلو نوم دے او کوم انسان چې د الله سره په توحيد کښې صادق نه وی او د نبی عليه السلام سره په اطاعت کښې صادق او رشتينی نه وی نو دغه انسان څنګه مسلمان کيدے شی!

او که يو انسان د نبی عليه السلام په سيرت باندې نظر اوکړی نو ورته به معلومه شی چې د نبی عليه السلام مخالفين مشرکانو هم دا خبره منلې وه چې نبی عليه السلام صادق،او امانت دار دے د هجرت په شپه باندې د نبی عليه السلام د کور سره مشرکان لاس په توره ولاړ دی او د نبی عليه السلام د قتل په اراده راغلی دی ليکن بيا هم د دغه مشرکانو امانتونه د نبی عليه السلام سره وو، چې نبی عليه السلام هغه حضرت علی رضی الله عنه ته حواله کړل چې دا به مشرکانو ته ادا کړې او مشرکانو ته

دا خبره معلومه وه که مونږه هغه د قتل د پاره لاړو نو بیا هم هغه دومره یو رشتیا وئیونکے انسان دے چې هغه د هیڅ چا امانت نه ضائع کوی.

په سیرة ابن هشام کښې یوه واقعه ده چې یو ځل د مکې مشرکان ټول راجمع شو او د نبی علیه السلام په باره کښې ئې خبرې شروع کړې چې د دۀ دین خلقو قبول کړو او دا زمونږه مخالفت کوی،نو په دغه دوران کښې نضربن حارثه اودریدو چې هغه یو تجربه کار او هوښیار سړے د مشرکانو په نزدیك ګنړلے کیدو، هغه ورته اووئیل چې دا محمد صلی الله علیه واله وسلم په تاسو کښې د یو وړوکی مقام او عمر واله انسان وو خو هغه اوس تاسو نه غټ مقام او عزّت واله جوړ شوے دے او ټولو خلقو ته خوښ او محبوب هم دے او جه دا ده چې دا صادق القول یعنې رشتیا وینا وئیونکے دے او د دۀ ټوله ځوانی تاسو ته معلومه ده، دا تاسو چې دۀ ته کوم نسبتونه کوی دا غلط ځکه دې چې اول زما ذهن ستاسو دا خبرې نه منی، که تاسو دا وائې چې دا جادوګر او ساحر دے نو زۀ ساحران او جادوګران پیژنمه او ماته د هغوی د جادو طریقې هم معلومې دی لیکن د محمد صلی الله علیه واله وسلم هیڅ یوه طریقه جادو او سحر نه دے. اوکه تاسو وائے چې دا شاعر دے نو په الله قسم زه شعر وائمه او زه په شعر او شاعرۍ باندې پوهیږمه دا د شاعر خبرې نه دی او نه د ده کلام شعر دے،اوکه تاسو وائې چې دا لیونے دے نو په الله قسم دا ډیر لوې ظلم دے لیونیان داسې نه وی ځکه ما لیونیان لیدلی دی،تاسو په دې خبرو باندې سوچ،فکر اوکړۍ هسې نه چې تاسو د دې پیغمبر د مخالفت د وجې نه

هلاك او تباه نشی،د دې نه معلومه شوه چې مشركانو ته هم د نبی علیه السلام رشتیا وئیل تسلیم وو.

او په یو موقع د نبی علیه السلام غټ او لوی دشمن ابوجهل ته نبی علیه السلام د اسلام د قبول کیدو دعوت ورکړو،نو د ډیرو خبرو نه بعد ورته ابوجهل وائي چې (اِنَّا لَا نُكَذِّبُكَ وَ لَكِنَّا نُكَذِّبُ مَا جِئْتَ بِهِ)(ترمذی) مونږه تا ته دروغژن نه وایو لیکن دا تهٔ چې دَ څه څیز دعوت ورکوې نو مونږه هغې ته د دروغو نسبت کوو، ځکه ته رشتینې انسان ئې او تهٔ دروغ نه وائی لیکن ستا دا قانون،نظام او کتاب منلو ته مونږه تیار نه یو، او الله دا ایتونه نازل کړل(قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِیْ يَقُوْلُوْنَ فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ)(انعام:۳۳) أی زما پیغمبره دا مشرکان تاله دروغژن کوے نشی لیکن کافران د الله په ایتونو پورې ټوقې کوی ځکه دوی ستا نه انکار نه کوی لیکن د توحید نه انکار کوی او دوی زما ایتونو ته دَ دروغو نسبت کوی نو په دې ایت کښې الله خپل پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم ته تسلی ورکړه.

او د نبی علیه السلام په خدمت کښې یو بنده حاضر شو ورته وائي اے د الله پیغمبره زه ګناهونه کونکے یمه خو دغه ټول ګناهونه پریخودے نشمه ته راته یوه ګناه اوښایه چې هغه زه پریږدمه،یو دا چې زه غلا کریمه دویم دا چې شراب هم څکمه دریم دا چې دروغ هم وائیمه او څلورم دا چې بدکاره هم یمه نبی علیه السلام ورته اووئیل دروغ مهٔ وایه که نور ګناهونه نه پریږدې نو دا دروغ ورسره مهٔ وایه دا پریږده دغه بنده د نبی علیه السلام سره وعده اوکړه او روان شو کله چې شپه راغله او د

عادت مطابق دۀ د بدکارۍ او شراب څکلو اراده اوکړه نو ورته یاد شو که نبی علیه السلام صبا زما نه تپوس اوکړی چې تا بیګا څه کړی وو نو زه به ورته څه جواب ورکړمه نو د دغه ګناهونو نه منع شو کله چې تیارۀ د شپې زیاته شوه نو دوباره ئې د غلا اراده اوکړه بیا ورته د نبی علیه السلام خبره یاده شوه چې دروغ مۀ وایه نو د غلا نه هم منع شو ځکه که صبا نبی علیه السلام تپوس اوکړی نو زه به ورته دروغ نه وائمه په دې طریقه صرف د دروغو په پریخودلو سره د هغه ټول ګناهونو نه منع شو، صبا د نبی علیه السلام په دربار کښې حاضر شو او خپل دغه عمل ئې ورته بیان کړو چې د دروغو د پریخودلو د وجې نه ما ورسره دغه نور ګناهونه هم پریخودل نو دا رشتیا یو لوې صفت دے.

والحمدلله رب العالمین

# دَ مسلمانانو خدمت او خیر خواهی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وعن تميم الداری قال: قال رسول الله ﷺ: الدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ، قَالُوْ: لِمَنْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ: لِلّٰهِ وَلِكِتَابِهٖ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِاَئِمَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ وَلِعَامَّتِهِمْ﴾ (مسلم)

د نبی علیه السلام د اخلاقو او د صفاتو په باره کښې خبره شروع وه چې دغه اخلاق او صفات د اُمّت د پاره قابل عمل او د ژوند یوه طریقه ده، په دې کښې یو اهم صفت اوخصلت خیر خواهی او د بل مسلمان سره ښیګړه کول دی، دا صفت الله پاك خپل پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم ته په کمال درجې سره ورکړے وو او نبی علیه السلام د دې په باره کښې خپل اُمّت ته ترغیب او تاکید هم کړے دے، او دا د مسلمان اهمه دینی اسلامی، او شرعی فریضه هم ده چې یو انسان،مسلمان به د بل انسان او مسلمان خیر خواه وی بلکه دین اسلام د خیر خواهئ نوم دے د اسلام د تعلیماتو خلاصه دا ده چې دا ټول مخلوق د یو بل د پاره خیر خواهه جوړ شی او د انسانیت د پاره خیر خواهی اولټولے شی او نبی علیه السلام د دے خبرې تذکره په یو څو مختصر الفاظو کښې کړې ده صحابی تمیم داری رضی الله عنه فرمائی چې نبی علیه السلام فرمائی(**الدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ**) دین خیر خواهی ته وئیلے کیږی، که یو انسان دا تپوس اوکړی چې دین د څه شیز نوم دے؟ نو جواب دا دے چې دین د خیر خواهئ نوم دے.

صحابه کرامو په دغه وخت کښې د نبی علیه السلام نه تپوس اوکړو چې اے د الله رسول صلی الله علیه واله وسلم دا دین د چا د پاره د خیر خواهئ پیغام دے هغه کوم خلق دی چې دین اسلام د هغوی سره د خیر ښیګړې پیغام او دعوت ورکړے دے؟ نو نبی علیه السلام جواب ورکړو چې دا خیر خواهی دین اسلام د تمام کائناتو او د ټولو مخلوقاتو د پاره لټولې ده دا به صرف د یو فرد دوه افرادو د پاره نه وی بلکه ټول انسانیت به د دې خیر خواهئ نه فائده اخلی او د دې دین اسلام خیر به ورته رسیږی، د الله د رضا د پاره خیر خواه جوړ شی،او د الله د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د پاره خیر خواه جوړ شی د دوی حکم تسلیم کړی د مسلمانانو د بادشاهانو د پاره خیر خواه جوړ شی که په غلطه لاره باندې روان وی نو صحیح لاره ورته اوښائي او د عام مسلمانانو دپاره د هدایت او خیر خواهئ سبب جوړ شی.

دا په دین اسلام کښې د خیر خواهئ عام مفهوم دے چې دا د انسان د ذات  نه اوّل شروع شی بیا د خپلو رشته دارانو ،دوستانو، د مسلمانانو د پاره خیر خواهی طلب کول بیا د عامّة النّاس، د عام خلقو او د حکمرانانو حد پورې خیر خواهی په اسلام کښې مطلوب او مقصود ده، او کله چې په یو مسلمان کښې دا صفت پیدا شی نو الله ورته د دنیا او د اخرت کامیابی ورکړی اوکه یو انسان کښې دا صفت موجود نه وی نو بیا د دۀ کامیابی ګران او مشکل کار دے.

او څومره چې د مخلوق سره د خیر ښیګړې تعلق دے نو د دې په باره کښې نبی علیه السلام فرمائی(**اَلْخَلْقُ عِيَالٌ مِنْ عِيَالِ اللهِ**)(طبرانی) دا

مخلوق د الله د حکم ماتحت دی(اَلْخَلْقُ عِيَالُ اللهِ فَأَحَبُّ الْخَلْقِ إِلَى اللهِ مَنْ اَحْسَنَ اِلٰی عِيَالِهٖ) (مشکاة) او په دې مخلوق کښې خوښ الله ته هغه څوک دے چې د خپل ماتحت نوکرانو، غلامانو، شاګردانو، مزدورانو سره خیر ښیګړه او احسان کوی، څکه انسان به صرف خود غرض نه وی دا بد اخلاقی او یو بے کاره صفت دے چې انسان صرف د خپل ځان د فائدې سوچ کوې نو دا د کامل انسان او د صحیح مسلمان صفت نه دے څکه نبی علیه السلام فرمائي چې الله ته محبوب هغه انسان دے چې د نورو انسانانو د فائدې او احسان سوچ فکر ورسره وی،هاں دا خبره چې د دې خیر خواهی شروع به د انسان د خپل ذات نه کیږی او په دې طریقه به دا انسان د نورو انسانانو او مسلمانانو خیر خواه جوړیږی، دا هم حماقت دے چې د انسانانو د پاره خیر خواه وی او د خپل ځان په باره کښې ورسره سوچ او فکر نه وی او دا هم بے وقوفتوب او تنګ نظری ده چې خیر خواهی اوّل او اخر صرف په خپل ځان باندې ختمه او تمامه کړی.

د انسان دَ ذاتی خیر خواهۍ په باره کښې د عبدالله بن عمرو بن العاص نه روایت دے چې د دهٔ پلار دهٔ لره واده کړے وو، بیا ئے ښځې شکایت اوکړو چې دے ټوله شپه عبادت کوی او د ورځې روژه وی دغه خبر عمروبن العاص رضی الله عنه نبی علیه السلام ته ورکړو چې دا عبدالله پوهه کړه څکه د دهٔ ښځه دا شکایت کوی،نبی علیه السلام عبدالله راوغوختلو او په دغه موقع ئے ورته ډیر نصیحتونه کړی وو یو نصیحت ورته نبی علیه السلام دا هم کړے وو(اِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا) ستا د دې جسم په تا باندې حق شته دے او بیا ورته نبی علیه السلام

فرمائي(وَاِنَّ لِعَيۡنِكَ عَلَيۡكَ حَقًّا وَاِنّ لِزَوۡجِكَ عَلَيۡكَ حَقًّا)(بخاری) ستا د دې سترګو هم په تا باندې حق شته دے او ستا د ښځې او بی بی هم په تا باندې حق شته دے او ستا د میلمه هم په تا باندې حق شته دے دا ټول حقوق ورته نبی علیه السلام بیان کړی وو، نو نبی علیه السلام په دې ټولو حقونو کښې ئے ورته اوّل د هغه د خپل ځان حق بیان کړے وو.

د انسان په دې ذاتی خیر خواهۍ کښې په انسان باندې دا خبره هم لازمه ده چې د لباس،پوشاك به خیال کوی لکه عطاء بن یسار رضی الله عنه فرمائي یو ځل د نبی علیه السلام مسجد ته یو انسان په بد حالت کښې رادننه شو، ګڼږه ویختهٔ ئے ؤو او ببر ببر سر ئے ؤو نبی علیه السلام ورته په لاس سره اشاره اوکړه چې واپس شه، دغه انسان واپس شو او دوباره لږ ساعت بعد راغلے ویختهٔ ئے برابر کړی وو، نبی علیه السلام ورته او فرمائیل(اَلَيۡسَ هٰذا خَيۡرٌ مِنۡ اَنۡ يَاۡتِيَ الرَّجُلُ ثَائِرَ الرَّاۡسِ كَاَنَّهُ شَيۡطَانٌ)(موطا) ایا د یو انسان دا حالت بهتر او غوره نه دے د هغه حالت نه چې هغه رادننه شی او په بد حالت باندې وی ګویا چې د شیطان پشان ښکاره کیږی،او په قرآن کښې الله فرمائي(قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِيۡنَةَ اللهِ الَّتِيۡ اَخۡرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزۡقِ)(اعراف:۳۲) دې اُمّت والو ته دا تعلیم ورکه چې کوم پاك رزق او زینت چې الله د خپلو بندګانو د پاره راپیدا کړے دے نو دا څیزونه چا حرام کړی دی دا حلال څیزونه څوك په خپل ځان باندی حرام کولے نشی، د دې نه معلومه شوه چې انسان به د صحت،لباس پوشاك، اخلاق او کردار لحاظ سره د خپل ځان خیر خواه وی.

او د نورو انسانانو خیر خواهۍ په باره کښې نبی علیه السلام فرمائي (**اَلْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا**)(بخاری) يو مسلمان د بل مسلمان د پاره د آبادۍ حيثيت او مقام لرى چې دا په يو بل سره مضبوط او ولاړ وى څکه که د آبادۍ نه څه حصه لرې کړے شى نو دغه نوره ابادى ورسره ورانه او هلاکه شى دغه شان په اسلام کښې د مسلمانانو مثال هم دے چې يو مسلمان به د بل مسلمان د پاره د مضبوطيا سبب وى او په خپلو کښې به د مسلمانانو جوړ،ربط،او تعلق وى، او نبى عليه السلام په دغه موقع د خپلو لاسونو ګوتې يو ځائے کړې چې مسلمانان به خپلو کښې داسې مضبوط او جوړ وى او په يو بل روايت کښې نبى عليه السلام فرمائي چې (**اَلْمُسْلِمُ مِرْءَاةُ الْمُسْلِمِ**)(طبرانى) يو مسلمان د بل مسلمان د پاره شيشه او ائينه ده څکه دواړه يو صورت لرى لکه څنګه چې په شيشه کښې يو انسان ښکارى، نو دغه شان يو مسلمان به د بل مسلمان دَ پاره آئينه وى دَ هغه حفاظت به کوى، تکليف به ورته نه ورکوى د هغه د مال، حال حفاظت به کوى او يو بل حديث کښې راځى نبى عليه السلام فرمائي (**الْمُسْلِمُ اَخُ الْمُسْلِمِ**) يو مسلمان د بل مسلمان رور دے هغه ته به تکليف او نقصان نه ورکوى.

او د حکمرانانو د پاره خير خواهى دا ده لکه حديث کښې راځى نبى عليه السلام فرمائي چې د قيامت په ورځ الله ته ډير نزدې او خوښ انسان به هغه حکمران وى چې عادل او انصاف دار وى او د قيامت په ورځ الله ته ناخوښ او د رحمت نه لرې به هغه حکمران وى چې ظالم او جابر، زياتے کونکے وى نو که يو طرف ته حکمران ته د رعيّت حقوق

بيان شوى دى نو قوم ته هم د حكمران حقوق او آداب بيان شوى دى لكه يو حديث كښې راځي څوك چې د نيك حكمران تابعدارى او اطاعت كوى نو هغه زما اطاعت او تابعدارى كوى او څوك چې د نيك عمله بادشاه نافرمانى كوى نو هغه انسان زما نافرمانى كوى.

او د الله د كتاب او د رسول صلى الله عليه واله وسلم خير هواهى دا ده چې كوم احكامات الله په قرآن كښې بيان كړى دى او يا نبى عليه السلام په احاديثو كښې بيان كړى دى لكه په دې كښې يوه پهلو دا ده چې يو انسان د نورو انسانانو خدمت اوكړى او د هغوى خير ښيګړې او لټوى لكه اُمّ المؤمنين عائشة رضى الله عنها فرمائي چې نبى عليه السلام به د خپل كور واله كارونه پخپله بذات خود پوره كول ترڅو پورې چې به بل انسان ته ضرورت نه وو لكه اوبه راغستل،پنړے ګنډل،بستره برابرول وغيره او نورو بيبيانو سره بے ئے هم مدد كولو ځكه خپل كار پخپله پوره كول ښه صفت دے ليكن د نورو سره مدد كول دا نور هم اوچت صفت دے او دا د انسان كمال دے او يو روايت كښې راځى چې يو ځل د حبشى نه څوك ميلمانه راغلى وو نبى عليه السلام د هغوى خدمت ته مخكښې شو اُمّهاتُ المؤمنين ورته وائى چې يا رسول الله صلى الله عليه واله وسلم دا خدمت به مونږه اوكړو نبى عليه السلام جواب وركړو چې زه پخپله د هغه چا خدمت كومه كومو خلقو چې زما د صحابو او ميلمنو په هغه سخت وخت كښې خدمت كړے وو ځكه كله چې د اسلام په اوّل دور كښې صحابو حبشى ته د نجاشى بادشاه خوا ته هجرت كړے وو نو هغوى د مسلمانانو ډير زيات خدمت كړے وو نو نبى عليه السلام دغه د

حبشي خلقو دا ښیګړه او نیکی نه وه هیره کړې ځکه ئے ورته خدمت اوکړو او بذات خود د خدمت د پاره مخکښې شو.

او په یو روایت کښې راځی چې نبی علیه السلام یو ځل حضرت خبّاب رضی الله عنه په غزوه کښې لیږلے وو او د دهٔ په کور کښې بل انسان د خدمت د پاره نه وو نو د هغهٔ د کور ټول کارونه به نبی علیه السلام کول تر دې پورې چې ګډې،چېلۍ لوشل به ئے هم ورته کول او د هغه د ماشومانو د پاره به ئے ورته پئ ورکول چې هغوی ورباندې ماړهٔ شی،او پیغمبر د ټول جهان سردار او لوې شخصیّت دے لیکن هغه سره د دې لوې مقام نه دومره خدمت خلق کوی او د نبی علیه السلام خدمت د دوست او میلمه حد پورې نه وو بلکه که دشمن هم د جنګ نه بغیر راغلے دے نو نبی علیه السلام د هغه خدمت هم ورسره کړے دے لکه د طائف خلقو بنو ثقیف نبی علیه السلام ته لوئے تکلیف ورکړے وو لیکن کله چې د هغوی وفد مدینې ته راغلے نو نبی علیه السلام ورته په مسجد کښې ځائے ورکړو او د هغوی خدمت ئے شروع کړو، او په روایاتو کښې راځی چې په یو موقع د نبی علیه السلام مسجد ته یو باندیچې حاضر شو نبی علیه السلام ئے د جامونه اونیولو او ورته ئے اووئیل چې زما یو خدمت دے دا اوکړه د ځان سره ئے روان کړو نبی علیه السلام ورته په خنده شو او د هغه هغه کار ئے پوره کړو او بیا دوباره مسجد نبوی ته راغے نو د دې ټولو روایاتونه دا خبره معلومه شوه چې انسان به دَ خپل ځان خدمت هم کوی او ورسره د نورو انسانانو خدمت به هم کوی دا زمونږه بد قسمتی ده که یو انسان ته څه لږ شان دنیا وی

مقام یا مرتبه ملاؤ شی نو هغه ټول خپل ذاتی خدمت به هم په بل انسان باندې کوی لکه ګلاس کښې اوبه راغستل وغیره دا په اصل کښې د تکبر نخښه ده او د نورو خلقو خدمت، یا خیر ښیګړه څه کوې چې د هغوی د نقصان د پاره ورځ او شپه کوششونه کوی، حال دا دے حدیث کښې راځی چې کوم انسان د بل انسان خیر خواهی غواړی او کوشش کوی نو الله دې انسان ته ضرورتونه،حاجتونه پوره کوی دا د خدمت خلق مقام دے.

والحمدلله رب العالمین

# د زړه نرمی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلوٰةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم۔

﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ﴾ (آل عمران:۱۵۹)۔

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ: مَنْ يَحْرُمُ الرِّفْقَ يَحْرُمُ الْخَيْرَ﴾ (مسلم)

د نبی علیه السلام اخلاق او د هغه صفتونه او خصلتونه د اُمّت د پاره یو بهترین پیغام دے چې مسلمان به په دغه صفتونو باندې عمل کوی په دې صفتونو کښې لوے صفت د نبی علیه السلام دا وو چې طبعی طور الله هغه لره رحم دله،د زړهٔ نه نرم پیدا کړے وو، او د کومو اخلاقو په باره کښې چې نبی علیه السلام خپل اُمّت ته ترغیب ورکړے دے نو په دې کښې یو صفت د زړهٔ نرم والے هم شامل دے چې نبی علیه السلام خپل اُمّت ته د دې په باره کښې ترغیب او تاکید کړے دے دا یو فطری صفت دے او د دې سره الله په انسان کښې نور ډیر ښه صفتونه پیدا کوی او دا صفت د دې نورو ښه صفتونو د پاره یو جامع صفت دے لکه مثلاً د زړهٔ د نرم والی د وجې نه په انسان کښې د بل همدردی پیدا کیږی د بل سره خیر خواهی پیدا کیږی د نورو خلقو خدمت جذبه ورسره پیدا کیږی

او په دې انسان کښې سخاوت او فياضي پيدا کيږي، غم خواري پيدا شي وغيره.

ځکه قرآن او حديث دا صفت ډير په اهتمام سره ذکر کړے دے او په نبي عليه السلام کښې هم دا صفت وو او نور اُمّت ته نبي عليه السلام د دې تعليم هم ورکړے دے، مالك بن حويرث يو صحابي دے دا د نبي عليه السلام مجلس ته حاضر شوے وو او د نبي عليه السلام نه ئې ډير څه احکامات زده کړي وو دا د نبي عليه السلام صفت بيانوي (**كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ رَحِيْمًا رَقِيْقًا**)(ابوداؤد) نبي عليه السلام ډير رحم دله او نرم مزاج واله انسان وو، او يو بل حديث کښې راځي نبي عليه السلام فرمائي(**مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الْخَيْرَ**) څوك چې د نرم مزاج او د نرم زړهٔ نه محرومه شوے وي نو ګويا چې دا انسان د ټول خير او نيك عملونو نه محرومه شو او دا ځکه چې د انسان زړهٔ نرم وي نو په هغه کښې هر ښه صفت موجود وي اوکه د انسان زړهٔ سخت شي نو هر بد او ناکاره صفت پکښې پيدا شي.

او يو بل حديث کښې راځي نبي عليه السلام فرمائي چې الله رب العزت نرم زړهٔ واله دے ځکه الله د خپلو بندګانو سره ډيره د نرمۍ معامله کوي، عفو او درګز کوي، ظلم،زياتے به خپل بنده باندې نه کوي او نه دا خوښوي، او نبي عليه السلام فرمائي(**وَيُعْطِيْ عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِيْ عَلَى الْعُنُفِ**)(مسلم) او الله په نرمۍ سره په نرم مزاج سره انسان ته هغه څه ورکوي چې الله د نرمۍ نه بغير په بل څه سره هغه څيز انسان ته نه ورکوي.

ځکه الله خپل پيغمبر ته فرمائی(**فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللهِ لِنْتَ لَهُمْ**)(آل عمران:۱۵۹)اے پيغمبره دا د الله مهربانی وه چې ته دوی ته نرم شوې ځکه نبی عليه السلام ته د اُحد په غزوه کښې زخمونه او تکليف رسيدلے وو بيا د دغه تکليف تذکره هيڅ کله نبی عليه السلام صحابو ته نۀ ده کړې اوکه چرته تۀ بد زبانه او د بدو اخلاقو خاوند وے نو دا صحابه به ستا د خوانه تلے وے.

په يو موقع باندې د نبی عليه السلام مجلس ته څه يهود،منافقان رادننه شو او په نبی عليه السلام ئې په دې طريقه سلام اوکړو،(**السَّامُ عَلَيْكُمْ**)(احمد) په تاسو باندې دې سام وی، سام مرض ته وئيلے کيږی، عائشة رضی الله عنها چې دا خبره واؤريدله نو دا ضروری خبره وه چې جواب ورته ورکړے شی ، په دغه موقع اُمّ المؤمنين عائشة رضی الله عنها ورته جواب ورکړو(**عَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ**) مطلب تاسو دې هلاك او تباه شۍ ، ايا تاسو پيغمبر ته دا خبرې کوې، نبی عليه السلام چې د عائشة رضی الله عنها جواب واؤريدو نو ورته وائي چې اے عائشة رضی الله عنها بدزبانه مۀ جوړيږه او الله په هر څيز کښې نرمی خوښوی، عائشة رضی الله عنها ته وائی يا رسول الله صلی الله عليه واله وسلم تا د دوی دا خبره واؤريدله؟ نبی عليه السلام جواب ورکړو چې آؤ ما د دوی دا خبره واؤريدله او ما ورته د دې جواب هم ورکړو او برابر جواب مې ورته ورکړو ځکه ما ورته (**وَ عَلَيْكُمْ**) اووئيل او زما خبره د دوی په حق کښې قبليږی ليکن د دوی خبری زما په حق کښې نه قبليږی.

او په يو بل حديث کښې نبی عليه السلام فرمائی(**إِنَّ الرِّفْقَ لاَ يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلاَّ زَانَهُ وَلاَ يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلاَّ شَانَهُ**) (مسلم)دا نرم مزاج او نر طبيعت او زړۀ او نرم اخلاق که وی نو دغه څيز به خائسته او مُزَيَّنْ وی اوکه دا نرم اخلاق د يو څيز نه اوباسلے شی نو په هغه څيز کښې عيب پيدا کړی ځکه ښه اخلاقو سره انسان خائسته ښکاری اوکه بالفرض د يو خبرې جواب ضروری وی نو هغه جواب هم ورته د اخلاقو په دائره کښې ورکړے شی.

او د نرم زړۀ سره د زړۀ صفائي هم ضروری ده ځکه حديث کښې راځی نبی عليه السلام فرمائي چې د انسان په دې جسم کښې يو اندام دے که هغه صحيح شی نو د انسان ټول جسم ورسره صحيح وی اوکه هغه خراب شی نو د انسان ټول بدن ورسره خراب او په غلطه لاره باندې روان وی او هغه اندام د انسان زړۀ دے ځکه زړۀ د انسان ټول جسم ته احکامات او پيغامات ورکوی که زړۀ صحيح شی نو ورسره به د انسان د جسم نه صحيح او برابر کارونه صادريږی اوکه زړۀ صحيح نه وی نو د انسان د جسم نه به د ګناه او د بد عملۍ کارونه صادريږی د دې وجې نه الله په قرآن کښې بار بار د زړۀ ذکر کړے دے لکه الله رب العزت فرمائي(**أَنْزَلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ**)(بقره:۸۷) دا قرآن الله ستا په زړۀ باندې رانازل کړے دے او بل ځائے کښې فرمائی ( **لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ**)(فرقان:۳۲) دا قرآن الله د دې د پاره رانازل کړے دے چې ستا زړۀ ورسره مضبوط او قوی شی دا ځکه چې زړۀ بنيادی څيز دے نو د نرم زړه سره لازم خبره هغه د زړه صفائی ورسره ضروری ده.

او زړۀ د پاره د کوم کوم ځیزونو نه صفائی ضروری ده نو دا د انسان، د مسلمان زړۀ به د شرك نه صفا وی، شرك به ورکښې نه وی، د الله نافرمانی به ورکښې نه وی، بدعات به ورکښې نه وی، غلط افکار او نظریات به پکښې نه وی، د کینې ،بغض، حسد، او عناد نه به زړۀ صفا وی دغه شان د نورو مرضونو نه به زړۀ پاك صفا وی او د مسلمان،مومن دپاره په دینی ضروریاتو کښې اهم ضرورت هغه دا ځیز دے چې د دې انسان زړۀ بے پاك صفا وی.

حدیث کښې راځی انس رضی الله عنه فرمائي چې مونږه په یو موقع د نبی علیه السلام سره په مجلس کښې ناست وو، نبی علیه السلام او فرمائیل چې اوس به ستاسو دې مجلس ته یو جنّتی انسان رادننه شی، نو چې په دغه وخت کښې صحابو اوکتل یو انصاری صحابی مجلس ته راغلے او په خپل ګس لاس کښې ورسره پنړې وی، صبا ورځ بیا نبی علیه السلام دا خبره اوکړه نو بیا هم هغه صحابی وو، بیا په دریمه ورځ بیا نبی علیه السلام هم دغه خبره اوکړه بیا هم هغه صحابی رادننه شو یو بل صحابی عبدالله بن عمرو بن العاص ورسره ملګرې شو او درې ورځې د هغه په کور کښې د دې مقصد دپاره مقیم شو چې د دې جنتی صحابی عمل ورته معلوم شی نو څه عمل د دغه صحابی ورته معلوم نشو، په دریمه ورځ ئے تپوس اوکړو چې ستا څه داسے خاص عمل دے چې ته هغه کوې ځکه نبی علیه السلام درې ورځې ستا په باره کښې ګواهی ورکړه چې دا جنّتی انسان دے نو دغه صحابی جواب ورکړو چې زما څه عمل نشته دومره خبره ده چې زۀ هیڅ یو مسلمان ته په خپل زړۀ کښې

کینه او بغض نه لرمه، د مسلمانانو د پاره زما سینه صفا وی او یو بل روایت کښې راځی نبی علیه السلام یو صحابی ته وئیلے وو که ته دا غواړې چې زما سره ملګری شې د قیامت په ورځ او الله ته نزدې شی نو په داسے حالت کښې صبا کوه چې ستا په سینه کښې د هیڅ یو مسلمان د پاره کینه او بغض نه وی بلکه د صفا زړهٔ خاوند ئے، او په یو بل حدیث کښې راځی د نبی علیه السلام نه یو صحابی تپوس اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم بهتر او غوره عمل څه دے نبی علیه السلام جواب ورکړو چې د چا ژبه رشتینی وی او د صفا زړهٔ خاوند وی نو دے صحابی ورته اووئیل چې رشتینی ژبه خو مونږه پیژنو لیکن دا د زړهٔ صفائی څه څیز دے؟ نبی علیه السلام جواب ورکړو چې د یو انسان په زړهٔ کښې د الله یره او تقوی وی نو دا صفا زړهٔ دے نو دا د انسان د زړهٔ صفا والے دے چې د ګناهونو خیالات پکښې نه وی او کینه او بغض پکښې نه وی د بل مسلمان سره په زړهٔ کښې حسد نه ساتی دا به د مسلمان صفت وی.

او دا د دین اسلام اصول او قوانین دی چې کومه ګناه نه اسلام منع کړی ده نو د هغه ګناه اسباب هم الله منع کړی دی لکه ظلم ګناه ده دا منع شوے دے نو د دې ظلم د پاره چې څومره اسباب یا لارې دې هغه هم شریعت بندې کړی دی او حدیث کښې راځی نبی علیه السلام یو صحابی ته فرمائې(**إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ**)(بخاری) ځان د بد ګمانۍ نه بچ کړه په یو انسان ، مسلمان باندې بد ګمانی مهٔ کوه ځکه دا دروغ ژنه خبره وی، او وجه دا ده چې ګمان یقینی خبره نه وی او قرآن

کنبي هم الله دا ارشاد کړے دے( **اِجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِنَ الظَّنِّ**)(حجرات:۱۲) ځان د ډيرو ګمانونو نه بچ کړۍ مطلب په ګمانونو باندې عمل او يقين مۀ کوه نو د دې نه شريعت ځکه منع کړې ده چې دا لاره او سبب دے د دشمنۍ او بغض، حسد، او کينې د پاره نو په اسلام کنبې ورنه منع اوکړې شوه چې دا ګناه بالکل ختمه شی او د دې هيڅ يو سبب باقی پاتې نشی.

او يو حديث کنبې راځی نبی عليه السلام فرمائی(**وَلَا تَجَسَّسُوْا**) د يو بل تجسس مۀ کوۍ مطلب د يو بل عيبونو پسې مۀ ځۍ (**وَلَا تَبَاغَضُوْا**) او مۀ د يو بل سره بغض کوۍ د دې نه منع شی( **وَكُوْنُوْا عِبَادَ اللهِ اِخْوَانًا**)(بخاری) ټول د الله بندګان رونړه رونړه جوړ شی او يو بل روايت کنبې راځی يو صحابی ته نبی عليه السلام فرمائي (**وَلَا تَتَّبِعْ عوراتِ الْمُسْلِمِيْنَ**)(ترغيب و ترهيب) د مسلمانانو دعورت او راز خبرو پسې مۀ کيږۍ او که يو انسان د نورو مسلمانانو شرمنده کول غواړی نو الله به دغه انسان شرمنده کړی او يو بل روايت کنبې راځی نبی عليه السلام فرمائي څوك چې په يو مسلمان باندې پرده اوکړی نو الله به په دغه انسان باندې د قيامت په ورځ پرده اوکړې دا ټول احاديث د دې خبرې ګواهی ورکوی چې د مسلمان زړۀ د بل مسلمان په حق کنبې خراب او بے کاره نشی اوکه داسې نه وی نو بيا به هر قسم فساد او بد اخلاقی عامه شی.

والحمدلله رب العالمين

# صبر

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدفَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم ـ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى تَصِفُوْنَ.(يوسف:۱۸)

مخکښې نه د ښه اخلاقو په باره کښې خبره شروع وه،چې يو مسلمان بنده کښې به څه ښه اخلاق او صفات وی، په دې کښې يو صفت هغه صبر دے،چې مسلمان به صبر ناك وی په دۀ کښې به د صبر واله صفت او خوئی موجود وی، او الله مونږه لره په دوؤ حکمونو باندې مکلف کړی يو، يو دا دے که تکليف، مصيبت،آفت راشی نو انسان به په دغه موقع صبر کوی،او که خوشحالی، راحت راشی نو په دې موقع به انسان د الله شکر ادا کوی،د خوشحالۍ په موقع حکم د شکر دے او د تکليف،مصيبت په موقع د صبر حکم دے.

په دين اسلام کښې د صبر مختلف قسمونه دې،او د دې ډير لوې مفهوم دے،او د دې صبر بيا خپل درجات دی،په اوّل تقسيم سره صبر په دوه قسمه دے،يو اختياری صبر دے او دويم اضطراری صبر دے چې انسان فطرتاً دغه صبر ته مجبوره دے،اختياری صبر دا دے،چې د انسان په اختيار کښې يو کار وی او هغه ورباندې صبر اوکړی، د اختياری صبر مثال لکه ابراهيم عليه السلام چې کله د حق بيان کړے وو، نو د دغه حق د بيان د وجې نه اور ته غورځيدلے وو که دۀ بيان نه وے کړے نو د اور نه به بچ شوے وے، ليکن بيا هم ابراهيم عليه السلام دغه اور په

خپل اختیار باندې د خپل ځان د پاره غوره کړو او په دې باندې ئې د صبر مصابرې،اظهار اوکړو او د الله د دین د بیان نه روسته نه شو دا بیا اوچته او اعلی درجه ده، چې په خپل اختیار سره د الله د دین د پاره په تکلیفونو صبر اوکړے شی، اوکه یو انسان د دې وجې نه د الله د دین بیان پرېږدی نو دا د کمزورۍ ایمان علامه اونخښه ده. او دویم اضطراری صبر دے،چې د انسان خوښه نه وی لیکن بیا هم ورباندې دغه تکلیف راشی او د انسان ورباندې صبر اوکړی، د دې مثال لکه د یوسف علیه السلام صبر دے، ځکه هغه په خپل اختیار باندې جهیل ته نه وو تلے، بلکه مجبوره کړے شوے وو، او بیا هم ورباندې یو سف علیه السلام صبر کړے وو.

او دویم تقسیم سره بیا صبر په درې قسمه دے یو ته (**صبر علی الطّاعات**) وئیلے کیږی، چې یو انسان د دین په کار باندې مضبوط او کلك ولاړ وی او دې استقامت هم وئیلے کیږی، دویم (**صبر عن المعصیة**) دے،چې یو انسان د ګناهونو نه خپل ځان منع کړی او په دې طریقه صبر اختیار کړی، دریم دے(**صبر علی المصیبة**) که څه مصیبت، تکلیف راشی نو انسان ورباندې صبر اوکړی.

(**صبر علی الطَّاعَات**) دا دے، چې یو انسان د الله د حکم پابند جوړ شی، او دا خپل نفس د الله حکم منلو ته مجبوره کړی، خپل د نیوی یا نفسانی خواهشات دباؤ کړی او د الله حکم پوره کړی، لکه مثال روژه نیول ګران کار دے، چې یو په اوګدو ورځو کښې سره د سختې ګرمۍ نه نۀ څه خوراك کوی او نۀ څه څکاك کوی او خپل ځان د نفس د محبوباتو

نه د الله د رضا د پاره منع کړی، او د سحر نه واخله تر ماښام پورې خوراك، څکاك نه کوی، د دې وجې نه چې دا د الله حکم دے، دغه شان یو انسان په سخت مشقت سره مال گټلے وی او بیا په دغه محبوب مال کښې زکوة ورکړی نو دا د هیڅ چا دا زړهٔ نه نه وی څکه انسان ورباندې محنت،مشقت کړے وی او بیا هم زړهٔ غټ کړی او زکوة ورکړی او د دې په شان نور د الله ډیر حکمونه دی، کله د یو انسان دا صبر فطرت ثانیه جوړ شی نو دغه د الله حکم ورته اسان شی څه مشکل ورته پکښې نه وی،لکه د علی رضی الله عنه په باره کښې راځي چې ماله په سخته گرمۍ کښې روژه نیول خوند راکوی او دا راته ډیر محبوب وی، زمونږه د د یوبند لوې عالم مولنا رشید احمد گنگوهی رحمت الله علیه خپل مرشد ته خط لیکلے وو او دا خبره ئې ورته کړې وه چې الله ماله درې صفات راکړی دی او زهٔ د الله نه په دې باندې ډیر زیات شکر گزاریمه، یوه خبره دا چې که یو انسان زما مدح او تعریف شروع کړی نو په دې سره په ماکښې تکبر،لوئی نه پیدا کیږی او نه ورباندې زه دهوکه کیږمه، اوکه څوك زما مذمت او بدی بیان کړی نو زهٔ ورباندې نه خفه کیږمه او بل صفت دا دے چې گناهونه او د الله نا فرمانیانې ماله فطرتًا بد لږی، فطرتًا راله ناخوښ دی، د فطرتًا بد لگیدو مطلب دا دے لکه څنگه چې زمونږه په دې معاشره کښې یو انسان ډیران، بدبو،گندگی فطرتًا ناخوښه وی او بل صفت دا دے چې الله ما لره نیکی کول او بدی پریخودل فطرتًا اسان کړی دی، په دې کښې راته هیڅ تکلیف او مشقت نه وی او بل راباندې د الله نعمت او احسان دا دے چې الله ماله قابل او ذهین شاگردان راکړی دی او

هغوی ټول د الله د دې دين په خدمت کښې مشغوله دی او دا حقيقت دے د ده هر شاګرد د دين په شعبو کښې خدمات کړی دی لکه اشرف علی تهانوی، حسين علی پنجابی،،حسين احمدمدنی، شبير احمد عثمانی، مفتی کفايت الله دهلوی او نور ډير، نو يو قسم د صبر دا دے چې انسان د الله د حکم تابعدار جوړ شی.

او د صبر دويم قسم هغه ( **صبر عن المعصية**) دے چې يو نفس او شيطان دا کوشش کوی چې انسان په يو طريقه ګمراه کړی او د الله د لارې نه دا انسان لری کړی، نو که يو انسان دغه خپل خواهش، نفس، چاهت دباؤ کړی او صبر اوکړی، نو په دې هم ورته اجر او ثواب ملاويږی.

او دريم قسم صبر هغه (**صبر علی المصيبة**)دے، چې په يو انسان باندې غم،تکليف،مصيبت راشی او دغه برداشت کړی،او د دې انسان دا يقين وی چې دا هر څه په دهٔ باندې د الله د طرف نه راځی، او دا د الله فيصله ده، او د دې لوې اجروثواب دے.

په يو حديث کښې راځي چې په يو مسلمان باندې تکليف، مصيبت بيماری راشی نو الله ورباندی دوه فرشتې مقرر کړی، که دا انسان په دې حالاتو کښې بے صبری،ګلې،شکوې شروع نهٔ کړی نو الله فرشتو ته حکم اوکړی چې تاسو ګواه شۍ دې انسان ته ما ټول ګناهونه معاف کړل او دې انسان ته به زهٔ نور وينه او غوښه ورکړمه چې دغه وينه او غوښه به د هغه مخکښې وينې او غوښې نه طاقتور او صحتمنده

او تازه وی، اوکه په دې حالت کښې دا انسان مړ شو نو دا به زه ضرور جنّت ته داخل کړمه اوکوم انسان چې په تکلیف،مصیبت،بیمارۍ باندې بے صبری کړی وی نو دغه فرشتې د الله دربار ته لاړې شی او د دې انسان دغه حالات الله ته اووائي، نو الله خپلو فرشتو ته فرمائي تاسو ګواه شئ، که دې انسان ته د دغه مصیبت،بیمارۍ نه صحت ملاؤ شی نو د دې په بدل کښې به ورته خرابه وینه او خرابه غوښه ورکړمه اوکه په دې حالت کښې دا انسان مړ شی نو جهنم به د دې انسان ځائے وی، ځکه ده ناشکری او بے صبری کړې ده، او په یو بل روایت کښې راځی چې یو انسان له به الله د قیامت په ورځ لوې انعام، اجروثواب ورکړی، خلقه به حیران شی او تپوس به اوکړی چې یا الله دې انسان ته دا دومره اجروثواب د څه په بدله کښې ملاؤ شو! الله به جواب ورکړی چې په دې انسان باندې ما په دنیا کښې تکلیف او بیماری مسلطه کړې وه، نو دهٔ ورباندې صبر کړے وو ځکه ورته ما نن دومره لوې مقام ورکړو، نو دغه خلق به په دغه وخت کښې تمنا او آرزو اوکړی چې کاش الله که مونږه ټول عمر په دنیا کښې بیماریان او په مصیبتونو کښې اخته وے، نو نن ورځ به دا اجروثواب مونږه ته هم ملاؤ شوے وے.

او په یو بل حدیث کښې راځی چې د کوم انسان نه زهٔ محبوب څیز سترګې واخلمه نو د دې په بدله کښې به ورته جنت ورکړمه دا دومره عظیم اجروثواب او فضیلت د صبر په باره کښې دے.

د صبر مطلب څه دے؟ ایا د صبر دا مطلب دے،چې د یو انسان د سترګو نه به اوښکې نه ځی،اوکه نه د صبر دا مطلب دے،چې انسان به

خپل غم،درد،مصیبت بل انسان ته نه بیانوی،دا مطلب د صبر نه دے،د صبر دا مطلب چې انسان په دې موقع بے صبری اونه کړی،او د بےصبرۍ دا مطلب دے چې غلطې خبرې ،ګډې وډې خبرې د مصیبت په موقع باندې شروع نه کړی،یا د شر یعت د حدودو او دائرې نه باهر دا کارونه شروع کړی دا بے صبری ده،لکه حدیث کښې راځی نبی علیه السلام د بے صبرۍ په باره کښې وائي(**لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُودَ وَشَقَّ الْجُيُوبَ وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ**)(بخاری) هغه انسان زمونږه نه نه دے چې د مصیبت په وخت کښې خپله سینه وهی، لکه دا د ښځو عادت دے،یا جامې ،ګریبان کښې چیر پاړ پیدا کړی، او یا د جاهلیّت پشان سندرې،او ستائنې مړی ته شروع کړی، دا بے صبری ده.

اوکه بے اختیاره د انسان د سترګو نه اوښکې لاړې شی یا غمژن شی نو دا بے صبری نه ده لکه د نبی علیه السلام خپل بچے ابراهیم علیه السلام د دوو کالو په عمر کښې وفات شوے وو،نو د نبی علیه السلام د سترګو نه اوښکې روانې وې، او دا خبره ئي اوکړه (**اِنَّا بِفِرَاقِكَ يَاإِبْرَاهِيمُ لَمَحْزُونُونَ**)(بخاری) مونږه ابراهیم علیه السلام ستا په جدائي باندې ډیر خفه شو،نو نبی علیه السلام غمژن شو او ورسره ئي په خپلې مبارکې خولې باندې دا اظهار هم اوکړو،او دغه شان د نبی علیه السلام نوسے د هغه په غیږه کښې وفات شو نو د نبی علیه السلام د سترګو نه اوښکې لاړې،صحابه ورته وائی یا رسول الله ته هم ژاړې، نو نبی علیه السلام اوفرمائیل چې دا د الله رحمت دے،چې د خپلو بندګانو په زړونو کښې

الله ګرځولے دے،په دې وخت کښې بے صبری منع ده چې د شریعت د حدودو نه پکښې تجاوز اوکړے شی او دا بے اختیاره غمژن کیدل منع نه دی.

نبی علیه السلام یو ځل د مکې په قبرستان باندې تیریدو یوه زنانه وه چې هغې ژړل نبی علیه السلام ورته اووئیل د الله بندې صبر اوکړه ځکه زنانه دپاره قبرستان لره تلل منع دی،دې ښځې ته دا پته نه وه چې دا د الله پیغمبر دے،نو دا زنانه نبی علیه السلام ته وائي چې ته زما په شان غم کښې نه ئي مبتلا شوے، نو د دې نه بعد ورته چا اووئیل چې دا خو د الله پیغمبر دے، نو دغه زنانه په منډه منډه هلته لاړه او نبی علیه السلام ته ئي خپل غذر اوکړو، نو نبی علیه السلام ورته اوئیل (**اِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الاُوْلیٰ**)(بخاری) انسان باندې د مصیبت په اوّل وخت کښې صبر ضروری دے، نو د تکلیف او مصیبت په عین موقع باندې د صبر په باره کښې مونږ ته حکم شوے دے چې دغه موقع ناشکری،بے صبری،خپل ځان وهل اونه کړی شی، اوپه دغه ایت کښې هم الله دا مضمون بیان کړے دے چې که یو انسان په دنیا کښې ژوند کوی نو په دې انسان باندې به تکلیف امتحانات،مصیبتونه راځی(**وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالثَّمَرَاتِ**)(بقره:۱۵۵) مونږه به په تاسو باندې امتحان اوکړو په کم والی د مالونو او میوؤ سره، او دغه شان کله به یره وی کله به لوګه وی دا ټول حالات به په دې دنیا کښې په انسان باندې راځی خو الله به په دې کښې انعام هغه چاته ورکوی څوك چې په

دې حالاتو کښې صبر اوکړی(**وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ**)(بقره:۱۵۵) زیرے ورکړه صبر کونکو ته او دا هغه خلق دې چې د تکلیف په وخت کښې (**اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْن**)(بقره:۱۵٦) الله مونږه ټول ستا یو ځکه زمونږه خپل څه اختیار نشته،او مونږه ستا یو او ستا طرف ته به درتلل وی، مطلب مصیبت معمولی خبره ده که انسان مړ کیږی هم نو دا د ده خپل اختیار نه دے په دې به صبر کوی.

والحمدلله رب العالمین

# سیرت النبی صلی اللّٰه علیه واله وسلم مکی دور

## د نبی علیه السلام بعثت او پیدائش

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ...﴾ (آل عمران:۱۶۴)

د نبی علیه السلام په اُمّت باندې ډیر حقوق دي په دې کښې یو حق دا دے چې د هغه اطاعت او تابعداری اوکړے شی او یو حق دا دے چې د پیغمبر پاك صلی اللّٰه علیه واله وسلم سره مینه او محبّت اوکړے شی او دا دواړه خبرې به په دې صورت کښې کیدے شی چې اُمّتی،مسلمان ته د نبی علیه السلام سیرت معلوم وی او د هغې نه خبردار هم وی او دا ځکه چې د انسان علم محدود دے چونکه اللّٰه انسان ته د علم اسباب، دماغ، سترګې غوږونه او پوزه دا اندامونه ورکړی دی لیکن د دې استعمال سره هم د انسان علم محدود دے که مخکښې زمانه کښې د سادګۍ ژوند وو اوکه په دې زمانه کښې د سائنس او ټکنالوجۍ دور دے اوکه دنیا د دې نه زیاته نوره ترقّی هم اوکړی بیا به هم د انسان علم محدود علم وی. د دې د پاره دا ضروری خبره وه چې په دنیا کښې د انسانانو یو رهنما وی چې هغه انسانانو ته د ژوند مقصد او د دې ژوند نه بعد نورې خبرې او حالات بیان کړی کوم چې به په انسان باندې راځی، او دا انسان به ورسره مخامخ کیږی د دې مقصد د پاره او د دې خبرو د وضاحت د پاره

الله نبي عليه السلام دنيا ته پيغمبر راوليږلو چې انسانيّت ته د هغه پټو خبرو خبر ورکړی کومې خبرې چې يو انسان په خپل علم او عقل باندې معلومولے نشي او نه ورته انساني علم رسيدے شي نو په انسانانو،مسلمانانو باندې لازمه خبره ده چې د دغه پيغمبر د حالاتو نه به خبر وی او د دهٔ د ژوند حالات به ورته معلوم وی، دا به صرف د دې حد پورې نه وی چې دا يوه تاريخي قصّه يا څه معلومات دی نا دا به د دې مقصد د پاره وی چې يو مسلمان به د دغه خپل د پيغمبر صلی الله عليه واله وسلم د ژوند نه عبرت او نصيحت قبلوی او د دهٔ د ژوند نه به درس اخلی.

يو روايت کښې راځی د نبي عليه السلام نه تپوس شوے وو چې ته څنګه الله پيغمبر جوړ کړې او دنيا ته ستا د بعثت مقصد څه دے؟ نبي عليه السلام جواب ورکړو (أَنَا دَعْوَةُ أَبِيْ إِبْرَاهِيْمَ)(سلسلة صحيحة) زهٔ د خپل نيکهٔ هغه قبول شوې دعا يمه کومه دعا چې ابراهيم عليه السلام زما دپاره غوختلی وه چې الله په دې قوم او انسانيّت کښې يو پيغمبر پيدا کړې چې هغه ورته د دوی تعليمات او احکامات بيا نوی، نو هغه دعا د ابراهيم عليه السلام الله زما د بعثت په شکل او صورت کښې الله پوره کړه (وَبُشْرٰى عِيْسٰى) زهٔ د عيسى عليه السلام زيرے يمه هغهٔ چې کوم زيرے ورکړے وو خپل اُمّت والو ته چې زما نه بعد به يو پيغمبر دنيا ته راځی او د هغه نوم به احمد، محمد وی.

دا دعا ابراهيم عليه السلام په هغه وخت کښې کړې وه چې کله هغه ته حکم شوے وو دا خپل بچے او ښځه په شاړه،ويران بيابان او

صحرا کښې پريږده، هغوی ئې په دغه ځائے کښې پريخودل زمانه تيريده تر دې پورې چې دغه ماشوم اسماعيل عليه السلام ځوان شو، نو د الله بل حکم ابراهيم عليه السلام ته اوکړے شو چې په دې ځائے کښې د الله د کور تعمير اوکړه ځکه په دغه ځائے کښې يو زوړ کور وو ليکن د هغې بنيادونه پټ شوی وو او دا يوالونه خراب شوی وو، نو ابراهيم عليه السلام دوباره د هم دغه کور تعمير اوکړو د تعمير نه بعد ابراهيم عليه السلام دعاګانې کړې وې يوه دعا ابراهيم عليه السلام دا کړې وه چې الله زمونږه دا خدمت قبول کړې ځکه که يو عمل ډير زيات غټ شی ليکن که هغه الله ته قبول نشی نو د دغه عمل هيڅ فائده نه وی، دويمه دعا ابراهيم عليه السلام دا کړی وه (وَاَرِنَامِنَاسِكَنَا)(بقره:۱۲۸) الله مونږه ته د حج احکامات راکړې ځکه انبياء عليهم السلام د الله نيك بندګان وی نو هغوی د الله د حکم نه خلاف هيڅ يو عمل نه کوی او دريمه دعا ابراهيم عليه السلام دا کړې وه (رَبَّنَا وَابۡعَثۡ فِيۡهِمۡ رَسُوۡلًا مِّنۡهُمۡ)(بقره:۱۲۹) الله کور آباد شو تعمير پوره او برابر شو نو د دې خلقو د پاره د يو استاذ،عالم،پيغمبر ضرورت دے نو يو پيغمبر هم پکښې پيدا کړې دغه د ابراهيم عليه السلام دعا زرګونو کاله بعد قبوله شوه او الله په دې قوم او وطن کښې محمد رسول الله صلی الله عليه واله وسلم پيدا کړو.

او عيسی عليه السلام دا زيرے په هغه وخت کښې خپل اُمّت والو ته ورکړے وو چې الله هغه ته نبوّت ورکړو نو هغه خپل اُمّت ته دا خبره کړی وه چې ځما د نبوّت سره زما نه بعد به هم يو پيغمبر صلی الله عليه واله وسلم راځی او تاسو به د هغه خبرې منئ او د هغه فرمانبردار او

تابعدار به جوړيږي او دا ځکه چې د پيغمبرانو هميشه د الله د دين په باره کښې سوچ،فکر، او غم وی نو عيسیٰ عليه السلام ته معلومه وه چې هيڅ يو انسان په دې زمکه کښې هميشه نه اوسيږی که ما لره الله اسمان ته پورته کړی نو د اُمّت د ګمراهۍ نه بچاؤ دپاره ورته تعليم ورکوی چې بيا به تاسو د نبی عليه السلام تابعدار جوړيږئ او دا شان الله نبی عليه السلام ته ورکړے دے چې هغه په دنيا کښې نشته او زرګونو کاله مخکښې د دغه پيغمبر د پاره ابراهيم عليه السلام دعا کړې وه او پنځه،شپږ سوه کاله مخکښې د هم دغه پيغمبر نوم عيسیٰ عليه السلام اغستے دے او د دهٔ دَ تابعدارۍ په باره کښې ئے خپل اُمّت ته تعليم ورکړے دے.

او په يو موقع د نبی عليه السلام نه تپوس شوے وو چې ته څنګه دنيا ته راليږلے شوے ئی، نبی عليه السلام جواب ورکړو (**مَتَی كُتِبْتَ نَبِيًّا ؟ قَالَ : وآدَمُ بَيْنَ الرُّوحِ وَالْجَسَدِ**)(احمد) زما د نبوّت اعلان شوے وو او اٰدم عليه السلام هم په دنيا کښې نه وو نبی عليه السلام اګر چې دنيا ته د ټولو انبياوو نه روسته او په آخر کښې راغلے وو ليکن نبی عليه السلام ته نبوّت په ټولو انبياو کښې مخکښې اوّل ملاؤ شوے وو او يو بل حديث کښې راځی چې الله د زمکې او د اسمانونو د پيدائش نه مخکښې سورت يس تلاوت کړے وو او په دې سورة يس کښې د نبی عليه السلام د نبوّت تذکره موجود وه(**اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ**)(يٰس:۲) اے نبی عليه السلام ته د الله د پيغمبرانو نه ئے او ته په برابره لاره باندې روان ئی،او د ټولو انبياو نه الله دا وعده اغستې وه چې د الله توحيد به بيانوی ځکه د الله توحيد بيانول

بنيادى حكم دے او دويمه وعده ورنه دا اغستے شوې وه چې د نبى عليه السلام د رسالت اقرار به كوى او په دۀ باندې به ايمان راؤړى نو د الله په تقدير كښې د مخكښې نه دا خبره وه چې دا رسول به د ټولو نه آخره كښې راځى ليكن بيا هم الله د ټولو پيغمبرانو نه دا وعده اغستې وه چې تاسو به په دۀ باندې ايمان راؤړىاو د دۀ مدد به كوىكه چرته الله دا رسول دنيا ته راؤليږو.

او يو بل روايت كښې راځى (**اِنَّكَ مُخْتَارُ الرُّسُلِ وَاَمَّتُكَ مُخْتَارُ الْاُمَمِ**) ته د ټولو نه بهترين پيغمبر ئے الله په ټولو پيغمبرانو كښې ستا انتخاب كړے دے او ستا دا اُمّت بهترين اُمّت دے ځكه الله په دې ټولو اُمّتونو كښې ستا د دې اُمّت انتخاب كړے دے، او يو بل روايت كښې راځى الله په دې ټوله دنيا كښې نظر اوكړو اوپه دې ټولو نسبونو او قبيلو كښې الله د عربو نسب او د قبيلې انتخاب اوكړو او بيا الله په دې ټول عالم عرب كښې د فهر قبيله منتخب كړه او د دې نه بعد الله قريش واله منتخب او غوره كړل او په دې قريشو كښې بيا الله د بنى هاشم انتخاب اوكړو او په بنوهاشم كښې الله زما انتخاب كړے دے او زه ئے پيغمبر جوړ كړے يمه،يعنې الله په ټوله دنيا كښې د ادم عليه السلام نه واخله تر قيامته پورې بهترين انسان، وفادار، د اخلاقو خاوند، او نيك عمله انسان نبى عليه السلام الله ګرځولے دے دا د نبى عليه السلام د پيدائش نه مخكښې فضائل وو.

نبى عليه السلام د هغه پيدائش په كوم كال باندى شوے وو نو د تاريخ واله ذكر كوى چې نبى عليه السلام په عام الفيل كښې الله پيدا

كړے وو عام الفيل هغه كال دے چې د حبشي بادشاه ابرهه په مكه او په بيت الله باندې حمله كړې وه چې دا د الله كور وران كړى نو هغوى الله تباه او هلاك كړى وو، كه د ميلادى كال په حساب معلوم كړے شى نو نبى عليه السلام په (۵۷۱)ء كښې پيدا شوے وو او په اسلامى مياشتو كښې اختلاف دے چې نبى عليه السلام په كومه مياشت كښې پيدا شوے وو، څوك وائى ربيع الثانى كښے پيدا شوے دے او څوك وائى د صفر په مياشت كښې نبى عليه السلام پيدا شوے دے او څوك وائى چې دَ رجب په مياشت كښې او چا د رمضان مياشت ذكر كړے ده خو مشهور او دَ جمهورو قول دا دے چې نبى عليه السلام په ربيع الاوّل مياشت كښے پيدا شوے دے او بيا په ربيع الأوّل كښې مشهور تاريخ باره(۱۲) ربيع الأوّل دے ليكن دا د تحقيق خلاف قول دے،د تحقيق مطابق قول دا دے چې (۸) يا (۹) ربيع الأوّل كښے نبى عليه السلام پيدا شوے دے ليكن (۱۲)ربيع الأوّل نه د نبى عليه السلام تاريخ وفات دے او نه د نبى عليه السلام تاريخ پيدائش دے.

بيا ډير په نااشنا طريقې سره نبى عليه السلام پيدا شوے دے، د نبى عليه السلام مور امنه بى بى وائى، چې يوه فرشته په خوب كښې راغله او ماته وائى چې تاته پته شته دے الله به ستا د ګيډې نه د دې ټول اُمّت نبى عليه السلام پيدا كوى، امنه بى بى فرمائى چې ما د حمل په دوران كښې هيڅ تكليف او مشقت نه دے محسوس كړے دا ټول حالات ئے حليمې سعدېې رضى الله عنها ته بيان كړى وو او وائى چې ماته يوه فرشته راغله راته وائي چې كله دا ماشوم پيدا شى نو ته به د الله په نوم سره د دهٔ د

پاره د حسد ګرو او کینه ګرو شریانو نه پناه غواړې، او د دهٔ نوم به محمد صلی لله علیه واله وسلم وی او په تورات کښې د دهٔ نوم احمد وو تاریخ واله لیکي چې د نبی علیه السلام د پیدائش د پاره الله د اسمان فرشتې زمکې ته نازلې کړې وې، دا د نبی علیه السلام د استقبال او اعزاز د پاره وې، مور بی بی ئے وائي چې کله نبی علیه السلام پیدا شو نو په دغه وخت کښې یوه رنړا خوره شوه چې ماته په دغه رنړا کښې د شام محلات ښکاره شو.

امنه بی بی وائي چې نبی علیه السلام د پیدائش سره د هغه نوم کټ شوے وو او سنت کړے شوے ختنه کړے شوے پیدا شوے وو، د دې نه بعد یوه وریځه د نبی علیه السلام په سر باندې راغله او د دغه وریځې نه آوازونه کیدل چې دا په مشرق او په مغرب باندې اوګرځوی چې خلقو ته د دهٔ نوم، مقام او مرتبه معلومه شی او دا رشیتا خبره ده ځکه د نبی علیه السلام نوم هر څوك پیژنی او د هغهٔ د شکل او صورت په باره کښې محدّثینو کتابونه لیکلی دې چې په هغې کښې صحابه کرامو د نبی علیه السلام د ګیرې د ویختو پوری وضاحت کړے دے، چې د نبی علیه السلام په ګیره کښې څومره ویختهٔ وو او بیا آواز اوکړے شو چې دهٔ لره د ادم علیه السلام په شان اخلاق ورکړی او د شیث په شان معرفت ورته ورکړی د ابراهیم علیه السلام په شان ملګرتیا واله صفت د اسماعیل علیه السلام په شان قربانی د لوط علیه السلام په شان حکمت د اسحاق علیه السلام په شان رضا د یعقوب علیه السلام پشان بصیرت او د یوسف علیه السلام پشان جمال د داؤد علیه السلام پشان خوږ آواز د یحیٰ علیه السلام پشان عفّت نو دا ټول د انبیاو صفات الله رب العزت په نبی علیه السلام کښې

راجمع کړل او دا صفات بیا په درې شپیته(۶۳) کالو کښې د کمال درجې ته رسیدلی وو.

دوه مشرکان وائي چې مونږه به بیت الله شریف ته د عبادت د پاره راتلو او مونږه به د یو بوت عبادت کوو په دغه شپه دا بوت پړمخ راګوزار شو بیا آواز اوکړے شو چې نن یو داسې ماشوم پیدا کیدونکے دے چې هغه به شرك د مشرق او د مغرب نه ختموی د هغه پیدائش د شرك د زوال پیغام وو او په دغه شپه د مشرکانو ایرانیانو په دربارنو کښې زلزله پیدا شوه او د ایران په اتش کدو کښې د زرګونو کالونو بل کړے اُور مړ شو، یره ورسره پیدا شوه معلومات ئې شروع کړل نو د یهودو او نصاراو علماؤ ورته اووئیل چې معلومیږی دا چې نن شپه اخری پیغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه واله وسلم پیدا شوے دے.

او علمائے کرام وائي چې شیطان په یو څو موقعو باندې ډیر زیات خفګان او ژړا کړې ده یو دا چې کله لعنتی او ګرځیدو دویم دا چې کله د اسمان نه دنیا ته راکوز کړے شو دریم دا چې کله هغه په مخ د زمکه د نبی علیه السلام د پیدائش آواز واؤریدو نو ډیر زیات ئے اوژړل او څلورم دا چې کله په قرآن پاك کښې سورة الفاتحه الله نازله کړه.

حسان بن ثابت دا ډیر د زیات عمر واله صحابی دے دے وائي زه د اتوو کالو وومه چې په مدینه کښې یو یهودی مُلاَ یوې ډیرۍ ته اوختلو او چغې ئې شروع کړې، خلقو ورنه تپوس اوکړو چې څه چل شوے دے هغه جواب ورکړو چې آخری پیغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه واله وسلم پیدا شو او یو یهودی په دغه وخت کښې په مکه کښې تپوس اوکړو

چې نن شپه د چا په کور کښې ماشوم پيدا شوے دے نو عبدالمطلب ورته د خپل کور نه محمد صلی الله عليه واله وسلم راباهر کړو چې د دهٔ مخ ته ئے اوکتل نو چغې ئے شروع کړې او بے هوشه شو، چې کله په هوش کښې راغلے چاورنه تپوس اوکړو چې څه چل دے هغه جواب ورکړو چې زما قوم واله خلق تباه وبرباد شو ځکه زمونږه دا طمع وه چې دا اخری پيغمبر به په بنواسحاق نبی اسرائيلو کښې پيدا کيږی ليکن هغه نبوّت بنواسماعيل عربو ته منتقل شو په دې طريقې سره د نبی عليه السلام پيدائش شوے وو.

والحمد رب العالمين

# د نبی علیه السلام پرورش

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْدُ!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ...﴾ (احزاب:۲۱)

د نبی علیه السلام د سیرت په باره کښې مخکښې جمعه د هغه د پیدائش بیان شوے وو او هر انسان د پیدائش نه بعد الله په دنیا کښې اسبابو ته محتاج کړے دے ځکه دغه انسان خوراك،څکاك ته محتاج وی او الله رب العّزت د انسان د عمر سره مناسب د هغه د پاره د رزق بندوبست کړے دے که د یو انسان عمر پوخ او زیات وی نو هغه د پاره الله په دنیا کښې قسم قسم طعامونه او خوراکونه پیدا کړی دی اوکه د یو انسان عمر زیات نه وی، کمزورے وی نو د هغه د عمر مطابق ورته الله خوراك پیدا کړے دے، لکه د ماشوم د پاره الله د مور په سینو کښې دَ پیَوْ چشمه روانه کړې ده چې دغه ماشوم ورنه سیراب کیږی او د دۀ نشونما ورسره کیږی نو د عامو ماشومانو په شان نبی علیه السلام ته هم د خوراك ضرورت وو اګر چې هغه د الله پیغمبر دے د دے نه معلومه شوه چې نبی علیه السلام یو بشر او انسان او د الله بنده وو.

او دا د مکې د مشرکانو عقیده وه چې پیغمبر به خوراك، څکاك نه کوی او په بازار یا انسانی معاشره کښې به نه ګرځیږی لکه مشرکانو دا اعتراض په نبی علیه السلام کړے وو(مَالِهٰذَا الرَّسُوْلِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ

فِي الْاَسْوَاقِ)(فرقان:۷) په دې پيغمبر باندې دا څه چل شوے دے چې خوراك، څكاك كوى اوپه بازارونو كښې ګرځيږى پيغمبر خو يو داسې مخلوق پكار دے چې هغه نه خوراك كوى نه څكاك كوى او نه ورته د څه څيز ضرورت پيش كيږى الله پاك په قرآن كښې په دې عقيدې رد كړے دے چې په دنيا كښې ما څومره پيغمبران پيدا كړى دى هغوى ټولو به خوراك او څكاك كوو او د هغوى ښځې او بچى هم وو او نور د دنيا ضرورتونه هغوى لرل نو محمد رسول الله صلى الله عليه واله وسلم هم د دغه انبياوو د جنس نه يو انسان دے نبى عليه السلام د پيدائش نه بعد څو ورځې د خپلې مور بى بى ﷺ څكلى ؤو، د سيرت علمائے ذكر كوى چې نبى عليه السلام دا ﷺ نهه(۹) ورځې څكلې وو او بيا د دې نه خپل مشرك،كافر ترۀ ابولهب يوه وينزه غلامه وه د هغې نوم ثويبه وو هغې ورته درې ورځى ﷺ وركړى دى، دا د نبى عليه السلام رضاعى مور ده او ابولهب دا د نبى عليه السلام د پيدائش په موقع باندې آزاده كړې وه كله چې ورته دې وينزې خبر وركړو چې ستا د رور عبدالله د مرګ نه بعد بچے پيدا شو نو ابولهب خوشحاله شو او دا غلامه ئے آزاده كړه يو روايت كښې راځى چې د جهنم اُور په ابولهب باندې الله د دغه ورځى د پاره اسان كړے دے ځكه په دغه ورځ ورته سخت عذاب نه ملاويږى، هم دې وينزې تويبې د نبى عليه السلام كشر تره حمزه رضى الله عنه ته هم ﷺ وركړى دى نو دا كه يو طرف ته د نبى عليه السلام ترۀ دے نو بل طرف ته ئے ورسره د رضاعى رور كيدو رشته هم شته دے، په يو موقع نبى عليه السلام ته چا د حمزه رضى الله عنه د لور سره د نكاح كولو خبر او پيغام

ورکړو نو نبی علیه السلام انکار اوکړو چې حمزه رضی الله عنه زما رور دے، او یو بل صحابی ابوسلمه رضی الله هم دهٔ نبی علیه السلام رور دے د هم دغه غلامې نه پئ څکلی وو.

د مؤرخینو په دې کښې اختلاف دے چې ایا دا ثوبیه مسلمانه شوې ده اوکه نه ده مسلمانه شوې، خو دا خبره چې نبی علیه السلام به د ثویبې رضی الله عنها ډیر عزّت او احترام کوو، او نبی علیه السلام به ورته د هجرت نه بعد د مدینې نه مکې ته تحفې هم ورلیږلے او د فتح مکې په موقع نبی علیه السلام د هغې په باره کښې تپوس کړے وو نو جواب ورته ورکړے شو چې هغه وفات شوې ده.

د پنځو ورځو نه بعد د عربو د دستور او قانون مطابق هغوی به ماشومان شړو بانډو ته لیګل ځکه چې د دغه علاقو اب وهواء ښه وی او دویمه فائده دا وه چې هلته ورته خپله فیصحه عربی ژبه هم زده شی او بله وجه دا هم وه چې دغه ماشوم ته خپل اصل تمدن او تهذیب معلوم شی او په دې باندې عمل شروع کړی نو په دې طریقه به عربو خپل وړوکی ماشومان لیږل،وخت په وخت به قافلې راتلې او د خپل ځان سره به ئے ماشومان وړل د بنوسعد قبیلې یوه خوش قسمته زنانه حلیمه سعدیه د خپل خاوند سره راغلی وه.

دا حلیمه پخپله دا خبره بیانوی چې زما سورلی ډیره کمزورې سورلی وه، او د ټولې قافلې نه زما سورلی روسته روانه وه او زما خپل بچے عبدالله هم وړوکے ماشوم وو لیکن د غربت د وجې نه زما په سینو کښې د هغه د څکلو د پاره پئ ختم شوی وو، زهٔ او زما خاوند مکې ته

راغلو لیکن بے وخته وقت وو، نورې قافلې والو ماشومان اغستې وو، مونږه د عبدالمطلب کور ته لاړو ، نو د هغه په کور کښې دغه یو ماشوم محمد صلی الله علیه واله وسلم وو چې مونږه د دۀ په باره کښې تپوس اوکړو نو جواب راکړے شو چې دا ماشوم یتیم دے، دوباره واپس شو د بل ماشوم په باره کښې مونږه کوشش اوکړو لیکن هغه راته ملاؤ نه شو، زما خاوند اووئیل چې دا یتیم ماشوم واخله کیدے شی چې الله دا زمونږه د پاره د برکت سبب جوړ کړی.

حلیمه رضی الله عنها وائي چې ما دغه ماشوم د خپل ځان سره راواغیستو چې کوم وخت ماسینی ته نزدې کړو نو د کس طرف نه هغه پئ قبول نه کړل چې ښی طرف ته مې نزدې کړو نو دغه ماشوم پئ څکل شروع کړل او الله ډیر زیات پئ زما په سینو کښې پیدا کړل چې زما خپل بچے به ورسره موړ کیدو، حلیمه رضی الله عنها وائي چې زما سورلی د واپسۍ په وخت کښې د ټولې قافلې د سورلو نه مخکښې روانه وه، او زمونږه سره یوه کمزورې، بےکاره اوښه وه چې پئ ورکښې نه وو په دغه شپه په دې اوښه کښې الله دومره پئ پیدا کړل چې هغه ما او زما خاوند او غلام هم اوڅکل بیا مونږه کور ته لاړو نو ما خپل خاوند ته اووئیل چې دا یو عجیبه ماشوم دے او وخت په وخت به په دې ماشوم کښې نا اشنا نااشنا کمالات ښکاره کیدل.

چې کله د نبی علیه السلام دوه کاله پوره شو نو د وعدې مطابق ما هغه دوباره مکې ته واپس کړو او د نبی علیه السلام مور ته ما اووئیل که دا ماشوم څه وخت نور تۀ ماله راکړې نو ډیره ښه خبره به وی، هغې

انکار اوکړو خو په دغه وخت کښې په مکه وبا خوره شوې وه نو د وبا نه د حفاظت دپاره ئے دغه ماشوم دوباره ماته راکړو.

نبی علیه السلام د خپل رضاعی رور عبدالله سره ګډې، چېلې څرولے، یو ځل په بنوسعد قبیله کښې قحط راغلے وو، د نورو خلقو څناور به اُوګی وو لیکن زمونږه ګډې، چېلې به مړې وې او د نورو خلقو څناورو کښې به پیۍ نه وو او زمونږه څناورو کښې پوره پیۍ موجود وو، او حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی چې هیڅ یو پیغمبر دنیا ته نه دے راغلے مګر هغه د نبوّت نه مخکښې ګډې، چېلې څرولی دی او ما هم د نبوّت نه مخکښې په بنوسعد قبیله کښې ګډې څرولی وی.

حلیمه رضی الله عنها وائي یو ورځ زما وړوکے بچے عبدالله ډیر په تیزۍ سره کور ته راغے او ماته ئي اووئیل چې زما رور د سپین څادرونو والوو دوه کسانو هلته راوغورځولو او د هغه سینه ئے اوشلوله او اوس ورله سینه ګندی نو زۀ او زما خاوند ډیر په منډه دغه ځائے ته حاضر شو نبی علیه السلام ولاړ وو او د هغه رنګ بدل شوے وو، مونږه ورنه تپوس اوکړو چې څه چل شوے دے؟ نبی علیه السلام جواب راکړو چې دوه کسان راغلل او زما د سینې نه ئې یوه ټکړه راجدا کړه او دغه یو کس هغه بل ته وائي چې دا هغه دَ شیطان حصّه ده، دې واقعې ته واقعه شق صدر وائي او دغه دوه کسان جبرائیل او میکائیل علیه السلام وو، او د نبی علیه السلام زړۀ ئې په دغه موقع د جنّت په اوبو باندې ؤینځلې وو.

د نبی علیه السلام د شق صدر دا واقعه څلور ځله شوې ده یوه دا وه چې کله د نبی علیه السلام عمر څلور کاله وو، دویم ځل د نهه(۹) کالو

په عمر کښې د هغه سره دا واقعه شوې وه ،دریم ځل چې کله نبی علیه السلام ته نبوّت ملاؤ شوے وو نو په دغه موقع ورسره دا واقعه شوې وه څلورم ځل کله چې نبی علیه السلام د معراج په موقعه باندې بره اسمانونو ته تلے دے نو د هغه زړۀ صفا کړے شوے دے او په دې کښې حکمت دا دے چې د انسان د بدن نه د شیطان هغه اثر ختم شی ځکه انبیائے کرام معصوم دی د هغوی نه هیڅ قسمه ګناه نه کیږی ځکه دا د یهودو عقیده ده چې هغوی وائی د پیغمبرانو نه ګناهونه کیږی او دویم ځل ځکه دا واقعه شوې وه چې په دغه عمر کښې د ماشوم توجّو لوبو او منډو،ترړو ته وی نو چې د دغه ماشوم والی د لهوولعب واله مزاج او فطرت د هغه ختم شی او په دریم ځلا د دې د پاره چې د نبی علیه السلام د سینې نه د وحی زور او هغه بوج ختم شی او په څلورم ځل د دې د پاره چې د عالم بالا مشاهده اوکړے شی او د هغې د مشاهدې قوّت نبی علیه السلام ته ورکړے شی.

چې حلیمې رضی الله عنها دغه واقعه د نبی علیه السلام نه واؤریدله نو هغه ورباندې اویریده چې هسې نه چې په دې ماشوم باندې نور څه بیماری یا مصیبت رانشی نو د څلورو کالو په عمر کښې ئې مکې ته واپس کړو کله چې د نبی علیه السلام عمر شپږ کاله شو نو د نبی علیه السلام مور مدینې ته د خپل پلار کور ته لاړه هلته یهودو ته پته اولګیده چې داسې یو ماشوم د مدینې ته راغلے دے نو دوربارہ ئے مکې ته پسی اوکړه په لاره کښې چې کله دا ابواء مقام ته اورسیده نو مور بی بی ئے بیماره وه او وفات شوه اُمّ ایمن نبی علیه السلام د ځان سره روان کړو او

مکې ته ئې راوستو او دا خبره ئې عبدالمطّلب ته اوکړه چې د دهٔ مور په ابواء کښې وفات شوه او هلته دفن کړے شوه بیا د نبی علیه السلام تربیت د هغه نیکهٔ عبدالمطّلب کړے دے.

والحمدلله رب العالمین

# د نبی علیه السلام تربیت او تذکری

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ۔

﴿(ن) وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ مَا أَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ﴾ (قلم)

مخکښې جمعه د نبی علیه السلام د سیرت د پیدائش دور بیان کړے شوے وو، د نبی علیه السلام د مور امنه د وفات نه بعد د هغه پرورش او تربیت د هغه نیکه عبدالمطّلب کړے وو، د نبی علیه السلام پلار د هغه د پیدائش نه مخکښې وفات شوے وو، او مور ئے هغه وخت وفات شوې وه کله چې د نبی علیه السلام عمر شپږ کاله وو او د نبی علیه السلام دَ اته (۸) کاله په عمر کښې د هغه نیکه عبدالمطّلب هم وفات شوے وو، عبدالمطّلب د نبی علیه السلام ډیر خیال ساتلے وو ځکه هغه د بیت الله سردار وو د هغه دپاره په بیت الله کښې د ناستې یو خپل خاص مقرر کړے شوے مقام وو چې په دغه ځائے کښې به بل هیڅ څوک کیناستے نشو، صرف د نبی علیه السلام په باره کښې هغه حکم کړے وو چې دا کله هم بیت الله ته داخل شی نو دا به زما سره په دې خاص ځائے کښې ناست وی او بل هیڅ څوك به په دې ځائے کښې نه کینی، اُمّ ایمن رضی الله عنه وائي چې کله عبدالمطّلب وفات شو نو نبی علیه السلام د هغه جنازې پسې روان وو او هغه ژړل او یو ځل د نبی علیه السلام نه تپوس شوے وو چې آیا تا ته ستا د نیکه وفات یادیږی نبی علیه السلام جواب ورکړ اؤ زهٔ په هغه وخت کښې د اته(۸) کالو ؤمه.

د عبدالمطلب د وفات نه بعد د نبي عليه السلام يو ترۀ دے او د هغه نوم زبير دے هغه د نبي عليه السلام تربيت كړے وو،كله چې هغه وفات شو نو بيا د نبي عليه السلام ترۀ ابوطالب د نبي عليه السلام تربيت كړے دے، د نبي عليه السلام ترۀ ابوطالب ډير غريب وو نو نبي عليه السلام به په دغه لس كالو عمر كښې د اهل مكې ګډې، چيلۍ ساتلې او جابر رضی الله عنه وائي يو ځل زمونږه سره نبي عليه السلام په صحراء كښې وو او مونږه بيرې خوړلو د پاره راغونډې كړې وې نو نبي عليه السلام او فرمائيل چې دا تورې تورې بيرې راواخلۍ ځكه دا ډيرې خوږې بيرى دى، ما ورته عرض اوكړو چې يارسول الله تاسو ته څنګه معلومه شوه چې دا خوږې دې نو نبي عليه السلام جواب راكړو چې مخكښې زمانه كښې ما د اهل مكه ګډې او چيلې ساتلې وې په يو څو قيراطونو باندې نوما ته دا معلومات شته دے، او يو بل روايت كښې راځى چې هر پيغمبر صلی الله عليه واله وسلم په دنيا كښې ګډې چيلې څرولى دى.

د دې حكمت دا دے چې په دې ګډو چيلو څرولو كښې مشقّت او تكليف وى ځكه د دې مالك هر طرف ته خيال كوى، او دا غم ورسره وى چې يو بل ځناور دا ماته نه كړى نو په دې سره الله پيغمبر ته د اُمّت د قيادت تعليم وركړى چې څوك به د صحيح لارې نه دې طرف ته روانيږى او څوك به بل طرف ته روانيږى نو د دوى د حفاظت او په صحيح لاره د رواستلو طريقه به څه وى او دويمه خبره دا چې څنګه د راعى سره غم او فكر د هرې ګډې او چيلۍ په باره كښې وى دغه شان د پيغمبر سره د هر

اُمّتي په باره کښې غم او فکر وی چې هسې نه په غلطه لاره روان نشي او څنګه چې د راعی سره غم او فکر وی چې دا ګډې ځناور یا درنده ماته نه کړی او هلاك نشي نو دغه شان د پیغمبر سره دا غم او فکر وی چې دا اُمّت تباه نشي او جهنم ته داخل نه کړے شي.

د نبی علیه السلام عمر چې کله دولس کاله شو نو د عربو طریقه دا وه چې د هغوی امدن خوراك او څکاك به ټول په تجارت باندې کیدو، قافلې به یمن او شام ته د تجارت د پاره روانیدې او د دې د پاره خپل وختونه او موسمونه مقرر کړے شوی وو، او دوی به د ټول کال د پاره خرچه په دغه سفرونو کښې پوره کوله شام ته دومره مرکزی حیثیت حاصل شوے وو چې دا د یو طرف نه یورپ سره یو ځائے شوے وو او د بل طرف نه هندوستان سره یو ځائے شوے وو، ابوطالب هم په دغه موقع د سفر تجارت اراده کړې وه.

نبی علیه السلام ابوطالب ته اووئیل چې زهٔ هم ستا سره په سفر باندې ځمه، ابوطالب منع کړو چې ستا عمر لږ دے او دا لوې سفر دے په دې کښې پیاده تلل وی سفرونه وی، نبی علیه السلام ورته اووئیل چې زما پلار نشته، او نیکهٔ عبدالمطلب هم وفات شو نو زهٔ به درسره ځمه، اخر ابوطالب تیار شو او نبی علیه السلام ورسره روان شو په لاره کښې چې کله قافله د بطحاء مقام ته اورسیدله او هلته ئې پړاؤ اوکړو نو په دغه ځائے کښې د یو نصرانی راهب ځائے وو او دغه راهب په بحیرا سره مشهور وو، نو دغه راهب ته معلوم شوه چې د عربو یوه قافله دلته پړاؤ کوی او د دمې د پاره مقیم شوی دی، نو د دغه راهب په نبی علیه السلام باندې نظر

اولګیدو تپوس ئے اوکړو چې دا ماشوم څوك دے، قافلې واله ورته جواب ورکړو چې دا ئے ترۀ دے و د دۀ نوم ابوطالب دے؟نو دغه راهب اووئیل (**هٰذَا سیِّدُ الْعَالَمِیْنَ هٰذَا رَسُوْلُ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ یَبْعَثُهُ اللّٰهُ رَحْمَةً لِلْعَالِمِیْنَ**) دا د ټول عالم سردار دے او دا به الله د ټول عالم سردار دنیا ته رالیږی، ځکه په تورات کښې چې کوم علامات د آخری پیغمبر ذکر شوی دی هغه علامات په دۀ کښې موجود دی.

دغه راهب د دې د قافلې د پاره د خوراك، روټۍ بندوبست کړے وو،کله چې قوم واله دسترخوان ته حاضر شو نو نبی علیه السلام هغوی روسته د اوښانو د خیال کولو دَ پاره پاتې کړے وو ځکه د نبی علیه السلام عمر کم ؤو، نو هغه راهب ورته اووئیل چې مقصدی انسان خو هغه دے بیا چې کله نبی علیه السلام راروان وو نو په دغه وخت کښې راهب اولیدل چې په نبی علیه السلام باندې د اسمان وریځې سورے کړے وو او نبی علیه السلام په دغه سوری کښې راروان وو، راهب د ابوطالب نه تپوس اوکړو چې دا ستا څه دے؟ هغه جواب ورکړو دا زما ځوئے دے، راهب ورته اووئیل دروغ مۀ وایه دا ستا ځوئے نه دے، نو بیا ابوطالب جواب ورکړو چې دا زما ورارۀ دے، زما د رور ځوئے دے، نو تپوس ئے اوکړو چې د دۀ پلار څه شو؟ ابوطالب جواب ورکړو چې هغه د دۀ د پیدائش نه مخکښې وفات شوے دے او د دۀ مور هم وفات شوې ده راهب د ځان سره دا خبره اوکړه چې دا هم دغه انسان دے دکوم ذکر چې په تورات او انجیل کښې شوے دے. بیا ئے ابوطالب ته اووئیل چې دا د الله پیغمبر دے او الله به ورته خیل اخری کتاب ورکوی او زۀ تاته وصیّت

کومه چې دا د دې ځائے نه اوباسه ځکه دلته یهود دې اوکه هغوی ته دا معلومه شی نو بغیر د مرګ نه به دا نه پریږدی ځکه یهود د دهٔ دشمنان دې او په دغه وخت کښې یهودو هم دا کوشش شروع کړے وو نو ابوطالب سره یره او خوف پیدا شو او نبی علیه السلام ئے دوباره د سفر نه واپس کړو.

ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو ځل د یمن تجارت د پاره تلے وو او په هغه وخت کښې نبی علیه السلام ته نبوّت نه وو ملاؤ شوے، هلته ورته چا د یو بزرګ په باره کښې تذکره اوکړه چې د دهٔ عمر (۳۰۰) درې شوه کاله دے ابوبکر رضی الله عنه چې د تجارت نه فارغه شو نو د دغه بزرګ په خدمت کښې حاضر شو هغه ورنه د نوم او د پلار د نوم په باره کښې تپوس اوکړو ابوبکر رضی الله عنه جواب ورکړو چې زما نوم ابوبکر دے او زما د پلار نوم عثمان ابوقحافه دے نو دغه بزرګ د ابوبکر رضی الله عنه سر خُکل کړو او ورته ئے اووئیل چې ته به اوّل هغه سړے ئے چې په اخری پیغمبر باندې به ایمان راؤړې او دا خبره زمونږه په کتابونو کښې شته دے او دغه شان واقعه د عمر رضی الله عنه په باره کښې هم راغلې ده چې کله صحابه کرامو بیت المقدس فتح کړے وو او دغه بزرګ ابوبکر رضی الله عنه ته وئیلے وو چې ته ګواه شه چې ما هم په دغه پیغمبر باندې ایمان راؤړے دے او ته به د هغه سره د هجرت په دوران کښې شریك ئے نو خومره پورې چې ته د هغه مدد او نصرت کوے شې دا اوکړه.

نبی علیه السلام چې کله دوباره مکې ته راغلے نو د نیك اخلاقو او امانت دارۍ د وجې نه هغه په مکه کښې په صادق او امین باندې مشهور شو، ابوطالب ورته اووئیل چې زه هم غریب سړے یمه او دلته په مکه کښې یوه نیکه زنانه ده هغه خلقو ته د تجارت د پاره خپله سرمایه ورکوی د هغې نوم خدیجة رضی الله عنها دے، نو ته هم د دغه زنانه نه مال واخله او تجارت ورباندې اوکړه نبی علیه السلام فرمائي چې خدیجة رضی الله عنها خپل مال ماته حواله کړو د تجارت دپاره او خپل غلام میسره ئے زما سره ملګرے کړو او خدیجة رضی الله عنها خپل غلام میسره ته وئیلی وو چې دا څه خبره کوی نو د دۀ خبره مۀ واپس کوه ځکه دا صادق او امین دے اختلاف ورسره مۀ کوه.

میسره غلام ذکر کوی چې نبی علیه السلام په لاره کښې د یوې اُونې د لاندې کیناستو په دغه ځائے کښې یو راهب وو او د هغه نوم نسطوره وو هغه په منډو راغلے او ماته ئے اووئیل چې دا هغه اخری پیغمبر دے ځکه د دې وُنې نه لاندې عیسی علیه السلام وو او د هغه نه بعد به اخری پیغمبر د دې نه لاندې کینی نو دا هغه اخری پیغمبر دے د کوم پیغمبر په باره کښې چې عیسی علیه السلام خوشخبری ورکړې وه، چې کوم وخت نبی علیه السلام یمن ته لاړے نو هلته په بازار کښې یو دکاندار نبی علیه السلام ته د لات او عزّی په سر باندې د قسم مطالبه اوکړه نبی علیه السلام ورته انکار اوکړو چې زه هیڅ یو صورت کښې د لات او عزّی په سر باندې قسم نه کومه.

نبي عليه السلام چې دوباره را واپس شو نو ډيره زياته ګټه ورسره وه چې هغه ورته په تجارت کښې حاصله شوې وه، ميسره غلام خديجة رضی الله عنها ته دغه ټول د سفر حالات اووئيل چې خديجة رضی الله عنها دا خبرې واؤريدې نو نبي عليه السلام ته ئے د نکاح پيغام ورکړو، نبي عليه السلام جواب ورکړو چې زۀ انکار نه کومه ليکن زما ترونه دی زه به د هغوی سره مشوره اوکړمه، د مشورې نه بعد ابو طالب ،عباس رضی الله عنه لاړل، او د خديجة رضی الله عنها د رشته دارنو سره ملاؤ شو او نکاح ورته ابوطالب تړلے وه او د نبي عليه السلام د نکاح په وقت کښې ابوطالب دا الفاظ وئيلے ؤو( **اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّ مُحَمَّدًا رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ لَا يُوَازِنُهُ اَحَدٌ شَرَفًا وَخُلُقًا وَاَمَانَةً وَصِدْقًا وَاِنْ كَانَ اَقَلَّ مَالًا فَاِنَّهُ زَائِلٌ وَ عَارِيَةٌ مُسْتَرْجِعَةٌ**) يعنې دا محمد د قريشو يو داسے ځوان دے چې د دۀ سره په اخلاقو، کمالاتو او امانت دارۍ او رشتيا وئيلو کښې هيڅ يو انسان نه برابرېږی دا اګر چې د د لږ مال خاوند دے ځکه دا مال يو سورے دے چې زائيله کيدونکے دے او يو قرض دے چې د انسان نه اغستلے کيږی نو مال دولت کمال نه دے، شرافت، عزّت ، اخلاق په انسان کښې کمال دے او داپه نبي عليه السلام کښې موجود دې او د نبي عليه السلام د خديجة رضی الله عنها سره د نکاح رغبت او ميلان دے او خديجة رضی الله عنها د نبي عليه السلام سره د نکاح رغبت او ميلان لری نو د دې وجې نه زۀ ورته دا نکاح تړمه.

د نبي عليه السلام د طرف نه په مهر کښې يو اوښ او پنځه سوه دراهم مقرر کړے شوی وو او په دغه وخت کښې د نبي عليه السلام عمر

(۲۵) پنځه ویشت کاله وو او د خدیجة رضی الله عنها عمر(٤٠) څلویښت کاله وو او د ولیمه په موقع پګښې یو اوښ ذبح کړے شوے وو او الله نبی علیه السلام ته ټول اولاد د خدیجې رضی الله عنها نه ورکړے وو صرف ابراهیم رضی الله عنه هغه د ماریه قبطیه رضی الله عنها نه پیدا شوے وو.
والحمدلله رب العالمین

# تعمير كعبه او نبى عليه السلام

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم۔

﴿اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِىْ بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالِمِيْنَ.فِيْهِ اٰيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مُقَامُ اِبْرَاهِيْمَ وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ اٰمِنًا..﴾ (آل عمران:٩٦)

د نبى عليه السلام د نبوّت نه مخكښې د مكې قريشو دا مشوره كړې وه چې د بيت الله نوے تعمير اوكړے شى ځكه د بيت الله عمارت زوړ شوے وو او بنيادونه كمزورى شوى ؤو، د بارانونو اوبهٔ به دغه ځائے ته د هر طرف نه راجمع كيدې نو د دې عمارت متاثره شوے وو هغوى اراده اوكړه چې د دې تعمير نوے كړى شى اګر چې په دغه دور كښې ورته الله پيغمبر نه وو راليږلے خو بيا هم د بيت الله تقدّس او احترام هغوى ته نسلاً درنسلاً د ابراهيم عليه السلام د دور نه پاتې شوے وو، ځكه د ابراهيم عليه السلام د شريعت څهٔ نه څه اثرات په مكه كښې باقى پاتې وو او قريشو به په دې باندې فخر كوو چې دا د ابراهيم عليه السلام د دين نه مونږه ته پاتې شوى دى او نورو عربو به هم ورته د احترام په نظر باندې كتل چې دا د بيت الله خادمان دى.

د بيت الله د تعمير مكمل تاريخ دا دے چې دا پنځه ځله آباد شوے دے، اوّل ځل بيت الله فرشتو اباد كړے وو او يا ادم عليه السلام ته فرشتو د الله دا پيغام اوړولے وو نو د ادم عليه السلام په لاس باندې

جوړ شوے وو، کله چې په اوّل ځل بیت الله آباد شو نو د الله د طرف نه ادم علیه السلام ته حکم اوکړے شو چې د دې نه طواف اوکړه ځکه دا د زمکې په سر باندې د الله اوّل کور دے او ته د الله اوّل بنده ئے چې ته به ورنه طواف کوې او قرآن کښې الله د دې بیان کړے دے (إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ) اوّل کور د الله د عبادت چې اباد کړے شوے دے هغه بیت الله شریف دے، د یهودو دا دعوی وه چې بیت الله المقدس په دنیا کښې اوّل اباد شوے دے او په دې کښې د یهودو مقصد دا دے چې په بیت الله باندې د بیت المقدس درجه اوچتول غواړې چې دا اول کور دے چې په زمکه باندې د الله د عبادت د پاره اباد کړے شوے وو، الله په قرآن پاك کښې د یهودو په دې غلط خبره باندې رد کړے دے نو اوّل تعمیر ادم علیه السلام کړے وو.

د زمانې سره سره چې کله طوفان نوح راغلے نو بیت الله شریف ورسره خراب شو او د دې بنیادونه هم په خاؤرو کښې پټ شو، د الله اراده وه چې اخری پیغمبر به په دې زمکه کښې پیدا کیږی، نو ابراهیم علیه السلام ته الله حکم کړے وو چې دا هاجره بی بی او د دې بچے په دې مقام کښې پریدوه دا د دې مقصد دپاره چې دا ځائے دوباره اباد شی ځکه د الله اخری پیغمبر به په دې ځائے کښې راځی د ابراهیم علیه السلام یوه بی بی په حجاز کښې وه او یوه بی بی په شام کښې بیت المقدس کښې وه ابراهیم علیه السلام به څه زمانه حجاز کښې وو او څه زمانه به شام کښې وو، څه وخت بعد جبرئیل علیه السلام ابراهیم علیه السلام ته د الله د طرف نه حکم راؤړو چې دا بیت الله دوباره آباد کړه، ابراهیم علیه

السلام تپوس اوکړو چې د دې بنیادونه کوم ځائے کښې دې نو جبرائیل علیه السلام ورته کرخه اوکړه چې دا ځایونه کولاؤ کړه هغه زاړهٔ د ادم علیه السلام د وخت بنیادونه به ښکاره شی نو بیا ورباندې نوې ابادی تعمیر کړه، قرآن پاك د ابراهیم علیه السلام د دغه تعمیر تذکره کړې وه(**وَاِذْ يَرْفَعُ اِبْرَاهِيْمُ قَوَاعِدَ الْبَيْتِ وَاِسْمَاعِيْلُ**)(بقره:۱۲۷) هغه وخت یاد کړه چې ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام د بیت الله شریف بنیادونه اوچت کړی وو.

په دریم ځل د بیت الله شریف تعمیر قریشو کړے وو کله چې د نبی علیه السلام عمر پنځه دیرش کاله وو، د نبوّت نه پنځه کاله مخکښې هغه د دغه تعمیر شروع کړې وه، او دا هغه وخت چې کوم وخت د بیت الله زړه ابادی خرابه شوې وه او د بیت الله یو دیوال سوزیدلے وو، ځکه بیت الله ته به خلقو تحفې او تحائف راؤړل په یو موقع ورته یوې زنانه څه خوشبو راؤړې وه او هغې ته ئے اُور بل کړے وو او خانه کعبه ته ئے دغه خوشبو نزدې کړې وه نو یوه سکروټه په هوا سره د بیت الله غلاف باندې اولګیده چې د غه وجې نه علاف اوسوزیدو او ورسره د بیت الله مکمل یو دیوال متاثره شو او په دغه وخت کښې په بیت الله باندې چهت هم نه وو نو د دې د تعمیر د پاره مشرکانو فیصله اوکړه.

چې کوم وخت د بیت الله هغه زړه ابادی ورانیده نو هیڅ یو مشرك بیت الله ته د شهید کولو د پاره نه نزدې کیدو، ولید بن مغیره مشرکانو ته اووئیل چې زه به ورباندې شروع اوکړمه نو که ماته څه عذاب اورر سیدو بیا تاسو مهٔ رانزدې کیږئ، هغه د هغه زمانې د آلاتو

مطابق د بیت الله یو دیوال ګوزار کړو خلقو ورته اووئیل چې تاته به د شپې په وخت کښې نقصان کیږی چې سحر وخت کښې دوباره هغه ته څه نقصان نه وو شوے نو خلقو اووئیل چې الله رضا دے او هغه په دې باندې نه خفه کیږی صبا وربانديٍ عامو خلقو شروع اوکره او د بیت الله دیوالونه ئے وران کړل کله چې د ابراهیم علیه السلام ابادی ته اورسیدل او په هغه ځائے باندې ګوزارونه دوی شروع کړل نو یکدم زلزله شروع شوه خلقه پوهه شو چې دا د ابراهیم علیه السلام بنیادونه دی او د دې په ورانولو باندې الله خفه کیږی دا مۀ ورانوی.

د نبی علیه السلام د پلار ماما وهب بن عمره المخزوم دا مشوره اوکړه چې بیت الله به جوړ کړے شی لیکن دا به په حلال او پاك مال باندې جوړ وی، نو بیا ئے مشرکانو ته اعلان اوکړو چې په بیت الله کښې به د سود مال نه خرچ کیږی اونه د دهوکې مال او نه به د غصب مال اونه به هغه په دې کښې خرچ کیږی کوم مال چې په بدکاری یا حرامه زریعې سره حاصل شوے وی.

د عربو څلور قبیلې وې هر یو قبیلې ته ئے د بیت الله خپل خپل دیوال حواله کړو چې تاسو به دا دیوال جوړ کړی تاسو به دا دیوال جوړ کړې یو یو قبیلې ته خپل خپل دیوال حواله کړے شو ، کاڼړی اوګټې د غرونو نه راجمع کړے شوی او د چهت د پاره د سمندری جهاز چې کوم تباه شوے وو د هغې تختې واغستلے شوې.

چې کله د بیت الله ابادی برابر او مکمل شوه نو صرف په یو څیز باندی اختلاف راغلے چې دا جنّتی کاڼړے به څوك په بیت الله کښې

نصب کوی، یو قوم واله اووئیل دا به مونږه جوړ وو بل قوم واله اووئیل چې دا کاڼړے به مونږه نصب کوو یو بل پسې تورے راواغستلے شوې یو بزرګ ورته خطاب اوکړو چې دا د الله کور دے اوپه دې اختلافاتو باندې الله نارضا کیږی، په دې ځائے کښې جنګ مۀ کوے او زۀ به تاسو ته مشوره درکړمه تاسو دې ځائے کښې انتظار کوئ چې کله د سحر په وخت کښې اوّل انسان په دغه دروازه باندې رادننه شی نو هغه به دا کاڼړے نصب کړی، د سحر وخت کښې ټولو مشرکانو انتظار کوو نو په دغه دروازه باندې نبی علیه السلام رادننه شو چې مشرکانو اولیدو نو ټولوورباندې اتفاق اوکړو چې دا محمد صلی الله علیه واله وسلم امانت دار انسان دے.

دغه مشرکانو خپله فیصله نبی علیه السلام ته مخکښې کړه نبی علیه السلام جواب ورکړو چې دا آسانه خبره ده او حکم ئے ورته اوکړو چې تاسو یو څادر راؤړئ څادر راؤړلے شو دغه حجراسود ورکښې نبی علیه السلام کیخودو او بیا نبی علیه السلام حکم اوکړو چې په تاسو کښې هر یو مشر د دې څادر یو یو طرف واخلئ نو هغوی څادر اوچت کړو او نبی علیه السلام حجراسود په دغه ځائے کښې نصب کړو.

شیطان د یو بوډا په شکل کښې راغلے او ورته وائي چې تاسو دا څه غلطی اوکړه ؟تاسو په یو ځوان باندې دا کار اوکړو او تاسو ورته عزّت ورکړو لږ وخت بعد به دا ځوان ستاسو دا اتفاق ټوټې ټوټې کړی او د دۀ د وجې نه به په مصیبتونو کښې اخته شئ قریشو سوچ اوکړو که دا مشوره واپس کړے شی بیا اختلاف پیدا کیږی، د دې وجې هغوی د نبی علیه

السلام دا فیصله واپس نۀ کړه او د مکې مشرکانو ورته اووئیل چې د دۀ په ذریعه الله زمونږه جهګړه ختمه کړه نو دا به څنګه زمونږه په معاشره کښې اختلاف او انتشار پیدا کړی؟

دا د خانه کعبې دریم ځل تعمیر وو او په دې کښې نبی علیه السلام بذات خود پخپله شریك شوے وو د نبی علیه السلام ترۀ عباس رضی الله عنه نبی علیه السلام ته اووئیل چې دا څادر واغونده او په لنګ باندې کانړی ګده نو تا ته به تکلیف نه وی، نبی علیه السلام فرمائی چې کله ما څادر د خپل ځان نه چاپیره کړو نو په دغه وخت کښې غیبی آواز ماته اوکړے شو چې دا عورت دے د دې خیال اوکړه نو نبی علیه السلام په دغه وخت کښې بےهوشه شو، دوباره چې کله هغه په هوش کښې راغلے، نو ابوطالب ورته اووئیل چې په تا باندې څه چل شوے وو، نو نبی علیه السلام ورته دغه ټوله واقعه بیان کړه.

د فتح مکې په موقع نبی عائشة رضی الله عنها ته فرمائي چې کوم وخت ستا د قوم والو سره حلال مال ختم شو نو دا حطیم د خانه کعبې حصه وه، په دغه موقع دا باهر پریخودلے شوه ځکه نور حلال مال باقی نه وو او دا یوه مسئله ده چې څوك د دغه حطیم په حصّه کښې مونځ ادا کړی نو ګویا چې دغه انسان په ځانه کعبه کښې مونځ ادا کړو او دویمه مسئله دا ده چې طواف به د حطیم د حصّی نه باهر کیږی طواف به د بیت الله د حطیم په حصّه کښې نه کیږی او نبی علیه السلام فرمائی چې که زما سره یره نه وے نو ما به دا حطیم په خانه کعبه کښې دوباره داخل کړے وے او دې خلقو به اعتراض کړے وې چې محمد صلی الله علیه

واله وسلم زمونږه هر څه بدل کړل تر دې پورې چې د ابراهیم علیه السلام هغه خانه کعبه ئے هم بدله کړه نو ځکه نبی علیه السلام دوباره تعمیر نه کړه.

د دې نه بعد څلورم ځل عبدالله بن زبیر رضی لله عنه د نبی علیه السلام د سوچ او فکر مطابق دغه خانه کعبه آباده کړه، بیا روسته دور کښې ظالم بادشاه حجّاج بن یوسف دَ عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په خلاف کښې دوباره په زړهٔ طریقه باندې جوړه کړه، کوم وخت کښې چې خانه کعبه د نبی علیه السلام او د مشرکانو په دور کښې په کوم حالت او طریقه باندې وه نو په هغه طریقه باندې ئے دوباره آباده کړه، روسته دور کښې غټ غټ عالمانو په دې باندې اتفاق اوکړو چې دا به دورباره نه ورانیږی او تر قیامت ورځ پورې به په هم دې حالت باندې باقی پاتې وی ځکه په هر دور کښې به د هغه وخت بادشاه دا پخپله طریقه باندې جوړول خوښوی او په دې سره به لوې فساد او اختلاف د اُمّت په مینځ کښې پیدا شی.

# د نبوت ابتداء

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لَقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ وقال تعالى: لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ﴾ (يونس:٦٤)

﴿وقال النبی ﷺ: الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ "﴾ (صحیح البخاری)

د نبی علیه السلام د نبوت نه مخکښې څه حالات بیان شوې وو او بیا کله چې د نبی علیه السلام عمر مبارک څلویښت کاله شو نو نبی علیه السلام ته نبوت ملاؤ شو او دا د الله یو قانون دې چې الله پیغمبرانو ته نبوت د څلویښت کالو په عمر کښې ورکوی او دا ځکه چې په دغه عمر کښې د انسان ټول قوتونه او صلاحیتونه مضبوط شی او د انسان عقل فهم رجولیت په دغه عمر کښې کامل کیږی.

دغه شان نبی علیه السلام چې کله **40** سال ته نزدې شو نو په نبی علیه السلام باندې د وحی آثار شروع شو ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی:

﴿أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ فِي النَّوْمِ﴾

یعنې په نبی علیه السلام باندې د وحی شروع ښۀ ښۀ خوبونو نه شروع شوې وه او دا یو قسم خوشخبری وی دغه پیغمبر ته او دغه خوب په حقیقت کښې رشتینی او واقع کیږی هم لکه ام المؤمنین فرمائی:

﴿فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ﴾

يعنې د صبح صادق پشان به دغه خوب رشتينى كيدو او دا صرف نبى عليه السلام ته نه بلكه هر پيغمبر به د وحى نه مخكښې مبشرات يعنې رشتينى خوبونه ليدل دې ته په شريعت كښې رؤيا صادقه او صالحه هم وئيلې كيږى.

عطاء رحمه الله فرمائى: چې الله د نبوت نه مخكښې پيغمبرانو ته رشتينى خوبونه شروع كړى او په دې كښې مقصد دا وى چې په دې سره د دغه پيغمبر زړۀ مطمئن او خوشحاله وى او كله چې زړه مطمئن او مانوسه شى نو بيا ورته الله د بيدارۍ په حالت كښې وحى اوكړى.

د يوسف عليه السلام واقعه هم په قرآن كښې موجود ده چې هغه وائې ما نمر او سپوګمۍ اوليدل چې ماته سجده كوى نو يعقوب ورته د تعبير په ځاې يو تدبير اوخودلو چې دا خوب چاته مۀ بيانوه ځكه دا د كمال نخښه ده .

د نبى عليه السلام د خوبونو زمانه  شپږ مياشتې ده يعنې د وحى نه مخكښې شپږ مياشتې به نبى عليه السلام خوبونه ليدل.

انسان ته الله د علم د پاره څه اسباب وركړى دى چې دې ته حواس خمسه وئيلې كيږى او په دې سره انسان ته علم حاصليږى ددې نه علاوه نور اسباب داسې دى چې هغه حواس خمسه نه دې ليكن په هغې سره د عقل نه ما وراء او بالساتر خبرې معلوميدې شى ددې علم اعلى درجه وحى ده او د دې د پاره ادنى درجه خوب دې ځكه د خوب په حالت كښې د انسان ظاهرى قوتونه كار پريګدى نو بيا ورته الله غيبى امور د خوب په ذريعه وركوى.

دغه شان نبی علیه السلام ته الله د اعلی درجه نه مخکښې دا ادنی درجه ورکړه په یو حدیث کښې راځی:

**الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ (صحيح البخاری)**

یعنی خوب د نبوت شپږ څلویښتمه حصه ده.

د خوب په باره کښې یو قانون دا دې چې څوک په دنیاوی معاملاتو کښې څومره رشتینی وی نو په دغه اندازه به د دې انسان خوبونه هم رشتیا وی او څوک چې په عام حالاتو کښې دروغژن وی نو د دغه انسان خوب هم د دروغژون وی ابو هریره رضی الله عنه فرمائی:

**أَصْدَقُهُمْ رُؤْيَا أَصْدَقُهُمْ حَدِيثًا**

یعنې رشتینی خوب د رشتینی خبرو والا وی او په دې ټوله دنیا کښې د انبیاؤ نه زیات بل څوک رشتینی او صادقان نه وی بلکه د انبیاؤ علیهم السلام خوب بعینه وحی وی لکه ابراهیم علیه السلام خوب کښې خپل بچې لیدلې وو(**اَنِّیۡۤ اَذۡبَحُکَ**) یعنې زهٔ تا لره ذبح کومه هر کله چې د پیغمبر خوب وحی وی نو ابراهیم علیه السلام دغه خپل خوب هم رشتینی کړې وو.

حدیث کښې راځي نبی علیه السلام فرمائی:

(**لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ إِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ**) (صحیح البخاری)

یعنې الله په ما سره نبوت ختم کړو هاں صرف مبشرات باقی دی صحابوو تپوس اوکړو ائ د الله پیغمبره! مبشرات څه دی نبی علیه السلام جواب ورکړو:

الرؤیا الصالحة، یعنې مبشرات رشتینی او نیک خوبونه دی یعنې د نبوت دروازه بنده ده خو که د الله د طرف نه انسان ته اوس څهٔ نه څه

معلومات کیږی نو د هغې شکل به د خوب وی او الله په سوره یونس کښې د نیکانو عالمانو اولیاء کرامو په باره کښې وائی کوم خلق چې د پیغمبرانو په طریقه باندې روان وی او هغوی ته تکلیفونه مصیبتونه رسیدلی وی نو الله فرمائي:

**لَهُمُ الْبُشْرَىٰ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا.** (یونس:٦٤)

یعنې د دغه خلقو د پاره په دنیا کښې خوشخبری او زیرې دې د دنیا خوشخبری او زیرې په رشتینی خوب سره وی، او دا ځکه چې الله پیغمبرانو ته د تسلۍ د پاره وحی ورکوی او د حق پرسته داعی د پاره الله خوب مقرر کړې دې چې د دې په ذریعه سره ورته الله تسلی او اطمینان قلبي ورکوی.

د نبی علیه السلام د نبوت ټوله زمانه دری ویشت کاله ده او دې زمانې ته چې په دوؤ کښې ضرب ورکړې شی نو دا شپږ څلویښته جوړیږی ځکه حدیث کښې راځی چې خوب د نبوت شپږ څلویښتمه حصه ده دا ځکه چې نبی علیه السلام شپږ میاشتې دغه خوبونه لیدلی وو.

او حدیث کښې راځي (**ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ**، یعنې بیا نبی علیه السلام ته انفرادیت ځان ځان لره اوسیدل محبوب شو **وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ**، یعنې په غار حراء کښې به څو څو ورځې نبی علیه السلام ځان ته وو او د دې مخلوقاتو په پیدائش کښې به ئې سوچ او فکر کوو او د دې فکر مند وو چې دا قوم به څنګه په هدایت او سمه لار باندې روان شی، نبی علیه السلام ته د نبوت نه مخکښې لا څه عمل معلوم نه وو بیا روسته ورته الله د کتاب او د بیان طریقه ورکړه.

دا د نبوت خوب وو د عام خلقو د خوبونو شرعی حکم او حقیقت دا دې چې دا دلیل نه دې صرف د پیغمبر خوب دلیل وی انسان به په عام احکاماتو کښې د قرآن او سنت تابع وی هاں دومره خبره ده چې دا خوب یو ښۀ او غوره فال دې یعنې یو قسم خوشخبری ده لیکن دلیل نه دې د شیخ الاسلام عز الدین رحمه الله په دور کښې یوه فیصله قاضی ته پیش کړې شوه نو دغه قاضی چې غور فکر اوکړو د غور فکر نه بعد ئې دغه فیصله مؤخر کړه دوباره دغه فیصله دربار ته پیش شوه نو قاضی دوباره بیا دغه فیصله مؤخر کړه په دریم ځل قاضی په خوب کښې نبی علیه السلام اولیدو چې هغه ورته فرمائي دا فیصله لکه څنګه چې ظاهر د شریعت مطابق ښکاری په دې طریقه مۀ کوه بلکه په دې بل صورت باندې فیصله اوکړه.

نو قاضی علماء راجمع کړل او ورته ئې اووئیل چې په ظاهر کښې د دلائلو په بنیاد دا فیصله داسې ده خو ما په خوب کښې اولیدل چې نبی علیه السلام د دې خلاف په باره کښې ماته حکم کړې دې.

بعضې علماء جواب ورکړو چې پیغمبر په خوب کښې لیدل رشتیا وی ځکه شیطان د پیغمبر شکل او صورت نشی اختیار ولې شیخ الاسلام عز الدین رحمه الله ورته اووئیل چې دا حل صحیح نه دې ځکه فیصله چې څنګه په ظاهری دلیل باندې بناء وی همدغه شان به کیږی او دا خبره صحیح ده چې پیغمبر په خوب کښې په رشتیا وی او شیطان د پیغمبر صورت نشی جوړوې.

ليکن د دغه خوب مختلف تعبيرات کيدې شي او دا فيصله به د شريعت په ظاهر څکه کيږي چې انسان د ظاهري شريعت مکلف او تابع دې او خوب شرعي دليل نۀ دې.

که يو انسان خوب اوګوري او دغه خوب يرې والا وي نو سنت طريقه دا ده چې دغه انسان به د شپې پاسيږي او خپل ګس طرف ته به درې ځله لاړې معمولي شان تک کړې بيا به دغه انسان اعوذ بالله من الشيطان الرجيم اووائي او خپل اړخ به بدل کړې او يو بل روايت کښې راځي چې دا به وائي:

**اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُبِکَ مِنۡ شَرِّ هٰذِهِ الرُّؤيَا.** (صحيح البخاري)

الله زۀ د دې خوب د شر نه پناه غواړمه او که دغه خوب بد خوب نه وي بلکه ښۀ او بهتر خوب وي نو دغه انسان به په دې خوب باندې د الله شکر ادا کړې او د هر خوب نه بعد که هغه ښۀ وي او که بد وي خو انسان دې خير خيرات صدقه ورکړي څومره چې د دۀ استطاعت وي.

او خوب به هغه انسان ته بيانوي کوم انسان چې د دې انسان خير خواه وي او يا به هغه انسان وي چې هغه په خوبونو باندې پوهيږي، هر انسان ته به خوب نه بيانوي د دې وجې نه که دغه انسان تاته څنګه جواب درکړو نو بيا دغه خوب دغه شان واقع کيږي، او بيا چې کوم انسان ته خوب بيان شوې وي نو دغه انسان به هم په طريقه جواب ورکوي.

څکه نبي عليه السلام ته چې به چا خوب بيان کړو نو هغه به دا جواب ورکوو.

**خَيۡرٌ تَلَقَّاهُ، وَشَرٌّ تَوَقَّاهُ، وَخَيۡرٌ لَنَا، وَشَرٌّ لِأَعۡدَائِنَا، وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعَالَمِينَ، اقۡصُصۡ** (طبراني)

يعني د دې خوب خير دې الله تاته درکړی او د دې خوب شر دې الله ستا نه لرې کړې د دې خير دې الله مونږ ته راکړی او د دې شر دې الله دشمنانو ته ورکړی.

نو د خبرې خلاصه داده چې د خوب د پاره يو ځان له علم دې کله يو انسان غټ عالم وی ليکن هغه په خوبونو نه پوهيږی او کله يو انسان سره علم کم وی ليکن هغه ته په خوبونو مهارت حاصل وی.

په دې ټولو صورتونو کښې اصل څير هغه د قرآن او سنت تابعداری ده دا ټول تفصيل دا دې د پاره بيان کړې شو چې نبی عليه السلام ته د وحی نه مخکښې خوبونه ليدل شروع شوی وو او دې ته ارهاصات النبوة هم وئيلې کيږی.

والحمد لله رب العالمين

# نزول وحی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (1) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (2) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (3) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (4) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (5)﴾ (سورة العلق)

د نبی علیه السلام د نبوت نه مخکښې څه حالات بیان شوی وو د پیغمبرانو د بعثت مقصد هم دا وی چې قوم او امت په سمه لاره باندې روان شی، د قوم فساد به څنګه په اصلاح سره بدل شی او په کومه طریقه به یو انقلابی امت وجود ته راشی.

او څنګه به د دې خلقو عقیده، ایمان، او فکر جوړ شی او د دوی د عقیدې او د عمل اصلاح به څنګه اوکړې شی، قرآن کریم د پیغمبر د نبوت ملاویدو نه مخکښې حالت بیانوی.

﴿وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ﴾

یعنې ته پریشانه وی چې دا قوم به په کومه طریقه په سمه لاره باندې روان شې او د دوی د هدایت او اصلاح د پاره کومه طریقه اختیار کړې شی نو الله تاته هدایت اوکړو او د دغه اصلاح طریقه ئې تاته درکړه.

بیا دغه د اصلاح طریقه څه وه؟ دوی په باره کښې نبی علیه السلام سوچ، فکر به کوو ځکه دا ډیر زیات مشکل کار وو او ډیر لوې بوج وو نو فهدی الله ورته هدایت اوکړو او د دې طریقه ئې ورته

اوښودله، د دې غرض د پاره به نبي عليه السلام غار حراء ته تلو د دستور مطابق نبي عليه السلام غار حراء ته تلې وو، خديجه رضی الله عنها خپل غلام ته خوراک ورکړو چې دا د نبي عليه السلام خوا ته يوسه غلام چې غار ته لاړو نو نبي عليه السلام موجود نه وو، دوباره دغه غلام خديجه رضی الله عنها ته خبر اوکړو چې محمد صلی الله عليه وسلم نشته په غار کښې، خديجه رضی الله عنها پريشانه شوه او خپل خپلوان ئې خبر کړل چې محمد نشته.

ددغه ساعت نه لږ مخکښې جبرئيل عليه السلام نبي عليه السلام ته راغلې وو او ورته ئې وئيلې وو چې الله تۀ رسول ګرځولې ئې او زۀ جبريل امين يمه، کوم وخت چې الله يو پيغمبر ته رسالت ورکوی نو ما ورته ليږی بيا نبي عليه السلام ته ئے اوفرمائيل: اقرء، يعنې اووايه، نبي عليه السلام جواب ورکړو: **مَا اَنَا بِقَارِئٍ** يعنې زۀ خو دا نشمه وئيلې بيا ئې نبي عليه السلام خپلې سينې ته نزدې کړو او زور ئې ورته ورکړو نبي عليه السلام فرمائي:

﴿**فَغَطَّنِىْ حَتّٰى بَلَغَ مِنِّىْ الْجَهْدُ**﴾ (صحيح البخاری) يعنې جبريل به ماته دومره زور راکړو چې زما سينې به زور واغستو او دردمنده به شوه، دا طريقه ئې د نبي عليه السلام سره درې کرته اوکړه او بيائې ورته د سورة علق اول پنځه ايتونه ورکړل.

که يو انسان او وائي چې دا خو ګرانه طريقه نه وه بيا ولې نبي عليه السلام جواب ورکړې وو چې زۀ لوستونکی نه يمه نو علماء فرمائی د دې يوه وجه داده چې جبريل د خپل ځان سره په ښائسته ريښمی کپړه

کښې قرآن راوړې وو او دغه ئې نبی علیه السلام ته پیش کړو نو نبی علیه السلام جواب ورکړو چې زۀ لوستونکی نه یمه.

دویمه وجه داده چې د الله پیغام قبلول جبریل مشاهده کول او د الله انواری تجلیات په دغه مقام کښې په نبی علیه السلام باندې غالبه وو نو ځکه نبی علیه السلام جواب ورکړو چې زۀ لوستونکی نۀ یمه، یعنې زما ژبه په دې باندې نه چلې زۀ دا قوت، او طاقت برداشت کوې نشمه او بیا جبریل زور ځکه ورکړې وو چې د نبی علیه السلام زړۀ مطمئن شی او وحی قبول کړی.

دریمه وجه داده چې په دغه موقع د استاد او شاګرد تعلق نۀ وو، د دغه تعلق مضبوط کولو د پاره او د استفادې د آسانیدو د پاره جبریل علیه السلام نبی علیه السلام ته زور ورکړې وو چې شاګرد مانوسه شی او ددۀ اجنبیت ختم شی او د خپل استاد سره ئې تعلق او مناسبت پیدا شی، او سینې ته ئې زور ځکه ورکړې وو چې په دې کښې زړۀ وی او زړۀ د وحی مرکز وی، قرآن کښې الله فرمائی: **عَلٰى قَلْبِكَ** ، یعنې دا قرآن مونږه ستا په زړۀ باندې نازل کړې دې او د دې وجه داده چې تر څو پورې قرآن زړۀ ته کوز شوې نۀ وی نو تر هغې پورې په اندامونو باندې اثر نه ښکاره کیږی.

او کله چې یو څیز زړۀ ته کوز شی نو په اندامونو باندې د هغه څیز اثرات ښکاره شی، او دا د صحابو اولیاء کرامو طریقه د علم د نقل کولو هم دا وه چې د هغوی به د خپلو استاذانو سره قلبی تعلق او ربط وو.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه په باره کښې راځې چې د هغه نه احادیث هیر کیدل نو نبی علیه السلام ته ئې شکایت اوکړو نبی علیه

السلام ورته اووئيل دا څادر خور کړه نو خپل څادر ئې خور کړو او بيا وربانديې نبی عليه السلام خپلې لاړې مبارکې کيخودې او حکم ئې ورته اوکړو چې دا اوس د خپلې سينې سره نزدې کړه نو هغه دغه څادر خپلې سينې سره نزدې کړو بيا به ورنه احاديث نه هير کيدل.

علامه طيبی فرمائی چې د نبی عليه السلام جواب چې ما انا بقارئ او د الله د طرف نه وحی (اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِىْ خَلَقَ)،سره نازليدل دليل دې چې د نبی عليه السلام علم کتابی علم نه دې.

بلکه دا وهبی علم دې چې د الله په نوم اخستلو سره به ئې الله خپل پيغمبر پاک ته ورکوی، ځکه نبوت کسبی څيز نه دې بلکه دا وهبی څيز دې دا د چا په محنت سره هغه ته نۀ ورکول کيږی بلکه دا د الله انتخاب دې الله چې اوغواړی نو دا علم الله دغه انسان ته ورکوی.

د دنيا علم او شرافت په کسب سره وی که يو انسان محنت کوی رياضت، او مجاهدې او مراقبې کوی نو ولی الله به شی عالم به شی مفتی به جوړ شی ليکن د پيغمبر جوړيدو دا طريقه نۀ ده بله وجه داده چې د پيغمبر په حق کښې امی، او نه لوستونکې کيدل دا د کمال صفت دې او د امتی په حق کښې لوستونکی کيدل د کمال صفت دې.

او بيا الله خپل پيغمبر پاک صلی الله عليه وسلم ته د مونځ ، روژې حج يا جهاد په باره کښې حکم نه کوی بلکه د ا ورته وائی چې دا د الله کتاب وايه دا ځکه چې د ملک، قوم، معاشرې، او فرد اصلاح د پاره لائحه عمل او منشور د الله د کتاب بيان دې که د الله کتاب بيانيږی نو قوم، معاشره ملک، فرد کښې د عقيدې او د عمل اصلاح راځې او که د

الله د کتاب بیان نه وی نو بیا اصلاح نشی کیدې ځکه ورته الله د قراءت په باره کښې اول، او بنیادی حکم اوکړو.

او د معاشرې د اصلاح د پاره د الله د کتاب بیان ځکه ضروری دې که د الله سره بل څه لائحه عمل د دې قوم د هدایت او اصلاح د پاره وی نو الله به هغه نازل کړې وی قرآن ئې ځکه نازل کړو چې په دې سره اصلاح کیږی.

او د دې بله وجه دا هم ده چې انسان د الله د احکامو اوامرو نه په قرآن سره خبریږی ځکه یو بل مقام کښې الله خپل پیغمبر ته وائی:

اُتْلُ مَا اُوحِیَ اِلَیْکَ مِنَ الْکِتَابِ (العنکبوت:٤٥)

ائ پیغمبره! د کوم کتاب وحی چې تاته شوې ده دغه وایه او سورة شوری کښې الله فرمائی: (**ولکن جعلناه نورا** ) یعنې قرآن مونږه رڼړا ګرځولې ده چې په دې سره ایمان ښکاره کیږی او یو بل مقام کښې الله فرمائی:

فَبِأَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَ اللهِ وَآيَاتِهِ يُؤْمِنُوْن. (الجاثية:٦)

یعنې په کومه خبره به د الله د ایتونو او قرآن نه بغیر ایمان جوړیږی یعنې د الله د کتاب نه بغیر په بل څیز سره ایمان نه جوړیږی.

او امام مالک رحمه الله فرمائی:

لَايُصْلِحُ آخِرُ هٰذِهِ الْاُمَّةَ اِلَّا بِمَا صَلُحَ بِهٖ اَوَّلُهَا.

یعنې د دې امت د آخری خلقو اصلاح به په هغه څیز سره کیږی په کوم څیز سره چې د دې د اول خلقو اصلاح شوې وه او د اولو خلقو اصلاح الله په قرآن سره کړې وه.

هغه بدترین او سخت خلق چې په هغوی کښې دومره جاهلیت وو چې د خپل ځان نه پیدا شوې لور به ئې ژوندۍ د فن کوله د هغو خلقو اصلاح په قرآن سره شوې وه نو دا انقلاب د الله په کتاب سره په دغه خلقو کښې راغلې وو نو د اصلاح او انقلاب ذریعه قرآن دې.

ځکه الله په قرآن کښې صحابوو باندې د دې لوې احسان تذکره کوی:

وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖٓ اِخْوَانًا (العمران: ۱۰۳)

یعنې هغه وخت یاد کړئ چې کوم وخت تاسو د یوبل سره دشمنان وئ نو الله ستاسو په زړونو کښې محبت پیدا کړو او تاسو ئې رونړه رونړه اوګرځولئ دغه رور ولی د صحابوو په قرآن سره پیدا شوې وه.

یا خو دغه قوم په یو وخت کښې د یو بل د وینو تږی وو او په بل وخت کښې دومره محبت پیدا شو د قرآن د وجې نه چې یو صحابی بل ته وائی زما دوه ښځې دې ستا چې کومه خوښه وی نو ته وایه زۀ به ورته طلاق ورکړمه او تۀ به ورسره نکاح اوکړې.

او په دې ایتونو کښې الله خپل پیغمبر ته دوه ځله د اقرء په باره کښې حکم کړې دی نو د اول ځل مطلب دا دې چې دا قرآن پخپله بذات خود اووایه او دا زده کړه او دویم ځل کښې دې ته اشاره ده چې د دې بیان اوکړه، د دې تبلیغ اوکړه او داخلقو ته اورسوه، او بإسم ربک ئې ورسره ځکه ذکر کړو چې قرآن زده کول ګران کار دې لیکن د الله په نوم

او د هغه په توفيق سره دا ګران کار انسان ته اسانيږی بيا دې يو ځاې کښې ورسره **وربك الاكرم** ذکر کړې دې ځکه د قرآن په تبليغ او د قرآن په بيان سره الله انسان ته عزت ورکوی نو قرآن کريم د اصلاح يوه بهترينه ذريعه ده ځکه الله د دې وحی پيغمبر پاک صلی الله عليه وسلم ته اوکړه.

# د وحی نه بعد حالات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لَوْ أَنْزَلْنَا هَذَا الْقُرْآنَ عَلَى جَبَلٍ لَرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُتَصَدِّعًا مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ (الحشر:۲۱)

د نبی علیه السلام د ابتداء وحی په باره کښې وضاحت شوې وو چې د دې ابتداء څنګه وه او د دې ابتدائی وحی احکامات څه وو، د عقیده او عمل اصلاح به څنګه په دې سره کیږی.

او بیا فرشته په ملکی صورت کښې لیدل د هغې سره هم کلام کیدل د دې وضاحت شوې وو کله چې نبی علیه السلام دغه ټول حالات مشاهده کړل نو خپل کور ته د حضرت خدیجه رضی الله عنها خواته راغې او په نبی علیه السلام باندې یره او خوف طاری شوې وو خدیجه رضی الله عنها ته وائی:

**زَمِّلُوْنِيْ، زَمِّلُوْنِيْ**، یعنې یو څادر یا کمبل ما باندې راتاؤ کړه ، د څادر د تاوؤلونه بعد ام المؤمنین د نبی علیه السلام نه تپوس اوکړو چې څه شوی دی تهٔ ولې په دومره یرې کښې ئې دا څه شوی دی نبی علیه السلام جواب ورکړو چې جبریل امین غار حراء ته راغلې وو او دا وحی ئې راکړه چې قرآن د الله کتاب به دې خلقو ته بیانوی، نو دا دومره ګران او سخت کار دې چې:

**خَشِيْتُ عَلَى نَفْسِيْ** يعنې زۀ په خپل ځان باندې يريږم علماء وائی د دې يو مطلب دا دې چې داسې نا اشنا بنده ليدل هسې نه چې زما د هلاکت د پاره سبب جوړ نشی او يا دا مطلب دې چې په دغه وقت کښې په قوم او معاشره کښې دومره فساد، خرابی اوبگاړ پيدا شوې وو کۀ زۀ دا آواز اوچت کړمه او زه يواځې يمه ټوله دنيا،قوم، قبيله په بل طرف باندې او زۀ بل طرف ته، دغه شان زۀ چې دوی ته کوم پروګرام عقيده پيش کومه نو يقينا دا ټول خلق به زما مقابلې ته راځې د دې وجې نه نبی عليه السلام اوفرمائيل چې زۀ په خپل ځان يريږمه هسې نۀ چې دا کار زۀ پوره نۀ کړمه.

ام المؤمنين حضرت خديجه رضی الله عنها ډيره د فهم او فراست والا بی بی وه نو هغه پوهه شوه او نبی عليه السلام ته ئې جواب ورکړو:

**فَوَاللّٰهِ لا يُخْزِيكَ اللّٰهُ أَبَدًا.** (بخاری)

يعنې الله به تانۀ ضائع کوی ځکه هغه خلق په معاشره کښې تباه او ضائع کيږی د کومو خلقو چې اخلاق، کردار، معاشره، ګنده وی او ستا د اخلاقو او کردار په باره کښې دا ټوله دنيا ګواه ده الله هيڅ يو صورت کښې ستا په شان انسان نۀ ضائع کوی بيا ورته خديجه رضی الله عنها د نبی عليه السلام هغه ښۀ اخلاق بيان کړل چې:

**اِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ**، خپل ولی پالې د رشته دارانو خيال ساتې، **وَتَحْمِلُ الْكَلَّ** يعنې خوک چې د پيتی يا بوج د وجې نه تنګ شوی وی نو د هغوی نه بوج لرې کوې.

**وَتَكْسِبُ الْمَعْدُوْمَ وَتُعِيْنُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ.** (صحيح البخاری)

يعنې غريب انسان سره ته ښيګړه کوې او څوک چې مصيبت زده دې نو ته د هغوی مدد کوې او د ميلمه اکرام او احترام کوې او دا ښۀ صفات چې په کوم بنده کښې موجود وی نو هغه الله نۀ ضائع کوی نو تۀ مۀ يريږه د دې ام المؤمنين د بيان نه معلومه شوه چې د کوم انسان د عقيدې او د عمل د اصلاح نه بعد د هغه اخلاق، معامله او معاشره صحيح وی نو دغه انسان په هيڅ يو صورت کښې الله نه ضائع کوی او د دغه انسان سره په هر حالت کښې د الله مدد او نصرت شامل حال وی او کله چې په يو انسان کښې دا صفات نۀ وی معاشره ئې خرابه وی، بد اخلاقی جنګ جهګړې، ظلم، زياتې کوی نو يقينا چې د دې خلقو آخرى انجام خراب وی.

د دې تسلی نه بعد خديجه رضی الله عنها نبی عليه السلام لره د هغه زمانې لوې عالم چې هغه د خديجه رضی الله عنها د ترۀ څوې هم وو، په تورات، انجيل باندې پوهه وو او د موسی عليه السلام په دين باندې وو.

نو د هغه سره ئې نبی عليه السلام مخامخ کړو او بيا ئې هغه ته اووئيل چې ستا دا ورارۀ څه وائی د دۀ خبره واوره نبی عليه السلام ورته ټوله واقعه بيان کړه نو هغه چې د نبی عليه السلام نه دغه بيان واوريدو نبی عليه السلام ته ئې تسلی ورکړه چې:

**هٰذَا النَّامُوسُ الذِیْ اُنْزِلَ عَلٰی مُوسٰی. (صحیح البخاری)**

يعنې دا هغه فرشته ده چې موسی عليه السلام ته ئې تورات ورکړې وو او ته په دې باندې مه غمژن کيږه الله به ستاسره خپل مدد کوی او کاش افسوس چې زۀ په دې وقت کښې ځوان وې او ستا سره ما

مرسته او مدد کړې وې يا زۀ موجود وې چې په کوم وخت کښې به ستا د قوم والا تا د مکې نه اوباسی، نبی علیه السلام چې دا خبرې واوریدې نو نور حیران شو چې دا قوم والا خو ماته امین او صادق وائی نو څنګه به مالره زما د وطن نه اوباسی.

د دې عالم نوم ورقه بن نوفل دې او د نبی علیه السلام د علی الاعلان دعوت شروع کیدونه مخکښې مخکښې وفات شوی وو، د دې واقعې نه معلومیږی چې ورقه بن نوفل د نبی علیه السلام د دعوت تائید کړې وو.

نبی علیه السلام د واپس راتلو نه بعد څه موده بعد ورته دوباره وحی اوشوه او دا ځل د وحی حالت الله په سورة مزمل کښې بیان کړې دې:

**يَاأَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ، قُمْ فَأَنْذِرْ**، ائ خپل ځان په کمبل کښې راغونډوونکیه! پاسیږه او دا خلق د الله د عذاب نه ویروه، یعنې دا د کار کولو وقت دې د پاسیدو وقت دې ځکه دنیا جهنم ته روانه ده عقیدې خرابې دی په اعمالو کښې فساد دې ظلم، شراب او کفر په دنیا کښې عام شوې دې، المزمل مطلب دا نۀ دې چې نبی علیه السلام همیشه به په څادر کښې پټ وو نا دامطلب نه دې بلکه دا د عربو د استعمال کلام یو طریقه ده لکه نبی علیه السلام حضرت علی رضی الله عنه یو ځل اولیدو چې هغه په خاورو باندې اودۀ شوې وو نو نبی علیه السلام ورته اووئیل:

قم یا ابا تراب، ائ ابو تراب او دریږه یعنې پاسیګه دغه شان الله هم خپل پیغمبر ته خطاب کوی چې دا وقت کمبل او څادر کښې د اودۀ

کیدو یا راغونډیدونۀ دې بلکه دې قوم والا ته د الله پیغام ورکړه اګر چې نبی علیه السلام په کار نبوت کښې سستی نۀ وه کړې بلکه دا بشری فطری یره وه چې د وحی نه بعد په نبی علیه السلام باندې راغلې وه ځکه په دغه وقت کښې نبی علیه السلام د وحی سره مانوسه نه وو.

او یا د دې وجې نه چې د وحی بوج ډیر زیات درون وی قرآن کښې الله فرمائی: **لَوْ أَنْزَلْنَا هَذَا الْقُرْآنَ عَلَى جَبَلٍ لَرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُتَصَدِّعًا مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ.** (الحشر:۲۱)

یعنې که دا قرآن ما په یو غر باندې نازل کړې وې نو هغه به د الله د یرې نه ټکړې ټکړې شوې وو ځکه د دې بوج برداشت ډیر ګران کار دې او دا یو عام دستور او قانون هم دې کله چې یو انسان مشقت والا ګران کار کوی نو هغه د خپل ځان نه څادر لرې کړې بیا دغه کار ته برابر شی نو د وحی ذمه داری غټه ذمه داری ده د دې د ادا کیدو د پاره به ځان تیار ساتی او د وحی بوج ځکه شته ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی: چې په نبی علیه السلام باندې به کله وحی نازلیده نو د هغه په تندی مبارک باندې به خولې راتلې وی او یو صحابی فرمائی چې کله به نبی علیه السلام ته د سفر په دوران کښې وحی شروع شوه او نبی علیه السلام به په سورلۍ باندې ناست وو نو د ډیر مشقت د وجې نه به هغه سورلی کیناسته او یا د مزمل او مدثر یوه معنی دا هم ده چې یو انسان په اوښ یا اس باندې ناست وی او نور خلق ورپسې وی نو دغه انسان په دنیا کښې انقلاب راولی نو معنی داده چې ائ انقلاب راوستونکیه اودریږه او دې خلقو ته بیان وکړه.

د اولنۍ وحی نه بعد الله خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته په سورة مزمل کښې د قیام اللیل په باره کښې حکم کړې دې ځکه په دې سره دا کار نور آسانیږی او دا د داعی یو صفت هم دې چې د ورځې به هغه محنت کوی(**قُمْ فَأَنْذِرْ**) باندې به عمل کوی خلقو ته به توحید بیانوی لیکن د شپې په وقت کښې به دا انسان د الله نه د قبولیت سوال کوی او الله ته به نور قرب او نزدیکت حاصلوی بلکه د ډیرو علماؤ نه دا خبره نقل ده چې هغوی ته الله دا دومره لوې او غټ مقام د قیام اللیل د وجې نه ورکړې وو ځکه د دغه انسان سره د الله مدد شامل حال وی.

او د قیام اللیل یوه بله فائده داده چې په دې سره د انسان په نفس کښې د الله د عبودیت صفات پیدا کیږی نفس ذلیله کیږی او د الله حکم ته غاړه اږدی ځکه الله فرمائی: (**هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا**) (المزمل:٦)

یعنې نفس د الله عبادت سره آموخته او مانوسه کیږی او د ورځې په وقت کښې بیا د دغه انسان په بیان او وینا کښې قوت او طاقت وی نو د داعی د کامیابۍ د پاره دا ضروری ده چې هغه به قیام اللیل کوی او بل حکم الله خپل پیغمبر پاک ته دا کړې وو (**وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا**) (المزمل:٤)

یعنې د قرآن پاک تلاوت کوه په صفا او واضح انداز او طریقې سره او د دې نه معلومه شوه چې د دین د کار د پاره او د اعمالو او عقائدو د اصلاح د پاره د داعی سره بهترین څیز د الله کتاب دې.

حديث كښې راځي چې نبي عليه السلام يو ځل د خپلې حجرې نه مسجد ته راغې صحابه ناست وو او د الله كتاب ئې زده كولو نبي عليه السلام خوشحاله شو او تپوس ئې ترينه اوكړو چې ﴿اَتَشْهَدُوْنَ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ﴾

يعنې تاسو دا ګواهي كوئ چې د الله نه علاوه بل معبود نشته او **اَتَشْهَدُوْنَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ** يعنې تاسو دا ګواهي كوئ چې زۀ د الله رسول يمه و القرآن كتاب الله يعنې چې دا تاسو ئې تلاوت كوئ دا قرآن د الله كتاب دې صحابو ټولو جواب وركړو بلې يا رسول الله يعنې بې شكه د الله پيغمبره دا ګواهي مونږه وركوو نبي عليه السلام اوفرمائيل: **فَاسْتَبْشِرُوْا**، بيا تاسو زيرى واخلئ ځكه دا د الله كتاب طرفه بأيديكم وطرفه بيد الله، يعنې د دې قرآن يو طرف ستاسو په لاس كښې دې او د دې بل طرف د الله په لاس كښې دې او د دې وجې نه قرآن ته حبل الله وئيلې كيږي.

يعنې د الله رسۍ ځكه د دې يو طرف زمونږه په لاس كښې دې او د دې بل طرف د الله سره دې نو څوك چې قرآن سره تعلق پيدا كړي دغه انسان به الله ته اورسيږي او بل حديث كښې راځي.

**(اِنَّكُمْ لَاتَرْجِعُوْنَ اِلَى اللّٰهِ بِشَيْءٍ أَفْضَلَ مِمَّا خَرَجَ مِنْهُ يَعْنِيْ الْقُرْآنَ)**

(مسندرك حاكم)

مطلب دا دې چې تاسو الله ته رسيدې نشئ په هيڅ يو څيز سره سوا د هغه څيز نه چې هغه د الله د طرف نه راغلې دې يعنې د قرآن په ذريعه سره مطلب دا چې د قرآن نه علاوه په بله لاره انسان الله ته نشي رسيدې.

او یو بل حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی: اِنَّهَا سَتَكُوْنُ فِتْنَةٌ یعنې زر دې چې ډیرې فتنې به پیداشی صحابو عرض اوکړو مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ؟ یعنې اې د الله پیغمبره د دغه فتنو نه د بچاؤ طریقه به څۀ وی؟

نبی علیه السلام جواب ورکړو چې د دې ټولو فتنو حل د الله کتاب دې او یو بل روایت کښې راځی چې ډیرې زیاتې فتنې به وی او هغه به یو بل پسې راځی لکه څنګه چې یو هار امیل کهلاؤ شی او دانې فوری لاړې شی دغه شان به بې شماره فتنې پیداکیږی او د دې نه دخلاصی د پاره به د الله کتاب ضروری وی، څکه علامه اقبال فرمائی:

تم کو اسلاف سے کیا نسبت روحانی هے
وه معزز تهے زمانے میں مسلمان هوکر
اور تم خوار هوئے تارک قرآن هوکر

یعنی اې مسلمانه! ستا د نبی علیه السلام صحابه کرام، تابعینو سره څۀ روحانی نسبت دې حال دا دې چې هغوی د دین اسلام د وجې په خپله زمانه کښې دیر عزتمند وو، او ته څکه ذلیله شوې ئې چې تا د الله کتاب پریخودې دې او د قرآن سره د مسلمان دا معامله په عقیده کښې هم ده د قرآن والا عقیده ئې پریخودې ده.

او دغه شان قرآن چې د کوم عمل تاکید کړې دې هغه عمل مسلمان پریخودې دې، یعنې نۀ په کور کښې قرآن شته، او نه په حجره کښې او نه په بازار کښې او نه په معاملاتو کښې او نه په مسجدونو

جماعتونو کښې د الله کلام بيانيږی او نه د مسلمان په سياست او رياست کښې د قرآن احکام موجود دی.

دغه وجه ده چې مسلمان نن د هر طرف نه په تکليف او پريشانۍ کښې مبتلا دی د خپلو او پردو دواړو طرف نه مسلمان ته تکليف دې او د دې ټولو مسائلو حل د الله کتاب دې ځکه **فِيْهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ** ' **(ترمذی)** يعنې په دې کښې مخکښې حالات او آئنده راتلونکی حالات بيان شوې دی او د اوس وقت والا فيصلې هم په دې کښې شته دې هو الفصل يعنې دا د فيصلې کتاب دې: **وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدٰى فِيْ غَيْرِهٖ اَضَلَّهُ اللهُ**، يعنې څوک چې د قرآن نه بغير په بل څيز کښې هدايت طلب کوی نو الله به هغه گمراه کړی نو کتاب الله د داعی او مبلغ د پاره يو اهم څيز دې.

# د دعوت اهمیت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ (آل عمران:۱۰۴)

﴿وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ وَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ﴾ (صحیح مسلم)

د قرآن پاک څه آیتونه او د نبی علیه السلام یو حدیث ستاسو مخکښې پیش کړې شو په دې کښې الله د امر بالمعروف او نهی عن المنکر موضوع بیان کړې ده، د انسان د وجود او ایمان نه بعد د انسان انفرادی لحاظ سره او د امت په اجتماعی لحاظ سره دا ذمه داری ده چې خلقو لره به دعوت ورکوی که امت اجتماعی دعوت پریږدی نو دا ټول امت ته نقصان دې، او دا اجتماعی دعوت  د دې خلاصه دوه خبرې دی یوه خبره دعوت د دین او دویمه خبره هغه اقامت دین دې.

بیا په قرآن او په احادیثو کښې د دې ډیر زیات تاکید او بیان شوې دې او دې ته دعوت وئیلی کیږی، او بیا دا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د امت په اجتماعی ذمه داریانو کښې بنیادی او اساسی ذمه داری ده د دې وجې نه ئې دې امت ته امت وسط وئیلې دې یعنې غوره اعلی او اوچت امت دا ورته د دعوت د وجې نه وئیلې شوې دې.

قرآن کښې الله د مومنانو ډېر صفتونه بيان کړې دی په دې ټولو کښې ئې امر بالمعروف او نهی عن المنکر والا صفت مخکښې بيان کړې دې. **وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ** (سورة التوبہ :71) يعنې مومنان سړی او ښځې بعض د نورو دوستان دی او دوی به امر بالمعروف کوی او نهی عن المنکر به کوی بيا د دې نه بعد الله د مومنانو نور صفتونه بيان کړې دې او دا اهم صفت ئې مخکښې بيان کړې دې.

او الله فرمائی چې د دعوت د فرائضو د ادائيګۍ د پاره به يو جماعت او يوه ډله موجود وی چې هغوی به دا د دعوت کار کوی،

**وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ.** (سورۃ آل عمران: ۱۰۴)

يعنې په تاسو کښې دې يو جماعت داسې وی چې هغه قرآن او سنت ته رابلل کوی.

نو هر يو شخص به انفرادی لحاظ سره خپله ذمه داری ادا کوی که پوره يو جماعت موجود وی او کۀ نه وی که تحريکی لحاظ سره وی او که هغه تحريکی لحاظ سره نه وی.

مثلا که يو انسان بل خوک په يو ناروا کار باندې اوګوری نو دا انسان به ورباندې رد کوی چې دا د ګناه کار دې که په مجلس کښې وی، غم يا ښادۍ کښې که په سفر باندې روان وی او که په حضر کښې وی نو په هر وقت کښې به په دې منکراتو باندې رد کوی .

## د دعوت د پاره د جماعت وجود فرض کفایه حیثیت لری

او په بل ځاې کښې دا هدایات بیان شوې دې چې یو جماعت به دا کار په منظم طریقې سره اجتماعی حیثیت سره کوی او د اصولو مطابق به امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی او داسې یو مضبوط مرکز او ځاې د دې د پاره ضروری دې.

چې منکر بذات خود د دوی نه یریږی چې داسې کار که اوکړې شی نو دوی به د دغه کار په خلاف کښې را پورته کیږی.

او دا جماعت په حکومتی سطح باندې هم ضروری دې لیکن د عوامی او حکومتی دوارو جماعتونو د پاره څه خپل خپل شرائط دی چې د دې لحاظ او رعایت به کولې شی.

او په حدیث کښې چې کوم بیان شوې دې .

**مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ .( صحیح مسلم)**

یعنې څوک چې یو منکر کار اوګوری نو هغه به ئې په لاس باندې منع کوی او که په لاس باندې ئې طاقت نه وی نو بیا به په ژبې سره د هغه څیز روک تام کوی او که په ژبه باندې هم طاقت نه لری.

نو په زړهٔ کښې به ورسره نفرت لری لیکن دا په لاس سره منع کول دا ذمه داری د حکمرانانو او حاکمانو ده هاں که یو ځاې داسې وی چې هلته په ژبې سره هم بیان نشی کیدې.

نو بیا عزیمت دادې چې د دغه منکر رد اوکړې شی اګر که انسان هم ورباندې قتل کړې شی او رخصت د دې خبرې هم دې چې که دا انسان بیان اونکړی نو هیڅ ګناه نشته لیکن په زړهٔ کښې به ورسره په هر صورت کښې نفرت کوی.

## د دعوت دوه وزرې دی يو امر بالمعروف او دويم نهی عن المنکر

او د دې سره دا خبره هم ضروری ده چې انسان به امر بالمعروف او نهی عن المنکر دواړه کوی که بالفرض يو انسان صرف امر بالمعروف کوی او نهی عن المنکر نه کوی نو د دې انسان دا دعوت نيمګړې دې .

لکه په دې زمانه کښې دا قسمه خلق ډير موجود دی، او د دې مثال د انسان د لاسونو په شان دې او دا نهی عن المنکر د دې مثال د ښی لاس په شان دې ځکه دا ډير اهم دې که د يو انسان لاس مات شی نو دا انسان نيمګړی شی.

نو د امر بالمعروف يو خپل مقام دې انسان به دې ته هم سپک نظر نه کوی او دَ نهی عن المنکر يو خپل مقام دې دا د اعتدال لاره ده چې نه افراط او کړې شی او نه تفريط او کړې شی.

## کافران د منکر په رد ډير پريشانه کيږی

ليکن صرف دا خبره ده چې د معروف بيان آسان کار دې او د منکر رد هغه ګران کار دې هاں د معروف دومره اثر نشته څومره چې د منکر په رد کښې دې، او دغه شان د کافرانو نفرت په منکر باندې زيات دې او هغوی په معروف دومره نه خفه کيږی څومره چې هغوی په رد منکر باندې زيات پريشانه کيږی څومره چې انبياء کرام دی نو د دوی ټولو دعوت د رد منکر نه شروع شوې دې او د انبياؤ سره مخالفينو مقابله هم په دې باندې کړې وه چې ته زمونږه قانون ولې چيلنج کوې او په دې باندې رد ولې کوې.

## د خپل ځان سره سره د نورو خلقو فکر هم ضروری دې

په قرآن کريم کښې الله په سورة العصر کښې دا د څلورو خبرو تاکيد کړې دې يو ايمان او بل عمل صالح دې ليکن د دې سره سره د قوم د فلاح د پاره يو بل ضروری څيز هغه تواصی بالحق ده چې دا د امر بالمعروف په صورت کښې کيدې شی او بل ضروری څيز هغه تواصی علی الصبر ده.

او د دې وجه داده چې په ايمان او عمل صالح باندې انسان ته ذاتی فائده کيږی ليکن د دې امت يو خصوصيت دا دې چې د خپل ځان د ذاتی فائدې سره به د قوم د مفاداتو فکر مند هم وی او د خپل ځان د جهنم نه د بچ کيدو سره به د مخلوق خدا د پاره هم د نجات فکر کوی.

## امت محمدی ته پيغمبری ډيوټی حواله شوې ده

ځکه الله په قرآن کښې فرمائی:

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ (سورة آل عمران: ۱۱۰)

يعنې تاسو يو غوره امت ئی او د دې غوره والی يوه وجه داده چې ستاسو پيدائش د انسانيت د فائدې د پاره شوې دې او دې امت ته الله د انبياؤ کار په ذمه ورکړې دې ځکه نبی عليه السلام آخری نبی دې او دا امت آخری امت دې مخکښې د دعوت د پاره به د پيغمبر بعثت کيدو ليکن د دې امت هر هر فرد د دعوت ذمه دار دې.

په دنيا کښې که الله په يو انسان باندې نعمتونه اوکړی نو دا انسان د دۀ په ذهن کښې دا خبره پيدا شی چې دا عبادتونه مونځ، روژې، د غريبانانو خلقو کار دې او دا په هغه چا باندې لازم دی کوم څوک چې د

دنیا په ترقۍ کښې روسته پاتې شوی دی، د دغه انسان ټوله توجه ورځ او شپه په خپله دنیا کښې وی او په یوه خپله نشه کښې روان وی.

اوس دغه انسان دۀ ته د دین لار ښودل دا ډیر ګران کار دې ځکه نبی علیه السلام فرمائی:

**اَفۡضَلُ الۡجِهَادِ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنۡدَ سُلۡطَانٍ جَائِرٍ** .(ابوداؤد)

یعنې غوره بهترین او اعلی قسم جهاد د ظالم بادشاه په دربار کښې د حق او رشتیا کلمه وئیل دی او دا تواصی علی الحق ده.

## تواصی بالصبر ولې ضروری ده

تواصی بالصبر ځکه ضروری ده چې په بعض حالاتو کښې یو انسان د ډیرې غریبۍ نه تنګ شی او دا انسان خپل ذاتی ضروریات نشی پوره کوې نو دا انسان د نه برداشت او د صبر نه کولو د وجې نه د الله د رحمت نه نا امیده شی.

تر دې پورې چې مونځ، روژه، هم پریږدی او آخر کله کله داسې هم اوشی چې د خپل قیمتی دولت او سرمایه د ایمان نه هم محرومه شی نو نتیجه دا وی چې هر قسم باطل ته تسلیم کیږی، او د باطل مقابله په میدان کښې نشی کوې او د بل غلام جوړ شی، نو داسې انسانانو ته د صبر تلقین پکار دې، او دا دوه خبرې د خسران نه د بچ کیدو د پاره ډیرې زیاتې ضروری او اهمې دی.

## امر بالمعروف او نهی عن المنکر د دین بنیاد دې

امام غزالی په خپل کتاب احیاء علوم الدین کښې فرمائی:

**فَإِنَّ الۡاَمۡرَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَالنَّهۡيِ عَنِ الۡمُنۡكَرِ هُوَ الۡقُطۡبُ الۡاَعۡظَمُ لِهٰذَا الدِّيۡنِ.**

يعنې امر بالمعروف او نهی عن المنکر دا دواړه د دين د پاره غټ قطب دې او قطب هغه څيز ته وئيلی کيږی په کوم څيز چې بل ولاړ وی يعنې بنياد وی، نو دا امر بالمعروف او نهی عن المنکر هم د دين د قيام او احياء د پاره بنياد دې که په يو امت يا يو جماعت کښې دعوت ختم شی نو دا جماعت په نيشت حساب دې او دا جماعت بيا ترقی نشی کوې او مخکښې نشی تلې، نو دا د دعوت فائده ده چې دين، تحريک او جماعت ورسره ترو تازه وی.

## دعوت پريخودل د فساد فی الارض ذريعه جوړيږی

په حديث کښې راځی نبی عليه السلام فرمائی چې تاسو به امر بالمعروف او ورسره نهی عن المنکر کوۍ او که داسې نه وی نو الله به ستاسو شرارتی خلق ستاسو په غوره او نيکانو خلقو باندې مسلط کړی او دغه شری او فسادی قوم به د دوی مشران وی، او دغه نيک خلق به بيا دعاګانې کوی نو دا به نه قبليږی.

دا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د ترک او پريخودلو نقصان دې او يو حديث کښې راځی چې که دا خلق نهی عن المنکر نه کوی نو په دې خلقو باندې به الله عام عذاب نازل کړی چې د دوی وړوکی، غټ، ځوان، بوډا، نارينه، زنانه، الغرض هر فرد به په دې عذاب کښې مبتلا وی.

## د دعوت غټې فائدې دوه دی

د دعوت دوه فائدې دی يو انسان ته د دعوت ذاتی فائده ده او دويمه دا چې د دعوت نورو خلقو ته هم فائده شته دې د دنيا سخت بدبخته او شرارتی قومونه د هغوی اصلاح په دعوت سره کيدې شی.

بعض خلق دا وائی چې زۀ پخپله پوره نه یمه او زما پخپله عمل کمزورې دې نو نورو خلقو ته څنګه دعوت ورکړمه نو دا غلطه خبره ده بلکه د دعوت په مزاج سره د انسان ذاتی اصلاح هم کیږی او مفتی شفیع رحمه الله فرمائی چې د دې مثال داسې دې چې یو انسان مونځ نه کوی او ورسره روژه هم پریږدی چې زۀ خو مونځ نه کومه نو دا روژه هم د دې ضرورت شته بلکه د مونځ خپل یو مستقل مقام دې او د روژې خپل یو مستقل مقام دې نو دغه شان د دعوت خپل مستقل مقام دې او د عمل خپل یو مستقل مقام دې.

بلکه د دعوت دومره لوې مقام دې چې د قیامت په ورځ به الله د دعوت په باره کښې تپوس هم کوی قرآن کښې الله فرمائی چې:

**لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا قَالُوا مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ**. (اعراف:۱۶۴)

یعنې تاسو ولې هغه قوم ته نصیحت کوۍ او دعوت ورته ورکوۍ چې الله دغه قوم ته عذاب ورکوی نو دې داعیانو به ورته جواب ورکړو چې دا د دې د پاره چې د قیامت په ورځ به مونږه خپل عذر الله ته پیش کوو.

چې الله ستا دعوت مونږه دوی ته ورکړې وو او زمونږه غاړه آزاده ده او په شریعت کښې هم دا خبره ده چې د مسلمان ذمه داری هغه صرف د الله د پیغام بیان دې که څوک ورباندې عمل کوی او که ورباندې عمل نه کوی نو د چا د عمل د نه کولو د وجې نه به څوک دعوت نه پریږدی.

په قرآن کښې الله فرمائی:

**وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ.** (الاعراف:۱۸۱)

يعنې ائ خلقو په تاسو کښې به داسې خلق وی چې هغوی به د حق کلمې دعوت نورو خلقو ته ورکوی او پخپله به هم په دې باندې قائم وی. عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چې دې امت ته الله دا ټول امتيازی شان او مقام او اعزاز د دعوت د وجې نه ورکړې دې، امت څکه دَ کمزورۍ طرف ته روان دې چې امت خپله اهمه فريضه پريخودې ده او په دې باندې عمل نه کوی نو دا اهمه فريضه مسلمان لره د دې اهميت ډير ضروری دې. والحمد لله رب العلمين

# د نبی علیه السلام پیغام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ﴾ (النحل:۴۳)

د نبی علیه السلام د سیرت سلسله شروع وه په دې موقع د نبی علیه السلام د سیرت دا پهلو بیانیږی چې د نبی علیه السلام د بعثت او دنیا ته د راتلو مقصد څه وو، نو د دې مختصر جواب دا دې چې د نبی علیه السلام د بعثت مقصد د توحید پرچار، د دین اسلام تبلیغ د عقیدو اعمالو، او د معاشرې اصلاح د دین اسلام غلبه د الله قانون په دنیا کښې نافذ کول او د دین تکمیل یعنې کوم دین چې الله په آدم علیه السلام سره شروع کړې وو هغه دین خپل کمال ته د نبی علیه السلام په بعثت سره اورسیدو، د دې د حصول د پاره نبی علیه السلام د وطن نه ویستلې شوې وو، صحابه کرام شهیدان شوې وو، او مختلف قسمه تکلیفونه ورته ورکړې شوې وو.

بیا چې دین کامل او مکمل کړې شو او د نبی علیه السلام د بعثت هغه مقصد حاصل کړې شو نو د پیغمبر هم د دنیا نه سفر او رحلت وو، د وفات نه شپږ میاشتې مخکښې سورة النصر نازل شو، نو ابوبکر

رضی الله عنه په ژړا شو او پوهه شو چې په دې سورة کښې د نبی علیه السلام وفات طرف ته اشاره ده.

د نبی علیه السلام وفات طرف ته اشاره په حجة الوداع خطبه کښې هم نبی علیه السلام کړې وه ځکه نبی علیه السلام صحابه کرامو ته اووئیل چې ما څه وئیل غوختل هغه ما اووئیل او ما چې څه کول غوختل هغه ما اوکړل او کیدی شی چې را روان کال زۀ ستاسو سره مخامخ نشمه بیا الله دا آیتونه نازل کړل.

﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ (المائدة:٣)

او په دې آیت کښې هم د نبی علیه السلام مرګ طرف ته اشاره ده.

او یوه بله اشاره دا وه چې نبی علیه السلام به هر کال یو یو اعتکاف کوو او کوم کال چې د وفات وو نو په دغه کال کښې نبی علیه السلام دوه اعتکافونه کړې وو ځکه آخری وقت وو نو په عباداتو کښې ئې اضافه کړې وه.

او په یو حدیث کښې راځی چې نبی علیه السلام د حج په کال وئیلي وو:

﴿أَلَا أَيُّهَا النَّاسُ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ رَسُولُ رَبِّي فَأُجِيبَ﴾ (مسلم)

ائې خلقو زه د الله رسول یمه او کیدې شی چې زما د رب د طرف نه استاذې راشی او زه د هغه خبره اومنمه مطلب دا چې زه به وفات کیږمه.

نبی علیه السلام د وفات نه مخکښې یوه سریه د صحابه کرامو تیاره کړې وه او د دغه سرېي مشر اسامة بن زید رضی الله عنه وو او دا صحابي ډیر زیات کم عمره صحابي وو لیکن په دې کښې حکمت دا وو چې په دې ټول لشکر زما د خبرې اطاعت لازمی دې که زۀ وړوکې صحابي هم په دوی باندې مشر کړمه نو دا خلق به د هغه تابعدار وی او د هغه اطاعت به کوی، د لشکر د تیارۍ نه بعد نبی علیه السلام د شپې په وقت کښې د مدینې یو قبرستان دې بقیع الغرقد ورته وئیلې کیږی.

هغې ته لاړو دوباره چې کور ته واپس شو نو د نبی علیه السلام په سر مبارک کښې درد شروع شو او ورسره د نبی علیه السلام تبه هم وه لیکن په دغه حالت کښې به مسجد ته د مونځ د پاره راتلو، نبی علیه السلام به دا تپوس ډیر ډیر کوو چې صبا د چا نمبر دې بیا بل صبا د شپې نمبر د چا سره دې فاطمة الزهراء رضی الله عنه په دې باندې پوهه شوه او امهات المؤمنین ته ئې اووئیل چې د نبی علیه السلام اراده داده چې هغه د بیمارۍ ورځې د عائشه رضی الله عنها سره تیرول غواړی بیا بیبیانو ورته اجازت ورکړو او نبی علیه السلام د عائشه رضی الله عنها سره حجره کښې وو د نبی علیه السلام تبه ډیره شوه یو ځل عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د عیادت د پاره ورسره ملاؤ شو او ورته ئې اووئیل ائ د الله رسول صلی الله علیه وسلم دا تکلیف ډیر زیات دې؟ نبی علیه السلام جواب ورکړو چې ستاسو د دوؤ کسانو د تبې تکلیف ماته دې، او کوم انسان چې الله بیمار کړی په دغه بیمارۍ سره الله د دې انسان نه ګناهونه لرې کوی، یوه ورځ نبی علیه السلام عائشه رضی الله عنها ته اووئیل چې

د دې تبې سره زما په حلق کښې د زهرو خوند دې او دا ځکه چې د خيبر په موقع باندې يوې يهودۍ زنانه نبی عليه السلام ته زهر ورکړې وو.

او په دې کښې حکمت دا دې چې الله خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ټول مقامات ورکړې وو، صرف يو د شهادت مقام باقی وو الله غوختل چې دغه مقام هم خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ورکړی ليکن که نبی عليه السلام د چا په لاسو باندې شهيد شوې وې نو خلقو به دا اعتراض کړې وې چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم شهيد کړې شو او دين ناقص دې پوره نه دې د دې تهمت نه د بچ کيدو د پاره الله خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته د شهادت درجه هم ورکړه او د مشرکانو دا اعتراض هم اونکړې شو د دې وجې نه علماء فرمائی چې نبی عليه السلام د شهادت په مرګ سره وفات شوې دې.

د نبی عليه السلام عادت دا وو چې آخری د قرآن پاک درې سورتونه به ئې په خپل ځان باندې دم کول کوم وقت چې بيماری سخته شوه نو نبی عليه السلام دا نشو دم کوی عائشه رضی الله عنها به بيا په خپل لاسونو باندې دا درې سورتونه وئيل او په نبی عليه السلام باندې به ئې دم کول، صرف نبی عليه السلام به دا دعا وئيله:

**اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ وَأَلْحِقْنِيْ بِالرَّفِيقِ الأَعْلَى**.(متفق عليه)

ائ الله ماته بخښنه اوکړې او ما باندې رحم اوکړې او په اعلی مقام کښې ستا ملګرتيا او رفاقت زما نصيب کړې.

د جمعرات په ورځ د نبی علیه السلام بیماری سخته شوې وه او بې هوشی هم ورباندې راتله، په دغه ورځ څه صحابه کرام د نبی علیه السلام عیادت د پاره راغلې وو نبی علیه السلام عرض اوکړو چې تاسو یو کاغذ ماته راکړۍ د نورو صحابو سره عمر رضی الله عنهم هم موجود وو، عمر رضی الله عنه چې سوچ اوکړو چې نبی علیه السلام په سخت تکلیف کښې دې نو نبی علیه السلام ته ئې اووئیل حسبنا کتاب الله ائ د الله رسول صلی الله علیه وسلم زمونږ د پاره د الله کتاب کافی دې او دا د دې وجې نه نه چې عمر رضی الله عنه د نبی علیه السلام وصیت نه غوختل بلکه د دې خبرې مثال داسې دې چې یو استاد وی او هغه ته سخت تکلیف وی په دغه حالت کښې د استاد خواهش دا وی چې د درس د پاره حاضر شی لیکن طالبان ئې منع کړی چې جی تاسو ته ډیر تکلیف دې او د درس د پاره مهٔ راځۍ.

بیا په دې خبره کښې د علماؤ اختلاف دې چې نبی علیه السلام څه لیکل غوختل بعضې علماء وائی چې د نبی علیه السلام دا اراده وه چې قرآن او سنت باندې قائم اوسیږۍ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی: چې د نبی علیه السلام اراده د ابوبکر رضی الله عنه د پاره د وصیت لیکلو وه او دا خبره نبی علیه السلام په یو موقع عائشه رضی الله عنها ته هم کړې وه عائشه رضی الله عنها نبی علیه السلام ته عرض اوکړو چې ابوبکر باندې دا ټول مومنان متفق دی د لیکلو څه ضرورت نشته.

نبی علیه السلام د مرض موت په حالت کښې یوه خطبه وئیلې وه او په دې خطبه کښې ئې فرمائیلی وو چې الله په خپلو بندګانو کښې یو

بنده ته د دنيا او د آخرت اختيار ورکړو نو دغه بنده آخرت غوره کړو ابوبکر رضی الله عنه په دغه موقع ډير زيات وژړل او پوهه شو چې د دغه بنده نه مراد نبی عليه السلام ټخپله دي صحابه کرام فرمائی چې کوم وقت نبی عليه السلام وفات شو نو مونږه ته معلومه شوه چې ابوبکر رضی الله عنه په دې خبره باندې پوهه شوې وو.

بيا نبی عليه السلام اوفرمائيل چې دې مسجد طرف ته چې څومره دروازې دي دغه ټولې دې بندې کړې شی مګر صرف د ابوبکر رضی الله عنه دروازه دې پرېخودلې شی بيا نبی عليه السلام اوفرمائيل چې د محبت،مال جان هر څه لحاظ سره زما سره غټ احسان د ابوبکر رضی الله عنه دې او د هر يو انسان حق هغه ته ما ورکړو مګر صرف د ابوبکر صديق د احساناتو بدله زۀ هغه ته نشمه ورکوې بلکه الله به ټخپله ابوبکر رضی الله عنه ته د دې بدله په جنت کښې ورکوی.

بيا نبی عليه السلام اوفرمائيل چې که په تاسو کښې په ماباندې د چا حق وی نو راته اووائی: ځکه د دنيا نه زۀ روان يمه او زۀ غواړمه چې زه په داسې حالت کښې د دنيا نه لاړشمه چې د هيڅ يو بنده حق په ما باندې نه وی.

په دې کښې يو صحابی اووئيل چې زما په تا باندې دوه روپۍ دی نبی عليه السلام ابوبکر رضی الله عنه ته اووئيل چې دۀ تۀ دا دوه روپۍ ورکړه هغه ورته ورکړې په دې موقع يو بل صحابی اودريدو او هغه اووئيل چې يا رسول الله صلی الله عليه وسلم په يو ځاې کښې زۀ ستاسو د سورلۍ سره روان وومه او تاسو په سورلۍ باندې د چابک ګوزار اوکړو

او دا په ماباندې اولګیدو نبی علیه السلام ورته خپله ملا مبارکه ښکاره کړه او دغه صحابی د نبی علیه السلام ملا ښکل کړه.

بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل چې ستاسو نه مخکښې قومونو والاؤ د خپلو پیغمبرانو قبرونه مسجدونه جوړ کړې وو نو زۀ تاسو د دې نه منع کومه چې چرته زما قبر نه مسجد جوړ نۀ کړۍ بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل چې الله زما د مرګ نه بعد زما د قبر نه بت مۀ جوړوه چې د دې عبادت شروع کړې شی دا د توحید په باره کښې نبی علیه السلام په مرض الموت آخری وقت کښې وصیتونه کړې وو.

والحمد لله رب العالمین.

# د نبی علیه السلام دعوت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَى مَعَادٍ﴾ (قصص:٨٥)

نبی علیه السلام ته اول حکم د وحی هغه د الله د کتاب د بیان حکم شوې وو او د مخلوق اصلاح به هم د الله د کتاب په بیان سره کیږی د نبی علیه السلام د نبوت تمامه زمانه درې ویشت کاله عمر دې دیارلس کاله په مکه کښې او لس کاله مدنی دور دې بیا مکی دور په درې حصو باندې تقسیم شوې دې اول څلور کالو کښې نبی علیه السلام خفیه او انفرادی دعوت د اسلام کړې وو او په دغه وقت کښې مشکلات ډیر نۀ وو، د څلور کالو نه بعد تر لس کالو پورې نبی علیه السلام خپل دعوت او مشن علی الاعلان په عام میدان باندې ټولو خلقو ته شروع کړو او د الله د طرف نه حکم اوشو چې: **فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ.** (الحجر:٩٤)

یعني په دې خپله خبره باندې مضبوط قائم شه او د مشرکانو نه مخ واړوه د مشرکانو د خبرو هیڅ پروه مۀ کوه دغه دور ډیر د سختۍ او د مخالفت دور وو ځکه هر قسمه مسائل و سختی وه، وهل ټکول وو او دریم دور د لسم کال نه واخله دیارلسم کاله پورې وو دا دور د دغه اول دور نه هم ډیر مشکل او سخت دور وو د دې مکی دور مختصر تفصیل دا دې.

هر کله چې په نبی علیه السلام باندې اوله وحی نازله شوه نو په زنانو کښې د ټولو نه اول حضرت خدیجه رضی الله عنه په نبی علیه السلام باندې ایمان راوړو او د هغه مشن او دعوت ئې قبول کړو د دې نه بعد د حضرت خدیجه رضی الله عنها غلام وو قیس رضی الله عنه هغه ایمان راوړې وو او په دریم نمبر حضرت علی رضی الله عنه ایمان راوړې وو په دغه دور کښې د هغه عمر د دولس (۱۲) یا دیارلس (۱۳) کال عمر وو او د دې وجه دا وه چې ابو طالب ډیر غریب سړې وو او د هغه ډیر زیات اولاد وو نو حضرت عباس رضی الله عنه نبی علیه السلام ته اووئیل چې که مونږ د ابو طالب نه دا بوج سپک کړو یو بچې به ترینه زۀ واخلمه او یو به د تربیت د پاره تاته درکړی، نو نبی علیه السلام راضی شو او ابو طالب ته ئې داخبره مخکښې کړه ابو طالب عقیل عباس رضی الله عنه ته ورکړو او علی رضی الله عنه ئې نبی علیه السلام ته ورکړو او د خپل ځان سره ئې خپل یو بچی جعفر طیار رضی الله عنه پاتې کړو نو علی رضی الله عنه د ماشوم والی په وخت کښې د نبی علیه السلام په تربیت کښې ایمان راوړې وو.

یو ځل د نبی علیه السلام نه تپوس اوکړې شو چې **مَنۡ مَعَکَ فِیۡ هٰذَا الامر** یعنې ستا سره په دې کار کښې څوک ملګرې دې نبی علیه السلام جواب ورکړو **حُرٌّ وَعَبۡدٌ** یعنې یو غلام دې او یو آزاد دې دا په عام خلقو کښې د آزاد نه مراد حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دې او د غلام نه مراد حضرت بلال حبشی رضی الله عنه دی.

په دغه وقت کښې د دين ابراهيمي په طريقه باندې نبي عليه السلام او حضرت خديجه رضي الله عنها به مونځ او عبادت كوو صرف سحر او ماښام به دوه دوه رکعتونه مونځ وو يو ځل علي رضي الله عنه نبي عليه السلام اوليدو چې هغه مونځ كوو نو علي رضي الله عنه تپوس اوكړو چې دا څۀ عمل دې؟ نبي عليه السلام جواب وركړو چې د دې په باره كښې زما رب ماته حكم كړې دې او تۀ هم دا طريقه اختيار كړه علي رضي الله عنه ورته اووئيل: چې زۀ به د خپل پلار ابو طالب نه تپوس وكړمه نبي عليه السلام ورته اووئيل:

د الله د پاره خپل پلار ته مۀ وايه ځكه دا هغه وقت نۀ دې چې زمونږه نه خلق خبر شي كه تۀ داخبره تسليم كوې نو تسليم ئې كړه او كۀ نۀ منې نو نور خلق په دې خبره مۀ خبروه حضرت علي رضي الله عنه وائې چې يوه ورځ بعد دغه خبره الله زما په زړۀ كښې واچوله او ما دين اسلام قبول كړو.

يو صحابي واقعه بيانوي چې يو ځل د حج په موسم كښې زۀ د ابو طالب سره ملاؤ شوم په دغه حالت كښې ما يو ځوان او زنانه اوليده چې مونځ ئې ادا كولو نو ما تپوس اوكړو چې دا څوك دي؟

ابو طالب جواب راكړو چې زما ورارۀ محمد صلى الله عليه وسلم دې او دغه د دۀ بي بي ده دې وائي چې الله ماته وحي كړې ده او د خپل دين په طريقه باندې عبادت كوي دغه صحابي وائي چې هائې افسوس دې چې د منۍ په ميدان كښې زه هم د نبي عليه السلام سره په دغه عبادت كښې شريک وې او ما هم په ابتدائي دور كښې ايمان قبول كړې وې.

نبی علیه السلام په دغه دور کښې دا خپل دعوت په ابوبکر صدیق رضی الله عنه پیش کړو چې زۀ د الله پیغمبر یمه او الله ماته دا وحی راکړې ده ابوبکر د هیڅ سوچ فکر نه بغیر د نبی علیه السلام دغه دعوت قبول کړو او ایمان ئې ورباندې راوړو ځکه ورته ابوبکر صدیق هم وئیلې کیږی.

نبی علیه السلام د دې نه بعد په حرم شریف کښې دعوت شروع کړو مشرکانو منع کړو چې دا تۀ کومه خبره کوې دا خو زمونږه د دین نه خلاف خبره ده او په دې سره زمونږه په مینځ کښې به اختلافات پیدا شی نو نبی علیه السلام ئې منع کړو بیا ابوبکر صدیق دعوت شروع کړو هغه ئې هم منع کړو، ابوبکر صدیق رضی الله عنه د دې وجې نه د هجرت اراده کړې وه لیکن چې په نبی علیه السلام کله پابندی اولګیده نو زید بن ارقم یو صحابې دې هغه ورته اووئیل چې اې د الله پیغمبره دا خلق تا نۀ پریګدی دا زما کور دې او دا ما د الله د پاره وقف کړې دې په دې کښې د دین دعوت او بیان کوه نبی علیه السلام به د شپې په ناوخته وقت کښې دغه کور ته صحابه راجمع کول او د قرآن بیان به ئې ورته کوو، دا د دې د پاره چې مشرکان خبر نشی، یو یو نوې راز دار ملګرې به صحابو ځان سره راوستو او په دې طریقه به نبی علیه السلام د صحابو تعلیم او تربیت کوو.

مشرکان چې کله خبر شو چې دا نوې خلق د څۀ مقصد د پاره راجمع کیږی نو ابو جهل راغې او توره تیاره کښې ئې د نبی علیه السلام بیان واوریدو په دغه طریقه به هره ورځ ابو جهل، عتبه شیبه، په پټه

طريقه راتلل او قرآن به ئې اوريدو، يوه شپه ابوجهل عتبه او شيبه اوليدل نو هغوی ئې ملامته کړل چې دۀ ته خو مونږه ساحر جادوګر او کاهن وايو او دا د دين ابراهيمی خلاف کوی نو په خپلو کښې ئې قسمونه په خپلو خدايانو اوکړل او معاهده ئې اوکړه چې بيا به مونږه د دې سړی بيان ته نۀ حاضريږو.

په دويمه ورځ بيا درې واړه يو بل سره ملاؤ شو او بيائې قسمونه اوکړل چې بيا به د نبی عليه السلام مجلس ته نۀ حاضريږو او په دريمه ورځ بيا همدغه شان معامله اوشوه بيا ئې پاخۀ پاخۀ قسمونه اوکړل د دې نه بعد په دغه طريقه باندې بند شو.

په دې طريقه باندې نبی عليه السلام څلورکاله مسلسل د قرآن بيان د زيد بن ارقم رضی الله عنه په کور کښې کړې دې.

نبی عليه السلام يو ځل د ابوبکر صديق رضی الله عنه سره يو غار طرف ته روان وو عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په دغه وقت کښې ايمان نۀ وو راوړې او د دۀ سره ګډې چيلۍ وې نبی عليه السلام ترينه مطالبه اوکړه که ستاسره څۀ پئ وی نو مونږه ته ئې راکړه عبد الله بن مسعود انکار اوکړو چې د مالک د اجازت نه بغير زۀ تاسو ته پئ نۀ درکومه نبی عليه السلام تپوس اوکړو چې په دې ګډو او چيلو کښې اوچه شته چې په هغې کښې پئ نه وی نو عبد الله رضی الله عنه ورته ورکړه نبی عليه السلام چې را ولوشله نو پئ پکښې پيدا شو په خپله ئې وڅکل او عبد الله رضی الله عنه ته ئې هم ورکړل په دې موقع عبد الله

بن مسعود رضى الله عنه اسلام قبول كړې وو او دا د نبى عليه السلام يوه معجزه وه.

د دې نه بعد به عبد الله بن مسعود رضى الله عنه هم دار ارقم ته د شپې راتلو يو ځل ئې نبى عليه السلام ته اووئيل چې دا قرآن دې خلقو ته باهر وئيل پكار دې نبى عليه السلام منع كړو چې الله ماته اجازت نه دې راكړې نو هغه پخپله حرم شريف ته لاړو او د قرآن بيان ئې شروع كړو مشركين ورباندې راجمع شو او دومره ئې اووهلو چې بې هوشه شو او وينې ورباندې راماتې شوې.

ابوذر رضى الله عنه وائى چې ما د نبى عليه السلام په باره كښې ډيرې زياتې خبرې او پروپيګنډې د مشركانو نه اوريدلې وې، نو ما خپل رور ته اووئيل چې ته لاړ شه او د دې سړى په باره كښې معلومات اوكړه چې دا رشتينى سړې دې او كه نهٔ دې او آيا دا سړې د دنيا مال دولت يا حكومت طلبګار دې او كه د دهٔ بل څه مقصد دې؟

نو زما رور ماته جواب راكړو چې دا سړې د دنيا او د حكومت طلبګار نه دې ابوذر رضى الله عنه وائى د دې نه بعد زهٔ بذات خود پخپله د نبى عليه السلام د ليدلو د پاره حرم شريف ته حاضر شوم د شپې وقت وو يو انسان به د عبادت نه بعد خپل كور ته تلو نو حضرت على رضى الله عنه زهٔ اوليدمه نو ماته ئې اووئيل چې ته څهٔ كوې؟

ما جواب وركړو چې زه مسافر يمه، د خپل ځان سره ئې كور ته بوتلمه ما ورته اووئيل چې زه ستا نه تپوس كومه؟ على رضى الله عنه اوئيل چې ستا څه سوال دې ما ورته اووئيل چې هغه محمد صلى الله عليه

وسلم کوم ځاې کښې دې چې ورسره ملاقات اوکړو نو د شپې په ناوخته وقت کښې علی رضی الله عنه راته اووئیل چې زۀ تا د هغه خوا ته بوځمه لیکن که په لاره زما سره څوک ملاؤ شی نو ته به نۀ ودریږې بلکه روان به ئې ځکه حالات ډیر زیات نازک او د خطرې دی په دغه طریقه د زید بن ارقم رضی الله عنه کور ته لاړل او ابوذر رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه قرآن واوریدو او اسلام ئې قبول کړو بیا ابو ذر رضی الله عنه نبی علیه السلام ته وائی:

چې د دې قرآن بیان په حرم شریف کښې پکار دې نبی علیه السلام ورته اووئیل چې دا رخصت دې یعنې کۀ یو مسلمان قرآن ښکاره وئیلې شی نو اجازت دې ابو ذر رضی الله عنه لاړې او په حرم شریف کښې د قرآن بیان شروع کړو، مشرکانو او وهلو تر دې پورې چې بې هوشه شو عباس رضی الله عنه راغې او هغه ورته اووئیل که تاسو دا مړ کړونو دا د غفار قبیلې دې.

او ستاسو د تجارت لاره په هغوی باندې ده بیا به تاسو په خپله لاره باندې نۀ پریګدی نو د دې وجې نه مشرکان روسته شو او ابو ذر رضی الله عنه ئې پریخودو.

په دویمه ورځ بیا ابو درداء رضی الله عنه بیان شروع کړو او مشرکانو اووهلو نو عباس رضی الله عنه ترینه خلاص کړو په دریمه ورځ ورسره بیا همدغه معامله اوشوه بیا ورته نبی علیه السلام اووئیل چې ته خپل قام، قبیلې ته لاړشه او هغوی ته د اسلام دعوت ورکوه کله چې وخت راشی نو تۀ به دوباره دلته راشې.

نو نبي علیه السلام په ابتدائی دور کښې د زیدبن ارقم رضی الله عنه په کور کښې د قرآن د درس په ذریعه سره اصلاح شروع کړې وه.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه چې کوم وقت علی الاعلان د قرآن او توحید دعوت شروع کړو نو مشرکانو منع کړو ابوبکر رضی الله عنه د هجرت د پاره روان شو په لاره کښې ورسره د جاهلیت د دور یو ملګرې ابن دغنه ملاؤ شو او هغه ور نه تپوس اوکړو چې ته کوم طرف ته روان ئې؟

ورته ئې اووئیل چې دا مشرکان ما د قرآن او توحید بیان ته پریګدی نو زۀ یو بل ملک ته هجرت کومه ابن دغنه ورته اووئیل چې زۀ ستا زمه داری اخلمه او ته هجرت مۀ کوه نو د مشرکانو سره ئې مخامخ کړو مشرکانو ورته اووئیل چې دا به په حرم شریف کښې د قرآن بیان نۀ کوی او که په خپل کور کښې د قرآن بیان کوی نو بیا ورته اجازت دې ابن دغنه ابوبکر رضی الله عنه ته اووئیل چې ستا دا مسئله به د وقت سره حل شی او ته په خپل کور کښې قرآن وایه ابوبکر رضی الله عنه د خپل کور مخې ته قرآن شروع کړو نو څوک چې به لاره تیریدل که هغه به ماشوم، ځوان، بوډا یا زنانه وه.

نو قرآن به ئې اوریدو او د دې نه به متأثره کیدل نو دغه مشرکان دوباره ابن دغنه ته اووئیل چې تۀ دا ستا ذمه داری واپس واخله او یا په ابوبکر صدیق رضی الله عنه باندې قرآن وئیل بند کړه ځکه زمونږه ټول ماشومانان، ځوانان، بوډاګان او زنانه ئې بې لارې کړې دی دغه ابن دغنه ابوبکر رضی الله عنه ته اووئیل چې تۀ قرآن مۀ وایه ابوبکر رضی الله

عنه جواب ورکړو چې تهٔ خپله ذمه داری واپس واخله او دا زما خپل ملکيت او خپل کور دې په دې کښې به زهٔ خامخا قرآن وايمه.

د قرآن نه د خلقو بندولو د پاره مشرکانو کښې يو سردار چې د هغه نوم نظر بن حارثه وو هغه ورته د شام نه کتابونه راوړل، او په دغه کتابونو کښې قيصې، کهانياني وې او د قرآن په مقابله کښې ئې دغه کتابونه په بيت الله کښې بيانول او خلقو ته به ئې وئيل چې محمد صلی الله عليه وسلم تاسو ته د عاديانو او ثموديانو قصې کوی او زهٔ تاسو ته د لوې لوې بادشاهانو قصې بيانومه نو په دې کښې کوم يو بهتر او غوره دې.

په دې طريقه به مشرکانو د الله د کتاب مخالفت کوو، ما چې کوم آيت په خطبه کښې وئيلې وو الله فرمائی:

إِنَّ الَّذِیْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ. (القصص:۸۵)

يعنې ما په تا او ستا په هر امتی دا قرآن فرض کړې دې او الله به دوباره تا مکې ته واپس کړی او په دې کښې دا مسئله ده چې:

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ آيَاتِ اللهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ (القصص:۸۷)

يعنې د دې خلقو مخالف، پروپيګنډې او تهمتونه دې تا منع نهٔ کړې د الله د کتاب نه، وادع الی ربک، يعنې ته خپل کار جاری ساته او د الله د کتاب په ذريعه خلق الله ته رابله او د دې مشرکانو دا خبرې مهٔ منه او د دې اتباع مهٔ کوه.

والحمد لله رب العالمين.

# د هجرت اسباب او ابتداء

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ مُسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ (الانفال:٢٦)

مخکښې نه دا خبره شروع وه چې د نبی علیه السلام سیرت د مسلمان د پاره لائحه عمل دې او د مسلمان د پاره د دې نه خپل ځان خبرول ضروری او اهم دی.

بیا د نبی علیه السلام د سیرت د مکی دور بیان شوې وو.

په دې آیت کښې الله په مسلمانانو د خپل نعمت تذکره کړې ده یعنې هغه دور چې تاسو د پاره د سکونت ځاې نه وو او د هر طرف نه خطره وه او مسلمان کم وو او کمزورې وو نو الله خپل احسان اوکړو او مسلمانانو ته ئې په مدینه کښې ځاې ورکړو او په خپل مدد سره الله مسلمانان مضبوط کړل او حلال رزق ئې درته درکړو نو دا د الله ډیر عظیم نعمت وو چې د مدینې په شان ماحول د دین اقامت او نشر واشاعت د پاره الله خپل پیغمبر او صحابو ته ورکړو مدینې ته تلو د پاره ابتداء دغه هجرت وو.

د هجرت معنې داده ترک وطن یعنې خپل وطن پریخودل لیکن نن صبا چې کوم تارکین وطن وی دا مراد نهٔ دی چې د معاشی حالاتو د وجې نه یا د کاروبار د پاره خپل وطن نه جدا شی بلکه د ایمان د حفاظت

د پاره یا د اشاعت دین د پاره خپل وطن پریخودلو ته شرعی هجرت وئیلې کیږی.

او په دین اسلام کښې د دې ډیر لوې فضیلت دې عائشه رضی الله عنها فرمائی نبی علیه السلام ته چې کوم وقت نبوت ملاویدو نو په هغه وقت کښې به نبی علیه السلام خوبونه لیدل او هغه به بیا رشتیا کیدل دغه شان نبی علیه السلام د هجرت نه مخکښې هم ښۀ ښۀ او بهترین خوبونه لیدل په یو خوب کښې الله نبی علیه السلام ته دهجرت د پاره ځاې نخلستان ښودلې وو یعنې د کهجورو والا علاقه مراد ده په دغه وقت کښې دوؤ علاقو کښې کهجورې ډیرې وې یوه یمامه وه او یوه علاقه مدینه منوره وه او یو روایت کښې راځي چې الله نبی علیه السلام ته درې علاقو ته د هجرت اختیار ورکړې وو یوه علاقه مدینه منوره وه او یوه علاقه بحرین وه او دریمه نسرین یوه علاقه ده او بیا د الله د طرف نه د مدینې منورې تعیین اوکړې شو او هغه علاقه د هجرت اوګرځیدله او د دې مثال داسې دې چې د یو انسان سره ډیر معزز قدرمند میلمه وی او هغه ورته کورونه، یا کمرې اوښائی لیکن تعیین بیا د مدینې شوې وو.

د هجرت د پاره اسباب دا وو چې نبی علیه السلام الله په ملت ابراهیمی او د هغې د تکمیل د پاره دنیا ته مبعوث کړې وو ځکه د ابراهیم علیه السلام دین او دعوت د نورو پیغمبرانو پشان علاقائی یا قومی محنت او دعوت نه وو.

بلکه د ابراهیم علیه السلام دین او دعوت عالمی وو دغه وجه وه چې ابراهیم علیه السلام د دین له خاطره د بادشاه دربار ته تلې وو او هغه

ته ئې دعوت پیش کړې وو دغه شان نبی علیه السلام هم بادشاهانو ته خطوط لیږلی وو او د دین دعوت ئې ورکړې وو او د مکې والا خلق د دین ابراهیمی دعوی دار وو.

نو الله نبی علیه السلام د دغه دین د تکمیل او پوره کولو د پاره دنیا ته پیغمبر جوړ کړو نبی علیه السلام د دې دین پر چار شروع کړو نو نبی علیه السلام باندې مشرکانو پابندی اولګوله صحابه کرامو ته مختلف قسم تکلیفونه ورکړې شو څوک شهیدان کړې شو څوک په ګرم کاڼړو باندې سملولې شو او څوک د ملک نه باهر کړې شو نو نبی علیه السلام په دغه حالت کښې د یو بل مقام تفتیش او تالاش شروع کړو.

چې هلته دین عام کړې شی او صحابه کرام په امن کښې شی د دې غرض د پاره طائف ته د حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه سره لاړو لیکن هلته نه ناامیده دوباره راواپس شو او په دغه وقت کښې مکه کښې به غټې میلې او مجلسونه منعقد کیدل او نورې قافلې به د حج د پاره هم راتلې نو نبی علیه السلام دغه موقع غنیمت او ګڼړله چې په دې مجلسونو او د حج په موسم کښې دغه خلقو ته د الله دین بیان کړې شی، نبی علیه السلام چې دعوت شروع کړو نو په هر ځاې او مجلس کښې به ورپسې ابو جهل مسخرې کولې چې دا دروغژن، ساحر، جادوګر دې او د حج په ورځو کښې به نبی علیه السلام منی او مزدلفې ته تلو ځکه په دې کښې به خلق راجمع کیدل او نبی علیه السلام به دعوت ورکوو.

یوه شپه نبی علیه السلام منی ته روان وو په لاره کښې یو مقام دې چې دغه مقام ته عقبه وئیلې کیږی په دې کښې څه خلق راجمع شوې وو نو نبی علیه السلام ورته اووئیل چې زۀ تاسو سره یو څو خبرې کول غواړم نو هغوی ورته اوئیل : ته خپله خبره اوکړه نو نبی علیه السلام ورته د توحید دعوت ورکړو او ورته ئې اووئیل چې زۀ تاسو ته د الله رسول یمه نو دا خبرې چې مشرکانو واوریدې حیران شو چې دا خبرې مونږه په مدینه کښې د یهودو نه اوریدلې دی چې یو آخری پیغمبر به راځی او د هغه په ملګرتیا کښې به مونږه ستاسو سره جنګ کوو.

نو دغه خلقو خپلو کښې مشوره اوکړه چې یهود مخکښې نشی نو مونږ به د دۀ سره ملګری شو او په دۀ باندې به ایمان راوړو نو دغه شپږ (٦) کسانو په نبی علیه السلام باندې ایمان راوړې وو او دا د خزرج قبیلې والا خلق وو بیا دغه خلقو مشوره اوکړه چې د اوس او خزرج په مینځ کښې دشمنی ده او د جنګ او بد امنۍ د وجې نه په کم تعداد کښې مونږه راغلې یو نو دا دعوت به مونږه په اوس او خزرج دواړو باندې پیش کړو که هغوی ایمان راوړو نو دغه دشمنی به ختمه شی.

دغه مسلمانان مدینې ته واپس شو او خلقو ته ئې دعوت شروع کړو چې د کوم پیغمبر انتظار وو هغه راغلې دې او مونږ د هغه کلام واوریدو او په هغه باندې مو ایمان راوړو نو هغو خلقو ایمان قبول کړو او په مدینه کښې هیڅ داسې یو کور باقی نه وو چې هغې کښې د نبی علیه السلام تذکره نه وه په هر کور کښې د نبی علیه السلام تذکره وه راروان کال د حج په موسم کښې د اوس او خزرج نه دولس (١٢) کسان د حج د

پاره راغلل او د نبی علیه السلام سره ئې په همدغه عقبه مقام کښې ملاقات اوشو پنځه ځکښې والا صحابه وو او اووۀ ورسره نور نوی ملګری یو ځاې شوې وو.

د دوی سره د نبی علیه السلام د شپې په وقت کښې ملاقات اوشو او دغه نورو کسانو هم ایمان راوړو دغه صحابو د نبی علیه السلام نه مطالبه اوکړه چې مونږ ته څوک استاد راکړه چې هغه د دین د احکاماتو تعلیم راکوی، نبی علیه السلام ورته دوه صحابه ورکړه یو عبد الله بن ام مکتوم چې په سترګو باندې نابینا هم وو او دا د قرآن قاری وو او بل صحابی مصعب بن عمیر رضی الله عنه دې چې دۀ ته الله د دعوت په کار کښې مهارت تامه ورکړې وه دغه وجه ده چې په مدینه کښې درې قبیلو د دۀ په دعوت باندې ایمان راوړې دې.

په دیارلسم کال د نبوت کښې مکې ته د اوس او د خزرج دوه اویا (۷۲) کسان د حج د پاره راغلې وو نبی علیه السلام چې دا تعداد اولیدو نو ډیر زیات خوشحاله شو په دې خلقو کښې د اوس او خزرج مشران سرداران هم شریک وو.

حضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه نبی علیه السلام ته اووئیل چې دا د مدینی خلق غواړی چې ته د دوی میلمه شې او دوی به په خپل ځان او مال سره ستا حفاظت کوی نبی علیه السلام د خپل ترۀ حضرت عباس رضی الله عنه سره مشوره اوکړه نو عباس رضی الله عنه ورسره د شپې په وقت کښې روان شو ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه ورسره هم وو عباس رضی الله عنه د مدینې

خلقو ته اووئيل چې تاسو ته معلومه ده د مکې والا خلق د نبي عليه السلام وينه توې کوی او که تاسو دا د خپل ځان سره بوځئ نو تاسو باندې به هم مختلف قسمه مصيبتونه راځی، جنګ، جهګړې به در سره خلق کوی او تاسو به په اطمينان او آرام سره نه پريګدی نو تاسو به د خپل ځان او مال سره د نبي عليه السلام حفاظت کوئ هغوی عهد او وعده اوکړه چې څنګه مونږه د خپل ځان حفاظت کوو دغه شان به مونږه د نبي عليه السلام حفاظت کوو.

د دې نه بعد نبي عليه السلام بيان شروع کړو د الله د توحيد د بيان نه بعد ئې مطالبه اوکړه چې تاسو به زما حفاظت او حمايت کوئ نو يو صحابي پاسيدو چې آؤ د الله پيغمبر صلى الله عليه وسلم مونږه به ستا حفاظت کوو نو بل صحابي اودريدو او هغه نبي عليه السلا ته اووئيل چې دا ستا حفاظت به صرف په خولهٔ باندې نهٔ وی بلکه زمونږه بچی، ښځې، اوکه مونږه هم قتل کړې شو بيا به هم ستا حفاظت کوو او ستا د رفاقت او ملګرتيا نه به نهٔ روسته کيږو.

ددې عهد نه بعد دغه ټولو صحابو د نبي عليه السلام سره بيعت اوکړو دې ته بيعت عقبه ثانيه وائی او د دې نه مخکښې چې کوم بيعت شوې وو هغې ته بيعت عقبه اولی وائی او په اوله اجتماع کښې هيڅ بيعت نهٔ وو شوی.

د دې نه بعد ابو الهيثم يو صحابي دې هغه اودريدو او هغه نبي عليه السلام ته اووئيل چې هسې نهٔ چې مونږه د يهودو سره وعدې ماتې کړو او تهٔ بيا د مدينې نه لاړشې او زمونږه نه جدا شې، نبي عليه السلام

ورته اووئيل چې زۀ به ستاسو سره يمه او تاسو نه به نۀ جدا کيږمه، تاسو چې کوم چاته امن ورکوئ هغوی ته به زۀ هم امن ورکومه او چې ستاسو د چا سره معاهده وی نو د هغوی سره به زمونږه هم معاهده وی.

بيا نبی عليه السلام د مدينې په خلقو کښې دولس مشران چې هغوی ته نقباء وئيلې کيږی مقرر کړل چې تاسو د خپلو قومونو د پاره ذمه داريان ئی او زۀ به د خپل قوم مهاجرينو ذمه دار يمه بيا نبی عليه السلام عباس رضی الله عنه، ابوبکر صديق رضی الله عنه، او علی رضی الله عنه واپس شو، هيڅ څوک خبر نۀ وو تر دې پورې چې صحابه هم خبر نۀ وو څو ورځې بعد د مکې مشرکان خبر شو نو نبی عليه السلام خپلو صحابو ته حکم اوکړو چې که په تاسو کښې څوک غواړی چې هجرت اوکړی نو مدينې منورې ته دې لاړ شی، دغه انسان به په امن کښې شی په دې طريقه د صحابو هجرت مدينې ته شروع شو.

والحمد لله رب العالمين.

# د هجرت واقعه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ﴾ (الانفال:۳۰)

د نبی علیه السلام د سیرت حوالې سره د نبی علیه السلام د هجرت واقعه شروع وه نبی علیه السلام د مدینې صحابو سره د هجرت وعده کړې وه او مکې والا خبر شوې وو چې صحابو ته بل ځاې په مدینه کښې ملاؤ شو نو د مکې په صحابو باندې ئې سختی او ظلم نور هم زیات کړې وو نبی علیه السلام څو ورځې بعد صحابو ته اووئیل چې ستاسو د هجرت ځاې ماته اوښودلې شو او تاسو یثرب یعنې مدینې ته هجرت اوکړې.

د نبی علیه السلام د اجازت نه بعد صحابه انفرادی یو یو او دوه دوه کسان په پټه طریقه به د مکې نه مدینې ته هجرت کوو که کوم صحابه به په لاره کښې اونیول شو نو هغوی به دوباره مکې ته واپس کړې شو.

ابو سلمه او ام سلمه رضی الله عنه دې صحابو یو ځل حبشې ته هجرت کړې وو بیا دوباره مکې ته راغلل بیا چې کله د مکې خلقو ورباندې ظلم زیات کړو نو مدینه ته د هجرت د پاره ئې اراده او کړه، ابو سلمه رضی الله عنه او ام سلمه رضی الله عنه او د دوی وړوکې ماشوم بچې هم ورسره وو په اوښه باندې کیناستل په لاره کښې د ام سلمه رضی

الله عنه د قوم والو هغه په لاره کښې گرفتاره کړه او ابو سلمه رضی الله عنه ته وائی چې تاته اختیار دې.

لیکن زمونږه د لور، خور حق نشته چې د خپلې علاقې نه بل طرف ته هجرت اوکړی او د اوښ مهار ئې د هغهٔ نه په زور راښکو او ام سلمه رضی الله عنه ئې پاتې کړه تول قوم والا کافران، مشرکان وو او دا یوه زنانه مؤمنه وه نو قوم والا به ورته کنځلې ردې بدې وئیلې.

ام سلمه رضی الله عنها وائی چې زما خاوند مدینې ته لاړو لیکن د خاوند قوم والا خبر شو او هغوی زمانه زما وړوکی د غیږې بچې په زوره واغستو دا دویم مصیبت وو زما د پاره د ډیر خفگان د وجې نه به زهٔ سحر لاړم او په هغه لار کښې به زهٔ د سحر نه ماښام پورې ناسته ومه او مابه ژړل په دې حالت کښې همدغه شان پوره یو کال تیر شو یوه ورځ زهٔ په لاره کښې ناسته ومه او ما ژړل چې په دغه حالت کښې زما تربور راغلې، او زه ئې اولیدمه اوخفه راباندې شو نو زما خاندان والو ته ئې اووئیل چې تاسو نهٔ شرمیږۍ چې دا زنانه ذات هره ورځ ژاړی دا آزاده کړۍ نو قوم والاؤ ماته اجازت راکړو لیکن زما بچې زما نه جدا وو او زهٔ یواځې نهٔ تلمه یو کس زما سخرگنۍ والو ته دا قصه بیان کړه.

نو هغوی هم راضی شو او ماته زما بچی ملاؤ شو زهٔ په اوښه باندې کیناستمه او ځان له روانه شوم په لاره کښې د تنعیم مقام کښې عثمان بن طلحه رضی الله عنه اولیدمه او زهٔ ئې اوپیژندلمه ځکه تول د مکې یو خلق وو نو تپوس ئې رانه اوکړو چې اۓ د سردار لور څه کوې.

هغې ورته جواب ورکړو چې زهٔ مدینې ته روانه یمه ځکه زما خاوند هلته دې عثمان رضی الله عنه ورته وائی چې ستا سره بل څوک

شته نو هغې جواب ورکړو چې یو زۀ یمه او یو زما دا بچې دې، عثمان پوهه شو چې دا هجرت کوی نو قسم ئې وکړو چې تر هغه وقت پورې به زۀ نۀ جدا کیږمه تر څو پورې چې ته د خپل خاوند سره ملاؤ شوې نۀ ئې او بیا ئې د اوښ مهار ورنه واغستو او مدینې ته ئې روانه کړه.

ام سلمه رضی الله عنها وائی چې ما په خپل ژوند کښې د عثمان بن طلحه رضی الله عنها په شان حیاء ناک او پاک باز انسان نه دې لیدلې کله چې د قباء مقام ته نزدې شو نو ماته ئې اووئیل:

چې په دې د قباء مقام په آبادۍ کښې ستا خاوند دې او بیا ئې زۀ د خپل خاوند سره ملاؤ کړمه او دوباره خپل ځاې ته واپس روان شو.

بله واقعه د صهیب رومی رضی الله عنه ده چې دا د هجرت د پاره روان شوې وو په لاره کښې په یو مقام کښې مشرکان ورپسې شو او دا ئې را لاندې کړو نو دۀ ورته اووئیل چې زما لاره مۀ بندوۍ او ما پریګدی ځکه تاسو ته معلومه ده چې زه په تیر اندازۍ کښې ډیر مهارت لرمه او تاسو به یو یو هلاک کړمه او که تاسو د څه مال دولت مطالبه کوۍ نو زما مال دولت په مکه کښې د فلانی او فلانی سره دې د هغه نه ئې واخلۍ بیا دغه مشرکانو دا پریخودو اولار ئې ورلره خالی کړه.

قرآن کښې الله د دۀ په باره کښې آیتونه نازل کړل:

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللهِ.(البقرة:۲۰۷)

یعنې په دې خلقو کښې بعضې داسې هم شته دې چې هغوی خپل ځان د الله د رضا د پاره خرڅوی.

حضرت عمر رضی الله عنه هم په دغه وقت کښې هجرت کړې دې کله چې حضرت عمر رضی الله د هجرت اراده اوکړه نو شل (۲۰)

کسان او صحابه ورسره نور هم وو، حضرت عمر رضی الله عنه خانه کعبې ته لاړۀ او اعلان ئې اوکړو چې ائ خلقو عمر رضی الله عنه په هجرت روان دې که څوک خپل بچې یتیمانان کول غواړی یا خپلې ښځې کنډې کول غواړی نو هغوی دې زما مخې ته راشی، قریش ډیر زیات دباؤ شو او عمر رضی الله عنه ته ئې هیڅ تعرض او نۀ کړو په دغه هجرت کښې یو صحابی دې یحيي بن ربیعه رضی الله عنه چې هغه مدینې ته لاړو نو د ابو جهل رور حارث بن هشام او یو بل کافر ورپسې راغلل او دۀ ته ئې اووئیل چې ستا مور قسم کړې دې چې خوراک، څکاک به نۀ کوی تر څو پورې چې هغه تا او نۀ وینی عمر رضی الله دغه صحابی منع کړو چې دا ستا د پاره یو قسم چال دې او دهوکه درسره کوی د دوی سره مۀ زۀ دغه صحابی سوچ اوکړو چې زۀ به د خپلې مور زیارت هم اوکړمه او زما څه پیسې دی هغه به ورسره هم د ځان سره راوړمه نو په لاره کښې ورسره دغه مشرکانو دهوکه اوکړه او د دۀ لاسونه ئې وتړل او په مکه کښې ئې ورسره ظلم او زیاتې شروع کړو.

نبی علیه السلام چې خبر شو نو نبی علیه السلام به د دغه صحابی د خلاصۍ د پاره دعاګانې کولې، په دې طریقه به صحابه د مکې نه مدینې ته تلل په آخر کښې صرف ابوبکرصدیق رضی الله عنه، علی رضی الله عنه، او نبی علیه السلام په مکې کښې پاتې شو، او یا هغه صحابه وو چې هغوی خپلو خپلوانو یا رونړو قید کړې وو.

مشرکانو سره یره او خوف پیدا شو چې دا خلق که په دې طریقه همیشه هجرت کوی نو نبی علیه السلام به هم هلته هجرت اوکړی او زمونږه خلاف به یو مرکز جوړ شی د مدینې خلقه به ورسره ملګری شی

ځکه دا ډېر زيات جنګجو قوم دې او زمونږه دين ته به نقصان ور کړې نو مشركان د بيت الله سره نزدې يو مقام دې چې د دغه مقام نوم دار الندوة دې په دې مقام کښې راجمع شو او مشوره ئې شروع کړه د نبی عليه السلام په خلاف کښې په دې دوران کښې شيطان د يو بوډا سړی په شکل کښې را دننه شو تپوس ئې اوکړو چې تۀ څوک ئې او د څۀ د پاره راغلې ئې هغه بوډا مشرکانو ته جواب ورکړو چې زۀ د نجد د علاقې نه راغلې يمه او کوم غم چې تاسو راوړې دې همدغه غم ما سره هم دې بيا ئې دغه بوډا په مشوره کښې شامل کړو، مشوره شروع شوه يوه فيصله دا وه چې نبی عليه السلام به په يو كور کښې بند اوتړلې شی بله مشوره دا وه چې دا د وطن نه وشړلې شی شيخ نجدی ورته اووئيل چې که تاسو دا په يو کور کښې بند کړې نو د دۀ قبيلې والا به دا دوباره آزاد کړی او که تاسو ئې د ملک نه اوشړی په بل ملک کښې به خپل ملګری پيدا کړی او زۀ تاسو ته دا مشوره درکومه چې دا قتل کړی او د دۀ په قتل کښې خير دې.

د هرې قبيلې يو يو فرد شامل شی نو د محمد صلی الله عليه وسلم قبيلې والا به قصاص نۀ شی اغستې په دغه شپه باندې د قريشو ځوانانو د نبی عليه السلام د كور محاصره کړې ده.

كوم وقت کښې چې د نبی عليه السلام كور محاصره شوې وو نو په دغه شپه علی رضی الله عنه هم د نبی عليه السلام په کور کښې وو، نبی عليه السلام ورته اووئيل چې ته زما په کټ کښې اودۀ شه او دا د فلانی فلانی امانتونه دی دا هغوی ته واپس کړه، زه يوځاې ته روان يمه کله چې تاته پته څو ورځې بعد اولږی نو تۀ به هم او سوده رضی الله عنها به

هم هغه ځاې ته د خپل ځان سره راولې نبی علیه السلام د خپل کور نه اووتلو او د خاورو يو موټې ئې راواغستو د خپل ځان سره او د سورة يس دا آيت ئې اووئيلو:

**فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لا يُبْصِرُونَ** (سورة يس:۹)

بيا ئې دغه خاورې د هغوی په سترګو باندې اوويشتلې په دغه وقت کښې ټول مشرکان ړاندۀ شو او نبی عليه السلام د حضرت ابوبکر رضی الله عنه کور ته راغې.

عائشه رضی الله عنها وائی چې نبی عليه السلام زمونږه کور ته راغې او د شپې ناوخته وقت وو، زه حيرانه شوم چې نبی عليه السلام بې وخته څنګه راغلې دې نو د ابوبکر صديق رضی الله عنه په کټ باندې کيناستو او هغۀ ته ئې اووئيل چې ما ته د الله د طرف نه د هجرت د پاره حکم اوکړې شو او تۀ به هم راسره ئې حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د ډيرې خوشحالۍ د وجې نه په ژړا شو عائشه رضی الله عنها وائی چې ماته پته نۀ وه چې يو انسان به د خوشحالۍ د وجې نه هم په ژړا کيږی خو په دغه موقع ما اوليدل چې زما پلار د ډيرې خوشحالۍ د وجې نه په ژړا شو.

مونږ تيارې شروع کړو مشکيزی مو اوتړلې د يوې مشکيزې د پاره د تړلو څه نه وو نو اسماء رضی الله عنها د خپلې ملا خپل کمربند را کولاؤ کړو او په هغې باندې ئې د مشکيزی خولۀ اوتړله، نبی عليه السلام اسماء رضی الله عنها ته اووئيل چې الله به تاته د دې په مقابله کښې په جنت کښې دوه څادرونه، دوپټې درکړی او تۀ خو ذات النطاقين ئې او دا د حضرت اسماء رضی الله عنه لقب اوګرځيدلو.

نبي عليه السلام د شپې په وقت کښې روان شو ليکن د مکې نه باهر طرف ته يو غار دې او هغې ته لاړو د مکې په لاره ځکه نه تلو چې نبي عليه السلام پسې تفتيش او تالاشي مشرکانو شروع کړې وه.

د غار ثور په لاره کښې ابوبکر صديق رضی الله عنه به کله د نبي عليه السلام نه مخکښې شو او کله به د هغۀ نه روسته شو نو نبي عليه السلام ورته اووئيل چې تۀ ولې دا کوې ابوبکر صديق رضی الله عنه جواب ورکړو.

چې زما سره يره پيدا شي هسې نه چې څوک د مخکښې طرف نه حمله اوکړی نو زۀ مخکښې شم او کله يره پيدا شي چې هسې نه چې د روستو طرف نه حمله اوشي نو زۀ روسته شم نبي عليه السلام ورته اووئيل چې تۀ دا غواړی چې زما د وجې نه شهيد کړې شې ابوبکر صديق رضی الله عنه اووئيل چې آؤ د الله پيغمبره زما مور او پلار دې په تاسو باندې قربان وی دا زۀ خوښومه بيا چې غار ته دننه کيدل نو د دغه غار په خولۀ کښې سخت سخت کاڼړی وو ابوبکر صديق رضی الله عنه نبي عليه السلام په خپلو اوګو باندې پشا کړو.

بيا چې کوم وقت دننه کيدل نو نبي عليه السلام ته ئې اووئيل چې تاسو باهر اودريږۍ هسې نه چې په دې غار کښې څۀ ضرری حيوان نه وی تکليف درته درنکړی دغه غار ئې دننه صفا کړو او بيا ورته نبي عليه السلام دننه شو د ابوبکر رضی الله عنه سره يو څادر وو چې د سحر په وقت کښې ورته نبي عليه السلام نظر اوکړو نو هغه څادر ورسره نۀ وو نبي عليه السلام تپوس اوکړو چې هغه ستا څادر څه شو ابوبکر

رضی الله عنه ورته اووئیل چې په هغې باندې ما د دې غار دا سوړې بندې کړې دی.

نبی علیه السلام خوشحاله شو او لاس ئې اسمان ته اوچت کړل چې الله ابوبکر رضی الله عنه زما سره په جنت کښې هم یو ځاې کړې دا د ابوبکر رضی الله عنه شان دې.

والحمد لله رب العالمین.

# هجرت نبوی صلی الله علیه وسلم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ (سورة توبه: ۴۰)

د نبی علیه السلام د هجرت واقعه شروع وه چې کله د مشرکانو ظلمونه زیات شو نو نبی علیه السلام صحابو ته د هجرت مدینې د پاره حکم ورکړې وو، او نبی علیه السلام بذات خود پخپله هم دا هجرت کړې وو او په غار ثور کښې درې ورځو پورې ئې سکونت اختیار کړې وو.

چې کوم وخت پورې د مکې د مشرکانو دا تفتیش او تالاش کم شی نو بیا به د هجرت د پاره روان شو، نبی علیه السلام چې په دغه شپه کله د مکې د حدودو نه باهر شو نو په یو اوچت او لوړ مقام باندې نبی علیه السلام اودریدو او مکې طرف ته مخاطب شو **مَاأَطْيَبَكِ مِنْ بَلْدَةٍ وَأَحَبَّكِ إِلَيَّ** [**المستدرک**] ......یعنې ای مکې ستا نه خائسته بل مقام او ښار نشته او ته ماته ډیر زیات محبوب وطن ئې (**وَلَوْلَا أَنْ أَهْلَكِ أَخْرَجُونِي مِنْكِ مَا خَرَجْتُ**) یعنې کۀ زما دې قوم والاؤ زۀ ویستلې نۀ وې نو ما به هجرت نۀ وې کړې او ترمذی شریف کښې دي (**وَلَوْلَا أَنَّ قَوْمَكِ أَخْرَجُونِي مَا سَكَنْتُ غَيْرَكِ**) یعنې که دې قوم والاؤ زۀ نۀ وې ویستلې نو زۀ به په بل ځاې کښې نه وې اوسیدلې او مابه په بل ځاې کښې سکونت نه وې اختیار کړې.

دغه ټوله شپه قریشو د نبی علیه السلام د کور نه محاصره کړې وه کله چې سحر شو نو د نبی علیه السلام کور ته دننه شو په کټ کښې علی رضی الله عنه موجود وو د هغهٔ نهٔ ئې تپوس اوکړو چې محمد څهٔ شو هغه ورته اووئیل چې ټوله شپه تاسو محاصره کړې وه او اوس وخت زما نه تپوس کوې هغه ته تاسو لاره ورکړه بیا ئې علی رضی الله عنه اووهلو او بیت الله ته ئې په راښکلو راښکلو بوتلو خو بیا هم ورته علی رضی الله عنه راز بیان نه کړو.

د دې نه بعد ابو جهل د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه کور ته راغې او د اسماء رضی الله عنه نه ئې تپوس اوکړو چې نبی علیه السلام چرته دې؟ هغې ورته جواب ورکړو چې ماته هیڅ معلومات نشته نو هغه ئې په سپیړه باندې اووهله او د هغې په غوږ کښې والې وې هغه ترینه لرې شوې او غوږ ئې وینې شو د اسماء رضی الله عنها په هجرت کښې ډیره قربانی او مجاهده ده کوم وقت چې نبی علیه السلام په غار ثور کښې وو نو اسماء رضی الله عنها درې ورځې مسلسل به غار ته د نبی علیه السلام خوا ته خوراک وړو او د اوښې د سورلې نه بغیر په خپلو خپو باندې به دغه غار ته تله او بیا به د شپې په وقت کښې دوباره خپل کور ته راتله.

نبی علیه السلام سره چې کله ابوبکر رضی الله عنه د کور نه هجرت د پاره لاړو نو د ابوبکر رضی الله عنه پلار ابو قحافه رضی الله عنه تپوس اوکړو چې ابوبکر رضی الله عنه خو هسې هم د کور نه تلې دې لیکن د خرچ د پاره ئې څه مال دولت پرېخودې دې او کهٔ نه؟

د هجرت نه مخکښې د ابوبکر رضی الله عنه په کور کښې څلور یا پنځه زره دراهم وو او دغه دراهم ابوبکر د خپل ځان سره وړې وې

اسماء رضی الله عنه هوښياره ښځه وه نو خپل نيکهٔ له ئې د کاڼړو يوه تيلۍ په لاس کښې ورکړه چې دا ئې پرېخودی ده.

ځکه نيکهٔ ئې ړوند شوې وو په دې طريقه اسماء رضی الله عنها خپل نيکه مطمئن کړو علماء فرمائي: چې ابوبکر رضی الله عنه کوم وقت ايمان راوړې وو نو دغه وقت د هغه سره څلويښت زره درهم وو او هغه ټول ئې د دين اسلام په خدمت کښې خرچ کړې وو.

او د هجرت نه مخکښې ئې دوه اوښې اغستې وې په اته سوه (800) درهمو باندې او په دغه اوښو باندې ئې بيا هجرت کړې دې.

ابوبکر صديق رضی الله عنه او نبی عليه السلام دواړه په دغه غار کښې وو کله چې مشرکانو ته معلومه شوه چې هغوی باهر شوې دی نو تفتيش او تالاش ئې شروع کړو، خلق خوارهٔ شو په دې وقت کښې څه مشرکان د غار خولې ته را دننه شو الله په خپل قدرت کامله سره لږ ساعت مخکښې د دغه غار په خولهٔ کښې يو جولاګی باندې جالو کې جوړ کړل او په يو کونتره باندې ئې انډې او جاله جوړه کړه نو مشرکانو چې دغه جالو کې او د کونترې انډې اوليدلې نو يقين ئې راغلی چې نبی عليه السلام او ابوبکر رضی الله عنه به په دې ځاې کښې وی، لږ ساعت مخکښې ابوبکر رضی الله عنه ژړل او نبی عليه السلام ته ئې اووئيل: چې مشرکان غار ته را دننه شو او زهٔ په خپل ځان باندې نه يرېږمه ليکن زما سره دا يره ده چې هسې نهٔ تاته څه نقصان درنکړی نبی عليه السلام ابوبکر صديق رضی الله عنه ته تسلی ورکړه او ورته ئې اووئيل: **مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللَّهُ ثَالِثُهُمَا** [بخاری]، يعنې ستا په هغه دوؤ کسانو باندې څه ګمان دې چې الله د هغوی سره دريم ملګرې دې بيا ابوبکر رضی الله عنه مطمئن شو قرآن پاک کښې الله د دغه خبرې تذکره کړې ده.

**إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا.** (توبہ: ۴۰)

يعنې کوم وقت چې نبی علیه السلام خپل هم سفر ملګری ته وئيل چې تهٔ مهٔ یریږه ځکه الله زمونږه ملګرې دې دا حالت په حضرت موسی علیه السلام باندې هم راغلې وو.

لیکن د هغهٔ جواب دا وو( **اِنَّ مَعِیَ رَبِّیۡ** ) یعنې زما سره د الله مدد او نصرت دې او کوم وقت چې دا حالت په نبی علیه السلام باندې راغلې وو نو د نبی علیه السلام جواب دا وو(**إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا**) یعنې الله زمونږ سره دې علماء فرمائی چې مخکښې امتونو کښې به صرف د پیغمبر سره د الله مدد او نصرت وو.

لیکن په دې امت کښې د الله مدد او نصرت د دې ټول امت سره دې او په دې آیت کښې بله خبره دا بیان شوې ده چې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه صحابیت په قرآن سره ثابت دې کله چې به ابوبکر رضی الله عنه د دې آیت تلاوت اوکړو نو قسم به ئې اوکړو چې دا الله زما په باره کښې ذکر کړې دی.

او انس رضی الله عنه فرمائی چې په هر انسان باندې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه محبت واجب لازم دې او که څوک د ابوبکر رضی الله عنه سره محبت نه کوی هغه د نبی علیه السلام امتی نهٔ دې.

تفسیر قرطبی ذکر کوی چې څوک د ابوبکر رضی الله عنه د صحابیت نه انکار کوی چې دا د نبی علیه السلام صحابی نهٔ دې نو دا انسان کافر دې ځکه دا انسان د قرآن نه انکار کوی.

مولانا ادریس کاندهلوی په سیرت مصطفی کښې ذکر کوی چې د صحابو نه انکار کول د انسان دین ته څهٔ نقصان ورکوی نو هغه فرمائی چې د کوم صحابی صحابیت په نص قرآن سره یا خبر متواتر سره ثابت وی

نو د دې نه انکار کول کفر دې او د کوم صحابی صحابیت چې په خبر واحد سره ثابت وی نو د دې نه انکار کول فسق او ګناه ده.

حضرت عمر رضی الله عنه فرمائی چې زما د ټول عمر عبادت که یو طرف ته کړې شی او د ابوبکر رضی الله عنه دغه د هجرت یو ورځ او شپه بل طرف ته کړې شی نو زما د ټول عمر عبادت ورته په مرتبه او مقام کښې نه رسیږی دا د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه شان او مقام دې.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپله لور اسماء رضی الله عنه د خوراک په خدمت باندې مقرره کړې وه او خپل وړوکې بچی عبد الله ئې په دې خدمت باندې مقرر کړې وو چې ته به د شپې په وقت کښې راځې او مشرکانو چې د ورځې څه مشورې یا فیصلې کړې وی د هغې حالات به مونږه ته بیانوې او خپل غلام عامر بن فهیره ئې په دې خدمت باندې مقرر کړې وو چې ګډې، چېلۍ به د شپې په وقت کښې د غار په خولهٔ کښې سر وې چې کله سحر شی نو بیا ئې بل ځاې ته بوزه دا ځکه چې په دې کښې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه دوه مقصدونه وو.

یو دا چې د شپې په وقت کښې به مونږه ته تازه پئ ملاویږی.

دویم دا چې کوم د قدمونو نشانات د اسماء او عبد الله رضی الله عنه په راتلو سره جوړ شوې وی نو دغه اثرات او نشانات به د ګډو، چېلو په سرولو سره ختم شی او مشرکان به نهٔ پوهیږی.

په څلورمه شپه نبی علیه السلام اسماء رضی الله عنه ته اووئیل چې ته به حضرت علی رضی الله عنه ته اووائی چې هغه کوم سړی مونږه مقرر کړې دې نو هغه ته پیغام ورکړه چې هغه راشی دغه سړې کافر وو او دهٔ ته د لارو په باره کښې ډیر زیات معلومات وو، آبادې او غیر آبادې

لارې ټولې ورته معلومې وې ابوبکر رضی الله عنه په اجرت باندې د دې د پاره مقرر کړې وو چې يوه غير آباده او غير مشهوره لاره باندې به مونږه مدينې ته داخل کړې .

علی رضی الله عنه دغه کافر ته پيغام ورکړو اسماء رضی الله عنه ورته دوه اوښان هم ورکړل او د شپې په وقت کښې دغه کافر د نبی عليه السلام په خدمت کښې غار ثور ته حاضر شو.

ابو بکر صديق او د هغه غلام عامر بن فهيره په يوه اوښه باندې ناست وو او نبی عليه السلام په بله اوښه باندې او د سمندر په کناره او غاړه چې کومه لاره وه په هغې لاره باندې مدينې طرف ته روان شو نن صبا دغه لارې ته طريق الهجرت وئيلې کيږی او د دغه کافر رهبر نوم عبد الله بن اريقطه وو.

د ابوبکر صديق رضی الله عنه نه که به چا تپوس وکړو چې دا څوک دې؟ ځکه هغه مشهور سړې وو نو ابوبکر صديق رضی الله عنه به جواب وکړو چې: رَجُلٌ يَهْدِيْنَا السَّبِيْلَ، يعنې دا يو سړې دې چې ماته لاره ښائی د ابوبکر مطلب دا وو چې دا ماته د دين لاره ښائی او هغه سړې به ترينه دا فهم کړه چې دا عام لارښودونکې دې دا د حضرت ابوبکر فهم او فراست وو چې هغه د دين د پاره استعمال کړې وو.

# د هجرت په لاره كښې حالات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾ (الانفال:۷۲)

د سورة انفال دوه آيتونه تلاوت كړې شو او په دې كښې الله د مسلمانانو د هجرت او نصرت په باره كښې تذكره كوى چې د مكې خلقو د اسلام د پاره هجرت كړې وو او د مدينې خلقو د هغوى نصرت كړې وو او د دې دواړو په باره كښې الله فرمائى: **أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا**، يعنې دا دواړه ډلې په حقه او رشتيا باندې مومنان او مسلمانان دى او د هجرت دا وضاحت او بيان شوې وو چې نبى عليه السلام غار ثور كښې پناه اغستې وه بيا د دغه ځاې نه په يكم محرم د پير په ورځ باندې روان شوې دې په لاره كښې يوه خيمه وه او په دغه خيمه كښې يوه زنانه وه چې د هغې نوم ام معبد دې بيا روسته ئې ايمان قبول كړې دې او ډيره شريفه زنانه وه او د مسافرو ميلمستيا به ئې هم كوله.

نبى عليه السلام او ابوبكر رضى الله عنه چې دغه مقام ته اورسيدل نو په دغه ځاې كښې ئې استوګنه اختيار كړه ابوبكر صديق رضى الله عنه د خوراك په باره كښې ترينه تپوس اوكړو چې ستاسو سره څه كهجورې يا پئ شته دې؟

ام معبد جواب ورکړو چې هر څه ختم شوې دی او که څه موجود وې زما سره نو ما به تاسو ته ستاسو د غوختلو نه بغیر هم درکړې وې په دغه خیمه کښې یوه کمزورې چیلۍ ولاړه وه نو ابوبکر رضی الله عنه تپوس اوکړو چې دا چیلۍ څۀ پئ نۀ ورکوی ام معبد اووئیل چې دا خو اوچه شوې ده او ډیره کمزورې ده نبی علیه السلام ورته اوئیل چې تۀ ماته د دې د لوشلو اجازت راکړه نو هغې ورته اجازت اوکړو نبی علیه السلام چیلۍ اولوشله او اول ئې ام معبد ته پئ ورکړل.

بیا ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ابوبکر ورته اووئیل چې تاسو اوڅکۍ نبی علیه السلام جواب ورکړو، ساقی القوم آخرهم شربا، یعنې څوک چې بل ته څۀ ورکوی نو خپله به ئې په آخره کښې څکی، بیا ئې دغه چیلۍ نوره اولوشله او ام معبد ته ئې لوښې ډک ورکړو چې دا به ستا په ضرورت کښې په کار راشی.

کوم وقت چې ابو معبد خپل کور ته راغې نو ام معبد ورته دغه ټوله واقعه د نبی علیه السلام بیان کړه ابو معبد چې دا خبرې واوریدی نو په افسوس سره ئې اووئیل چې دا به هغه د قریشو ځوان وی بیا ئې ام معبد ته اووئیل چې د هغه صورت شکل او سیرت راته بیان کړه نو ام معبد ورته اووئیل چې دا یو داسې عجیبه سړې دې چې که تۀ ورباندې یو ځل نظر اوکړې نو بیا به ستا زړۀ د هغۀ نه سترګې بل طرف ته نه ګرځوی او که هغه به خبرې کولې نو زړه به د هغه خبرو ته متوجې کیدو او داسې عجیبه انسان وو چې که یو کار ته به هغه اراده اوکړه نو خلقه به ورنه مخکښې شو او هغه کار به خلقو پخپله باندې کوو، دغه ام معبد بیا مسلمانه شوې ده او احادیث هم ورنه نقل دی.

نبی علیه السلام چې د دغه ځاې نه باهر شو نو را بغ مقام ورته وئيلې كيږی او دغه علاقه سمندر ته نزدې علاقه ده په دې علاقه كښې روان وو د دغه علاقې د سردار نوم سراقه بن جعشم دې دغه سراقه د خپلو ملګرو سره په مجلس كښې ناست وو او دوی ټولو ته دا معلومه وه چې قريشو د نبی علیه السلام په سر باندې سل (۱۰۰) اوښان مقرر كړې دی نو يو سړی ورته په دې مجلس كښې اووئيل چې د ساحل سمندر سره نزدې يوه وړوكې قافله روانه ده او دا معلوميږی چې دا محمد صلی الله عليه وسلم او د هغه ملګری دی دا ډير هوښيار سړې وو او پوهه شو نو د خلقو په مخكښې ئې دغه سړی ته اووئيل چې ما معلومات كړی دی او دا نبی علیه السلام نۀ دې بيا په خپله د مجلس نه لاړې او خپل اس باندې سور شو او د يو غوندۍ نه په پټه لاره باندې روان شو كوم وخت چې ساحل سمندر ته نزدې شو نو نبی علیه السلام ئې اوليدو، دا سراقه پخپله دا واقعه بيانوی چې كوم وقت ما نبی علیه السلام اوليدو نو زما اس او غورزيدو زۀ د اس نه كوز شوم او اس مې را اوچت كړو او بيا روان شوم.

حضرت ابوبكر رضی الله عنه روسته اوكتل او زۀ ئې او پيژندم چې دا خو سراقه را روان دې او د دۀ سره خپله توره او نيزه هم ده، نبی علیه السلام ابوبكر رضی الله عنه ته اووئيل چې مۀ ورته ګوره چې كله ډير رانزدې شو نو نبی علیه السلام دعا اوكړه چې الله د دۀ د شر نه زمونږه حفاظت اوكړه.

په دغه وقت كښې د سراقه د اس لاسونه يعنې مخكښې خپې په زمكه كښې دننه شوې نبی علیه السلام ته ئې آواز اوكړو او معافی ئې اوغوختله دغه شان معامله ورسره درې ځله اوشوه بيا ئې نبی علیه السلام سره وعده اوكړه چې زۀ تاسوته تكليف نه دركومه او كۀ ستا په

تالاش کښې څوک په دې لاره کښې وی نو زۀ به هغوی واپس کومه خو تۀ د الله نه دعا اوکړه چې الله ما د دې مصیبت نه خلاص کړی.

نبی علیه السلام د دۀ د پاره دعا اوغوختله او بیائی ورته اووئیل چې په هغه وقت کښې به ته څومره خوشحاله ئې چې الله تاته د کسری دَ بادشاه بنګړی درکړی، دغه وقت چې سراقه دا خبره واوریدله نو د هغۀ یقین وو چې دا به واقع کیږی نو د نبی علیه السلام نه ئې مطالبه اوکړه چې داخبره ماته په یو کاغذ یا څرمن باندې اولیکه او ماته او زما قوم ته امان راکړه ځکه دا ټولې خبرې به واقع کیږی.

نو ابوبکر رضی الله عنه دا خبرې ماته په یوه څرمن باندې اولیکلې بیا دا د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې واقع شوې وه کوم وقت چې فارس او روم فتح شوې وو او دا سراقه بیا دفتح مکې په موقع خبر شوې وو چې نبی علیه السلام مکې ته راغلې دې نو د نبی علیه السلام چارچاپیره مهاجرین او انصار وو هغه سره د ملاویدو موقع نه وه ما ورته هغه د امان والا خط مخامخ کړو نو نبی علیه السلام اجازت اوکړو او بیا په دغه وقت کښې ما ایمان قبول کړې وو.

دغه د مدینې په لاره کښې بریده اسلمی رضی الله عنه سره د اویاؤ ملګرو سره ایمان قبول کړې دې او دۀ نبی علیه السلام ته وئیلې وو چې ته مدینې ته دننه کیږه نو ستا سره یوه جهنډا په کار ده بیا نبی علیه السلام د خپل پګړۍ نه جهنډا جوړه کړه او هغه ته ئې ورکړه په دغه حالت کښې مدینې ته داخل شوې دې. والحمد لله رب العالمین.

# د نبی علیه السلام مدينې ته راتلل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ﴾ (التوبة: ۱۰۸)

د نبی علیه السلام د هجرت واقعه شروع وه کوم سفر چې نبی علیه السلام کړې وو دغه د هجرت سفر اتۀ (۸) ورځې وو په لاره کښې تکليفونه مشقتونه راغلې دی او نبی علیه السلام او ابوبکر رضی الله عنه برداشت کړې دی، د مدينې خلقو ته معلومه وه چې نبی علیه السلام به هجرت کوی نو هره ورځ به د مدينې نه باهر حرة مقام ته د نبی علیه السلام د استقبال د پاره اووتل او بيا به غرمه واپس کيدل چې نبی علیه السلام به ئی مونده نۀ کړو.

يوه ورځ د غرمې د ګرمی په وقت کښې د مدينې خلق واپس شو صرف يو يهودی وو چې هغه په يوه اوچته غونډۍ باندې ولاړ وو هغه د لرې نه اوليدو چې يوه سپينو جامو والا قافله راروانه ده نو خيال ئی اوکړو چې دا به نبی علیه السلام وی د مدينې خلقو ته ئی اواز اوکړو چې تاسو د کوم سړی انتظار کوی هغه راغلې، په دغه ځاې کښې يوه قبيله ده چې د هغې نوم بنو عمر و بن عوف دې د غه قبيله کښې د الله اکبر نعرې شروع شوې او صحابه دوباره د نبی علیه السلام د ملاقات د پاره واپس شو.

نبی علیه السلام د قباء په مقام کښې په بنی عوف قبیله کښې څو ورځې سکونت اختیار کړې وو ځکه دا یوه غټه او مضبوطه قبیله وه او کلثوم بن الهدم څو ورځې د نبی علیه السلام میلمستیا کړې وه او عبید بن ارطاة رضی الله عنه سره ابوبکر صدیق میلمه شوې وو.

ددې نه بعد علی رضی الله عنه سره ام المؤمنین سوده رضی الله عنها هم وه او هغوی څو ورځې بعد دغه قباء مقام ته راؤرسیدل او د کلثوم بن الهدم په کور کښې ئی اقامت اختیار کړو، په قباء کښې نبی علیه السلام اول اول مسجد جوړ کړو او دغه مسجد ته مسجد قباء وئیلې کیږی، قرآن کښې الله د دغه مسجد د شان تذکره کړې ده.

**لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ** (التوب:۱۰۸)

یعنې د کوم جماعت بنیاد چې په تقوی سره کیخودلې شوې دې هغه ډیر حقدار دې چې په هغې کښې قیام اوکړی شی او د دې فضیلت ځکه شته دې چې په اسلام کښې اول د دې مسجد بنیاد کیخودلې شوې دې.

او د دغه مسجد د اوسیدونکی خلقو هم الله تعریف کړې دی:

**فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا** .(التوبة:۱۰۸)

یعنې دې مسجد کښې اوسیدونکی خلق د سوچ او فکر په اعتبار سره هم پاک او صفا خلق دی، په یو روایت کښې دی چې نبی علیه السلام د عمرو بن عوف نه تپوس اوکړو چې ستاسو د پاک والی تذکره الله کړې ده ستاسو څه خاص عمل دې چې هغه تاسو کوی؟

نو عمرو بن عوف رضی الله عنه جواب وکړو چې مونږه د لوټی سره په اوبو باندې هم استنجاء کوو شرعی مسئله داده چې د وړوکی اودس ماتی نه بعد صرف په لوټه باندې اکتفاء کول هم جائز ده لیکن بهتره او غوره خبر داده چې دا دواړه جمع کړې شی، بیا نبی علیه السلام چې د قباء نه تشریف وړې دې نو په هفته کښې به یوه ورځ د پیر په ورځ خامخا قباء ته راتلو او په مسجد قباء کښې به ئې دوه رکعته مونځ کوو.

او حدیث کښې راځي چې څوک په مسجد قباء کښې دوه رکعته مونځ ادا کړې نو الله ورته د عمرې اجر وثواب ورکوی دا مسجد د نبی علیه السلام په دور کښې وړوکې وو بیا روسته پکښې وسعت کړې شوې دې.

د دې مسجد قباء سره نزدې منافقانو یو بل مسجد جوړ کړې وو او د هغې نوم مسجد ضرار دې دا د مدينې یو منافق ابو عامر جوړ کړې وو بیا روسته مرتد شو عیسائی شو او دا مسجد ئې د دې مقصد د پاره جوړ کړې وو چې نبی علیه السلام به د دې افتتاح د پاره راځي او په دې کښې به په یوه حیله باندې قتل کړې شی.

بل مقصد دا وو چې دا د منافقانو او کافرانو د پاره یوه پناه گاه او مورچه وه او په مسلمانانو کښې اختلاف پیدا کولو د پاره ئې د دې تعمیر کړې وو نو الله خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د وحی په ذریعه دا خبر ورکړو چې:

**لَاتَقُمۡ فِيۡهِ اَبَدًا**، یعنې په دې ځاې کښې هیڅ کله مۀ ودریږه د مسجد ضرار علاقه په دې دور کښې د قباء د اودس ځاې دې.

په دې قباء مقام کښې يو کوهی دې چې نبی علیه السلام به ورته راتلو او د دغه کوهی په غاړه به کیناستو د نبی علیه السلام یوه ګوتمه وه کله چې به نبی علیه السلام بادشاهانو ته خطونه لیږل نو په دغه ګوتمه به ئې وربانديږ مهر اولګولو دا ګوتمه بیا د عثمان رضی الله عنه سره وه او د عثمان رضی الله عنه نه دغه ګوتمه په دې کوهی کښې ورکه شوې ده او په دې کښې د الله خپل حکمت دې دغه کوهی ته تاریخ والا بئر خاتم وائی.

نبی علیه چې د قباء نه مدینې ته روان شو نو په لاره کښې وربانديږ د جمعې ورځ په بنو سالم قبیله کښې راغله او نبی علیه د جمعې مونځ په دغه قبیله کښې ادا کړې دې دغه ځاې کښې اوس يو مسجد دې او د دغه مسجد نوم مسجد جمعه دې او په دې خطبه کښې نبی علیه السلام د تقوی په باره کښې حکم او تاکید کړې وو او دا د دې وجې نه چې کله په يو انسان کښې تقوی موجود وی نو بیا هیڅ يو قانون یا عدالت یا پولیس ته څوک محتاجه نه وی دا نن صبا چې هر ملک نوې نوې قوانین د امن راوستلو د پاره جوړوی نو د دې بنیادی وجه هغه د تقوی فقدان او نش والې دې او په هغه معاشره کښې د امن دارومدار په تقوی باندې وو نو دې تکلیفونو ته پکښې هیڅ قسمه ضرورت نه وو کله کۀ چرته يو مجرم به جرم اوکړو نو پخپله به د الله د خوف د وجې نه عدالت ته پیش شو.            والحمد لله رب العالمین.

# آخری د وفات ورځې

اَلۡحَمۡدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الۡاَنۡبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصۡحَابِهِ الۡاَتۡقِيَآءِ اَمَّا بَعۡد !

فَأَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ۔

﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَنْقَلِبْ عَلَى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ﴾ (ال عمران:۱۴۴)

د نبی علیه السلام د سیرت سلسله شروع وه، کوم وقت چې نبی علیه السلام د حج نه واپس شو نو د چهارشنبې په ورځ نبی علیه السلام بیمار شوې وو او دغه بیماری بیا د نبی علیه السلام په وفات باندې تمام شوې ده، نبی علیه السلام په مرض الوفات کښې د جمعرات په ورځ د غرمې مونځ نه بعد یوه خطبه وئیلې وه او د سیرت په کتابونو کښې دې ته خطبه مرض الموت وئیلې کیږی.

په دې خطبه کښې نبی علیه السلام یوه خبره دا فرمائیلې وه:

إِنَّ اللَّهَ خَيَّرَ عَبْدًا بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ، فَاخْتَارَ ذٰلِكَ العَبْدُ مَا عِنْدَ اللَّهِ. (صحیح البخاری)

یعنې الله په خپل بندګانو کښې یو بنده ته د دنیا او آخرت په باره کښې اختیار ورکړو چې ته دنیا کښې اوسیدل غواړې او که آخرت ته تلل غواړې نو د الله دغه بنده آخرت په دنیا باندې غوره کړو، صحابه کرامو په ذهن کښې دا د یو عام سړی په باره کښې تصور وو لیکن ابوبکر

صدیق رضی الله عنه پوهه شو چې د دې نه مراد نبی علیه السلام بذات خود دې.

په دغه موقع ابوبکر صدیق رضی الله عنه وژړل او نبی علیه السلام ته ئې اووئیل: **فِدَاكَ اَبِيْ وَاُمِّيْ**، ائ د الله پیغمبره په تاسو باندې دې زما مور او پلار قربان شی نو صحابه کرام روستو پوهه شو چې دا د نبی علیه السلام خپل مرګ طرف ته اشاره ده نبی علیه السلام ابوبکر رضی الله عنه ته اووئیل چې په خپل ځان باندې رحم اوکړه او چپ شه بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل چې د مسجد طرف ته به هره دروازه اوکړکې بندیږی مګر د ابوبکر رضی الله عنه دروازه به نه بندیږی او دا خبره د ابوبکر رضی الله عنه په خلافت باندې یو دلیل هم دې چې د نبی علیه السلام نه بعد به د اخلیفه وی، نن صبا دغه ځاې ته باب ابی بکر رضی الله عنه وئیلې کیږی او د دې په دننه طرف ئې لیکلی دې هذه خَوْخَةُ ابی بکر یعنې دا د ابوبکر صدیق رضی الله عنه کړکی ده.

بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل چې: د مال او محبت په لحاظ سره د ټولو نه زیات احسان زما سره ابوبکر رضی الله عنه کړې دې او ما د هر انسان د هغهٔ د احسان بدله هغه ته ورکړه لیکن د ابوبکر د احساناتو بدله به هغهٔ ته الله ورکوی او نبی علیه السلام اوفرمائیل :

**لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ أُمَّتِيْ خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ وَلَكِنْ أَخِيْ وَصَاحِبِي.**

(صحیح البخاری)

یعنې که د دین راز دار ما څوک نیولې نو ما به ابوبکر د دین راز دار نیولې وې د راز دار مطلب دې چې صرف هغهٔ ته دین خودلې شوې

او بل چاته نه وی ښودلې شوې لیکن ابوبکر زما رور دې د الله په دین کښې.

او بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل چې مخکښې قومونو والا الله ځکه هلاک او تباه کړې وو چې هغوی د پیغمبرانو قبرونه د سجدې ځاې ګرځولې وو.

اَلَا فَلَا تَتَّخِذُوْا قَبْرِیْ مَسْجِدًا. یعنې زما قبر نه مسجد جوړ نکړیـ او زۀ تاسو د دې نه منع کومه نبی علیه السلام فرمائی چې د الله لعنت دې وی په یهودو او نصاراؤ باندې ځکه هغوی د خپلو پیغمبرانو قبرونه مسجدونه جوړ کړې وو او خبردار زما د قبر نه بت مۀ جوړویـ چې د دې عبادت شروع کړې شی د دې نه بعد نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل ائ صحابوو ځومره پیغمبران چې الله دنیا ته مبعوث کړې وو هغوی ټول وفات شوې دی او یا به وفات کیږی.

په دی دنیا کښې هیڅ یو انسان همیشه نشی پاتې کیدې الله فرمائی:

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ. (الانبیاء:۳٤)

یعنې هیڅ یو انسان د پاره ما په دې دنیا کښې همیشه ژوند نه دې ګرځولې او د الله سره به زۀ هم ملاقات کومه او تاسو به هم ورسره ملاقات کویـ نو په دې باندې مۀ خفه کیږیـ نبی علیه السلام د دې خطبې نه بعد خپل کور ته تشریف یوړو او بیا نبی علیه السلام د ماښام مونځ ته راوتې دې او د سورة مرسلات تلاوت ئیـ په دغه مونځ کښې کړې دې.

د ماسخوتن مونځ په وقت کښې په نبی علیه السلام بې هوشی راغله او پس د هوش نه تپوس به ئې کوو چې:

**اصلی الناس**، یعنې دې خلقو مونځ کړې دې او کۀ نه دې؟ صحابه کرامو جواب ورکړو چې ائ د الله پیغمبره هغوی مونځ نۀ دې کړې، **وهم ینتظرونک**، او ستاسو انتظار کوی نبی علیه السلام حکم اوکړو چې تاسو اوبۀ راوړې نبی علیه السلام وربانديې غسل اوکړو، د دې نه بعد په نبی علیه السلام دوباره بې هوشی راغله بیا چې هوش کښې راغلو نو نبی علیه السلام اووئیل چې تاسو ابوبکر رضی الله عنه ته اووائی: **فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ**، چې ابوبکر دې خلقو ته مونځ اوکړی عائشه رضی الله عنها نبی علیه السلام ته وائی چې ابوبکر ډیر نرم زړۀ والا دې او هغه ستا په دې مقام کښې نشی ودریدې نبی علیه السلام دوباره حکم اوکړو چې ابوبکر دې مونځ اوکړی بیا ابوبکر رضی الله عنه اول مونځ دجمعې په شپه باندې کړې دې.

او د نبی علیه السلام په ژوند کښې په مسجد نبوی کښې ابوبکر رضی الله عنه او ولس (۱۷) مونځونه کړی دی او په دې کښې دلیل دې چې ابوبکر صدیق د نبی علیه السلام برحق خلیفه دې.

نبی علیه السلام د وفات نه یو ورځ مخکښې د هغه طبیعت برابر وو او هغه اووئیل چې ما د غرمې مونځ د پاره باهر کړې نو نبی علیه السلام د دوؤ کسانو په تعاون سره را باهر شو ابوبکر صدیق رضی الله عنه د مونځ د پاره مخکښې شوې وو.

هغه چې نبی علیه السلام اولیدو نو روسته شو نبی علیه السلام ورته اواز ورکړو، **مکانك یا ابا بکر** اۍ ابوبکر په خپل ځاې باندې اودریږه ابوبکر بیا هم روسته شو او نبی علیه السلام مخکښې په ناسته باندې جمع ورکړه او ابوبکر رضی الله عنه به د نبی علیه السلام تکبیر نقل کوو نبی علیه السلام چې د مونځ نه فارغه شو نو د ابوبکر رضی الله عنه نه ئې تپوس اوکړو چې ته ولې روسته شوې ابوبکر رضی الله عنه ورته اووئیل اۍ د الله پیغمبره د ابو قحافه ځوی د پاره دا اختیار نشته چې هغه د نبی علیه السلام په حاضرۍ کښې مونځ ته مخکښې شی.

دا د ابوبکر شان دې او دا د صحابه کرامو ادب دې د نبی علیه السلام سره د وفات د ورځې په سحر باندې نبی علیه السلام د خپلې حجرې نه په کړکۍ کښې اوکتل چې ابوبکر رضی الله عنه مخکښې ولاړ دې او هغه پسې صحابه کرام ولاړ دی نو نبی علیه السلام په دغه منظر باندې خوشحاله شو او مسکې شو.

نزدې وه چې صحابه کرامو د ډیرې خوشحالۍ د وجې نه مونځ مات کړې وې لیکن نبی علیه السلام دوباره کړکۍ بنده کړه صحابه کرام وائی چې په دغه ورځ د نبی علیه السلام مخ مبارک دومره روښانه او ښائسته وو چې ګویا دا د قرآن پاک یوه پاڼړه ده، د مانځه نه بعد علی رضی الله عنه صحابوو ته اووئیل چې د نبی علیه السلام طبیعت ښه دې ابوبکر رضی الله عنه چې د نبی علیه السلام حالت اولیدو نو د نبی علیه السلام نه ئې اجازت واغستو که ستاسو خوښه وی نو زۀ به کور ته لاړ شمه ځکه د ابوبکر یو کور د مدینې نه باهر وو.

د دې نه بعد فاطمة الزهراء رضی الله عنه د نبی علیه السلام کور ته تشریف راوړو او د نبی علیه السلام حالت دوباره د نمر ختو سره خراب شو نبی علیه السلام فاطمه رضی الله عنها ته یوه خبره اوکړه نو هغوی اوژړل دوباره ئې ورته دویمه خبره اوکړه نو بیائې اوخاندل، عائشه رضی الله عنها فرمائی چې ما ترینه تپوس اوکړو چې تا ولې اوژړل او اوخاندل نو فاطمه رضی الله عنها جواب راکړو چې ما ځکه اوژړل نبی علیه السلام ماته اووئیل چې زۀ د دنیا نه روان یمه او ما دوباره ځکه اوخاندل چې نبی علیه السلام ماته اووئیل چې زما د مرګ نه بعد به اول زما سره تۀ ملاقات کوې.

بیا په نبی علیه السلام باندې بې هوشی راغله چې نبی علیه السلام په هوش کښې راغلې نو دا الفاظ ئې ووئیل:

**اللّٰهُمَّ أَعِنِّيْ عَلٰى سَكَرَاتِ الْمَوْتِ.** [ابن ماجہ]

اۓ الله زما سره د دې مرګ په سختو کښې امداد اوکړه او بیا ئې اوفرمائیل: **لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ.** [بخاری]

د الله نه علاوه بل څوک حاجت روا نشته بې شکه د دې مرګ ډیره سختی ده نبی علیه السلام چې کوم وقت ددعوت شروع کړې وه نو دا ئې فرمائیلی وو: **يَا أَيُّهَا النَّاسُ قُوْلُوْا: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ تُفْلِحُوْا** [مسند احمد]

اوکوم وقت چې وفات کیږی نو فرمائی لا اله الا الله ان للموت سکرات، اشاره وه دې خبری ته چې د انسان ژوند اومرګ دواړه به د لا اله الا لله سره وی.

د دې نه بعد د عائشه رضی الله عنه رور عبد الرحمان رضی الله عنه راغې او د هغهٔ سره مسواک وو نبی علیه السلام دغه مسواک ته کتل زهٔ پوهه شوم چې نبی علیه السلام مسواک غواړی نو ما د هغه نه مسواک واغستو او نرم مې کړو بیا ما هغه نبی علیه السلام ته ورکړو نبی علیه السلام دغه مسواک استعمال کړو او دا د عائشه رضی الله عنه یو فضیلت هم دې عائشه رضی الله عنه فرمائیل چې د نبی علیه السلام وفات زما په غیږه او زما په حجره کښې شوې دې او په آخری وقت کښې الله زما او د نبی علیه السلام لاړی یو ځاې کړې دی.

بیا نبی علیه السلام آخری خبره دا کړې ده

﴿لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ﴾ (بخاری)

یعنې د الله لعنت دې وی په یهودو او نصاراو باندې ځکه هغوی د خپلو پیغمبرانو قبرونه مسجدونه گرځولی وو او بیا ئې اوفرمائیل:

﴿الصَّلَاةَ الصَّلَاةَ، وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ [مسند احمد]

ائ خلقو د مونځ پابندی کوئ او د خپلو غلامانو او وینزو سره ښهٔ سلوک او احسان کوئ نبی علیه السلام اول د توحید په باره کښې وصیت اوکړو دا ځکه چې توحید بنیاد دې بیا چې عقیده صحیح او برابره وی نو د مونځ ډیر زیات خیال کول پکار دی .

ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی چې الله تر هغه وقت پورې د هیڅ یو پیغمبر روح نه قبض کوی تر څو پورې چې د هغهٔ نه اجازت ئې نه وی اغستې یا ئې هغهٔ ته د هغه مقام په جنت کښې ښودلې نه وی.

په دغه وقت کښې جبريل راغې او نبي عليه السلام ئے ته اووئيل چې زما سره ملک الموت هم موجود دې او د هغه پيغام دا دې چې دلته دنيا کښې اوسيدل غواړې او کهٔ جنت ته تلل غواړې ځکه الله ستا د ملاقات خواهش کوی، نبي عليه السلام اوفرمائيل: ﴿اَللّٰهُمَّ بِالرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى﴾ يعنې الله زه ستا سره په جنت الفردوس کښې ملاقات غواړمه عائشه رضی الله عنها فرمائی چې کوم وقت نبي عليه السلام وفات شو نو زمونږه په حجره کښې يوه خوشبو خوره شوه.

صحابه کرام په دې خبر اوريدو سره ډير زيات خفه شو تر دې پورې چې د بعضې صحابوو حواسو کار پريخودو په دغه حالت کښې عمر رضی الله عنه په مسجد کښې ولاړ وو او اعلان ئې اوکړو که چا اووئيل چې نبي عليه السلام وفات شوې دې نو په دې توره باندې به هغه برابر کړم نبي عليه السلام وفات شوې نه دې بلکه هغه د خپل رب د ملاقات د پاره تلې دې لکه څنګه چې موسی عليه السلام د خپل رب د ملاقات د پاره تلې دې ، ابوبکر رضی الله عنه چې خبر شو نو هغه د عائشه رضی الله عنها حجرې ته دننه شو او د نبي عليه السلام نه ئې څادر لرې کړو ورته معلومه شوه چې نبي عليه السلام وفات شوې دې نو دائی اووئيل: طِبْتَ حَيًّا وَمَيِّتًا، يعنې ستا ژوند او مرګ دواړه ډير پاکيزه وو او د دې نه بعد مسجد ته را دننه شو او د قرآن دا آيت ئې تلاوت کړو.

﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَنْقَلِبْ عَلَى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ﴾
(ال عمران:۱۴۴)

یعنې محمد صلی الله علیه وسلم د الله پیغمبر دې کۀ چرې دې وفات شی نو تاسو به د دین نه نۀ اوړې او په دین باندې به ثابت قدمه او مضبوط ولاړ ئې. څوک چې د خپل دین نه روسته شو دغه انسان الله ته هیڅ څه ضرر نشی ورکولے.

بیا ئې اوفرمائیل چې:

﴿مَنْ كَانَ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ، وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللهَ فَإِنَّ اللهَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ﴾ (صحیح البخاری)

یعنې څوک چې د محمد صلی الله علیه وسلم عبادت کوی نو محمد صلی الله علیه وسلم وفات شوې دې او څوک چې د الله عبادت کوی نو الله ژوندې دې او په هغه باندې زوال یا مرګ نه راځی، عمر رضی الله عنه فرمائی چې دا ایتونه ابوبکر صدیق رضی الله عنه اووئیل نو زما دا ګمان پیدا شو چې ګویا دا آیتونه همدا وقت الله نازل کړل ځکه په دې سره په صحابوو کښې استقامت پیدا شو.

بعضې صحابه کرام د نبی علیه السلام په کفن دفن کښې مشغوله وو او انصار صحابه د بنی ساعده په باغ کښې راجمع شوې وو او د سعد رضی الله عنه سره ئې بیعت کوو، عمر رضی الله عنه ته معلومه شوه نو ابوبکر رضی الله عنه ئې د ځان سره په زوره روان کړو او دغه باغ ته ئې دننه کړو بیا ئې انصارو ته اووئیل چې د نبی علیه السلام نه بعد د بیعت ډیر حقدار ابوبکر رضی الله عنه دې ځکه دا نبی علیه السلام په خپل ژوند کښې امام مقرر کړې دې او دۀ د نبی علیه السلام سره هجرت کړې دې او نبی علیه السلام فرمائی چې خلفاء به د قریشو نه

وی نو انصارو په خپله رضامندۍ سره د ابوبکر رضی الله عنه په لاس بیعت اوکړو او بیا نورو صحابه کرامو بیعت اوکړو.

د دې نه بعد دَ نبی علیه السلام د غسل او کفن سلسله شروع شوه په کفن کښې علی، فضل بن عباس، قثم او اسامه بن زید رضی الله عنه شریک وو.

بیا صحابوو په مینځ کښې اختلاف پیدا شو چې د نبی علیه السلام نه د غسل د پاره کپړی او ویستلې شی او کۀ نه د کپړو سره ورته غسل ورکړی شې نو یو غیبی آواز اوکړې شو چې دا کپړې مۀ لرې کوی د دې سره ورته غسل ورکړی د دې نه بعد بیا اختلاف وو چې نبی علیه السلام کوم ځاې کښې دفن کړې شی نو ابوبکر رضی الله عنه اووئیل چې نبی علیه السلام فرمائی:

پیغمبر چې په کوم ځاې وفات شی نو په همدغه ځاې کښې به دفن کیږی بیا نبی علیه السلام د پاره لحد تیار کړې شو او د دفن نه بعد به لس لس کسان راتلل او د نبی علیه السلام په قبر به ئې جنازه کوله اول د نبی علیه السلام د خاندان خلق راغلل بیا انصار او بیا نور عام صحابه کرام.

والحمد لله رب العالمین.

# شان د صحابه کرامو

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاعْلَمُوْا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْ يُطِيْعكم فى كَثِيْرٍ مِنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَ الْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَان اُولٰئِكَ هُمُ الرَّاشِدُوْن﴾ (حجرات:۷)

د الله تعالیٰ د وجود او د وحدانیت سره سره د الله تعالیٰ په رسولانو باندې ایمان لرل هم ضروری دی چې د هغه هستو د وجے نه د الله تعالیٰ فرامین مونږ انسانانو ته رارسیدلے دی.

الله تعالیٰ په مخلوق باندې ډیر لوے احسانات کړے دې خو په هغه انعاماتو کښې یو انعام د انبیاؤ سلسله جاری کول وو چې د اٰدم علیه السلام نه واخله تر د نبی کریمؐ پورے جاری وساری وه.

د دوی انتخاب الله تعالیٰ د خپلو پیغاماتو رسولو د پاره کړے وو چې د الله تعالیٰ پیغامات انسانانو ته اورسی. نو د دغے مشن په تکمیل کښې چې د دغے پیغمبرانو سره چا ملګرتیا کړے ده نو هغوی ته اصحاب الرسول وئیلے کیږی.

اصحاب د صاحب جمع ده او یو ځاې پاتے کیدونکی ته وئیلے کیږی.

قرآن کریم کښې هم دا اصطلاح استعمال شوے ده لکه اصحاب الکهف، اصحاب السفینة، اصحاب مدین، اصحاب النار او اصحاب الجنة وغیره.

د شریعت په اصطلاح کښې صحابی د نبی کریم د هغه قدوسی جماعت نوم دے چې په نبی کریم ئي په حالت د لیدلو کښې ایمان راؤړے دے او په دغه حالت کښې د دنیا نه وفات شوے وی.

دا رنګ د اصحابو دا اصطلاح د نبی کریم نه علاوه د نورو پیغمبرانو د ملګرو په باره کښې هم استعمال کړے دے.

د موسی علیه السلام د ملګرو د قول حکایت کوی نو فرمائي.

قَالَ أَصۡحَابُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ [الشعراء:61]

یعنې د موسی علیه السلام ملګرو اووئیل چې مونږ خو راګیر شو.

دارنګ د نبی کریم صحابو ته هم د صحابی لفظ استعمال شوے دے.

د هجرت په موقع نبی کریم په غار ثور کښې مقیم وو چې مشرکین د هغه په تلاش کښې د غار خولے له راغلل نو ابوبکر وارختا شو نو نبی کریم ورته تسلی ورکړه.

الله تعالیٰ فرمائی. إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا (توبه:٤٠)

یعنې کله چې نبی کریم خپل ملګری ته اووئیل چې مهٔ خفه کیږه الله تعالیٰ زمونږ مدد ګار دے.

د دے اٰیت نه لاندې امام قرطبی لیکلے دی چې څوك د ابوبکر د صحابی والی نه منکر وی نو هغه په دے اٰیت باندې کافر کیږی.

شیخ عبد القادر جیلانی د صحابی تعریف کوی نو فرمائی.

کو م صحابی چې په نبی کریم ایمان راؤړی او لا نور اعمال ئې نه وی کړې او جهاد کښې شامل شی نو د هغه د اسپے د سپیږمو دوړو ته هم عبد القادر نه رسی.

حضرت مجدد الف ثانی په المکتوبات کښې فرمائي.

هیچ ولی بمرتبه صحابی نه رسید اویس قرني باٰ ا رفعت شان که بشرط صحبت خیرالبشر نه رسیده بمرتبه ادنی صحابی نه رسد.

یعنې هیڅ یو ولی د صحابی مقام ته نه رسی. اویس قرنی سره د بزرګۍ نه د ادنی صحابی مقام ته ځکه نه رسی چې د نبی کریم صحبت ورته نه دے حاصل.

عبد الله بن مبارك نه د معاوية او عمر بن عبدالعزیز په باره کښې تپوس اوشو چې کوم پکښې افضل دے؟

نو دهٔ جواب ورکړو چې عمر بن عبد العزيز د معاوية د اسپے چخو ته هم نه رسی.

**اَلْغُبَارُ الَّذِیْ دَخَلَ اَنْفَ فَرَسِ مُعَاوِيَةَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ خَيْرٌ مِنْ عُمَرَبْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ كَذَا كَذَا مَرَّةً**

یعنې هغه دوړه چې د معاوية د اسپے په پوزه کښې پرته وه نو هغے ته هم عمر بن عبد العزیز نه شی رسیدے.

صحابی د پاره دوه شرطه وو.

یو ایمان او دویم معیت او صحبت

د هر پیغمبر د ملګرو دپاره دا دوه شرطونه شته دے.

الله تعالیٰ فرمائي.

**فَاَنْجَيْنَاهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا.**(اعراف:۷۲)

یعنې مونږ دے پیغمبرانو او هغه کسانو ته چې د دوی معیت کښې دی نو مونږ هغوی لره نجات ورکړو د وجے د خپل رحمت د وجے نه.

دا رنګ الله تعالیٰ فرمائي.

**مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ.**(فتح:۲۹)

يعنې محمد د الله تعالیٰ رسول دے او هغه کسان چې د دۀ ملګری دي نو د هغوی هم لوے مقام دے.

## طبقات د صحابو:

صحابه کرام د مختلفو پهلو ګانو د وجے نه په دولس طبقو کښې تقسیم دي.

څوك په هجرت کښې مقدم دی نو څوك په جها د کښې نو څوك په صحبت د نبی کریم کښې.

الله تعالیٰ هم فرمائی. لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا.(حدید:۱۰)

يعنې د فتح مکے نه مخکښې چې چا انفاق يا جهاد کړے دے نو هغوی د نورو سره برابر نه دي بلکه د هغوی لوے درجے دی.

باقی ټول صحابه د الله تعالیٰ لوے برګزيده هستئ دی.

الله تعالیٰ فرمائی. وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ.(حدید:۱۰)

يعنې د ټولو سره الله تعالیٰ د جنت دعوې کړے دی.

## د صحابه کرامو تعداد:

د دين اسلام د حقانيت وجه دا ده چې د نبی کریم په دعوت څه د پاسه يو لاکهه کسان مومنان شوے وو او دغه د صحابه کرامو تعداد دے. په لږ وخت کښې دا دومره تعداد جوړيدل د نبی کریم د دعوت د حقانيت غټه نخښه ده.

په جنګ بدر کښې درے سوه او ديارلس صحابه او بيا په غزوه حنين کښې لس هزار او بيا په غزوه تبوك کښې ديرش زره او د حجة الوداع په موقع څه د پاسه يو لاکهه وو.

اٰخرى صحابى ابو الطفيل په سلمه هجرۍ کښې وفات شوے وو يعنې سو هجرۍ نه بعد صحابه کرام ختم شوے وو.

د دې وينا ابو الطفيل هم کړے وه.

## شان صحابه:

الله تعالىٰ د دے بيان په دے الفاظو کوى. **اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ**.(بقره:۱۳)

يعنې د صحابو د ايمان په شان ايمان راؤړئ.

دا رنګ سورة بقره کښې ئې معيار د ايمان ګرځولے دے.

**فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا**.(بقره:۱۳۷)

يعنې که چا د دوى د ايمان په شان ايمان راؤړو نو په هدايت به وى.

دارنګ الله تعالىٰ د دوى د ايمان په باره کښې فرمائي.

**وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ** (حجرات:۷)

يعنې الله تعالىٰ تاسو ته ايمان ډير محبوب څيز ګرځولے دے او الله تعالىٰ ستاسو په زړونو کښې ايمان ښائسته کړے دے او کفر ، فسق او نافرمانى ئې ستاسو په زړونو کښې قابل نفرت ګرځولے دى.

## قربانئ د صحابو:

صحابه کرامو د دين اسلام د پاره خپل ځانونه ، مالونه، جانونه، کورونه، رشته دارئ او وطنونه ئې د دين د پاره قربان کړے وو.

د غزوه تبوك په موقع په سخته ګرمئ کښې ، دکهجورو د فصل د پخيدو په وخت کښې، سفر په صحراء کښې او سامان او توښه کمه، په

ټوله ورځ کنبې یوه کهجوره به ملاویده، او یو صحابی فرمائي چې د دے یوے کهجورے احساس او قدر مونږه ته هغه وخت اوشو چې هغه یوه کهجوره هم نه وه.

دا رنګ یو یتیم صحابی د هجرت اراده اوکړه نو ترۀ ترینه هر څه قبضه کړل او تردے چې د جسم لباس ئې ترے هم واغسته او چې کله لنګ ته ئې لاس کړے نو ترۀ ته ئې اوکتل چې تره کنبې به مې حیاء راشی خو هغه خپله اراده بدله نه کړه او دے بربنډ خپل کور ته راغے نو مور ورله کمبل ورکړه.

## دا صحابی سفر کوی او مدینې ته اورسیدو

د تبوك په موقع هم دا صحابی د ډیرے تندے د وجے نه وفا ت شو کله چې صحابو دفن کوو نو نبی کریم راغے او قبرنه ئې نور صحابه بهر کړل او وے فرمائیل چې دا صحابی به زۀ په خپل لاس خخوم.

دا د صحابه کرامو قربانۍ وے چې مونږ ته ئے دا شریعت محفوظ رارسولے دے او د دے د پاره ئې قربانئ ورکړے دی.

اللّٰه تعالیٰ دے مونږ ته د صحابه کرامو سره صحیح مینه رانصیب کړی.
امین

# د صحابه کرامو شان او مقام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاعْلَمُوْا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِى كَثِيْرٍ مِنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِىْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَ الْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ اُولٰئِكَ هُمُ الرَّاشِدُوْن﴾ (حجرات:۷)

د الله تعالیٰ د وجود او د وحدانیت سره د اٰخرت او رسالت عقیده لرل هم لازم دی. خو د دے سره سره د هغه برگزیده خلقو سره چې د چا د وجے نه اسلام د دنیا گټ گټ ته رسیدلے دے او د رسول الله فرامین مونږ ته رارسیدلے دی. د هغوی احترام په مونږ لازم دے. چې هغه بزرگو هستو ته صحابه کرام وئیلے شی.

کو م پیغامات چې به انبیاء کرامو ته د الله تعالیٰ نه رارسیدل نو هغے ته وحی وئیلے کیږی او د دے د رسولو د پاره چې الله تعالیٰ د کومو بزرگانو انتخاب کړے وو نو هغوی ته رسولان وئیلے کیږی. بیا چا چې د دے مسئلو د خورولو د پاره قربانئ ورکړے دی نو هغوی ته اصحاب رسول الله وئیلے کیږی.

اصحاب د صاحب جمع ده او صاحب یو ځائ اوسیدونکی ملگری ته وائي.

د شریعت په اصطلا ح کښې صحابی د نبی هغه خصوصی جماعت ته وئیلے کیږی چې په نبی د وخت ئي په حالت د لیدلو کښې ایمان راوړے وی او بیا په دغه حالت کښې وفات شوے هم وی.

د نبی کریم د ملګرو نه ماسواء د نورو پیغمبرانو ملګرو د پاره هم د صحابی اصطلاح استعمال شوے د ه.

د موسی علیه السلام د قوم په باره کښې راځي.

قَالَ أَصْحَابُ مُوسَىٰ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ [الشعراء:٦١]

یعنې اووئیل ملګرو د موسی چې مونږ خو ګیر شو.

دا رنګ د نبی کریم ملګرو د پاره هم د صحابي لفظ استعمال شوے دے.

سورة الانفال کښې فرمائي.

إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا.(توبه:٤٠)

یعنې کله چې نبی کریم خپل ملګری ابوبکر ته اوفرمائیل چې مۀ خفه کیږه. الله تعالیٰ زمونږ سره ملګرے دے.

علماء کرام د دے صحابی شپږ تعریفونه کوی خو د جمهورو په نیز دغه تعریف مشهور دے.

عبد القادر جیلانی فرمائي چې کوم سړے چې ایمان راؤړی او د مونځ وغیره کولو نه مخکښې جنګ له لاړ شی نو د هغے د اسپے د خپو نه چې کوم ګردوغبار اوچتیږی هغه هم د عبدالقادر جیلانی نه بهتر دے.

مجدد الف ثانی په خپل کتاب المکتوبات کښې لیکي.

هیچ ولی بمرتبه صحابی نه رسید .

یعنې هیڅ یو ولی د ادنیٰ صحابی درجے ته نشی رسیدے.

او بیا فرمائي چې اویس قرنی چې کله نبی کریم نه دے لیدلے نو اګرچه لوے تابعی دے خو د ادنیٰ صحابی درجے ته نه رسی.

عبد الله بن مبارك نه چا تپوس اوكړو چې په معاوية او عمر بن عبد العزيز كښې كوم يو لوے انسان وو؟

عبد الله بن مبارك ورته جواب كښې اوفرمائيل چې كوم غبار چې د نبى كريم په ملګرتيا كښې د معاوية د اسپے پوزے ته ننوتے وو نو هغے ته هم عمر بن عبد العزيز نه رسى.

امام بخارى په كتاب الايمان كښې په دے باندې بابونه تړلے دى.

**حُبِّ الأَنْصَارِ مِنَ الإِيْمَانِ.** (بخارى)

يعنې د صحابه كرامو سره مينه ساتل د ايمان اهم جزء دے.

د صحابى د پاره دا دوه شرطه دى يو ايمان او بل معيت د پيغمبرانو.

نو كه چا ايمان راوړے دے او د پيغمبرانو معيت ئي اختيار كړے دے نو الله تعالىٰ كامياب كړے دى.

الله تعالىٰ فرمائى. **فَأَنْجَيْنَاهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا.** (اعراف:۷۲)

يعنې مونږ دے پيغمبر او د دۀ ملګرو ته په خپل رحم نجات وركړو.

دا رنګ د نبى كريم د ملګرو باره كښې هم الله تعالىٰ فرمائې.

**مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ** (فتح:۲۹)

يعنې محمد د الله تعالىٰ رسول دے او هغه كسان چې د دۀ سره دى نو هغه هم ډير لوے خلق دى.

د ابوجهل ، ابوطالب وغيره معيت وو خو ايمان ئي نه وو نو ځكه ورته صحابى نه وئيلے كيږى.

دا رنګ اويس قرنى ايمان راوړے وو خو معيت نيشته نو ځكه دۀ ته هم صحابى نه وئيلے كيږى.

طبقات د صحابه كرامو دولس ذكر كړے شوے دى.

سورة حديد کښې الله تعالىٰ فرمائي.

**لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا** .(حديد: ۱۰)

يعنې د فتح مکې نه مخکښې چې کوم صحابو خرچ کړے دے او جهاد ئې کړے دے نو د دوی لويه درجه ده.

خو بيا د عام صحابه کرامو په باره کښې الله تعالىٰ فرمائي.

**وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ**.(حديد:۱۰)

يعنې که د فتح مکے نه مخکښې ايمان راؤړونکی صحابه دی او که روستو ټولو سره الله تعالىٰ د جنت وعده کړے دے.

د صحابه کرامو تعداد تقريبا د يولاکهه نه زيات دې. دا د نبی کريم خصوصيت وو چې دومره کم وخت کښې دومره ډيرو صحابو ايمان راؤړے وو او بيا د دنيا ګټ ګټ ته د نبی کريم دعوت اورسيدو. د نبوت په پنځلسم کال په جنګ بدر کښې درے سوه او ديارلس صحابه وو. د فتح مکے په موقع کښې لس زره او د خطبه حجة الوداع په موقع کښې يو لاکهه وو.

قرآن پاك کښې الله تعالىٰ صحابه کرام د نورو مسلمانانو د پاره معيار د ايمان ګرځولے دے.

**اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ** (بقره:۱۵)

يعنې تاسو هم د صحابه کرامو په شان ايمان راؤړئ.

دا رنګ فرمائي.

**فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا الخ**.(بقره:۱۳۷)

يعنې که دوی د ستاسو په شان ايمان راؤړو نو دوی به په نيغه لار شی.

کله الله تعالىٰ فرمائي.

**أُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**.(بقره:٥)
يعنې هم دوی فلاح موندونکی دی.
كله فرمائي **أُولَٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ**.(التوبہ:٢٠)
يعنې هم دوی په صحيح لاره روان دی.
كله فرمائي **أُولَٰٓئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ**.(حجرات:٧)
يعنې هم دوی کامياب دی.
كله فرمائي **رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ**.(توبه:١٠٠)
يعنې الله تعالىٰ د دوی نه او دوی د الله تعالىٰ نه راضی دی.
كله فرمائي **أُولَٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ** (محادله:٢٢)
يعنې دا  دالله تعالىٰ  ډله ده.
او كله ئې شان په دے الفاظو بيانوي
**وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِيْ قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُولَٰٓئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ**.(حجرات:٧)
يعنې الله تعالىٰ دوی ته ايمان خوښ کړے دے او د دوی په زړونو کښې ئې ښائسته کړے دے او کفر، نافرمانی او فسق ئې د دوی په نظر کښې ناکاره کړے دی.
د صحابه کرامو قربانو ته ګوره.
د تبوك په موقع کښې روميانو سره جنګ وو، سفر د يو مياشت، ګرمی انتهائی سخته، کهجورے او فصل تيار، خو چې كله حكم اوشو دجهاد نو ديرش زره صحابه کرام تيار شو.
سخته ګرمی او په يو اوښ باندې شپږ ديرش صحابه، په څليريش ګهنټو کښې يوه کجهوره خوړل، دا تکاليف صحابو برداشت کړے وو.

د چا صحابی نه یوکس تپوس اوکړو چې په یو کهجوره تاسو څنګه ګزاره کوله هغه ورته اوؤئیل چې د یوے کهجورے قدروقیمت اندازه راته هله اوشوه چې کله دا یوه کهجوره هم نه وه.

یو صحابی د ایمان راؤړلو په اراده مدینے ته راروانیدۀ نو ترۀ نه ئې اجازت اوغوښتو، هغه منع کړو او ورته ئې اوؤئیل چې که تاایمان راؤړه نو زه به ستا نه ټول مال او څاروی قبضه کښې واخلم. هغے ورته اوئیل دغه ستاشو. چې کله روان شو نو ترۀ ورته وائې. اودریږه او دا جامې هم راکه.

دا صحابی فرمائې چې جامې مې هم ورته اوویستے او چې لنګ مې پرانیسته نو ترۀ ته مې اوکتل چې کیدے شی چې راته ئې پریږدی خو لنګ ئې هم راته پرینه ښودو. کور ته راغے او مور ته ئې واقعه اوئیله نو هغے ورله یو کمبل ورکه نو دۀ دوه ټوټے کړه او ځان نه ئې تاؤ کړو.

دا صحابی د جنګ تبوك په موقع د تندے د وجے نه وفات شو نو نبی کریم د جنازے نه بعد اوفرمائیل چې دے به په قبر کښې زه په خپلو لاسونو الله تعالیٰ ته سپارم.

دا شان د صحابه کرامو وو چې دومره قربانئ ئې ورکړے وے.

امام مالك فرمائې چې د چا په زړۀ کښې د صحابه کرامو په باره کښې معمولی غوندې هم خیرے راغے نو د دۀ دا خطره ده چې د ے به د دنیا نه بے ایمانه ځی.

الله تعالیٰ دے زمونږ د صحابه کرامو سره صحیح معنو کښې مینه محبت پیدا کړی. امین

# شان ومقام صحابه (رضی الله عنهم)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاعْلَمُوا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُولَٰئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ (7) فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَنِعْمَةً وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾

(حجرات:۸)

﴿سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ (180) وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ (181) وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (182)﴾

په دنیا کښې د ژوند تیرولو د پاره عقیده ډیر لوے اهمیت لری ځکه چې انسان بغیر د عقیدے نه عبث دے او د دهٔ د زندګئ به هیڅ مقصد نه وی. داسے انسان او ځناور کښې بیا فرق نه پاتے کیږی.

اوس د دغه عقائدو پیژندګلو چې د الله تعالیٰ د طرف نه وی نو دا مونږ ته د صحابو په مدد سره رارسیدلے دې نو د دے وجے نه د عقائدو سره سره د هغه برګزیده هستو سره مینه ساتل چې د هغوی په ذریعه د الله تعالیٰ کتاب او د توحید عقیده او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرامین امت ته رارسیدلے دی. چې هغه جماعت د صحابه کرامو دے.

الله تعالیٰ په مخلو ق باندے بے شماره انعامات کړے دی خو په هغه نعمتونو کښې غټ نعمت د امت د هدایت بندوبست کول وو چې په

هر د ور کښې د دغے مقصد د تکمیل دپاره الله تعالیٰ انبیاء کرام رالیږلے دي او هغوی ته ئې د خپل طرف نه کتاب او یو قانون ورکړے وو.

دغې انبیاء کرامو ته به په خپل دور کښې رسول الله وئیلے کیدو او کوم خلقو به چې د دے دین په خورولو کښې تکالیف برداشت کول او د دے دین او پیغمبرانو ملګرتیا به ئې کوله نو هغوی ته اصحاب رسول وئیلے کیږی.

اصحاب د صاحب جمع ده او یو ځائي اوسیدونکی او ملګرتیا کونکی ته وئیلے کیږی. لکه څه رنګ چې اصحاب الکهف رایو ځائی شوے وو نو ځکه ورته اصحاب اوئیلے شو. دا رنګ اصحاب السفینة ، اصحاب الجنة وغیره.

صحابی د نبی کریم هغه قدوسی جماعت ته وئیلے کیږی چې په حالت د لیدلو کښې ئی په نبی کریم ایمان راؤړے دے او که ړوند وو نو چې ملاقات ئې ورسره شوے دے او بیا په دغه حالت د ایمان کښې وفات شوے هم دی نو دغه انسا ن ته صحابی وئیلے کیږی.

سورة شعراء کښې الله تعالیٰ د موسی علیه السلام د ملګرو تذکره په دے الفاظو کوی.

قَالَ أَصۡحَابُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ (شعراء:٦١)

یعنې اووئیلے د موسی علیه السلام ملګرو چې مونږ خو راګیر کړے شو.

نو قرآن کریم کښې د موسی علیه السلام ملګرو باره کښې د اصحاب لفظ استعمال شوے دے.

دا رنګ د هجرت په موقعه د نبی کریم ملګری ابوبکر رضی الله عنه ته هم صحابی وئیلے شوے دی.

الله تعالیٰ سورة انفال کښې فرمائی.

إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا.(توبه:٤٠)

يعنې كله چې نبی كريم خپل ملګرى ته اووئيل چې مۀ خفه كيږه. يقينا الله تعالیٰ زمونږ سره دے.

نو مطلب دا چې په دے أيت كښې د نبی كريم صلی الله عليه وسلم ته ملګرى ته صحابی وئيلے شوے دې او نور صحابه په دۀ باندې قياس دی.

د دے وجے نه علماء كرام فرمائي چې څوك د ابوبكر د صحابيت نه انكار كوی نو هغه كافر دے ځكه چې صحابيت د ابوبكر د قرآن كريم نه ثابت دې.

شيخ عبدالقادر جيلانی د صحابی تعريف او مقام په دے الفاظو ذكر كوی چې كوم صحابی چې په نبی كريم صلی الله عليه وسلم باندې ايمان راؤړی او بغير د نورو احكاماتو ادا كولو صرف په جهاد كښې شامل شی نو د دۀ د اسپے د خپو ګروغبار ته هم عبدالقادر نه رسی.

دا رنګ مجدد الف ثانی په خپل مكتوباتو كښې فرمائي.

هيچ ولی بمرتبه صحابی نه رسيد اويس قرنی بأن رفعت شان كه بشرط صحبت خير البشر نه رسيده بمرتبه ادنی صحابی نه رسد.

يعنې هيڅ يو ولی د صحابی مرتبے ته نه رسی بلكه اويس قرنی سره د دومره مقام نه خو چې صحبت د نبی كريم صلی الله عليه وسلم ورته نه دے ملاؤ نو د دے وجے نه د ادنیٰ صحابی مرتبے ته نه رسی.

عبد الله بن مبارك نه چا تپوس اوكړو چې عمر بن عبد العزيز او معاوية كښې څوك صاحب فضيلت دے؟

عبد الله بن مبارك ورته جواب وركړو.

الْغُبَارُ الَّذِیْ دَخَلَ اَنْفَ فَرَسِ مُعَاوِیَةَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ خَیْرٌ مِنْ عُمَرَبْنِ عَبْدِ الْعَزِیْزِ كَذَا كَذَا مَرَّةً

یعنې هغه غبار چې د معاویة د اسپے په پوزه کښې پرو ت وی نو هغه هم د عمر بن عبد العزیز نه بهتر دے.

د صحابی د پاره دوه شرطه وو یو ایمان او بل معیت او ملګرتیا د پیغمبر.

قرآن کریم کښې هم باربار دا فرمائیلے شوے دی.

**فَاَنْجَیْنَاهُ وَالَّذِیْنَ مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا.**(اعراف:۷۲)

یعني مونږ دهٔ او د دهٔ ملګرو لره نجات ورکړو.

دا رنګ دصحابو په باره کښې هم فرمائي.

**مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَالَّذِیْنَ مَعَهُ** (فتح:۲۹)

یعنې محمد د الله تعالیٰ رسول دے او هغه کسان چې د نبی کریم په معیت او ملګرتیا کښې دی.

که دے دواړو شرطونو کښې یو هم نه وی نو هغه ته صحابی نه وئیلے کیږی.

طبقات د صحابه کرامو علماء کرامو دولس ذکر کړے دی.

چاته د هجرت د وجے نه فضیلت حاصل دے او چا ته د خاص غزواتو د وجے نه.

قرآن کریم کښې هم الله تعالیٰ فرمائي.

**لَا یَسْتَوِی مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِینَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا ۚ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ** (حدید:۱۰)

یعنې نه دی برابر ستاسو نه هغه څوك چې د فتح مکے نه مخکښې ئي خرچ کړے دے او جهاد ئي کړے دے ځکه چې دوی لره الله تعالیٰ لوے مرتبے ورکړے دی. او هغه کسان چې د فتح مکے نه بعد ئي خرچ

اوجهاد کړے دے (نو دا دواړه نه دی برابر خو بیاهم ) د هر یو د دواړو ډلو سره الله تعالیٰ د جنت وعده کړے ده.
نو مطلب داشو چې صاحب هجرت صحابه په نورو باندې ممتاز دی.

د صحابه کرامو تعداد کښې د علماء کرامو اختلاف دے خو صحیح دا ده چې سه د پاسه یو لاکهه صحابه کرام وو.

د سلمې هجرۍ نه بعد صحابه کرام ټول ختم شو ځکه چې اٰخری صحابی ابوالطفیل عامر بن واثلة رضی الله عنه په دے سلمه هجرۍ کښې وفات شوے وو.

**شان صحابه:**

قراٰن کریم کښې الله تعالیٰ صحابه کرام د نورو دپاره د ایمان معیار ګرځولے دے.

الله تعالیٰ فرمائي. **اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ** (بقره:۱۳)

یعني د صحابه کرامو د ایمان په شان ایمان راؤړئ.

دا رنګ فرمائي **فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا** (بقره:۱۳۷)

یعني که دے خلقو د ستاسو(صحابو) پشان ایمان راؤړو نو دوی به په پوره هدایت باندې وی.

دا رنګ الله تعالیٰ فرمائي. **اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ.** (بقره:۵)

یعني هم دوی کامیابی موندونکی دی.

کله فرمائي. **اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ.**(حجرات:۷)

یعني هم دوی هدایت موندونکی دی.

کله فرمائي **اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ.**(التوبہ:۲۰)

یعني هم دوی کامرانی موندونکی دی.

کله فرمائي **رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ** (توبه:۱۰۰)

يعنې الله تعالیٰ د دوی نه راضی دے او دوی د الله تعالیٰ نه راضی دی.
كله فرمائي. أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللهِ.(مجادله:۲۲)
يعنې دا د الله تعالیٰ ډله ده.
دا رنګ ايمان دصحابو ډير نااشنا دے.
الله تعالیٰ فرمائي.
وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُولَٰئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ (حجرات:۷)

يعنې الله تعالیٰ تاسو (صحابو) ته ايمان محبوب كړے دے او ستاسو په زړونو كښې ئې ډولی كړے دے او كفر، فسق او نافرمانی ئې تاسو ته بده ښكاره كړے ده . د دے وجوهاتو د وجے نه هم دوی هدايت موندونكی دی.

قربانی د صحابو په دين باندې دومره وه چې خپل جان ، مال ، جائيداد او ملك او وطن ئې د دين د خدمت د پاره پريښودے وو.

د غزوه تبوك په موقع كهجورے پخے وے . سخته ګرمی وه او سفر اوږد وو اوپه يو اوښ باندې شپږ ديرش كسان دی. او په ټوله اوږځ كښې ورته يو كهجوره د خوراك د پاره ملاويده.
يو صحابی نه تپوس اوشو چې تاسو په يوه كهجوره څنګه ګزاره كوله؟

هغه صحابی ورته اوفرمائيل چې د يوے كهجورے د قدر اندازه مونږ ته هله اوشوه چې كله دا يوه كهجوره هم نه وه او مونږ به د اونو پاڼړې خوړلے.

يو صحابی مدينے ته هجرت كوو نو ترۀ ورته اوئيل چې كه هجرت دے اوكړو نو ټول باغونه، جائيدادونه به زما وی معمولی حصه به هم درله نه دركوم. هغه ورته هرڅه پريښودل نو چې روان شو نو ترۀ ورته آواز

اوکړو چې ستا په بدن دا جامے هم زما دی. نو هغه ورته جامے اوویستلے او چې کله ئي لنګ ته لاس کړے نو ترۀ ته ئي اوکتل خو هغه ترینه لنګ هم واغستو.

په غزوه تبوك کښې دا صحابی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته راغے او ورته ئي اووئیل چې ماته د شهادت دعا اوکړه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورله په مټ یو پټ اوتړه او دعا ئي اوغوښتله چې د دۀ وینه په کافرانو حرامه کړه.

په د غه موقع کښې دا صحابی د اولړے او تندے د وجے نه وفات شو نو صحابو ورله قبر اوکنستو او د جنازے نه بعد ابوبکر او عمر قبر کښې ولاړ وو چې دے قبر ته اوسپاری . په دغه وخت نبی کریم صلی الله علیه وسلم د قبر خوا له راغے او ابوبکر او عمر ته ئي اوفرمائیل چې تاسو راؤخیژئ . زۀ به نن دے په خپلو لاسونو دفن کومه. او بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم دے دفن کړو.

دا د صحابه کرامو قربانی وے چې نن مونږ ته ایمان او دین د هغوی په ذریعے سره محفوظ رارسیدلے دے.

الله تعالیٰ دے مونږ کښې د صحابه کرامو سره مینه محبت پیدا کړي. اٰمین

# مقام ابوبکر وعمر رضی الله عنه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ. (البقرة:١٣٧)

دا مياشت د اسلامی کال اول مياشت ده د دې مياشت په باره کښې خلقو څه غلط رسومات ایجاد کړې دی، او دغه رسوماتو ته نوره ترقی د سیدنا حسين رضى الله عنه په اتفاقی شهادت سره ملاؤ شوه، په دې مياشت کښې يوه بله اتفاقی حادثه هم شوې وه او هغه د خليفه دوم سیدنا عمر فاروق شهادت دې چې هغه د دې مياشت په اول تاريخ باندې شهيد کړې شوې وو.

دا یقینی خبره ده چې د صحابه کرامو ډير لوې شان او مقام دې او بيا په صحابوو کښې د ټولو نه غټ مقام د سیدنا ابوبکر رضی الله عنه او د سيدنا عمر رضی الله عنه دې.

دغه وجه ده چې نبی علیه السلام فرمائی: اقتدوا من بعدی ابابکر وعمر.

يعنې زما نه بعد د حضرت ابوبکر او عمر فاروق رضی الله عنه اقتداء اوکړۍ دويم خليفه نوم عمر دې او د هغه كنيت ابو حفص دې او فاروق ئې لقب دې د پلار نوم خطاب د مور نوم خطمه او په سلسله نسب کښې په اتم پشت کښې د نبی علیه السلام سره یو ځاې کیږی د عمررضی الله عنه خاندان هم په جاهليت کښې ډير مشهور وو دوی به په جاهليت

کښې د ثالث په حیثیت د قومونو فیصلې کولې او که د قومونو په مینځ کښې به معاهد وه نو د سفیر په حیثیت په مقرر کیدو.

د عمر رضی الله عنه مور د هاشم بن مغیره لور وه او د هاشم سره جنګی او د وسلی انتظام وو عمر رضی الله عنه د هجرت نه څلویښت کاله مخکښې پیدا شوې وو، او د ځوان کیدو سره هغه څۀ بعضې تعلیمات د هغه وقت مناسب حاصل کړې وو د هغه دور لوې تعلیم نسب دانی علم الانساب جنګی مهارات شهسواری، خطابت دا ټول فنون ئې زده کړې وو.

د وقت سره سره حضرت عمر رضی الله عنه تجارت کښې حصه واغستله او په دې کښې ئې دومره مهارت حاصل کړو چې د لرې لرې ملکونو سفرونه ئې د تجارت په غرض کړې وو، او د دې سره ورته د خپل پلار نیکه هغه پیشه د سفارت هم ورته ملاؤ شوه، د اهل مکه سفارت د عمر رضی الله عنه په لاس کښې وو، د عمر رضی الله عنه عمر اوۀ ویشت کاله وو چې الله نبی علیه السلام پیغمبر جوړ کړو، په عمر رضی الله عنه باندې د نبی علیه السلام نبوت نا اشنا اولګیدو نو د نبی علیه السلام سخت دشمن وو په ابتدائی دور کښې د عمر رضی الله عنه یوه وینزه وه او هغه مسلمانه شوې وه عمر رضی الله عنه به هغه وهله او دومره به ئې اووهله چې د هغې په وهلو باندې به ستړې شو او نورو مسلمانانو ته به ئې هم تکلیفونه ورکول، په مکه کښې د نبی علیه السلام په سخت دشمنانو کښې یو ابو جهل وو چې دا سردار وو او یو عمر رضی الله عنه وو چې د مکې سفیر وو نبی علیه السلام دعاګانې غوختلې:

**اللّٰهُمَّ أَعِزَّ الْإِسْلَامَ بِأَحَبِّ هَذَيْنِ الرَّجُلَيْنِ إِلَيْكَ بِأَبِي جَهْلٍ أَوْ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ. فَكَانَ أَحَبُّهُمَا إِلَى اللهِ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ.** (احمد)

يعنې الله اسلام ته عزت ورکړې په يو عمر سره څکه د ابو جهل نوم عمر بن هشام وو او دويم حضرت عمر رضی الله عنه او الله د نبی عليه السلام دغه دعا د حضرت عمر رضی الله عنه په حق کښې قبوله کړه.

د عمر رضی الله عنه قبول اسلام واقعه څه داسې وه چې يوه ورځ دا په خانه کعبه کښې موجود وو او نبی عليه السلام مونځ کوو او د سورة الحاقه تلاوت ئې کوو په دغه وقت کښې په عمر رضی الله عنه باندې تلاوت اثر اوکړو نو عمر رضی الله عنه فرمائی چې زما په ذهن کښې دا خبره وه چې دا به شاعر وی نو نبی عليه السلام د قرآن دا آيت تلاوت کړو:

**وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ، قَلِيلًا مَا تُؤْمِنُونَ. (الحاقة:۴۱)**

يعنې دا قرآن د شاعر قول نه دې زما په زړۀ کښې دا وسوسه پيدا شوه چې دا به جادوګر وی څکه زما د زړۀ د خبرې معلومات ورته اوشو نو لږ ساعت بعد نبی عليه السلام د دې آيت تلاوت اوکړو **وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ**، يعنې دا د جادوګر قول هم نه دې، د دې نه بعد زما زړۀ لږ نرم شو او زۀ د اسلام طرف ته لږ لږ مائل شوم ليکن زما پوره شرح صدر په اسلام باندې نه وه شوې.

يو ځل د خپل ځان سره مې اراده اوکړه چې نبی عليه السلام قتل کومه او په دې اراده باندې توره په لاس روان شو په لاره کښې ورسره يو ملګرى ملاؤ شو او تپوس ئې ترينه اوکړو چې عمر ستا کوم طرف ته اراده ده عمر رضی الله عنه ورته اووئل چې روان يمه او محمد صلی الله عليه وسلم قتل کومه.

دغه سړی ورته اووئیل چې د محمد غم مۀ کوه د هغه نور ډیر دشمنان هم شته دي د خپل کور غم اوکړه ځکه ستا خور او د هغې خاوند دواړو اسلام قبول کړې دي د لارې د مینځ نه عمر رضی الله عنه د خپلې خور کور طرف ته روان شو، د کور په دروازه کښې ولاړ وو، چې د قرآن تلاوت ئې واوریدو نور هم غصه شو، د عمر رضی الله عنه خور او خاوند ته چې پته اولګیده چې دا عمر دې نو قرآن ئې بند کړو، عمر رضی الله عنه هغه دواړه ښه ډیر اووهل، خور ورته په دغه دوران کښې اووئیل که ته مونږه مړۀ کړې نو بیا هم مونږ د اسلام نه نه روسته کیږو د عمر رضی الله عنه په زړۀ کښې رحم پیدا شو او د خپلې خور نه ئې مطالبه اوکړه چې دغه تلاوت ماته هم اوکړه خور ورته تلاوت اوکړو نو زړه ئې نرم شو او دار ارقم طرف ته روان شو چې کوم وقت دار ارقم ته دننه کیدو نو صحابه ویریدل چې دا خو عمر رضی الله عنه دې حمزه رضی الله عنه ورته اووئیل چې پریګدی چې را داخل شی که دۀ څۀ غلط حرکت اوکړو نو زۀ به ئې سر قلم کړم، عمر رضی الله عنه داخل شو نبی علیه السلام ترینه تپوس اوکړو چې په څۀ اراده باندې راغلې ئې عمر رضی الله عنه ورته اووئیل زه په دې اراده راغلې یمه چې ایمان قبول کړمه نبی علیه السلام اووئیل الله اکبر، او په دغه ځاې کښې ئې اسلام قبول کړو، په دغه وقت کښې د اسلام اعلانیه دعوت اجازت نۀ وو شوې، حضرت عمر رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه تپوس اوکړو چې زمونږه دا دین په حقه نه دې نبی علیه السلام ورته اووئیل چې آو دا حق دین دې عمر رضی الله عنه اووئیل چې بیا به مونږه د اسلام دعوت او مونځ علی الاعلان کوو، په دې طریقه د اسلام د عوت او نور شعائر اسلام په ښکاره شروع کړې شو.

مشرکانو په مسلمانانو باندې قسم قسم پابندیانې لګولې وې او صحابه کرام به ئې د هجرت مدینه نۀ منع کول نه به ئې پرېښودل حضرت عمر رضی الله عنه چې کوم وقت د هجرت اراده اوکړه نو د هجرت نه یوه ورځ مخکښې ئې په خانه کعبه کښې د طواف او مونځ نه بعد اعلان اوکړو چې صبا به زۀ د هجرت د پاره زم نو که څوک غواړی چې خپله ښځه په خپل ځان باندې خفه کړې هغه انسان دې زما مخې ته راشی هیڅ یو مشرک دا غیرت کوې نشو چې عمر رضی الله عنه ئې د هجرت نه منع کړې وې.

عمر رضی الله عنه چې مدينې ته هجرت اوکړو نو د مدينې آبادی زیاته شوې وه محلې آبادې شوې وې د جمع د مونځ د پاره د راجمع کیدو په باره کښې مشوره واغستلې شوه چې د مونځ د پاره څه ترتیب اختیار کړې شی چې دا خلق راجمع کړې شی.

نو بعض صحابو دا مشوره ورکړه چې اور دې بل کړې شی نبی علیه السلام دا مشوره اوکړه بل حل دا وو چې ناقوس دې اووهلی شی نو دا مشوره هم رد کړې شوه بله مشوره عمر رضی الله عنه ورکړه چې د جمع په وقت کښې دې د الصلوة جامعة آواز اوکړی شی په دې مشوره باندې وقتی طور عمل شروع کړې شو او بیا روسته د خوب په ذریعه حضرت زید او عمر ته هم اوښودلی شو او په دغه طریقه مستقل عمل شروع کړې شو.

عمر رضی الله عنه هغه صحابی دې کوم صحابی چې په تاریخ اسلام کښې د ټولو نه اول خپل رشته دار ماما هشام بن مغیره رضی الله عنه د بدر په غزوه کښې قتل کړې وو او په دغه موقع عمر رضی الله عنه د قیدیانو په باره کښې نبی علیه السلام ته دا مشوره ورکړې وه چې ته

خپل رشته دار قتل کړه او ابوبکر رضی الله عنه به خپل رشته دار قتل کړی او زهٔ به خپل رشته دار قتل کړمه دا د عمر رضی الله عنه هغه ایمانی حرارت او جذبه وه.

عمر رضی الله عنه د احد په غزوه کښې شریک شوې وو په دغه موقع د جنګ نه لږ ساعت بعد ابو سفیان په یوه غونډۍ ډهیرۍ باندې اودریدو او آواز ئې اوکړو چې په تاسو کښې محمد صلی الله علیه وسلم شته دې نبی علیه السلام اوفرمائیل چې هیڅ څوک جواب مهٔ ورکوۍ ابو سفیان دوباره آواز اوکړو چې په تاسو کښې ابوبکر موجود دې او عمر شته دې نبی علیه السلام دوباره عرض اوکړو چې هیڅ جواب ورته مهٔ ورکوۍ په دریم ځل ابو سفیان آواز اوکړو(**اُعْلُ هُبَلُ**) یعنې هبل بت زنده باد هبل به همیشه اوچت وی نبی علیه السلام عمر رضی الله عنه ته اووئیل چې جواب ورکړه الله اکبر، الله د هر څه نه لوې او قوت والا ذات دې دا ځکه نبی علیه السلام په دې موقع د جواب د پاره اووئیل چې مخکښې د نبی علیه السلا د ذات متعلق سوال وو نو هیڅ جواب د نبی علیه السلام د طرف نه ورنکړې شو او د دې نه بعد د توحید په باره کښې ابو سفیان اعتراض اوکړو نو د نبی علیه السلام د طرف نه ورته جواب ملاؤ کړې شو.

د دې احد غزوې نه بعد الله عمر رضی الله عنه ته دا فضیلت او مقام ورکړو چې د عمر رضی الله عنه لور حفصه رضی الله عنه سره نبی علیه السلام نکاح اوکړه.

عمر رضی الله عنه په صلح حدیبیه کښې هم شریک وو کوم وقت چې د عثمان رضی الله عنه په باره کښې افواه خوره شوه چې حضرت عثمان رضی الله عنه شهید کړې شو نو عمر رضی الله عنه خپل جنګی

سامان تيار کړو، يو انسان ورته اووئيل چې نبی عليه السلام د کيکر د ونې نه لاندې ناست دې او د صحابو سره بيعت کوی نو عمر رضی الله عنه هم د نبی عليه السلام سره په شهادت باندې بيعت اوکړو.

د خيبر په غزوه کښې چې کومه زمکه عمر رضی الله عنه ته ورکړې شوې وه هغه ئې د الله په لاره کښې وقف کړه او د حنين په سخت حالت کښې عمر رضی الله عنه ثابت قدمه وو، د حجة الوداع په موقع د نبی عليه السلام سره موجود وو.

نبی عليه السلام چې وفات شو نو عمر رضی الله عنه مسجد ته دننه شو او اعلان ئې اوکړو چې که چا اووئيل چې نبی عليه السلام وفات شوې دې نو د هغه سر به زۀ په توره باندې اووهمه، او دا ځکه چې منافقان دباؤ شی او څه فساد پيدا نه کړی، د ابوبکر رضی الله عنه خليفه مقرر کيدونه بعد اول بيعت د هغۀ سره عمر رضی الله عنه کړې وو.

د ابو بکر رضی الله عنه دور خلافت دوه کاله وو په دې کښې د ابوبکر لوې معاون او مشير حضرت عمر رضی الله عنه وو او د تدوين قرآن مشوره هم ورته عمر رضی الله عنه ورکړې وه د عمر رضی الله عنه ډيره زياته تجربه ده د دې په بنياد ابوبکر رضی الله عنه وصيت کړې وو چې زما نه بعد به عمر رضی الله عنه خليفه وی نو بيا د صحابوو په مشوره سره عمر رضی الله عنه خليفه مقرر کړې شو.

د عمر رضی الله عنه په دور خلافت کښې عراق، شام، فلسطين، مصر، او ايران فتح شوې وو او دا ټول غټ غټ ملکونه د اسلام د جنډې نه لاندې شوې وو عمر رضی الله عنه په بائيس (۲۲) لاکهه مربع ميل علاقې باندې خليفه وو.

حضرت عمر رضی الله عنه د يو مجوسی غلام په لاسو باندې شهيد کړې شوې وو د دغه غلام نوم فيروز وو او دا د مغيره بن شعبه رضی الله عنه غلام وو، يو ځل دغه غلام د خپل آقا په باره کښې عمر رضی الله عنه ته شکايت اوکړو نو عمر رضی الله عنه د دغه غلام شکايت ته توجه اونکړه ځکه دغه ناجائز شکايت وو، دې غلام د سحر په مونځ د خپل ځان سره خنجر راوړې وو او په عمر رضی الله عنه باندې ئې په دغه دوران کښې شپږ ګوزارونه اوکړل عمر رضی الله عنه پريوتو او عبد الرحمان بن عوف مونځ ته مخکښې شو او مونځ ئې مکمل کړو.

عمر رضی الله عنه ته دغه تکليف درې ورځې وو او د بيمارۍ په دوران کښې ئې وصيت کړې وو چې په دې شپږ صحابوو کښې دې يو صحابی خليفه مقرر کړې شی، او دغه شپږ کسان دا دې عثمان رضی الله عنه، علی رضی الله عنه، زبير رضی الله عنه، طلحه رضی الله عنه سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه او عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه.

د دې نه بعد ئې ام المؤمنين عائشه رضی الله عنه ته خط اوليکو چې دا هجره ستا ده ته ماته اجازت اوکړه چې زه د نبی عليه السلام سره نزدې دفن کړې شم نو ام المؤمنين ورته اجازت ورکړو او په يکم محرم سن ٢٤ ﻫ کښې وفات شو.

د حضرت عمر رضی الله عنه ډيرې بيبيانې وې د يوې نوم زينب وه او دا د عثمان بن مظعون رضی الله عنه خور وه دا په مکه کښې مسلمانه شوې وه او هلته وفات شوې وه د بلې نوم قريبه وه، اودا مشرکه وه نو دې ته ئې طلاق ورکړې وو، د بلې نوم مليکه وو او دا هم مشرکه او دې ته ئې هم طلاق ورکړی وو، بله عاتکه وه د دې نکاح اول د عبدالرحمان بن ابی بکر سره وه او بيا روسته ئې د عمر رضی الله عنه سره

نکاح کړې وه بله بی بی ام کلثوم وه او دا د نبی علیه السلام نواسۍ وه او د فاطمه رضی الله عنها لور وه او د دې سره ئې نکاح په دې مقصد باندې کړې وه چې زما تعلق او نسبت د نبی علیه السلام د خاندان سره قائم وی او د دې د پاره ئې څلويښت زره درهم مهر مقرر کړې وو.

د عمر رضی الله عنه په بچو کښې يو مشهور عالم دين جليل القدر صحابی عبد الله دې د بل نوم عاصم، ابو شهمه عبد الرحمان، زيد او عبيد الله دا د عمر رضی الله عنه بچی وو.

د عمر رضی الله عنه دور خلافت په اسلامی تاريخ کښې دير عجيبه دور دې منظم خلافت چې په دې کښې د هرې شعبې د پاره خپل خپل مستقل نظام موجود وو، او دا خلافت شورائی خلافت وو د صحابو شوری او مشورې ته ورکښې ډير لوې مقام حاصل وو.

د عمر رضی الله عنه په دور خلافت کښې درې قسمه شوراګانې وې يوه خاصه شوری وه او دا د مهاجرينو او انصارو په علماؤ باندې مشتمله وه.

دويمه شوری د دې نه لږه نوره عامه وه او دا د مهاجرينو او انصارو په سردارانو باندې مشتمله وه .

او دريمه شوری بالکل عمومی شوری وه او په دې شوری کښې به ټول عام خلق شامل وو، او دا به په مسجد کښې د مونځ نه بعد مقرر کيده.

د عمر رضی الله عنه د خلافت بل خصوصيت دا دې چې عمر رضی الله عنه په خپل دور خلافت کښې مستقلې صوبې مقرر کړې وې، ټول خلافت د عمر رضی الله عنه په اته (**8**) صوبو باندې مشتمل وو چې په هغې کښې مکه مدينه، شام، جزيره ، بصره، کوفه، مصر، فلسطين، او

بعضې صوبې باهر وی لکه خراسان اذربیجان او دریمه صوبه فارس یعنې ایران وه.

د هرې صوبې د پاره به خپل قاضی، والی، کاتب، کاتب دیوان، یعنې د فوجی محکمې نګران، صاحب الخراج وغیره، بیت المال والا د احتساب نظام هم پکښې موجود وو او ټخپله به ئې د حج په موقع باندې دا اعلان کوو چې د کوم چاسره زیاتی شوې وی نو هغه دې خپل شکایت بیان کړی.

د دې سره د عمر رضی الله عنه په دور کښې د زراعت بهترین نظام برابر کړې شوې وو او د آب نکاسی د پاره غټ غټ نهرونه جوړ کړې شوې وو، او په ټوله اسلامی خطه کښې په اول ځل د دۀ په دور خلافت کښې مردم شماری شوې وه.

او د قضاء د پاره ئې اصول او ضوابط مقرر کړل دا په دې غرض چې په دې خلقو کښې رشوت اغیستل او ورکول ختم شی، او شعبه افتاء ئې هم مقرر کړې وه او د دې د پاره ئې غټ غټ صحابه مقرر کړې وو، او اعلان ئې کړې وو چې په ناپ تول کښې به کمې نه وی او په عامو لارو کښې به تعمیرات او تجاوزات هم نه وی، او د ځناورو سره به زیاتې نه کیږی په هغوی به د برداشت نه زیات بوجهـ نه شی کیخودلې او په شرابو باندې ئې پابندی لګولې وه چې دا به علی الاعلان په بازارونو کښې نه خرخیږی او نه ځکل کیږی او د جیلونو د پاره ئې نظام جوړ کړې وو، او معذورینو د پاره د کنډو د پاره او د یتیمانانو او د پیو ماشومانو د پاره ئې د بیت المال نه وظائف مقرر کړې وو د تعمیراتو سلسله ئې ډیره وسیع کړې وه او ځاې په ځاې ئې مسجدونه جوړ کړې وو عمر رضی الله عنه په تدوین قرآن او ملک کښې تعلیمی نظام د پاره ډیر کوشش کړې وو.

دا مختلف خدمات عمر رضی الله عنه د دین اسلام د پاره کړې وو.

د عمر رضی الله عنه خپل ذاتی حالت دا وو چې په زمکه باندې به اوده کیدو او که په سفر باندې به وو نو د یوې ونې نه لاندې به اوده شو او خدمت به ئې ځپله کولو، د مدینې څوکیداری به ئې خپله کوله، که لباس به ئې خراب شو نو ځپله به ئې په هغې کښې پیوندونه اولګول، د مقدمې د پاره به ځپله هم د قاضی دربار ته حاضر کیدو، د خپل دربار نه به ئې څوک نه منع کول، هر وقت به هر قسمه انسان راتلې شو او د وفات په وقت کښې قرضدارې وو او وصیت ئې کړې وو چې زما دا کور خرڅ کړۍ او د دې نه زما قرض ادا کړۍ.

والحمد لله رب العالمین.

# د حضرت عثمان فضائل او شهادت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !
فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔
﴿إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا وقال تعالیٰ فی مقام اٰخر لَّقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴾(فتح:١٨)
﴿وقال رسول الله ﷺ: فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ، وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ﴾
(ترمذی)

## په دې میاشت کښې تاریخی حادثه:

دَ نبی کریم ﷺ ټول صحابه معیار د حق دی خو په دغه صحابو کښې څلور صحابه کرامو ته یو امتیازی شان حاصل دے. چې هغوی ته څلور یاران د نبی کریم وئیلے کیږی.

هغه حضرت ابوبکر، حضرت عمر ، حضرت عثمان ، حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنهم دی.

په دے څلورو یارانو کښې حضرت عثمان رضی الله عنه د ذی الحجے په میاشت کښې شهید کړے شوے وولکه څنګه چې په دې میاشت کښی دوه عبادتونه یو عظیم عبادت د حج بیا بل عظیم عبادت سنت ابراهیمی قربانی د هغې بیان شوې وو ، دغه یو لوې تاریخی واقعه شهادت دحضرت عثمان رضی الله عنه هم د دې میاشت سره تعلق ساتی .

دريم خليفه ذوالنورين امير المؤمنين حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه په دې مياشت کښې ډير په بې دردۍ سره اوډير په ظلم سره شهيد کړې شوې وو .او هغه په اتلسم (۱۸)تاريخ د ذوالحجه باندې شهيد کړې شوې وو.

دې سره دا خبره يادساتل پکار دی چې څنګه دين اسلام د چا يو شخصيت يوم وفات يوم پيدائش لره دومره حيثيت نه ورکوی چې هغه دې خلق د خپل ځان د پاره په مذهبی رسوماتو کښې شامل کړی اوپه مذهبی سطح دې دغه ورځ مناؤ کړې شی دا دين اسلام کښی نشته هاں د عيسايانو دين کښې برتهـ ډی ډېر ډی مطلب يوم پيدائش يوم وفات د عيسايانو په دين کښې شته دې خو په دين اسلام کښی د دې قسم کارونو هيڅ اصل او ثبوت نشته بهر حال .

دا حادثه د سبايانو د لاسه واقع شوے ده او دا د اسلام غټ د شمنان دې چې اوس هم په شکل د شيعه ګانو کښې موجود دی او د لستونړی ماران دی.

او دا سيرت مونږ ځکه بيانوو چې هغه رجال کار اشخاص چا چې زمونږه دين اسلام د خپلو وينو په قربانيانو سره محفوظ کړے دے او صحيح سلامت ئې مونږه ته اداکړے دے دَ هغوی حالات کتل اومطالعه کول يا بيانول د مسلمان ايمان کښې رونق زياتوی اوتازګی ورکښې پيداکوی او د هغوی په دې تاريخی صفحاتو کښې څه عبرت څه درس څه سبق د مسلمان د پاره وی چې مسلمان په هيڅ يو حالت کښی د دغه حالاتو نه غافل نشی داسې حالات لکه څنګه چې د اسلام دشمنانو په دغه صحابه کرامو باندې پيداکړی وو دغه قسم حالات د دې زمانې کافر

يهودى منافق په نن زمانې مسلمانانو باندې کله هم اقدام کوې شى نو د خپل دين د رهنمائى د حاصلولو د پاره مونږه د دغه صحابوو حالات بيانوو .

## د صحابوو مقام:

په انسانانو کښې الله تعالىٰ لوے مقام انبياء کرامو لره ورکړے دے. د دوى نه بعد الله تعالىٰ د غه مقام صحابه کرامو ته ورکړے ده او بيا په دے صحابو کښې الله تعالىٰ لوے مقام خلفاء راشدينو ته ورکړے دے. نبى کريم فرمائي.

﴿كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لاَ نَبِيَّ بَعْدِي وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ﴾ (بخاری)

﴿فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ ، وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ﴾ (ترمذی)

يعنې د بنى اسرائيلو مشرى به د هغوى پيغمبرانو کوله نو کله به چې يو وفات شو بل پيغمبر به الله تعالىٰ راؤليږو خو ليکن زما نه بعد بل پيغمبر راتلونکے نيشته نو په تا سو کښې به زما نائبان وى په دغه وخت کښې په تاسو زما او زما د خلفاؤ اتباع لازم ده.

قرآن کريم کښې الله تعالىٰ فرمائي.

﴿الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ﴾ (حج:٤١)

يعنې دوى داسے خلق دى چې که چرته مونږ دوى لره په زمکه کښې بادشاهى ورکړو نو دوى به د مونځ پابندى کوى او زکوٰة به ورکوى او امر بالمعروف او نهى عن المنکر به کوى.

کله فرمائی.

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ﴾ (نور:۵۵)

يعنې الله تعالیٰ د هغه مومنانو سره چې ايمان ئې راوړے دے او نيك اعمال کوی د زمکے د خلافت وعده کړے ده.

په دغو خلفاؤ کښې حضرت عثمان هم دے چې د دهٔ خصوصی تذکرے په احاديثو کښې شوے دی او قرآن کريم ئې هم مقام ذکر کوی.

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ﴾ (فتح:۱۰)

يعنې څوك چې تاسره بيعت کوی نو په اصل کښې دوی د الله تعالیٰ سره بيعت کوی د الله تعالیٰ مدد دوی سره شامل حال دے.

نبی کريم هم فرمائيلے وو چې د عثمان د بدلے د پاره به بيعت څوك کوئ ؟ بيا ئې د خپل لاس د پاسه بل لاس کيخودو او وے فرمائيل چې دا د عثمان لاس دے. نو حضرت عثمان په غائبانه حالت کښې په بيعت رضوان کښې شامل شو.

دا بيعت د حضرت عثمان بن عفان په بدله اغستو کښې اخستلے شوے وو.

## د حضرت عثمان رضی الله عنه څه حالات او فضائل:

ده ته ذوهجرتين او ذوالنورين وئيلے کيږی. په عبد مناف کښې پنځم پشت کښې نبی کريم سره شريکيږی.

د اسلام نه مخکښې هم د دوی قوم شرافت والا قوم ګڼړلے کيدو او د بنوهاشم نه بعد د دوی نه اوچت خاندان بل نه وو.

دے د واقعه فیل نه پس په شپږم کال پیداشوے وو . په ځوانئ کښې ئي مشغله تجارت وو. اسلام ئي د څلور دیرش کاله په عمر د حضرت ابوبکر په لاس قبول کړے وو. په دغه وخت کښې پنځه دیرش کم وبیش خلق مسلمانان شوے وو.

د دے صحابی په نکاح کښې د نبی کریم دوه لونړه بی بی رقیة او بی بی کلثوم وے. د رقیے بی بی نکاح حبشے ته د هجرت نه مخکښې شوے وه او دهٔ سره ئي هجرت هم کړے وو.

﴿إِنَّ عُثْمَانَ أَوَّلُ مَنْ هَاجَرَ بِأَهْلِهِ يَعْنِيْ مِنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ﴾

[ الإصابة في تمييز الصحابة – ابن حجر ]

یعنې عثمان د دے امت اولنے هغه صحابی دے چې د خپل اهل سره ئي هجرت کړے دے.

بیا دوی د حبشے نه مکے ته واپس راغلل . بیا دویم هجرت ئي مدینے ته کړے وو او اوس بن ثابت ئي میلمستیا کړے وه او ده سره ئي مواخاة هم شوے وو دغه وجه ده چې عثمان رضی الله عنه ته ذوهجرتین هم وئیلے کیږی .

په مدینه کښې مهاجرو ته د خوږو اوبو تکلیف وو او په دغه ځاې کښی د یو یهودی کوهے وو دغه یهودی د کوهے د خپل ځان زریعه معاش ګرځولې وه، نو د یو یهودی نه ئي بیر رومه نیم په دولس زره درهمه واغستو. نو بیا به یوه ورځ د عثمان رضی الله عنه وه او یوه ورځ به کوهے د یهودی په نمبر کښې وو حضرت عثمان رضی الله عنه به په خپله ورځ کښې خلقو ته مفت اوبهٔ ورکولې نو د هغه یهودی ګاهک اغستونکی ډیر لږ شو ځکه چې دعثمان رضی الله عنه په نمبر کښې به مفته کښې

هر انسان خپل لوخی ډک کړل او بیا به ئی د یهودی نه اوبه نهٔ اغستې نو یهودی مجبوره شو چې ما د څه مقصد دپاره کوهے جوړ کړے وو هغه مقصد ماته حاصل نه شو نو هغه باقی نیم کوهے ئی ورسره په عثمان رضی الله عنه باندې خرڅ کړو، بیا ئې ترینه په اته زره درهمه دا باقی هم واغسته ، او بیا ئی دغه ټول کوهے د مسلمانانو په نوم باندې وقف کړې وو. نبی کریم ورته په دے مقام کښې وئیلے وو چې الله تعالیٰ تاله د دے کوهی په بدل کښې په جنت کښې کور درکړو.

دے د نبی کریم سره په غزواتو کښې هم شریك شوے وو او په بدر کښې د نبی کریم په حکم د رقیے بی بی د بیمارئ د وجے نه پاتے شو.اوپه دغه دوران کښې روقیه رضی الله عنها وفات شوې هم ده کله چې فتح اوشوه نو دے ډیر زیات خفه وو.ځکه د اسلام اول جنګ وو په هغې کښې شریک شوې نه وو سره د دې نه چې عثمان رضی الله عنه د نبې علیه السلام په حکم سره د جنګ نه پاتې شوې وو او بیا به هم خفه وو، حضرت عمر ترینه تپوس اوکړو چې ولے خفه ئے. دهٔ اوئیل چې یو خو د جنګ بدر نه پاتے شوم او دویم د نبی کریم سره مې رشته ختمه شوه. نبی کریم ته چې کله پته اولګیده نو د جنګ بدر په مال غنیمت کښې ئې ورته حصه ورکړه او بله لور ئې ورته په نکاح کړه. د دے وجے نه دهٔ ته ذو النورین وئیلے کیږی.

نبی کریم د دهٔ په باره کښې فرمائیلے وو چې که چرے زما سل لوڼړے وے نو یو په یو به مے حضرت عثمان ته په نکاح ورکړے وے.په غزوه ذات الرقاع کښی نبی علیه السلام دا د خپل ځان قائم مقام په مدینه منوره کښی امیر پاتې کړې وو.

په غزوه تبوك كښې ئي د خپلے قافلے د ګټے دريمه حصه ئي مجاهدينو ته وقف كړے وے او لس زره فوجيانو ته ئي سامان مهيا كړو. ډير اوښان او اسپے ئي فوج له وركړے وے.

نبي كريم په دغه موقع دغه اشرفئ په لاس كښې راواغستے او وے فرمائيل **مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ** (ترمذی)

يعنې د دے عمل نه بعد هيڅ يو عمل عثمان ته ضرر نشي رسولے.

## د اسلام ترقی د عثمان رضی الله عنه خلافت كښې:

دے د حضرت ابوبكر په دور كښې د شورى ركن وو. او په آخر دور كښې ئې شورى راؤغوښتله او حضرت عثمان ته ئي اوفرمائيل چې ليكه. كله چې د خليفه د نوم ذكر راغے نو حضرت ابوبكر بے هوشه شو نو حضرت عثمان د ځان نه د عمر نوم اوليكلو . كله چې هغه هوش كښې راغے او دهٔ ته ئي اوئيل چې تا څه اوليكل نو دهٔ ورته د عمر نوم واغستو نو حضرت ابوبكر د ډيرے خوشحالئ نه اوفرمائيل چې عثمان ته الله تعالیٰ ډير لوے فهم او فراست نصيب كړے دے.

بيا د عمر د وفات په وخت كښې د شپږو صحابو يو كميټي جوړه شوه. يو عثمان، دويم على، دريم زبير، څلورم طلحه، پنځم سعد بن ابى وقاص او شپږم عبد الرحمن بن عوف.

د تدفين د عمر نه بعد په دريمه ورځ عبد الرحمن بن عوف پاسيده چې زهٔ دستبردار شوم . د دهٔ تقليد نورو هم اوكړو او صرف عثمان او علي پاتے شو. بيا على د عثمان په لاس باندې بيعت اوكړو. او بيا نورو مسلمانانو ئي هم بيعت اوكړو.

د دهٔ خلافت د څليريش نه واخله تر ده څلور ديرشمے هجرئ پورے رسيدلے دے. دولس کاله خلافت کښې ئې دولس لاکهه مربع ميل په څلور څلويښت مربع ميل کښې بدله کړے وه.

د دهٔ په دور کښې د طرابلس وغيره غټ غټ جنګونه شوے وو او يو عظيم الشان بحری بيړه د معاويه د سپه سالارئ د لاندی د پنځو سوو کشتو سره په روم حمله کړے وه.

او د دهٔ په دور کښې قسطنطنيه (استنبول) هم فتحه شوے وو.

په عهد عثمانی کښې د فتوحاتو سلسله ډيره وسيع شوے وه. نظام خلافت کښې بهتری راغلے وه. عمال په شورائي نظام سره مقرر کيدل . صوبائی حکومتونه ئې قائم کړے وو. اختيارات تقسيم وو او د حکامو نګرانی به ئې کوله، بيت المال کښې ئې هم وسعت راووستے وو. او مسجد نبوی کښې ئې توسيع هم کړے وه.

مذهبی خدماتو کښې ئې د قرآن کريم جمع کول هم دی. کاتب وحی هم وو، بيان به ئې مختصر وو. د قرآن د تلاوت شوقين وو. په نقل احاديثو کښې محتاط ووپه احاديثو کښی به ئې ډير احتياط کولو دغه وجه وه چې د دهٔ نه احاديث ډير نقل شوی نهٔ دی او کم احاديث ترينه نقل شوی دی، فقاهت پکښې وو او علم ميراث باندې ئے کمال لرلو. فياضی او سخاوت ئې مشهور وو.خوف خدا ، حب رسول ، اتباع سنت د دهٔ لازمی صفات وو او دا څيزونه په طريقې د کمال سره په حضرت عثمان رضی الله عنه کښې موندلې کيدل . د دنيا نه بې رغبتی عاجزی زهد تواضع بل چالره په خپل ځان ترجيح ورکول حضرت عثمان رضی الله عنه د داسې قسمه صفاتو خاوند وو .

## د عثمان المناک شهادت:

حضرت عثمان رضی الله عنه حلیم الطبع نرم مزاج واله وو اوډیر حیاناک رحم دله وو نو یهودو په دین اسلام باندی حمله هڅو کولے نشوه نو هغه یهود ټول رایوځاي شو او دا منصوبه ئی جوړه کړه چي مسلمانان په خپلو کښي تقسیم او د دوی وحدت ختم شی نو په دغه حالت کښي یو لوي چل باز مکار دجال یهودی ملاعبدالله بن سبا دا خبره وکړه چي اۓ خلقو په دي باندي نه کیږی صرف او صرف دا طریقه اختیارول غواړی چی د اسلام په جامه، لباس کښي دننه کیدل غواړی په دي سره به د مسلمانانو وحدت اتفاق تس نس شی او مونږه به په خپله منصوبه کښي کامیاب شو ، د یهودو په سازش عبد الله بن سبا تیار کړے شو او په یمن کښي ئي منافقانه اسلام قبول کړو دا منافق په حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او عمر فاروق رضی الله عنه باندي پوهه وو دغه وختونو کښي مخي ته راتلي نه شو بیا کله چي عمر رضی الله عنه شهید شو نو په دغه حالاتو کښی مدینه ته راغلو او د مسلمان په جامه کښی ئے یوه ډله جوړه کړه.

دۀ به نورو ساده لوحو مسلمانانو ته وئیل چي دے خلیفه خو ټولے عهدے خپلو کښي تقسیم کړے دی او بیت المال په خپلو رشته درانو کښي تقسیموی. بیا ئي دا دعوه اوکړه چي حق د خلافت د علی وو خو دے نورو خلفاؤ ترینه په زور قبضه کړے وو څه وخت دغه ډلي ته دَ شیعان علی رضی الله عنه نوم ورکړي شو.

او دوی به وئیل چي نبی کریم هم د ابوبکر، عمر او عثمان نه مجبوره وو. دوی د عثمان خلافت کښي حرکت شروع کړو. صحابو ورته عرض اوکړو چي د دوی خلاف کاروائی پکارده خو دۀ منع کړل. دوی د

حضرت عثمان د کور محاصره اوکړه. دا څلويښت ورځے وه. د دۀ د کور حفاظت کښې حسن ، محمد بن ابوبکر وغيره ولاړ وو. خو آخر دا چې په کور ورواؤختل او حضرت عثمان ئې شهيد کړو حضرت عثمان په **35** هجرى کښى وفات شوى وو دا مظلوم شهيد چې د کله نه وفات شوې دې د هغه وخت نه واخله تر نن ورځ پورې حالات هغه شان نه دى جوړ شوې لکه څنګه چې د حضرت عثمان رضى الله عنه د شهادت نه مخکښې کوم حالات د مسلمانانو وو.

حضرت عائشه به فرمائيل چې دے مظلوم شهيد شوے دے او د دۀ نامه اعمال د هر قسمه ګناهونو نه پاکه ده.

الله تعالىٰ دے مونږ د دے صحابه کرامو په نقش قدم روان کړى. امين

# حضرت علی رضی اللّٰه عنه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا (٢٩)﴾ (الفتح:٢٩)

﴿وقال رسول الله ﷺ لِعَلِيِّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ اَنْتَ اَخِيْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ﴾

(ترمذی)

د نبی علیه السلام په خلفاء راشدینو کښې څلورم خلیفه حضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه دې، دا د نبی علیه السلام د ترۀ ځوې دې نوم ئې علی او د پلار نوم ئې ابوطالب، لقب ئې حیدر کرار، اسدالله، او مرتضی دې کنیت ئې ابو الحسن، د نبی علیه السلام سره ئې ډیر قریبی تعلق وو یو طرف ته د نبی علیه السلام د ترۀ ځوې دې او بل طرف ته د نبی علیه السلام لور فاطمه رضی الله عنها هم په علی رضی الله عنه باندې وادۀ شوې ده.

د حضرت علی رضی الله عنه پلار مسلمان شوې نه وو او مور ئې ایمان قبول کړې وو د مور نوم ئې فاطمه بنت اسد وو، مور ئې هجرت هم کړې وو، حضرت علی رضی الله عنه د ماشوموالی په وقت کښې ایمان قبول کړې وو او د عثمان رضی الله عنه د شهادت نه بعد خلیفه مقرر

شوې وو او تقريبا درې ورځې کم پنځه کاله خلافت ئې کړې وو په سن ٤٠ هجرۍ کښې په اتلسم (١٨) رمضان د يو بدبخته خارجی عبد الرحمان بن ملجم په لاس باندې شهيد شوې وو.

د حضرت علی رضی الله عنه د فاطمې رضی الله عنه نه څلور بچی وو، حسن، حسين، زينب، او کلثوم دا څلور بچی د فاطمې رضی الله عنها نه وو، نور ګنړ ودونه ئې کړې وو او (١٨) اتلس بچی ئې وو.

د حضرت علی رضی الله عنه ژوند ډير عجيبه دې څنګه چې په پيغمبرانو کښې د حضرت عيسی عليه السلام د ژوند عجيبه حالات دی، دغه شان په صحابو کښې د حضرت علی رضی الله عنه ژوند ډير عجيبه دې حضرت عيسی عليه السلام چې الله کوم قوم والو ته پيغمبر جوړ کړې وو، دغه قوم والا د هغهٔ په حق کښې دوه (٢) ډلې شوې وې.

يوې ډلې ورته سپک نظر کړې وو او د هغه په مور باندې ئې نعوذ بالله بدنامې لګولې وې چې دا ولد الزنا دې او د دهٔ مور بدکاره ده او د هغهٔ د قتل کوششونه ئې کړې وو، او بعضې خلقو د هغه د نبوت منلو سره هغه د خدائی توب درجې ته رسولې وو او هغه ته ئې د خدائی نسبت کړې وو.

د حضرت علی رضی الله عنه په حق کښې هم بعضې خلقو هغهٔ ته د ارتداد نسبت کړې وو او يو خارجی د کوفې په جامع مسجد کښې شهيد کړې وو، او نور څه خلق وو چې هغوی علی رضی الله عنه د صحابيت تر دې پورې چې دغه خلقو علی رضی الله عنه ته اله وئيلې وو او هغه ئې حاجت روا مشکل کشا ګنړلې وو او دا عقيده ئې قائم کړې وه چې د حضرت نوح عليه السلام کشتۍ په طوفان کښې حضرت علی رضی الله عنه بچ کړې وه.

موسی علیه السلام ته په دریاب کښې د نجات د پاره لاره علی رضی الله عنه پیدا کړې وه او ابراهیم علیه السلام په اور کښې حضرت علی رضی الله عنه بچ کړې وو، او یعقوب ته خپل بچې یوسف علیه السلام علی رضی الله عنه ورکړې وو او بل همدا خلق چې کوم خلق علی رضی الله عنه ته د الوهیت نسبت کړې وو او د هغه سره بیا ظلم او زیاتې اوکړې شو نو اعتراض دا دې چې علی رضی الله عنه خدائی دې نو څنګه بیا د دغه خدای نه حق اغستلې کیږی او څنګه د دغه خدائ سره ظلم او زیاتې کیږی، دا معامله د علی رضی الله عنه سره شوې وه چې نن هم د هغه په حقله دا دوه ډلې موجود دی.

د علی رضی الله عنه یو عظیم فضیلت او لوې شان دا دې چې د علی رضی الله عنه تربیت او پرورش نبی علیه السلام کړې وو په دنیا کښې د ماشوم تربیت مور پلار رور کوی لیکن علی رضی الله عنه ته الله دا مقام ورکړې دې چې د علی رضی الله عنه تربیت بذات خود نبی علیه السلام کړې وو او د دې واقعه دا وه چې د علی رضی الله عنه پلار ابو طالب ډیر غریب سړې وو او د هغه ډیر زیات اولاد وو نو نبی علیه السلام د نبوت نه مخکښې خپل ترهٔ عباس رضی الله عنه ته اووئیل چې د ابوطالب اولاد ډیر دې نو یو بچې به تا لره درکړی او د هغه تربیت به ته کوې او یو بچی به ترینه زهٔ واخلمه او د هغه تربیت به زهٔ کومه نو د هغه نه به دا بوج او مشقت د پرورش کم شی.

د هجرت په موقع نبی علیه السلام حضرت علی رضی الله عنه ته وئیلې وو چې ته زما په دې بستره باندې اودهٔ شه او د خلقو دا امانتونه به خپلو امانت دارو ته حواله کړې یعنې نبی علیه السلام علی رضی الله عنه ته دا مقام ورکړې وو چې خپل ټول د خلقو امانتونه ئې هغه ته ورکړې وو.

دا يقينا لوې مقام دې چې علی رضی الله عنه د نبی عليه السلام په بستره باندې اودۀ شوې وو ليکن د دې نه زيات لوې مقام دا دې چې ام المؤمنين عائشه رضی الله عنها د نبی عليه السلام په بستره باندې نه (۹)کاله اودۀ شوې وه ليکن بعضې خلقو ته دا يو طرف ښکاری او د دې بل طرف نه ړاندۀ شوې دی.

او بيا د عائشه رضی الله عنها د پلار غيرﺑﻪ هغه د نبی عليه السلام د پاره بستره وه که يو انسان د تاريخ خبره اوکړی چې په تاريخ کښې د صحابو خپل مينځ کښې جنګونه شوې وو نو جواب دا دې چې يو تاريخ دې او يو د قرآن ارشاد دې په انسان باندې د تاريخ اتباع لازم نه ده ليکن د قرآن اتباع په هر مسلمان باندې لازمی ده.

الله فرمائی

﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ (الفتح:۲۹)

الله د صحابو صفت بيان کړې دې چې صحابه کرام په کافرو باندې سختی کوی او خپل مينځ کښې د الله د دين د پاره مينه او محبت لری د دغه حضرت علی رضی الله عنه ځوې دې او د حسن او حسين رور دې محمد بن الحنفية دۀ يو ځل د خپل پلار نه تپوس اوکړو ای الناس افضل بعد نبی الله يعنې په دې خلقو کښې د نبی عليه السلام نه بعد څوک بهتر دې حضرت علی رضی الله عنه جواب ورکړو چې ابوبکر صديق رضی الله عنه دې بيا دوباره محمد بن الحنفية سوال اوکړو چې د دې نه بعد څوک بهتر دې علی رضی الله عنه جواب ورکړو چې د دې نه بعد د عمر رضی الله عنه مقام دې دغه خپل ځوی د سوال انداز بدل کړو چې بيابه ته غوره او بهتر ئې؟

علی رضی الله عنه جواب ورکړو چې د دې نه بعد د حضرت عثمان رضی الله عنه درجه ده او زه په عام انسانانو کښې یو انسان یمه، یو ځل علی رضی الله عنه د کوفې په لاره کښې روان وو چا ورباندې آواز اوکړو یا خیر الخلائق بعد نبی الله، اې په خلقو کښې بهترین سړیه د الله د پیغمبر نه بعد، حضرت علی رضی الله عنه په دې خبره باندې غصه شو او خلق ئې راجمع کړل او خطاب ئې ورته اوکړو چې ماته یو انسان دا آواز اوکړو.

تاسو یاد ساتئ چې د الله د پیغمبر نه بعد غوره او بهترین انسان ابوبکر رضی الله عنه دې بیا عمر رضی الله عنه دې او د دې نه بعد عثمان رضی الله عنه دې او که د دې ساعت نه بعد یو انسان دا آواز ماته اوکړو نو زۀ به ورته اتیا (۸۰) کوړې ورکومه.

د حضرت علی رضی الله عنه په کور کښې ماشوم پیدا شو خلق ورته د مبارکۍ د پاره راغلل تپوس ئې وکړو چې د دې ماشوم څه نوم دې نو علی رضی الله عنه اوفرمائیل چې د محمد صلی الله علیه وسلم په یاد کښې د دۀ نوم محمد دې د دې نه بعد بل ماشوم پیدا شو خلقو تپوس اوکړو چې د دۀ نوم څه دې علی رضی الله عنه جواب ورکړو چې د دۀ نوم ابوبکر دې دا د ابوبکر رضی الله عنه په یاد کښې د دۀ نوم دې .

دریم ماشوم پیدا شو نو خلقو تپوس اوکړو چې د دۀ نوم څه دې حضرت علی رضی الله عنه جواب ورکړو چې د دۀ نوم عثمان رضی الله عنه دې دا د صحابوو نومونه ئې په خپلو بچو باندې ځکه کیخودې وو چې د علی رضی الله عنه د صحابو سره ډیره زیاته مینه او محبت وو که داسې نه وی نو څوک د خپل دشمن نوم په خپلو بچو باندې نه کدی.

حضرت علی رضی الله عنه په خپلو نواسو باندې هم دا نومونه کیخودلې وو دا د اسلام دشمنان خلقو ته غلط تاثر ورکوی چې د صحابه کرامو خپل مینځ کښې محبت نه وو او د هغوی د شمنی وه.

د حضرت علی رضی الله عنه وادهٔ د فاطمه رضی الله عنها سره د ابوبکر او عمر په سفارش سره شوې وو چې د وادهٔ وقت رانزدې شو نو علی رضی الله عنه د وادهٔ په تيارئ کښې مشغوله وو او يوه زغره ورسره وه هغه ئې خرڅوله په لاره کښې ورسره عثمان رضی الله عنه ملاؤ شو او تپوس ئې ترينه اوکړو چې تهٔ څهٔ کوې؟ علی رضی الله عنه ورته اووئيل چې تاته پته نشته نبی علیه السلام فاطمه رضی الله عنها ماته راکړې ده او زهٔ د وادهٔ د پاره تيارې کومه او دا زغره خرڅومه نو عثمان ورته د خپل طرف نه څلور سوه اتيا (٤٨٠) درهم ورکړل چې ته لاړ شه او په دې باندې خپل وادهٔ اوکړه او دا خرچه زما د طرف نه قبوله کړه.

يوه ورځ فاطمه رضی الله عنها د نبی علیه السلام کور ته د خپلو بچو سره داخله شوه او ژړل ئې نبی علیه السلام ترينه تپوس اوکړو چې تهٔ ولې ژاړې نو هغې جواب ورکړو چې د علی رضی الله عنه دا اراده ده چې د ابوجهل د لور سره نکاح اوکړی نبی علیه السلام مسجد ته راغې علی رضی الله عنه ئې د خوب نه راويخ کړو او حکم ئې ورته اوکړو چې لاړشه ابوبکر او عمر رضی الله عنه دې مسجد ته حاضر کړه دا د دې مقصد د پاره چې د دې دواړو صحابو په سفارش نبی علیه السلام خپله لور حضرت علی رضی الله عنه ته ورکړې وه چې کوم وقت هغوی مسجد ته حاضر شو نو نبی علیه السلام حضرت علی رضی الله عنه ته د هغوی په موجودګئ کښې اووئيل چې هيڅ يو انسان لره جائز نه دې چې د هغه په کور کښې د الله د دوست او دشمن لور جمع شی د دې نه بعد علی رضی الله عنه د هيڅ يوې بی بی سره د فاطمة الزهراء رضی الله عنها په ژوند کښې نکاح نهٔ وه کړې.

کوم وقت چې يمن فتح کړې شو او د هغه ځاې څه خلقو ايمان راوړو، نو نبی علیه السلام حضرت علی رضی الله عنه د يمن د پاره قاضی مقرر کړو په دغه وقت کښې د حضرت علی رضی الله عنه عمر کم وو.

نو علی رضی الله عنه نبی علیه السلام ته عرض اوکړو چې زۀ په قضا باندې نه پوهيږم نبی علیه السلام خپل لاس مبارک د حضرت علی رضی الله عنه په سينه باندې کيخودو او دادعائی اوکړه. الله د دۀ زړۀ ته هدايت اوکړې او د دۀ ژبه روانه کړې حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چې د دې نه بعد ماته په قضاء کښې هيڅ څه مشکل نه دې پيش شوې.

حضرت علی رضی الله عنه ډير عادل او انصاف دار هم وو په خپل دور خلافت کښې ئې د يو يهودی سره په زغره باندې جهګړه شوه او علی رضی الله عنه اووئيل چې دا زغره زما ده علی رضی الله عنه او دغه يهودی دواړه د قاضی شريح عدالت ته پيش کړې شو خليفه وقت بخپله د قاضی دربار ته پيش کړې شو قاضی د دواړو دعوې واوريدې او د حضرت علی رضی الله عنه نه ئې بخپله دعوی باندې د ګواهانو پيش کولو مطالبه اوکړه علی رضی الله عنه ورته حسن او حسين رضی الله عنهما پيش کړل چې زما سره دا دوه ګواهان دې قاضی شريح جواب ورکړو چې د بچو ګواهی د خپل پلار په حق کښې نۀ قبليږی، علی رضی الله عنه جواب ورکړو چې زما سره خو نور ګواهان نشته، قاضی شريح يهودی طرف ته متوجه شو او هغه ته ئې اووئيل چې تۀ قسم اوکړه چې دا زغره زما ده نو زه به ستا په حق کښې فيصله اوکړمه يهودی پوهه شو چې اسلام د عدل والا مذهب دې او دغه زغره ئې په دغه مجلس کښې علی رضی الله عنه ته ورکړه چې دا واخله دا په حقيقت کښې هم ستا وه او په هم دغه ځاې کښې ئې ايمان قبول کړو.

# سید نا امیر معاویه رضی الله عنه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿فِي صُحُفٍ مُكَرَّمَةٍ (١٣) مَرْفُوعَةٍ مُطَهَّرَةٍ (١٤) بِأَيْدِي سَفَرَةٍ (١٥) كِرَامٍ بَرَرَةٍ﴾ (سورة عبس)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: أَوَّلُ جَيْشٍ مِنْ أُمَّتِي يَغْزُونَ الْبَحْرَ قَدْ أَوْجَبُوا﴾ (بخاری)

دا د رجب میاشت ده او په دې میاشت کښې ډیر ګڼر واقعات شوې دی یوه واقعه هغه د سیدنا امیر معاویه رضی الله عنه د وفات واقعه ده، امیر معاویه رضی الله عنه هغه صحابی دې چې کوم صحابی چې (٢٠) شل کاله حکومت کړې وو د دهٔ په درو حکومت کښې امن وامان ترقی او خوشحالی وه.

حضرت امیر معاویه رضی الله عنه د قرآن کریم د سورت نور (٥٥) نمبر آیت مصداق دې چې الله فرمائی:

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ (النور:٥٥)

یعنې د الله وعده د هغه خلقو سره ده چې د هغوی ایمان درست او صحیح دې چې الله به ورته په دنیا کښې خلافت ورکړی او دَ الله دین به غالب شی امن وامان به وی او د الله او د رسول صلی الله علیه وسلم به پوره پوره اطاعت وی معاویه رضی الله عنه یقینا د دې آیت مصداق دې.

د دغه عظیم صحابی چې د اسلام د پاره ځومره خدمات دی او ځومره کارنامې دی او قربانۍ دې دغه ټولې خبرې یو طرف ته په مسلمانانو

باندې پټې دی او بل طرف ته د صحابو دشمنانو په هغهٔ باندې قسم قسم الزامونه او اعتراضونه کړې دی چې د دې هيڅ څه ثبوت او حقيقت نشته او د دې غټه وجه دا وه چې امير معاويه رضی الله عنه اختلافات ختم کړې وو او په خپل دور خلافت کښې ئې خلافت ته وسعت ورکړې وو اسلام دومره خور شوې وو چې کابل، ملتان، پيښور او د يورپ پورې علاقې د اسلام د جهنډې نه لاندې داخل شوې وو، هرکله چې د دين دشمنانو باندې د هغه دور خلافت ښهٔ نه لګيدو نو هغوی د معاويه رضی الله عنه تاريخ بدنام کړو او د هغهٔ د مسخ کيدو کوشش ئې شروع کړو او په هغهٔ باندې ئې قسمه قسم تهمتونه اولګول او هغه ئې بدنام کړو حال دا دې چې امير معاويه رضی الله عنه ټول عمر کښې څلويښت ۴۰ کاله د دين اسلام بې لوثه خدمت کړې وو.

د شپږم خليفه نوم معاويه رضی الله عنه وو او د پلار نوم ئې ابو سفيان رضی الله عنه وو دا صحابی ځوې د صحابی دې د مور نوم ئې هنده وو د دغه هندې لور او د امير معاويه رضی الله عنه خور د نبی عليه السلام بی بی وه.

نو معاويه رضی الله عنه خپله هم صحابی دې د هغهٔ مور او پلار هم صحابه دی او د هغه خور هم صحابيه ده او د هغه ځوې هم صحابی دې .

امير معاويه رضی الله عنه د نبی عليه السلام د بعثت نه پنځه کاله مخکښې پيدا شوې دې د ماشوموالی وقت نه په امير معاويه رضی الله عنه کښې د قابليت او سرداری آثار ښکاره کيدل، ابوسفيان په يو موقع داخبره کړې وه چې زما دا غټ سر والا ځوې په دهٔ کښې د قابليت او سرداری صلاحيت شته دې .

هندې دا خبره واوریدله او وئیل چې صرف د قوم سردار به نهٔ وی بلکه د ټولو عربو سردار به وی او که داسې نه وی نو زه به ژړا اوکړمه او بیا ورته الله صرف د عربو نه بلکه د عربو او عجمو دواړ سرداری ورکړې ده .

معاویه رضی الله عنه په اووم (۷) کال د هجرت باندې اسلام قبول کړې وو د عمرة القضاء په کال باندې ئې اسلام قبول کړې وو لیکن هجرت ئې نهٔ وو کړې معاویه رضی الله عنه فرمائی چې په دغه وقت کښې زما مور اسلام نه وو قبول کړې نو ځکه ما هم هجرت نهٔ وو کړې هغه خفه کیدله.

کوم وقت چې مکه فتح شوه او د معاویه رضی الله عنه مور او پلار ایمان قبول کړو نو معاویه رضی الله عنه هم د خپل ایمان اعلان اوکړو او د اسلام نه بعد چې څومره غزوات شوې دی په هغه ټولو کښې شریک شوې دې او په خپل دور خلافت کښې جهادونه او د عثمان رضی الله عنه په دور خلافت کښې هم جهادونه د دهٔ د حکم نه لاندې شوې دی او بل مقام د معاویه رضی الله عنه دا دې چې دا په کاتبین وحی کښې هم دې کاتبین وحی هغه صحابه وو چې کومو به د نبی علیه السلام په وقت کښې قرآن لیکلو او مختلف قسمه د غزواتو تفصیلات او خطوط به ئې لیکل په دغه خلقو کښې یو معاویه رضی الله عنه هم شامل دې او په دې صحابو کښې بیا مشهور صحابه دوه دی یو سیدنا زید بن ثابت دې او یو امیر معاویه رضی الله عنه دې.

قرآن پاک کوم چې زمونږه سره موجود دې دا الله د معاویه رضی الله عنه په لاس باندې لیکلې دې د دغه صحیفو تذکره الله په قرآن کښې په (۳۰) سیپاره کښې کوی .

﴿فِي صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ (۱۳) مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ (۱۴) بِأَيْدِي سَفَرَةٍ (۱۵) كِرَامٍ بَرَرَةٍ﴾

(سورة عبس)

يعني قرآن پاک په ډيرو عزتمندو او عالی شان صحيفو کښې محفوظ دي؟ خو دا چا ليکلي دي نو (بأيدی سفرة كرام بررة ) يعني دا هغه لاسونو ليکلي دي کوم چې عزتمند لاسونه دی قرآن کريم دا ډير لوې امانت دې او دا ډير حساس کار دې دا چې نبی عليه السلام په معاويه رضی الله عنه باندې کوی نو معلوميږی چې د معاويه رضی الله عنه په دربار نبوت کښې ډير لوې مقام دې.

بل شان او مقام د معاويه رضی الله عنه دا دې چې دهٔ د نبی عليه السلام په سفر او حضر کښې خدمتونه کړې وو يوه ورځ نبی عليه السلام د اودس ماتی په اراده باندې روان وو روسته ورپسې معاويه رضی الله عنه اوبه يوړې نبی عليه السلام چې دې اوليدو نو دعا ئې ورته اوکړه چې الله دا سردار جوړ کړې او بيا ئې ورته اووئيل چې ائ معاويه څوک چې ښهٔ سلوک کوی ته هم د هغوی سره ښهٔ سلوک کوه او څوک چې ظلم کوی نو د هغوی نه عفو او درګزر کوه معاويه رضی الله عنه فرمائی چې د دغه وقت نه الله زما په زړهٔ کښې داخبره واچوله چې دا خلافت به الله ماته راکوی يو ځل د نبی عليه السلام سره په سورلۍ باندې ناست وو، نبی عليه السلام ترينه تپوس اوکړو چې ستا د بدن کومه حصه زما سره لګيدلې ده هغه ورته اووئيل: چې خيټه او سينه نو نبی عليه السلام دعا اوکړه چې الله د دهٔ خيټه او سينه دواړه د نور نه ډک کړې او په يوه موقع ورته نبی عليه السلام دا دعا کړې وه .

﴿اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا وَاهْدِهِ وَاهْدِ بِهِ،وَقِهِ الْعَذَابَ﴾ (احمد)، الله معاويه ته هدايت اوکړې او د نورو خلقو د پاره ئې د هدايت ذريعه جوړه کړې او د عذاب نه ئې حفاظت اوکړې. يو ځل د معاويه رضی الله عنه خور ام المؤمنين ام حبيبه رضی الله عنه موجود وه او هغې ورته په سر کښې

لاس وهلو نو نبی علیه السلام ورنه تپوس اوکړو چې تاته دا معاویه ډېر خوښ دې هغې عرض اوکړو چې اې د الله رسول هر یوې خور ته خپل رور محبوب وی نبی علیه السلام جواب ورکړو چې الله او د الله رسول صلی الله علیه وسلم ته هم معاویه محبوب او خوښ دې.

حضرت معاویه رضی الله عنه شل کاله خلافت کړې دې او څومره علاقې باندې هغه حکومت کړې وو؟ د نبی علیه السلام په دور کښې اسلامی ریاست مدینې پورې وو او بیا څه فتوحات اوشو، او بیا د ابوبکر رضی الله عنه په دور کښې څه لږ شان او د عمر او عثمان په دور کښې هم ډېر فتوحات شوې وو، د علی رضی الله عنه په دور خلافت کښې د څه اختلافاتو په بنیاد دغه د فتوحاتو سلسله بنده وه او دغه سلسله دوباره د امیر معاویه رضی الله عنه په دور کښې کولاؤ شوه او د هغه په وقت کښې دغه رقبه څلور شپیته لاکهه او پنځلس زره مربع میل وه یو طرف ده سره یعنی په عربو کښې وو او بل طرف ئې د ملتان سره وو او غتې غتې څلور پنځوس صوبو باندې تقسیم شوې وو او یوه صوبه مثلا پوره شام ملک په هغه وقت کښې یوه صوبه وه او دومره امن وامان وو چې یوه ورځ ئې اعلان کړې وو چې څومره د سرو زرو دکانونه وی هغه دې کولاؤ وی او هغه دې نه بندولې شی او زه ګورمه چې دا کومه مور ده چې داسې څوی د هغې نه پیدا شوې دې چې د معاویه رضی الله عنه په دور خلافت کښې هغه غلا اوکړی. په ټولو کښې اول اسلامی بحری بیړی معاویه رضی الله عنه ایجاد کړې وه او په سمندری جهاد کښې هم معاویه رضی الله عنه اوله حصه اغیستې وه دغه شان د دربار نبوت نه څو څو ځله دعاګانې د معاویه رضی الله عنه په حق کښې شوې وې دا مقام او منقبت د معاویه رضی الله عنه دې.

# مقام حسنين رضى الله عنهما

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد !

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ (الفتح:۲۹)

﴿وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: فى حَقِّ الحسنين اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُمَا فَأَحِبَّهُمَا وَأَحِبَّ مَنْ يُحِبُّهُمَا﴾ (صحيح الترمذى)

د دې مياشت مناسبت سره لكه څنګه چې يكم محرم د حضرت عمر فاروق رضى الله عنه يوم شهادت وه دغه شان لسم (۱۰) محرم د سيدنا حسين رضى الله عنه يوم شهادت ده دغه مناسبت سره د سيدنا حسين رضى الله عنه او د سيدنا حسن رضى الله عنه څه مختصر حالات د ژوند به بيان كړې شى ځكه دا دواړه نبى عليه السلام ته ډير محبوب وو او همدغه ترغيب ئې صحابه كرامو ته هم وركړې دې .

دغه وجه ده چې صحابو به هم د دوى ډير زيات قدر او احترام كوو او د دې وجه دا وه چې دا ټول صحابه د يو استاذ شاګردان او د نبى عليه السلام تربيت يافته وو قرآن كښې الله د دغه خلقو تذكره كړې ده (رحماء بينهم) يعنې د نبى عليه السلام صحابه په خپل مينځ كښې ډير زيات رحم كونكى دى د دين دشمنانو هميشه د صحابه كرامو د بدنام كولو كوششونه كړې دې او په هغوى پسې ئې قسم قسم تهمتونه او پروپيګنډې كړې دى، او دا تصور ئې خلقو ته وركړې دې چې نعوذ بالله صحابو به په وړه وړه خبره جنګ جهګړې كوې او د دنيا د حصول او اقتدار او سلطنت د پاره به ئې د يو بل وينې توې كولې.

دا خلق په اصل کښې د دین اسلام په باره کښې خلق بدګمانه کوی نو د دغه مقصد د پاره صحابه کرام بدنام کوی، ځکه د پیغمبر پاک صلی الله علیه وسلم هر یو حرکت مونږ ته صحابه کرامو نقل کړې دې او دا نن چې زمونږه سره قرآن په خپل اصلی صورت کښې موجود دې نو دا هم مونږه ته صحابه کرامو صحیح محفوظ او د تحریف نه پاک راکړې دې.

دا خبره یقینی ده چې د صحابه کرامو په شان مینه محبت، اخوت او مساوات دنیا پیش کوې نشی ځکه که یو عام انسان یوه خبره اوکړی نو په دغه خبره کښې څه سوچ او تأمل کیدې شی لیکن که الله رب العزت بذات خود پخپله دا خبر ورکړی چې صحابه کرام په خپلو کښې رحم کونکی وو نو بیا په دې خبره کښې هیڅ قسمه شک شبه نشی کیدې، نو دا غلطه خبره ده څوک چې د عام صحابو او د حسنینو په مینځ کښې د اختلاف قائل دی.

غرض دا چې د نبی علیه السلام څلور لوریانې وی دغه څلور لوریانې وادهٔ شوې دی دوه په عثمان رضی الله عنه باندې یوه په ابو العاص باندې دا دواړه د اموی خاندان والا وو او یوه په علی رضی الله عنه باندې وادهٔ شوې ده او د دې لوریانو اولاد ته آل بیت او اهل بیت وئیلې کیږی او نبی علیه السلام د دوی د اتباع او محبت په باره کښې وصیت کړې وو.

کوم وقت چې هجرت اوشو او د غزوهٔ احد نه بعد نبی علیه السلام خپله لور فاطمه رضی الله عنها ته علی رضی الله عنها په نکاح باندې ورکړه غزوه احد په دریم کال د هجرت باندې شوې وه.

په څلورم یا پنځم کال د هجرت سیدنا حسن رضی الله عنه پیدا شوې دې دا مشر دې او د دې نه بعد بیا حسین رضی الله عنه پیدا شوې

دې نبی علیه السلام د دوی تحنیک او په عقیقه کښې حصه اغیستی وه، د نبی علیه السلام د وفات په وقت کښې پنځه یا شپږ کاله په عمر کښې وو.

یوه ورځ د مونځ نه بعد نبی علیه السلام علی رضی الله عنه او ابوبکر رضی الله عنه د مسجد نه باهر روان وو او حسن رضی الله عنه ئې اولیدو چې هغه د ماشومانو سره لوبې کوی ابوبکر رضی الله عنه اووئیل چې حسن رضی الله عنه د علی رضی الله عنه ځوې دې لیکن په شکل او صورت کښې د نبی علیه السلام سره مشابهت لری علی رضی الله عنه چې دا خبره واوریدله نو په خندا شو بیا ابوبکر رضی الله عنه حسن رضی الله عنه په خپله اوګه باندې اوچت کړو او دا ځکه چې نبی علیه السلام به هم حسن رضی الله عنه او حسین رضی الله عنه په خپله اوګه باندې اوچت کول نو دا ئې هم په اوګه باندې اوچت کړو.

د نبی علیه السلام طریقه دا وه چې کوم وقت به یو ماشوم پیدا شو نو نبی علیه السلام به په خپله خولهٔ مبارکه کښې کهجوره نرمه کړه او هغه ته به ئې ورکړه حسن رضی الله عنه چې کوم وقت پیدا شو نو په دغه وقت کښې ئې په خپله خولهٔ مبارکه کښې کهجوره نرمه کړه او هغه ته ئې ورکړه دا طریقه نبی علیه السلام د طلحه انصاری رضی الله عنه د ځوی سره او د عبد الله بن زبیر بن عوام سره هم کړې وه، نبی علیه السلام تپوس اوکړو چې تاسو دهٔ ته څه نوم کیخودلې دې هغوی جواب ورکړو چې د دهٔ نوم حرب دې نبی علیه السلام دغه نوم بدل کړو او حسین رضی الله عنه نوم ئې ورته کیخودو په اوومه ورځ باندې نبی علیه السلام د دهٔ د طرف نه عقیقه وکړه او دوه چیلې ئې حلالې کړلې د

جاهلیت دا طریقه وه چې د ماشوم په سر باندې به ئې وینه لګوله نبی علیه السلام دغه طریقه ختمه کړه او د وینې په ځای ئې د حسین رضی الله عنه په سر باندې خوشبو عطر اولګول .

نبی علیه السلام به چې کله د سفر یا د غزوې نه واپس شو نو حسن او حسین رضی الله عنه به لشکر طرف ته روان شو نبی علیه السلام به دا دواړه د خپل ځان سره په سورلۍ باندې سوارۀ کړل او بیا به خپلې علاقې ته داخل شو.

نبی علیه السلام چې به په مسجد نبوی کښې مونځ ادا کولو نو حسن او حسین رضی الله عنهم به ورته په سر ملا، او اوګه باندې کیناستل، د نبی علیه السلام بل نوسۍ د زینب ځوې چې د هغه نوم هم علی رضی الله عنه دې هغه په مکه کښې وو کوم وقت چې نبی علیه السلام مکې ته فاتحانه اندازه کښې داخل شو نو هغه په منډه منډه راغلې او نبی علیه السلام هغه هم د ځان سره په سورلۍ باندې سور کړې وو لیکن دا عجیبه خبره ده چې دا ټول آل بیت دی خو دغه د زینب رضی الله عنه د بچی تذکره نۀ کیږی.

د دغه زینب رضی الله عنه لور ده او د هغې نوم امامه دې هغه به هم نبی علیه السلام ته د مونځ په حالت کښې په اوګه باندې کیناستله او د دې مسئلې دَ اثبات د پاره امام بخاری مستقل باب قائم کړې دې .

نو عرض دا دې چې دا ټول د نبی علیه السلام اهل بیت دی او د دې ټولو سره مینه او محبت په زړۀ کښې ساتل لازم او ضروری دی.

صحابه کرامو به هم د حسنینو سره مینه کوله او حدیث کښې راځی نبی علیه السلام فرمائی چې دا دواړه زما خوشبو ده په دنیا کښې او

په یو بل حدیث کښې راځی چې الله زۀ د دوی سره مینه کوم ته هم ورسره مینه اوکړې او د هغه چا سره مینه اوکړې څوک چې د دوی دواړو سره مینه او محبت کوی، دغه وجه ده چې کوم وقت د ابوبکر په دور خلافت کښې فتح شو نو ابوبکر رضی الله عنه په مال غنیمت کښې چې کوم قیمتی څادر وو هغه ئې حضرت حسین رضی الله عنه ته ورکړو او د حضرت عمر رضی الله عنه په دور خلافت کښې هغه په کور کښې د خلافت په کارونو کښې مصروفه وو عبد الله کوم چې د عمر رضی الله عنه ځوې دې هغه په دروازه کښې ولاړ وو نو په دغه وقت کښې حسین رضی الله عنه د عمر رضی الله عنه د ملاقات د پاره راغلې، عبد الله رضی الله عنه ورته اووئیل چې زۀ هم د خپل پلار انتظار کومه، لیکن هغه ډیر زیات مصروفه دې، حسین رضی الله عنه د دروازې نه واپس شو عمر رضی الله عنه چې خبر شو نو هغه ورپسې پیغام اولیګو چې دوباره راواپس شه، چې هغه راغلې نو عمر رضی الله عنه ورته اووئیل چې ته ولې د دروازې نه واپس شوې حسین رضی الله عنه اووئیل چې عبد الله هم ستاسو انتظار کوو نو ما د خپل ځان سره اووئیل چې بل وقت به زه ستا سره ملاقات اوکړمه ځکه زۀ واپس شوم حضرت عمر رضی الله عنه ورته اووئیل چې عبد الله به باهر په دروازه کښې ولاړ وی او ته به دننه راځې ځکه عبد الله ستا مقام ته نه رسیږی.

یوه ورځ د یمن نه څۀ څادرونه او قیمتی کپړې مدینې ته راغلې وې عمر رضی الله عنه هغه تقسیم کړې چې دغه څادرونه ختم شو نو حسن او حسین رضی الله عنه مسجد ته داخل شو عمر رضی الله عنه چې دا ولیدل چې دوی ته څادرونه ملاؤ نه شو نو ډیر زیات خفه شو او د

یمن حکمران ته ئې خط اولیکو چې تاسو سره کومه کپړه زیاته قیمتي وی هغه مدینې ته راولیږې هغه ورته چوغې ورکړې عمر رضی الله عنه دغه چوغې حسن او حسین رضی الله عنهما ته ورکړې او بیا ئې اوفرمائیل چې: اَلْآنَ طَابَتْ نَفْسِيْ، یعنې زما زړۀ اوس مطمئن شو حضرت عمر رضی الله عنه په خپل دور کښې حسن او حسین رضی الله عنه ته د بدری صحابو په مقدار وظائف ورکړی وو د عمر رضی الله عنه په دور کښې چې ایران فتح شو نو په مال غنیمت کښې غلامان او وینزې وې په دغه وینزو کښې یوه وینزه د بادشاه لور وه دغه د بادشاه لور حضرت عمر رضی الله عنه حسین ته ورکړې وه او د دغې نه بیا زین العابدین پیدا شوې دې دا د عمر رضی الله عنه مینه او محبت وو د حسن او حسین رضی الله عنهما سره دومره مینه ئې ورسره وه چې د علی رضی الله عنه لور او د حسن او حسین رضی الله عنه خور ام کلثوم هغه عمر رضی الله عنه په خپله نکاح کښې اغیستې وه.

د معاویه رضی الله عنه هم د حسن او حسین رضی الله عنهما سره ډیره زیاته مینه وه او هغوی ته به ئې تحفې تحائف ورکول ځکه الله فرمائی : رحماء بینهم چې دا صحابه خپلو کښې مینه کونکی دی.

دغه حسین رضی الله عنه چې څومره د لوې مقام خاوند دې نو بل طرف ته ورسره لوې ظلم هم شوې دې او په کربلا کښې په لسم د محرم د باغیانو، ظالمانو، غدارانو د کوفې خلقو ډیر په بې دردۍ سره شهید کړې دې کوم خلقو چې ورسره وعدې کړې وې همدغه خلقو بیا شهید کړې دې.      والحمد لله رب العالمین.

# شان حضرت حسين او واقعه كربلا

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ الْاَتْقِيَاءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم۔

﴿اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَا هُمْ هُدًى﴾ (الكهف:۱۳)

د دې اوّلې مياشت د لسم تاريخ د مناسبت سره دا خبره پيژندل ضروری ده چې په دې کښې ثابت کارونه څه دی،او خرافات يا بدعات پکښې څه دی،دا خبره مخکښې بيان شوې وه، او بيا په دې مياشت کښې د خليفه ثانی د شهادت واقعه اتّفاقًا شوې وه، چې هغه د دې مياشت په اوّل تاريخ باندې شهيد شوے وو، او يوه بله غټه حادثه هغه د سيّدنا حسين رضی الله عنه شهادت دے،چې هغه په دې مياشت کښې شهيد شوے وو، نو په دې مجلس کښې به د سيّدنا حسين رضی الله عنه شان او د واقعه کربلا د حقيقت په باره کښې وضاخت کيږی.

واقعه کربلاء باندې گفت او خبره کول يوه حساس موضوع ده، هر خطيب يا عالم که د دې بيان يا وضاخت کوی نو ورله دا ضروری ده، چې د هغه سره به علم وی،مکمل تحقيق به ئي کړے وی، او ډير په يره او احتياط سره به د دې بيان کوی، وجه دا ده چې دا واقعه کربلاء نورو واقعاتو پشان په دې دروغ تاريخی حيثيت سره خلط ملط کړے شوی دې، څومره چې دا بيانيږی نو يوه حصّه حقيقت وی او درې حصې دروغ وی، دويمه وجه دا ده چې دا د عظيم شخصيّاتو سره تعلق لری يا په دی کښې صحابه دی او يا ورکښې د صحابوو اولاد دے نو احتياط ډير

ضروری دی ځکه چې هسې نه دروغ بیان شی، او یا هسې نه چې دا عظیم شخصیات،اولیاء الله د دوی په حق کښې کم والے اونه کړے شی او دا مجروحه نشی، خو افسوس دا دے چې د دې زمانې خطیبان ډیر په جرأتمندئ سره او په بے باکئ سره دا خبره د عام خلقو په مجموعو کښې بیانوی او دا خیال نه کوی،چې په دې واقعه کښې یو طرف ته د لوې نسبت خاوند، نواسۀ رسول چې هغه سره مینه او محبّت د ایمان لازمی حصه ده هغه انسان چې د چا سره د محمد رسول الله صلی الله علیه واله وسلم مینه او محبت وو، او نبی علیه السلام د هغوی په باره کښې وائی، الله زۀ ورسره مینه کومه او ته ورسره مینه اوکړې او د هغه چاسره هم مینه اوکړې خوك چې د دوی سره مینه او محبّت کوی اوبله وجه دا ده چې د دې واقعې سره صرف د حسین رضی الله عنه تعلق نه دے بلکه بالواسطه یا بلاواسطه د دې د ټولو صحابوو سره تعلق دے نو که په دې واقعه کښې قدم په قدم احیتاط اونه کړے شی نو دغه قدّوسی جماعت به مجروحه او بد نام کړے شی و العیاذ بالله.

د حسین رضی الله عنه مقام مختصر دا چې دا صحابی رسول او نواسۀ رسول دے جگر گوش فاطمه دے، د نبی علیه السلام محبوب وو، چا چې د نبی علیه السلام په اوگو باندې سیر او سیاحتونه کړې دې، نبی علیه السلام د دۀ په خولۀ کښې لاړې مبارکې، لعاب مبارك اچولی وو، هغه لعاب چې کله د حضرت علی رضی الله عنه په سترگه کښې درد پیدا شوے وو نو نبی علیه السلام ورباندې خپل لعاب مبارك کیخودل په دې سره الله ورته دا شفاءورکړه چې ټول عمر د هغه په سترگو کښې بیا شکایت پیدا نه شو، او دغه لعاب مبارك یو ځل په یو کوهی کښې چې د

هغې اُوبهٔ اووچې شوې وې نبی علیه السلام واچول نو د دغه کوهی چینې رااُوختهٔکیدلې.

او بل طرف ته امیر یزید دے د مسلمانو ماما، دَ حضرت سیّد نا امیر معاویه رضی الله عنه ځوئے، د هغه بچے دے، دا هم لوی شخص دے اګر چې تاریخ بدنام کړے دے او دهٔ باندې ئې دروغ تړلې دې ورنه یزید د صحابی رسول،کاتب وحی، خال المسلمین، امیر المؤمنین خلیفه سادس د حضرت امیر معاویه بچے دے، د دهٔ نیا هنده صحابیّه وه، او د دهٔ ترور اُمّ حبیبة رضی الله عنها صرف صحابیّه رضی الله عنه نه بلکه د نبی علیه السلام بی بی او اُمّ المؤمنین وه، نو دا هم د صحابو د خاندان یو فرد دے.

او په بخاری شریف کښې روایت دے،حرام بنت ملحان رضی الله عنها وائي چې یو ځل نبی علیه السلام د خوب نه رابیدار شو، او هغه خاندل ما ورته اووئیل چې یا رسول الله ته ولے خوشحاله ئې او خاندې نو نبی علیه السلام جواب راکړو چې ما خوب اولیدو چې زما د اُمّت یو جماعت په دریاب کښې بغیر د کشتۍ نه تیر شی، د دریاب د پاسه روان وی او کشتۍ ورسره نه وی، او بیا ماته اووئیل شو چې دا خلق جنتیان دی نو دا صحابیه وائي چې ما ورته اووئیل یا رسول الله د الله نه دعا اوکړه چې زهٔ هم په دغه خلقو کښې شامله شمه، نو نبی علیه السلام زیرے راکړو چې هاں ته د دغه خلقو سره ئې، دغه سمندری جهاد او سفر د عثمان رضی الله عنه په دور خلافت کښې ا میر معاویه رضی الله عنه په امارت او مشرۍ کښې شوے وو، چې دغه زنانه هم پکښې شامله وه بیا چې کله واپس کیدل نو هم په دغه وخت کښې دا زنانه د خپل اس یا د اُوښ نه پریوتې وه ګوزار شوې وه او شهیده شوې وه، او په هم دغه حدیث کښې

راځی چې یو ځل بیا نبی علیه السلام اُودهٔ شوے وو، کله چې رابیدار شو نو په خنده باندې وو، هم دغه صحابیّه رضی الله عنها ورنه تپوس اوکړو چې یا رسول الله ستا د خندا وجه څه ده، نبی علیه السلام ورته اووئیل چې ما ته زما د اُمّت یو جماعت ښکاره شو، چې هغوی د قیصر وطن قسطنطینیّه د فتح کیدو دپاره تلی وو، او بیا ماته اووئیل شو چې دغه جماعت (مَغۡفُوۡرٌلَّهُمۡ) دوی ته مغفرت او بخښنه شوې ده، بیا روسته دغه جماعت چې په دې کښې غټ غټ صحابه رضی الله عنه لکه ابو ایّوب الأنصاری، ابوهریره، سیدنا حسین رضی الله عنه دا هم شامل وو او د دغه جماعت سردار او امیر یزید وو، د کوم لښکر په باره کښې نبی علیه السلام وائی چې دا خلق بخلے شوی دی نو دغه امیر به بطریق اولی بخلے شوے وی.

هاں بل طرف ته دا خبره ضروری ده چې که د حسین رضی الله عنه او یزید تقابل راشی نو یزید د حسین رضی الله عنه د خپو خاؤرو ته هم نه رسیږی، او د دې وجه دا ده، چې یزید صحابی نه دے، بلکه تابعی دے او حسین رضی الله عنه صحابی دے او دا د حسین د عظمت بنیادی وجه ده چې دا صحابی رسول دے، د صحابیّت دومره مقام او درجه ده چې د اُمّت تمام خلق که صلحاء،علماء،اتقیاء، صالحین، آئمه، امام ابوحنیفه، مالك،شافعی، احمد بن حمبل، امام ابن تیمية، یوسف کمال مزّی، ابن حجر عسقلانی، السیوطی، ملاعلی القاری، ولی الله الدهلوی ورسره نور بلکه ټول کائنات د دغه صحابی د خپو خاؤروته هم نشی رسیدلے او وجه دا ده چې د صحابیّت دا مقام هیڅ چاته په عمل نه ملاویږی، په تقوی او په علم نه ملاویږی، ځکه که په علم ملاویدےنو ابوحنیفة مالك به صحابه

وے،که په تقوی ملاويدے نو عبدالقادر جيلانی او ابن تيميه به صحابه وے، او بل طرف ته د کمزوری رنګ خاوند بلال حبشی رضی الله عنه صحابی دے دا ده چې دا د علم، عمل،تقوی خبره نه ده بلکه دا د الله انتخاب دے او د نبی عليه السلام سره د نسبت وجه ده.

د عبدالله بن مبارك نه چا تپوس کړے وو، چې عمر بن عبد العزيز غوره دے اوکه معاويه رضی الله عنه غوره او بهتر دے؟نو دۀ ورته جواب ورکړو چې تاسو عمر بن العزيز پيژنئ هغه تابعی دے او معاويه رضی الله عنه صحابی دے، د دغه صحابی په جهادی سفرونو کښې چې د اَسْ په پوزه کښې کوم ګرد وغبار دننه شوے دے نو عمر بن عبد العزيز د دغه اَسْ د پوزو ګرد وغبار ته هم نه رسيږی، د صحابی رسول دومره لوړ مقام او مرتبې ته نشی رسيدے، دا خبره ده چې ظلم ورسره دا کيږی چې نه هغه ظالم دے،نه کافر دے،او نه هغه حسين رضی الله عنه شهيد کړے دے،خو بدقسمتی دا ده چې غلط تاريخ هغه بدنام کړے دے او غلط نسبتونه ئې ورباندې تړلې دی، بلکه که يو انسان ته بد نسبت کيږی نو دا ورته وئيل شی چې د يزيد بچيه ، د يزيد ځويه وغيره، نو ځکه د دې په نقل او بيان کيدو کښې احتياط ضروری دے، افسوس دا دے چې په هم دغه انداز دا واقعه بيانيږی او د صحابه کرامو شان او شخصيت ورسره مجروحه کيږی، او د هغوی نوم ورسره بدنام کيږی.

وجه دا ده چې د عام د ستور او واقعې مطابق لکه څنګه چې دا واقعه مشهوره ده، آيا سوال دا دے؟چې په دغه دور کښې په مکه، مدينه،عراق ، شام،کښې نور صحابه نه وو، هر کله چې غټ غټ صحابه موجود وو نو هغوی ته دغه د يزيد دا ظلم، او فسق نه ښکاريدو او هغوی

په دې ظلم او بربريّت او فسق باندی سکوت کړے وو، دا نشی کيدے، واقعه کربلا په (61) هجرۍ کښې شوې وه او په دغه وخت (350) کبار صحابه ژوندی وو، ايا هغوی دا ظلم ئے نه لرې کوو د دغه ظلم خلاف هغوی آواز نه اچتولو، که څوك وائی چې نعوذ بالله صحابه دباؤ شوی وو، يا يريدلې وو، دا غلطه خبره ده څکه صحابه د روم او فارس او قيصر نه يره نه وه کړې، څکه صحابو چې کله يو موقف اختيار کړے دے نو د مرګ پورې په هم دغه موقف باندې قائم او دائم وو، بيا ورنه نه دی روسته شوې بلال حبشی رضی الله عنه په مکه کښې د ظلم او جبر سره مخامخ دے، صحابيّه سميّه دوه ټوټې شوه، د ابوفکيهة رضی الله عنه پښتۍ ماتې شوې، خو بيا هم هغوی ته ظلم او جبر نه دے منظور شوے او نه هغوی د حق په مقابله کښې باطل ته غاړه کيخودلې وه دومره بهادر، او جرأتمند خلق هغوی ته يزيد هيڅ نه ښکاری او نه ورته د هغه بادشاهت څه بادشاهت ښکاری، نو د دې معمولی څيزونو د وجې نه هغوی دباؤ کيدے نشی، هغوی ته خپل ژوند هيڅ نه ښکاره کيدل، او نه هغوی د ژوند څه پرواه کړې ده چې د الله حکم کښې خلاف ورزی راتشی.

بلکه هم دغه صحابه کرام حسين رضی الله عنه منع کوی، د حسين رضی الله يو قسم له ترۀ دے عبد الله بن عبّاس هغه ورته وائي چې هلته مه ځه، او خپل رور د بلې مور نه چې د دۀ رور دے هغه منع کړو، چې هغه ځائے ته مۀ ځه، بلکه هغه ورته وائي که زۀ تا منع کړمه نو ته منع کيږې څکه لوې وفد ورپسې د کوفې نه راغلے وو، او دوه ځله د لارې نه واپس کړے وو او ورته ئې وئيلی وو چې که چرته کوفې ته لاړ شې نو ستا دا ګيره به په وينو کښې داسې لت پت وی لکه څنګه چې د

عثمان رضی الله عنه ګیره په وینو باندې ډکه شوې وه، مطلب دا چې دا سبائیه فرقه په هغه وخت کښې هم غدار وو او وس هم غدّاره فرقه ده.

بله خبره دا ده چې ایا د یزید خلاف حسین رضی الله عنه په وړو ماشومانانو باندې جنګ کړے وو، د هغه سره څوك صحابه وو، بغیر د یو څو افرادو نه چې د دوی د خاندان خپل خلق وو، آیا حسین رضی الله عنه دا جهاد په ښځو باندې او په ماشومانو باندې کړے وو، نو دا یوه عجیبه خبره ده.

او د دې سره څه عجیبه د دروغو واقعات دې خلقو مشهور کړې دي، کله وائي چې د حسین رضی الله عنه یوه ماشومه لور وه د هغې نوم مغری وو او بیماره وه، حسین رضی الله عنه مدینه کښې پریخودله او ورته وائي چې زه په تاپسې علی اکبر رالیږم هغه به تالره زمونږه خوا له راولی، نو دغه ماشومه به د علی اکبر په انتظار وه د سحر نه واخله تر ماښام پورې به ئې د کور په دروازه د هغې انتظار کوو، او بیا ئې حسین رضی ته خط لیګلے وو، خو دغه خط ورته د شهادت نه لګ شان مخکښې ملاؤ شوے وو او ټولو ورباندې ژړلی وو، دا خالص دروغ واقعه ده په تاریخ کښې د مغری په نوم د حسین رضی الله عنه هیڅ یوه لور نشته، او کله وائي چې د حسین رضی الله عنه لور سکینه هغې ژړل چې ما خو ټول عمر د خپل پلار په سینه باندې خوب کړے دے، نو د حسین رضی الله عنه سر د تنې جدا وو، هغه سر ورته آواز ورکړو، چې آؤ راشه او دلته زما په سینه باندې اوده شه، او کله دا خرافات وائي چې د حسین رضی الله عنه اس په منډه منډه د هغه د مرګ نه بعد روان شو او د هغه کور ته ودریدو او دا قصه ئې بیان کړه، چې حسین رضی الله عنه شهید شو او د دغه اس د سترګوو

نه اوښکې روانې وې، او دا دورغ خبره څکه ده چې د کربلا په میدان کښې هغه سورلی په اوښ باندې کړې ده هغه په دغه موقع په اَس باندې نه دے سور شوے، او دا خلق په دې دور کښې اسونه ناوی کوی چې دا د حسین رضی الله عنه اس دے.

د حسین رضی الله عنه مقصد صرف دا وو، چې یزید یو وړوکے او کشر تابعی دے،او نور صحابه موجود دی که دا خلافت دغه نورو صحابو ته منتقل کړے شی نو دا به ډیره ښه خبره وی،او دا دروغ چې وئیلے کیږی چې یزید شرابی،فاسق دے نو دا خبره نه د شیعو په تاریخ کښې شته او نه دا خبره د مسلمانانو په تاریخ کښې شته دے.او حسین رضی الله عنه پسې خطونه او وفدونه راغلی وو څکه د مدینې نه کوفې ته روان شوے وو، د کوفې ډیر چالاك او چلباز خلق وو هغوی همیشه اُمّت مسلمه ته نقصان ورکړے دے،لکه څنګه چې هغوی د عثمان رضی الله عنه د وفات نه بعد په اُمّت کښې اختلاف پیدا کړے وو،دغه شان یو ځل بیا دوی دا اختلاف د حسین رضی الله عنه په غوختلو سره پیدا کول غوختل چې په دې کښې کامیاب شو،او دغه ټول خطوط ورسره موجود وو، او ورته ئې وئیلے چې ستا پلار ټول عمر په کوفه کښې آباد وو، تهٔ هم دلته راشه او دلته به مقیم ئې، دا د سکونت په نیّت باندې کوفې ته رسیدلے دے.

کله چې د کربلا مقام ته حاضر شو نو کربلا یو داسې مقام دے چې د دې یوه لاره د مشق ته تلې ده او یوه لاره ورنه کوفې ته تلې ده، کله چې امیر یزید ته دا معلومه شوه نو هغه پوهه شو چې د کوفې چلباز مکار خلق دی او حسین رضی الله عنه خطا نه کړی، یو وفد د ابن سعد په

مشرۍ کښې ورته یزید ولیږو چې هغوی حاضر شو او ابن سعد د حسین رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چې ته څه کوې؟ هغه ورته خطوط ښکاره کړل چې فلانکی،فلانکی ماته خطوط رالیګلی دی، دغه ابن سعد ورته وائي چې دا خلق خو زما سره په دې دسته کښې موجود دی، نو دغه خلقه چپ شو حسین رضی الله عنه پوهه شو چې دا خو یو سازش دے، حسین رضی الله عنه ابن‌سعد ته وائي،چې درې صورتونه دی او ما د دې خلقو نه بچ کړے یا خو ما واپس مدینې ته واپس کړه، او یا ماله د شام سرحداتو ته اولیږۍ چې د کفّارو سره د اسلامی امارة د لاندې جهاد اوکړمه ځکه په دی وخت کښې د عیسایانو سره جهاد شروع شوے وو او یا دریم دا چې ما واپس دمشق ته واپس کړۍ د دې دپاره چې زه د یزید په لاس کښې لاس کیږدمه او د هغه سره د خلافت بیعت اوکړمه او په دې باندې د ټولو مؤرخینو اتفاق دے نو معلومه شوه چې د حسین رضی الله عنه موقف د یزید خلاف جنګ یا جهاد مقصد نه وو، دغه ابن سعد ورته جواب ورکړو چې نن ماښام دے ناوخته دے او صبا به دمشق ته روان شو د هغه سره به ملاقات اوکړو، نو دغه د کوفې خلقو ته چې دا معلومه شوه که یزید سره د حسین رضی الله عنه ملاقات اوشی نو دغه ټول خطوط به ورته ښکاره کړی نو هغوی دا منصوبه جوړه کړه چې اوس دا حسین رضی الله عنه د مخې نه لرې کړی دا مهٔ پریدۍ نو د مازیګر په وخت کښې حسین رضی الله عنه په خپله خیمه کښې ناست وو او په دغه وخت کښې هغه په دې خیمه کښې دننه شهید کړے شو او سر ورنه کټ کړے شو، که دغه ظالمانو ته مخې ته هر څوک که زنانه نارینه ملاؤ شوې ده، ماشوم غټ ملاؤ شوے دے نو هغه ئې په بے دردۍ سره شهید کړے دے او بیا ئې هغه

خیمی ته اُور کیخودلو او د دې د پاره ئې اوسیزله چې امیر یزید ته دغه خطوط په لاس باندې ورنشی او دا ورته ملاؤ نشی دا د دغه ټولی واقعه کربلا حقیقت دے. او دا د واقعه کربلا حقیقی پس منظر دے.

والحمدلله رب العالمین